# المنتقى

من

# موسوعة الأحاديث النبوية

اللغة البشتو

إعداد القسم العلمي

جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

جمعية الدعوة
وتوعية الجاليات بالربوة

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام
جمعية الربوة
رواد الترجمة
المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع
الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Tel: +966 50 244 7000
info@islamiccontent.org
Riyadh 13245- 2836
www.islamhouse.com

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# سريزه

الحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

تر ټولو لوی شی چې یو مسلمان ورته باید پاملرنه وکړي هغه د الله تعالی له کتاب څخه وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو: لوستل، پکې غور او تدبر کول، زده کول او پرې عمل کول دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «تركتُ فيكم أيُّها الناس، ما إنِ اعتصمتم به، فلن تضلُّوا أبدًا: كتاب الله، وسُنَّة نبيِّه» "اې خلکو، په تاسو کې مې (دوه څیزونه) پرېښي دي، تر څو مو چې پرې منګولې لګولي وي هیڅکله به بې لارې نه شئ؛( هغه) د الله تعالی کتاب او د هغه د نبي سنت دي)". دا حدیث امام مالک روایت کړی دی، او الله تعالی فرمایلي دي: {وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا} (او رسول چې تاسو ته څه درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي یاستئ، نو تاسو منع شئ) [الحشر[٧]، له همدې امله په( ګڼو) ژبو د اسلامي منځپانګو د خدمت ټولنه او په ربوه کې د لړکیو د پوهاوي ټولنه هڅه کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو موسوعه چمتو کړي او ګڼو ژبو ته يې وژباړي.

او د الله تعالی (په توفیق سره) د هغو حدیثونو یوه ټولګه و ټاکل شوه چې یو مسلمان ورته د خپل دین او دنیا په چارو کې اړتیا لري، (دا حدیثونه) د معنی او مفاهیمو له لنډې تشریح، استدلال او فاېدو بیانولو سره د یو کتاب په بڼه چمتو شول چې د: «**المنتقى من موسوعة الأحاديث النبوية**» یعني **(د نبوي حدیثونو له موسوعې څخه غوره شوي حدیثونه)** په نوم یادیږي. دا (حدیثونه) د نړی ټولو مشهورو ژبو ته ژباړل شوی، چې محتوا يې ټولو ته فاېدوره تمامه شي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت ټول بشریت ته د دوی په ژبو ورسیږي.

له الله تعالی څخه غواړو چې دا کار په خپل دربار کې قبول او منظور کړي او خاص د هغه د رضا لپاره يې اخلاصمند وګرځوي او هر هغه چا ته اجر ورکړي چې د دې په چمتو کولو، ژباړلو او خپرولو کې يې مرسته کړې ده.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد

(1) – عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ».
وفي لفظ للبخاري: «إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى». [صحيح] - [متفق عليه]

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «دار و مدار د عملونو په نيت سره دی او هر انسان ته يوازې هغه څه حاصل دي چې د هغه نيت يې کړی وي، نو د چا هجرت چې د الله او د هغه د رسول لپاره وي، نو هجرت يې د الله او د هغه د رسول لپاره دی، او د چا هجرت چې د دنيا لپاره وي تر څو يې تر لاسه کړي، او يا د ښځې لپاره چې نکاح يې کړي، نو هجرت يې د هغه څه لپاره دی چې نيت يې کړی وي». او د بخاري الفاظ داسې دي: «بېشکه دار و مدار د عملونو په نيتونو سره دی، او د هر انسان لپاره هغه څه دي چې هغه يې اراده کړې وي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې هر عمل ته اعتبار په نيت سره ورکول کيږي، او دا حکم په ټولو عملونو کې عام دی، خواه که عبادات وي او يا معاملات، نو چا چې په خپل عمل سره د کومې ګټې اراده وکړه، نو له هغې ګټې پرته ورته بل څه نشته او ثواب يې هم نه کيږي، او چا چې په خپل عمل سره الله تعالی ته د نږدې والي اراده وکړه نو په عمل به يې اجر او ثواب تر لاسه کړي که څه هم هغه يو عادي عمل وي، لکه خوراک او څښاک.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په عملونو کې د نيت اغېزه داسې بيان کړه چې سره لدې چې په ښکاره به عملونه سره يو شی وي، خو چا چې په هجرت او وطن پرېښودلو سره د الله د رضا اراده وکړه، نو هجرت يې شرعي او د الله تعالی په نيز قبول شوی هجرت دی او د نيت د اخلاص له امله ورته ثواب ورکول کيږي، او چا چې په هجرت سره د دنيوي ګټې اراده وکړه، نو له هجرت څخه يې له همغې ګټې پرته چې نيت يې کړی وي بل څه په لاس نه راوړي او هيڅ اجر او ثواب ورته نشته.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په اخلاص ټینګار، ځکه چې الله تعالی له عملونو څخه هیڅ شی نه قبلوي مګر هغه چې د هغه د رضا لپاره وي.

٢. هغه عملونه چې الله تعالی ته پرې نږدې والی کیږي، که چېرته یې بنده د عادت له مخې وکړي نو هیڅ ثواب ورته پرې نشته، تر دې چې الله تعالی ته پرې د نږدې والي نیت وکړي.

(4560)

(2) – عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ» متفق عليه.

ولمسلم: «مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:**

**«چا چې زموږ په دین کې نوي شیان را پیدا کړل چې له هغې څخه نه وي، نو هغه مردود دي».**

[بخاري او مسلم روایت کړی].

او د مسلم په روایت کې دي: **«چا چې یو کار وکړو چې په هغه باندې زمونږ امر نه نو هغه مردود دی».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیانوي چې چا په دین کې کوم شی له ځانه جوړ کړ او یا یې داسې یو عمل وکړ چې له قرآن او سنت نه پرې دلیل نه وي، نو هغه یې په خاوند مردود دی او الله جل جلاله ته د منلو وړ ندی.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. عبادتونه د هغه څه پر بنسټ دي چې په قرآن او سنتو کې بیان شوي دي، نو موږ د الله تعالی عبادت نه کوومګر په هغې طریقه چې هغه روا کړې وي، نه په بدعتونو او نویو کارونو سره.

٢. دین په رایه ندی او نه په خپل سر د یو کار په ښه ګڼلو، بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیروی دی.

٣. دا حديث د دين په بشپړتيا دليل دی.

٤. هر کار چې په دين کې نوی رامنځته شي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه د صحابه وو په وخت کې نه وي بدعت بلل کيږي، هغه که عقيده، وينا او يا عمل وي.

٥. دا حديث د اسلام له بنسټونو څخه يو بنسټ دی، او د اعمالو لپاره د تلې په څېر دی، لکه څنګه چې هر هغه عمل چې د الله تعالی د خوښۍ لپاره نه وي د هغه د ترسره کوونکي لپاره هيڅ ثواب نلري، همداسې هر هغه عمل چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنت مطابق نه وي، نو هغه يې په ترسره کوونکي مردود دی.

٦. له هغو نوښتونو (بدعتونو) نه منع راغلې ده چې په ديني چارو کې وي نه په دنيوي چارو کې.

(4792)

(3) – عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ، شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ، لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ، وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ، حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ، وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا» قَالَ: صَدَقْتَ، قَالَ: فَعَجِبْنَا لَهُ، يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ، قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ، قَالَ: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ» قَالَ: صَدَقْتَ، قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ، قَالَ: «أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ» قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ، قَالَ: «مَا الْمَسْؤُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ» قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَتِهَا، قَالَ: «أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا، وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ» قَالَ: ثُمَّ انْطَلَقَ، فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ لِي: «يَا عُمَرُ، أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟» قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ، أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ». [صحيح] - [رواه مسلم] .

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: «مونږ یوه ورځ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، چې ناڅاپه یو سړی را ښکاره شو، سپینې جامې يې پر تن وې، تک تور وېښتان يې و، د سفر کومه نخښه پرې نه ښکارېده او له موږ څخه هېڅا هم نه پېژانده، تر دې چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ته کېناست، نو خپل زنګنونه يې د هغه زنګنونو ته ورتکیه کړل او لاسونه يې پر ورنونو ورکېښودل، او ورته يې وویل: اې محمده! ماته د اسلام په اړه خبر راکړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې پردې چې له الله پرته بل معبود نشته او پر دې چې محمد - صلى الله عليه و سلم - د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې- که د رسېدو لاره دې ورته موندله»-. ويې ویل: ته رښتیا وايي. نو مونږ حیران شو چې هم پوښتنه کوي او هم يې تصدیقوي، (بیا يې) وویل: ما ته د ایمان په اړه خبر راکړه؟ هغه وویل: «دا چې په الله، د هغه په ملایکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ایمان راوړې، او د خیر او شر په تقدیر باور ولرې». هغه وویل: رښتیا دې وویل. ويې فرمایېل: د احسان په اړه خبر راکړه؟ هغه وویل: «دا چې د الله تعالی عبادت پداسې توګه وکړې لکه چې ته هغه وینې، خو که چېرته يې ته نه وینې نو هغه خو تا ویني». ويې ویېل: ماته د قیامت په اړه خبر راکړه؟ ويې فرمایل: «پوښتل شوی له پوښتونکي څخه ډېر پوه نه دی». هغه وویل: له نخښانو څخه يې خبر راکړه؟ ويې ویېل: «دا چې وینځه خپل بادار وزېږوي، او دا چې ته وګورې چې پښې ابله (لوڅ پښې)، بربنډ، محتاج، شپانه يو له بل څخه په ابادیو کې وړاندیوالی کوي». بیا هغه روان شو، نو ما یو څه وخت انتظار وکړ، بیا يې وویل: «اې عمره! آیا ته پوهیږې چې پوښتونکی څوک و؟»، ما وویل: الله او د هغه رسول ښه پوهیږي، ويې فرمایېل: «دا جبریل و، هغه تاسو ته راغلی و تر څو مو دین دروښايي». [صحیح حدیث دی] – [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمايي چې جبرائیل علیه السلام صحابه کرامو ته د یو نا پېژندل شوي سړي په شکل ورغی، هغه پداسې بڼه و چې جامې يې تکې سپینې وې او وېښتان يې تک تور و، د سفر کومې نخښې پرې نه ښکارېدې لکه ستړتیا، دوړې، ګډوډ وېښتان، د کالیو خیرنوالی، او په حاضرو کسانو کې هېچا نه پېژانده، حال دا چې دوی ټول د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، نو هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حضور کې د یوه زده کوونکي په بڼه

کېناست او د اسلام په اړه يې ترې پوښتنه وکړه، نو هغه د اسلام پدې ارکانو سره ځواب ورکړ چې په دوو شهادتينو اقرار، پنځه وخته لمونځونو ادا کولو، مستحقو کسانو ته زکات ورکولو، د رمضان مياشتې روژې نيولو او پر توانمند د حج ادا کولو ته شامل و.

پوښتونکي وويل: رښتيا دې وويل، نو صحابه کرام د هغه له پوښتنې کولو څخه حيران شول چې د هغه ناپوهي يې ښودله او بيا يې بيرته - ځواب .تصديقاوه.

بيا يې ترې د ايمان په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه د ايمان پدې ارکانو سره ځواب ورکړ چې د الله تعالی په وجود او د هغه پر صفاتو ايمان، هغه لره د هغه په افعالو کې په يووالي ايمان لکه: پيدا کول، هغه لره په عبادت سره يو ګڼل، او دا چې ملائکې الله جل جلاله له رڼا څخه پيدا کړي دي او هغو د - الله تعالی - عزتمند بندګان دي چې د الله پاک د حکم نافرماني نه کوي، د هغه امر پر ځای کوي، او د هغه پر کتابونو ايمان چې د هغه لخوا پر رسولانو نازل شوي دي لکه: قرآن، تورات، انجيل او نور، او په هغو پيغمبرانو ايمان چې د هغه له طرفه يې دين خلکو ته رسوي، د هغوی له جملې څخه نوح، ابراهيم، موسی، عيسی او نور پيغمبران عليهم السلام دي چې وروستی يې محمد صلی الله عليه وسلم دی، او د آخرت په ورځ ايمان، چې له مرګ نه وروسته قبر او برزخي ژوند ته شامليږي، او دا چې انسان له مرګ نه وروسته ژوندی کيږي او حساب ورسره کيږي، او دا چې برخليک به يې جنت او يا دوزخ وي، او پر دې ايمان چې الله تعالی د خپل مخکيني علم، حکمت او ليکنې پر بنياد ټول شيان اندازه کړي دي، او دا چې دا هر څه د هغه د خوښې او تقدير سره سم کيږي او دا چې دا هر څه يې د کومې موخې لپاره پيدا کړي دي. بيا يې ترې د احسان په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه خبر ورکړ چې احسان دې ته وايي چې پداسې توګه د الله تعالی عبادت وکړې لکه چې الله وينې، خو که چېرته ورته دې مرتبې ته رسېدل ناشوني وي، نو بيا دې د الله تعالی داسې عبادت وکړي لکه چې الله يېويني، نو لومړی د لېدو مرتبه ده چې تر ټولو لوړه ده او دويمه د څار مرتبه.

بيا يې ترې پوښتنه وکړه چې قيامت کله دی؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته بيان کړه چې د قيامت په اړه پوهې باندې الله تعالی ځان ځانګړی کړی دی، نو د هغه له مخلوقاتو څخه پرې هېڅوک نه پوهيږي، نه پوښتل شوی او نه پوښتونکی.

بيا يې ترې د قيامت د نخښانو په اړه پوښتنه وکړه؟ نو ورته يې واضحه کړه چې له نخښانو څخه يې د وينځو زياتوالی او د هغوی د اولادونو زيږون دی، او يا د اولادونو لخوا د مورګانو نافرماني، چې لکه د وينځو په څېر رويه به ورسره کوي او دا چې د مېږو په شپنو او غريبانو باندې به په وروستی زمانه کې د مال دومره پراخي راشي چې د ودانيو په سينګار او جوړولو کې به يو پر بل وياړي.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې سوال کوونکی جبرائیل علیه السلام و او د دې لپاره راغلی و چې صحابه کرامو ته حقیقي دین ورزده کړي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د رسول الله صلى الله عليه وسلم غوره اخلاق، چې هغه د خپلو اصحابو سره ناست و او هغوی هم ورته کېناستل.
٢. له پوښتونکي سره د مهربانۍ چلند او ځانته د رانږدې کولو مشروعیت، تر څو له اندیښنې او ویرې پرته پوښتنه وکړي.
٣. له ښوونکي سره ادب لکه څرنګه چې جبرئیل علیه السلام وکړل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخې ته په بشپړ ادب سره کېناست تر څو ترې زده کړه وکړي.
٤. د اسلام رکنونه پنځه او د ایمان اصول (بنسټونه) شپږ دي.
٥. کله چې اسلام او ایمان یو ځای ذکر شي نو له اسلام څخه مراد ظاهري (ښکاره) او له ایمان څخه باطني او یا غیبي چاري مراد دي.
٦. پدې اړه وضاحت چې دین بیلابیلې مرتبې لري چې لومړی مرتبه یې: اسلام، دویمه: ایمان او دریمه احسان ده او دا یې تر ټولو لوړه ده.
٧. اصل دا دی چې پوښتونکی نه پوهیږي، او ناپوهي د پوښتنې کولو لامل وي، لدې امله صحابه کرام حیران شول چې هم پوښتنه کوي او هم یې ځواب تصدیقوي.
٨. له مهم څخه په مهمتر پیل کول؛ لدې امله د اسلام د تفسیر پر مهال له دوو شهادتینو سره پیل وشو او د ایمان په تفسیر کې په الله تعالی باندې له ایمان سره پیل وشو.
٩. له عالمانو څخه د هغه څه په اړه پوښتنه کول چې پوښتونکی پرې پوهیږي، تر څو پرې نور پوه شي.
١٠. د قیامت په اړه پوهه هغه څه دي چې الله تعالی پرې ځان ځانګړی کړی دی.

(4563)

(4) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بِنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قال: قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: «بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «اسلام په پنځو شیانو ولاړ دی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول او بنده دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د بیت الله حج کول، او د رمضان روژه نیول».** [حدیث صحیح دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلام تشبیه له یوې پیاوړې او غښتلې ودانۍ سره ورکړه، د هغو پنځو رکنونو له امله چې دا ودانۍ پې پورته کړې ده، او د اسلام نورې پاتې ځانګړتیاوې لکه د ودانۍ بشپړوونکي دي. او د دغو رکنونو لومړی یو یې: دوه ګواهیانې ورکول دي؛ یوه دا چې له الله جل جلاله پرته بل په حقه معبود نشته او دا چې محمد د الله جل جلاله رسول دی، او دا دواړه یو رکن دی؛ چې یو له بل څخه نه جلا کیږي، بنده په دواړو ګواهیانو کې په خوله اقرار کوي پداسې حال کې چې د الله جل جلاله په یووالي ګواهي ورکوي او پدې چې هغه یوازې د عبادت مستحق دی، او د دې ګواهۍ په غوښتنه عمل کوي، بل دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت ایمان لري او پیروي یې کوي. او دویم رکن: د لمانځه ادا کول دي، چې هغه په شپه او ورځ کې پنځه وخته فرض لمونځونه ادا کول دي له شرطونو، رکنونو او واجباتو سره، یعني: سهار، ماسپښین، مازدیګر، ماښام او د ماخوستن لمونځونه. او دریم رکن: په هر هغه مال کې د فرض زکات ادا کول دي چې په شریعت کې ټاکلې اندازې ته رسیدلی وي، د زکات ورکول یو واجب مالي عمل دی، چې مستحقو کسانو ته ورکول کیږي. او څلورم رکن حج دی چې مکې مکرمې ته د مناسکو د پر ځای کولو لپاره د الله تعالی د عبادت په نیت د تللو قصد کول دي. او پنځم رکن د رمضان روژه ده چې له سهار راختلو څخه تر لمر لوېدو پورې د الله جل جلاله د عبادت په نیت له خوراک، څښاک او داسې نورو روژه ماتوونکو شیانو څخه ډډه کول دي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. دواړه ګواهیانې یو له بل سره لازم او ملزوم دي، یوه په بلې سره صحیح کیږي، لدې امله یې دواړه یو رکن ګرځولي دي.

٢. دواړه ګواهیانې د دین بنسټ دي، ځکه خو هېڅ وینا او عمل پرته لدې دواړو نه قبلیږي.

(65000)

(5) – عَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ عُفَيْرٌ، فَقَالَ: «يَا مُعَاذُ، هَلْ تَدْرِي حَقَّ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ، وَمَا حَقُّ العِبَادِ عَلَى اللَّهِ؟»، قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى العِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلاَ يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَحَقَّ العِبَادِ عَلَى اللَّهِ أَنْ لاَ يُعَذِّبَ مَنْ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا»، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلاَ أُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ؟ قَالَ: «لاَ تُبَشِّرْهُمْ، فَيَتَّكِلُوا».

**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له معاذ بن جبل - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې وايي: زه پيغمبر صلى الله عليه وسلم پسې شاته په هغه خره سپور وم چې عفير بلل کېده، نو وېې فرمايل: «اې معاذه! آيا په بنده ګانو باندې د الله تعالی په حق پوهېږې، او دا چې بندګان په الله تعالی څه حق لري؟»، ما وويل: الله او رسول يې ښه پوهېږي، وېې فرمايل: «يقينا د الله تعالی حق پر بنده ګانو دا دی چې عبادت يې وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي او د بنده ګانو حق پر الله تعالی دا دی چې هغه چاته عذاب ورنکړي چې شرک يې ورسره نه وي کړی» نو ما وويل: اې د الله رسوله، آيا خلکو ته زيری ورنه کړم؟ هغه وفرمايل: «نه، زيری مه ورکوه چې بيا به په همدې خبره تکيه وکړي».** [صحيح حديث دی – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى حق پر بنده ګانو او د بندګانو حق پر الله تعالى باندې بيانوي، او دا چې د الله تعالى حق پر بنده ګانو دا دی چې يوازې د هغه عبادت وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي. او دا چې د بنده ګانو حق پر الله تعالى دا دی چې هغو موحدينو ته عذاب ورنه کړي چې د هغه سره هيڅ شی نه شريکوي. بيا معاذ وويل: اې د الله رسوله! آيا خلکو ته - پدې خبره - زيری ورنه کړم تر څو خوشحاله شي او - د الله تعالى پدې فضل باندې - يو بل ته زيری ورکړي؟ نو پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - لدې ويرې منع کړ چې خلک به په همدې تکيه وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله تعالى د حق بيان دی چې په خپلو بندګانو يې لازم ګرځولی دی، چې د هغه عبادت وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي.

٢. د بنده ګانو د حق بيان چې الله تعالى د فضل او نعمت له مخې د خپلو بندګانو لپاره پر ځان لازم ګرځولی دا دی چې دوی جنت ته داخل کړي او عذاب ورنه کړي.

٣. پدې کې د هغو موحدينو لپاره لوی زيری دی چې د الله تعالی سره هيڅ شی نه شريکوي؛ چې پایله يې جنت ته داخلېدل دي.

٤. معاذ - دا حديث - خلکو ته له مرګ نه مخکې بيان کړ؛ لدې وېرې چې د علم په پټولو سره ګناهکار نه شي.

٥. په ځينو خلکو کې د ځينو حديثونو د نه خپرولو په اړه خبرداری چې په معنا يې نه پوهېږي، په ځانګړې توګه هغه حديثونه چې عملي بڼه و نه لري او يا د شريعت حد پکې نه وي.

٦. د موحدينو ګناهکاران د الله تعالی تر ارادې لاندې دي، که وغواړي، سزا به ورکړي او که وغواړي بخښنه به ورته وکړي، بيا به د دوی برخليک د جنت لورې ته وي.

(65007)

(6) – عن أنس بن مالك رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمُعَاذٌ رَدِيفُهُ عَلَى الرَّحْلِ قَالَ: «يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ»، قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: «يَا مُعَاذُ»، قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ، ثَلَاثًا، قَالَ: «مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ»، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَفَلَا أُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا؟ قَالَ: «إِذًا يَتَّكِلُوا». وَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّمًا. [صحيح] - [متفق عليه]

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې: معاذ رضي الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو ورته يې وويل: «اې معاذ بن جبل» هغه وويل: حاضر يم اې د الله جل جلاله رسوله او ستاسو بلنه مې منلې ده، نو په اورېدلو مې خوشحاله کړه! هغه وفرمايل: «اې معاذه» هغه وويل: حاضر يم اې د الله جل جلاله رسوله او ستاسو بلنه مې منلې ده، نو په اورېدلو مې خوشحاله کړه! درې ځلې، وېې فرمايل: «هېڅ داسې څوک نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، مګر دا چې الله جل جلاله به يې په اور حرام کړي». هغه وويل: اې د الله جل جلاله رسوله آيا پدې سره خلکو ته خبر ورنکړم تر څو يو بل ته زيری ورکړي؟ هغه وفرمايل: «بيا به هغوی په همدې تکيه وکړي او عمل کول به پرېږدي». بيا معاذ خلکو ته د مړيني پر مهال خبر ورکړ تر څو د علم په کتمان سره ګناهکار نشي. [صحيح حديث دی] - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

معاذ بن جبل رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو غږ يې ورته وکړ چې اې معاذه؟ درې ځلې يې ورته په تکرار سره غږ وکړ؛ د هغه څه د ارزښت له امله چې ورته يې وييل. او معاذ رضي الله عنه به په هر ځل ځواب ورکاوه چې (لبيک يا رسول الله و سعديک يعني اې د الله رسوله ستاسو بلنه مې په پرلپسې توګه منلې ده، او ستاسو په بلنه خوښ يم.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې هېڅوک داسې نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې دروغ پکې نه وي چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته، او دا چې محمد د الله رسول دی، نو که چېرته پدې حالت کې مړ شو، الله تعالی به يې په اور حرام کړي.

نو معاذ رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه چې خلکو ته پدې خبره خبر ورکړي تر څو خوشحاله شي او زيرى پرې ورکړي؟.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېرېد چې هسې نه خلک په همدې خبرې تکيه وکړي نو عملونه به يې کم شي.

نو معاذ هېچاته ونه ويیل مګر د مرګ د رارسېدو پر مهال؛ تر څو د علم په پټولو سره ګناهکار نه شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د رسول الله صلی الله علیه وسلم عاجزي چې معاذ يې د ځان پسې په سپرلۍ کينولی و.
٢. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښوونې ميتود، چې پرلپسې يې ورغږ کړ تر څو د معاذ پام هغه څه ته زيات راواړوي چې وروسته يې ورته وايي.
٣. پدې ګواهي ورکول چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی شرطونه لري؛ يو يې دا دی چې ويونکی به يې رېښتينی او باوري وي، دروغ به نه وايي او شک به هم پکې نه کوي.
٤. موحدين د تل لپاره په اور کې نه پاتې کيږي، او که چېرته د ګناهونو له امله اور ته ننوځي، له پاکېدو وروسته ترې بېرته راوځي.
٥. د دوو ګواهيانو فضيلت چې څوک يې په رښتيا سره ووايي.
٦. کله چې له يوې خبرې څخه فساد جوړيږي نو په ځينو حالاتو کې يې پرېښودل جايز دي.

(10098)

(7) – عن طارق بن أشيم الأشجعي رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَكَفَرَ بِمَا يُعْبَدُ مِنْ دُونِ اللهِ حَرُمَ مَالُهُ وَدَمُهُ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له طارق بن أشيم الأشجعي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: «چا چې (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) وويل: او په هر هغه څه يې كفر وكړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت كيږي، نو د هغه مال او وينه حرام دي، او حساب يې د الله جل جلاله سره دی». [صحيح حديث دی] – [مسلم روايت كړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر وركوي چې چا «لا إلهَ إلَّا اللهُ» وويل: يعني په ژبه يې ګواهي وركړه، چې له الله جل جلاله پرته پر حقه بل معبود نشته، او په هر هغه څه يې كفر وكړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت كيږي او له اسلام پرته له نورو ټولو اديانو څخه يې بېزاري اعلان كړه، نو د هغه وينه (تويول) پر مسلمانانو حرام دي، زمونږ لپاره يوازې د هغه څرګند حالت بسنه كوي، نو نه يې مال اخيستل كيږي، او نه يې وينه تويېږي، مګر دا چې جرم او يا جنايت وكړي چې پدې سره يې د اسلام د احكامو له مخې وينه تويېږي. او د قيامت په ورځ به ترې الله جل جلاله حساب اخلي، نو كه چېرته رښتينی و اجر به وركړي او كه منافق و، نو سزا به وركړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په" لا إله إلا الله "تلفظ او په هر هغه څه كافرېدل چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت كيږي په اسلام كې د داخلېدو شرط دی.
٢. د (لا إله إلا الله) معنا داده: په هر هغه څه كافرېدل دي چې الله جل جلاله پرته يې عبادت كيږي لكه: بتان، قبرونه او داسې نور، او په عبادت سره د الله جل جلاله يوازې ګڼل دي.
٣. چا چې قبول كړ، او په ښكاره يې د توحيد قوانين پر ځان عملي كړل، نو بايد چې لاس ترې واخيستل شي تر څو ترې د دې خلاف څه څرګند شي.

٤. له حق پرته د مسلمان د مال، وینې او عزت حرمت ساتل.
٥. په دنيا کې په ظاهر او په اخرت کې په نیتونو او مقصدونو حکم کیږي.

(6765)

(8) – عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا الْمُوجِبَتَانِ؟ فَقَالَ: «مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ» [صحيح] - [رواه مسلم]

**له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ته یو سړی راغی او ویې ویل: اې د الله رسوله ؟ هغه کوم دوه خویونه دي چې په درلودلو سره یې انسان ته جنت یا دوزخ واجبیږي؟هغه وفرمایل: «څوک چې مړ شو، پداسې حال کې چې د الله سره یې څه شی نه وي شریک کړی، جنت ته به داخل شي، او څوک چې مړ شو پداسې حال چې د الله تعالی سره څه شی شریک کړی وي اور ته به داخل شي».** [صحیح حدیث دی] – [مسلم روایت کړی].

## تشريح:

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه یو سړي د دوو خصلتونو په اړه پوښتنه وکړه: کوم چې د انسان لپاره جنت ته داخلېدل واجبوي، او کوم چې د انسان لپاره اور ته داخلېدل واجبوي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړ: هغه صفت چې انسان ته جنت لازموي دا دی چې انسان په داسې حال کې مړ شي چې یوازې د یو الله عبادت کوي او له هغه سره یې هیڅ شرک نه وي کړی، او هغه صفت چې اور ته تلل لازموي دا دی چې انسان په داسې حال کې مړ شي چې له الله سره يي څه شریک کړی وي، داسې چې له الله تعالی سره یې شریک او هم مثل په الوهیت، ربوبیت، اسماء او صفاتو کې کرځولی وي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د توحید فضیلت او دا چې څوک چې د مومن په توګه مړ شو، پرته لدې چې له الله تعالی سره یې هیڅ شی نه وي شریک کړی جنت ته به داخل شي.
٢. د شرک خطر، او دا چې څوک په داسې حالت کې مړ شي چې له الله سره یې شرک کړی وي نو اور ته به داخل شي.

٣. د موحدينو ګناه کوونکي د الله تعالی تر ارادې لاندې دي، که وغواړي، سزا به ورکړي او که وغواړي، بخښنه به ورته وکړي، نو د دوی برخلیک به د جنت لور ته وي.

(65008)

(9) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قال: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم كَلِمَةً وَقُلْتُ أُخْرَى، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللهِ نِدًّا دَخَلَ النَّارَ» وَقُلْتُ أَنَا: مَنْ مَاتَ وَهُوَ لَا يَدْعُو لِلهِ نِدًّا دَخَلَ الْجَنَّةَ. **[صحيح] - [متفق عليه]**

**د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه خبره وکړه او ما بله وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «څوک چې مړ شي پداسې حال کې چې هغه د الله جل جلاله سره شریک رابلي، اور ته به داخل شي» او ما وویل: څوک چې مړ شو پداسې حال کې چې د الله جل جلاله سره بل شریک نه رابلي، جنت ته به داخل شي.** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته خبر راکوي چې چا له الله جل جلاله پرته د بل چا لپاره یو عمل تر سره کړ، پداسې حال کې چې باید الله جل جلاله ته یې تر سره کړي، لکه له الله پرته د بل چا رابلل، او یا له هغه پرته پر بل چا مرسته غوښتل او بیا پر همدې عمل مړ شي نو دی به له دوزخیانو څخه وي. او ابن مسعود رضي الله عنه زیاتوي چې څوک مړ شو، پداسې حال کې چې له الله جل جلاله سره یې شریک نه و رابللی، نو ورتګ یې جنت ته دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دعا عبادت دی او له الله پرته بل چاته نه کیږي.
٢. د توحید فضیلت، او دا چې څوک پرې مړ شو نو جنت ته به داخل شي، که څه هم په ځینو ګناهونو یې عذاب ورکړل شوی وي.
٣. د شرک خطر، او دا چې څوک پرې مړ شو دوزخ ته به داخل شي.

(3419)

(10) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ: «إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ». [صحيح - [متفق عليه]

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم معاذ بن جبل رضي الله عنه يمن ته لېږه نو ورته يې وويل: «ته به د اهل کتابو يو قوم ته ورشې، نو کله چې ورغلې دې ته يې راوبله چې شاهدي ورکړي پر دې چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، نو که دوی په دې کې ستا پیروي وکړه، نو پوه يې کړه چې الله تعالى پرې په هره ورځ او شپه کې پنځه لمونځونه فرض کړي دي، نو که چېرته يې پدې کې ستا پیروي وکړه، نو پدې يې پوه کړه چې الله تعالى پرې د دوی په مالونو کې زکات فرض کړی دی چې له مالدارانو څخه يې اخيستل کېږي او غريبانو ته يې بېرته ورکول کېږي، نو که چېرته يې پدې کې ستا پیروي وکړه، نو د دوی له غوره مالونو - اخيستلو - څخه ځان وساته، او د مظلوم له ښېراوو څخه ووېرېږه، ځکه چې د هغه د ښيراوو او الله تعالى تر منځه هېڅ پرده نشته». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم معاذ بن جبل رضي الله عنه د يمن هېواد ته د الله لورې ته د بلونکي او ښوونکي په حيث ولېږه، نو ورته يې واضحه کړه چې هغه به د نصاراوو له يو قوم سره مخ کيږي؛ تر څو ورته چمتووالی ولري، نو بيا دې ورته تر ټولو د مهمو مسايلو په بيانولو پيل وکړي. نو لومړی دې هغوی د عقېدې سمون ته راوبولي؛ تر څو پدې ګواهي ورکړي چې له الله- تعالى -پرته بل معبود نشته او دا چې محمد- صلى الله عليه وسلم -د الله- تعالى -رسول دی؛ ځکه چې پدې سره په اسلام کې داخليږي، نو کله چې دې ته غاړه کيږدي په لمانځه ورته امر کوي؛ ځکه چې لمونځ له توحيد څخه وروسته تر ټولو لوی واجب دی، نو کله يې چې لمونځ قائم کړ، مالدارو ته يې امر کوي

تر څو د خپلو مالونو زکات غریبانو ته ورکړي، او بیا یې هغه ته خبرداری ورکړ چې غوره مال یې وانخلي، ځکه چې واجب منځمهالی دی، بیا یې ورته له ظلم څخه په ځان ساتلو وصیت وکړ، تر څو ورته مظلوم ښیرا ونه کړي، ځکه چې د هغه ښېراوې قبلیږي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د (شهادة أن لا إله إلا الله) معنا په عبادت سره د الله تعالی یووالی او له هغه پرته د نورو د عبادت پرېښودل دي.

٢. او د (شهادة أن محمدًا رسول الله) معنا په محمد رسول الله او په هغه څه ایمان راوړل دي چې هغه ورسره راغلی دی، او هغه ریښتونی ګڼل، او دا چې هغه بشریت ته د الله تعالی وروستی پیغمبر دی.

٣. د عالم مخاطب کول او هغه کسان چې شبهه ولري د جاهل انسان د مخاطب کولو په څېر ندي، لدي امله یې معاذ تنبیه کړ او ورته یې وویل چې: ته به د اهل کتابو یو قوم ته ورشې.

٤. مسلمان باید په خپل دین کې بصیرت ولري؛ تر څو د شک اچوونکو له شبهو څخه وژغورل شي، او دا کار د علم په زده کړې سره کیږي.

٥. د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه وروسته د یهودو او عیسویانو د دین بطلان او دا چې دوی به د قیامت په ورځ د نجات موندونکو له ډلې څخه نه وي، تر دې چې په اسلام کې داخل شي او په رسول الله صلی الله علیه وسلم ایمان راوړي.

(3390)

(11) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَنْ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقَدْ ظَنَنْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْ لَا يَسْأَلَنِي عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ أَحَدٌ أَوَّلُ مِنْكَ؛ لِمَا رَأَيْتُ مِنْ حِرْصِكَ عَلَى الْحَدِيثِ، أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ أَوْ نَفْسِهِ». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې وايي: **وویل شول چې: اې د الله رسوله! د قیامت په ورځ ستا په شفاعت نېکمرغه انسان څوک دی؟ رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل:**

«اې ابو هريره! يقينا ما فكر كوو چې ستا څخه پرته به هېڅوک راڅخه د دې حديث په اړه لومړی پوښتنه نه کوي، په احاديثو د زيات حرص له امله چې په تا کې مې ليدلی دی، نو زما په شفاعت نېکمرغه خلک به د قيامت په ورځ هغه څوک وي چې د نفس او زړه له اخلاصه يې ( لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) ويلي وي». [صحيح حديث دی] – [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت په ورځ به د هغه په شفاعت تر ټولو خوشحاله او نېکمرغه خلک هغه وي چې د زړه له اخلاصه يې: «لا إله إلا الله» ويلي وي، چې معنا يې دہ: په حقه بل معبود نشته پرته له الله څخه، او دا چې هغه له شرک او ځان ښودنې څخه خوندي وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په آخرت کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د شفاعت اثبات او دا چې هغه به يوازې د موحدينو لپاره وي.
٢. د رسول الله صلی الله عليه وسلم شفاعت، د الله تعالی په وړاندې د هغو موحدينو لپاره سفارش دی چې د اور مستحق ګرځېدلي وي تر څو يې اور ته داخل نه کړي، او يا دا چې اور ته داخل شوي وي تر څو يې ورڅخه راوباسي.
٣. د توحيد د کلمې فضيلت او د هغې لوی تاثير، کله چې د الله لپاره په اخلاص سره وويل شي.
٤. د توحيد د کلمې حق د هغې په معنا پوهېدلو او په غوښتنې يې عمل کولو سره ادا کيږي.
٥. د ابو هريره رضي الله عنه فضيلت، او د علم په زده کړه يې تينګار.

(3414)

(12) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ -أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ- شُعْبَةً، فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:** «ايمان څه د پاسه اويا څانګې، يا څه د پاسه شپېته څانګې لري، چې تر ټولو غوره يې د: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ)

**وېرېل او تر ټولو لاندې يې له لارې څخه د ضررې شيانو لرې کول دي، او حيا د ايمان يوه څانګه ده».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې ايمان ډېرې څانګې او صفتونه لري چې کړني، باورونه او ويناوې په بر کې نيسي. او دا چې د ايمان تر ټولو لوړ او غوره خصلت د: **«لا إله إلا الله»** وينا ده، يعني دا چې " له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته"، د دې وينا پر معنا پوهېدل او د هغې مطابق عمل کول او دا چې الله واحد او يوازينی د عبادت مستحق ذات دی چې له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق نشته.

او دا چې د ايمان ترټولو لږ عمل د خلکو له لارې څخه د هر ضررې څيز لرې کول دي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چې حياء د ايمان له خويونو څخه يو خوی دی او دا هغه خوی دی چې ښو کارونو ته هڅول او له ناوړه کارونو څخه ډډه کولو ته انسان اړباسي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. ايمان مرتبې لري چې ځينې يې له ځينو نورو څخه غوره دي.

٢. ايمان له: وينا، عمل او باور څخه عبارت دی.

٣. د الله تعالی څخه حيا کول غوښتنه کوي چې: الله تعالی دې په هغه ځای کې ونه ويني چې له کوم ځای څخه يې منع کړې يې او په هغه ځای کې غير حاضر نه شې چېرته يې چې درته (د حاضرېدو) امر کړی دی.

د عدد ذکر کول په شمېر پورې محدودول ندي، بلکې دا د ايماني عملونو په زياتوالي دلالت کوي، ځکه چې ځينې وختونه عرب د يو شي لپاره عدد ذکر کوي خو موخه يې له هغه پرته د نورو شيانو نفي کول نه وي.

(6468)

(13) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قال: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ؟ قَالَ: **«أَنْ تَجْعَلَ لِلهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ»** قُلْتُ: إِنَّ ذَلِكَ لَعَظِيمٌ، قُلْتُ: ثُمَّ أَيُّ؟ قَالَ: **«وَأَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ؛ تَخَافُ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ»** قُلْتُ: ثُمَّ أَيُّ؟ قَالَ: **«أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ».** [صحيح] - [متفق عليه]

**له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وپوښتل چې: د الله جل جلاله په نېز کومه ګناه لويه ده؟ هغه وفرمايل: «دا چې ته د الله سره شريک ونيسي حال دا چې ته يې پيدا کړی يې» ما وويل: دا خو لويه ګناه ده، ما وفرمايل: بيا کومه؟ هغه وفرمايل: «او دا چې خپل اولاد لدې وېرې ووژنې چې تاسره به روزي وخوري» ما وويل: بيا کومه؟ هغه وفرمايل: «دا چې د خپل ګاونډي له ښځې سره زنا وکړې».** [صحيح حديث دی - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د سترو ګناهونو په اړه پوښتنه وشوه، نو ويې فرمايل: تر ټولو لويه ګناه شرک دی، چې له الله جل جلاله سره په الوهيت، ربوبيت، د هغه په نومونو او صفتونو کې يو څوک د هغه په څېر او يا يې په مثل وګڼې، او دا ګناه له توبې پرته الله تعالی نه بخښي، او که چېرته يې تر سره کوونکی پرې مړ شو نو په اور کې به تل پاتې وي. بيا دا چې يو سړی خپل اولاد لدې وېرې ووژني چې خوراک به ورسره وکړي، او د نفس وژل حرام دي، خو ګناه يې هغه وخت لويېږي، کله چې وژل شوی د وژونکي خپلوان وي، همدا رنګه يې ګناه هغه مهال ډېره لويېږي کله چې قاتل لدې وېرې قتل وکړي چې هغه به ورسره په د الله جل جلاله په روزی کې شريک شي. بيا دا چې يو سړی د خپل ګاونډي له مېرمنې سره زنا وکړي، او هڅه يې دا وي چې د خپل ګاونډي مېرمن دوکه کړي ترڅو ورسره زنا وکړي او د ځان تابع يې کړي، او زنا حرامه ده، خو هغه مهال يې ګناه ډېره لويېږي کله چې هغه زنا شوې ښځه د ګاونډي مېرمن وي، حال دا چې د ګاونډي په اړه شريعت ټينګار کړې ده چې بايد احسان، نيکي او ښه ملګرتيا ورسره وشي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. ګناهونه په لوی والي کې سره توپير لري، لکه څنګه چې نيک عملونه په فضيلت کې سره توپير لري.
٢. تر ټولو لويه ګناه: له الله تعالی سره شرک کول دي، بيا لدې وېرې د اولاد وژل چې خوراک به درسره وکړي، بيا دا چې د ګاونډي له ښځې سره زنا وشي.
٣. روزي د الله په لاس کې ده او هغه پاک ذات د مخلوقاتو د روزی تضمين پرغاړه اخيستی دی.
٤. د ګاونډي د حق لوی والی، او دا چې هغه ته ضرر رسول لويه ګناه ده لدې چې بل چاته ضرر ورسول شي.
٥. يوازې خالق ذات د عبادت وړ دی او هيڅ شريک نلري.

(5359)

(14) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ، مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هريره- رضي الله عنه -څخه روايت دی وایې چې رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمايلي دي:** «الله تبارک و تعالی فرمايلي دي: زه د شريکانو تر ټولو زيات غني یم، نو څوک چې یو عمل وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شريک کړي؛ زه به هغه کس او د هغه شرک پرېږدم». [صحيح حديث دی] – [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله فرمايلي دي: هغه له شريکانو څخه تر ټولو غني شريک دی، ځکه هغه له هر څه څخه بې پروا دی، او دا چې انسان کله له اطاعت څخه یو عمل وکړي او هغه د الله او غیرالله لپاره وکړځوي، نو الله تعالی يې پرېږدي او ورڅخه يې نه قبلوي، او په خاوند يې بېرته ور واپس کوي. نو عمل بايد خالص د الله تعالی لپاره وي، ځکه چې هغه پاک ذات يوازې هغه څه مني چې خالص د هغه کريم ذات لپاره وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د شرک له ټولو ډولونو څخه ځان ساتل؛ او دا چې د عمل د قبلېدلو مانع کرځي.

٢. د الله تعالی د بډايتوب او عظمت احساس کول مرسته کوي چې عمل کې اخلاص ومومندل شي.

(3342)

(15) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «زما ټول امتيان به جنت ته داخلېږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي». هغوی وويل: اې د الله رسوله! هغه څوک دی چې انکار به کوي؟ ويې فرمايیل: «چا چې زما اطاعت وکړ هغه به جنت ته داخل شي او چا چې زما نافرماني وکړه نو بېشکه چې هغه انکار کړی دی». [صحيح حديث دی] – [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې ټول امت به يې جنت ته ننوځي پرته له هغه چا چې ډېره (ترې) وکړي! نو صحابه و - رضي الله عنهم - وفرمايل: او څوک دی چې ( جنت ته له ننوتلو څخه به ) ډېره کوي اې د الله رسوله؟! نو هغه صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: چا چې غاړه کېښوده، پيروي يې وکړه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت يې وکړ جنت ته به داخل شي، او هغه چا چې سرغړونه وکړه او شريعت ته يې غاړه کېنښوده، نو هغه په خپلو بدو کړنو سره جنت ته له ننوتلو څخه ډېره کړې ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت د الله تعالى اطاعت دی او د هغه نافرماني د الله تعالى نافرماني ده.
٢. د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيروي (بنده ته) جنت واجبوي، او نافرماني يې دوزخ واجبوي.
٣. لدې امت څخه پيروي کوونکو ته پدې (خبره) زيرى چې دوى به ټول جنت ته ننوځي مګر هغه څوک چې د الله تعالى او د هغه د رسول - صلى الله عليه وسلم - نافرماني يې کړې ده.
٤. په خپل امت باندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم شفقت او د هغوى په هدايت يې ټينګار.

(4947)

(16) – عَن عُمَرَ بنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ؛ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ، فَقُولُوا: عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ».

**[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې ويل يې:** «زما په مدحه او توصيف کې تاسو له حد څخه مه اوړئ، لکه څرنګه چې نصارا د عيسى زوی د مريمې په مدحه او توصيف کې له حده اوړيدلي وو؛ بېشکه چې زه د هغه بنده يم، نو تاسو ووايئ: د الله بنده او رسول». [صحيح حديث دی] – [بخاری روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په مدحه او توصيف بيانولو کې له مبالغې او شرعي حدودو له اوړېدلو څخه منع کړې ده، چې څوک يې د الله تعالى په صفتونو او يا ځانګړو افعالو سره ياد کړي، او يا دا چې - باور ولري - په غيبو پوهيږي، او يا دا چې له الله سره رابلل کيږي، لکه څرنګه چې نصاراوو د عيسى زوی د مريمې عليهما السلام په حق کې کړي وو. بيا يې واضحه کړه چې هغه د الله له بنده ګانو څخه يو بنده ده، او امر يې وکړ چې په اړه يې ووايو: د الله بنده او رسول دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په تعظيم او ستاينه کې له شرعي حد څخه د اوړېدلو په اړه خبرداری؛ ځکه چې دا د شرک سبب ګرځي.

٢. هغه څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه امت ته خبرداری ورکړی و، پدې امت کې پېښ شول، نو يوې ډلې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه افراط وکړ او يوې بلې د اهل بيت په اړه، او بلې ډلې د اولياوو په اړه؛ نو تول په شرک کې واقع شول.

٣. رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ځان په اړه ووېل چې هغه د الله بنده دی؛ تر څو خلکو ته وښايي چې د الله روزلی شوی بنده دی، او جايز ندی چې د ربوبيت له ځانګړتياوو څخه په کوم شي سره ياد شي.

٤. رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ځان په اړه يادونه وکړه چې د الله رسول دی؛ تر څو ښکاره کړي چې هغه د الله تعالى لخوا ليږلی شوی پيغمبر دی، نو تصديق او پيروي يې واجب ده.

(3406)

(17) – عن أنس رضي الله عنه قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له انس رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «په تاسو کې هېڅوک تر هغه وخته مؤمن کېدلی نشي تر څو چې زه ورته د هغه له پلار، زوی او ټولو خلکو څخه ډېر محبوب نشم».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته خبر راکوي چې يو مسلمان تر هغه وخته پورې د بشپړ ايمان خاوند کېدلای نشي تر څو چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مينې ته د خپلې مور، پلار، زوی، لور او ټولو خلکو په مينه ترجيح ورنکړي، او دا مينه د هغه اطاعت، ملاتړ او د هغه د نافرمانی پرېښودلو غوښتنه کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مينه، او محبت ته يې په ټول مخلوق لومړيتوب ورکول واجب دي.
٢. د بشپړ محبت له نښانو څخه: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو ملاتړ او پدې لاره کې په ځان او مال سره قرباني ورکول دي.
٣. د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مينه کول د دې تقاضا کوي چې په هغه څه کې يې اطاعت وشي چې امر يې پرې کړی، په هغه څه کې رښتنی وګڼل شي چې خبر يې پرې ورکړی، له هغه څه څخه ډډه وشي چې منع او رټل يې پرې کړي، پيروي يې وشي او بدعتونه پرېښودل شي.
٤. د رسول الله صلى الله عليه وسلم حق د ټولو خلکو څخه لوی او ثابت دی، ځکه چې هغه زمونږ له ګمراهی څخه د خلاصون، له اور څخه د ژغورل کېدو او د جنت ګټلو لامل و.

(5953)

(18) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «دَعُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ، إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِسُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ، فَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوهُ، وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «ما پرېږدئ تر څو چې ما پرېښي ياست، يقينا ستاسو څخه مخکيني خلک د ډېرو پوښتنو او د پيغمبرانو په سر د اختلاف له امله هلاک شوي دي، نو کله مې چې له يو کار څخه منع کړئ نو ډډه ترې وکړئ، او کله مې چې درته په يو څه امر وکړ نو د خپلې وسې په اندازه يې پر ځای کړئ».**

[صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې شرعي احکام په دریو برخو وېشل شوي دي: هغه چې سکوت پرې شوی دی، او ممانعتونه او اوامر دي.

لومړی: هغه څه دي چې شریعت یې په اړه چوپ پاتې شوی او هېڅ حکم یې نه دی کړی، او اصل په شیانو کې دا دی چې واجب نه دي؛ د هغه صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د یو کار په اړه چې لا واقع شوی نه و د پوښتنې کولو څخه ډډه کول لدې امله اړین و چې هسی نه واجب شي او یا روا نا روا وګرځي، ځکه چې الله تعالی پر بندګانو د رحمت له مخې پرېښې وې. خو د هغه صلی الله علیه وسلم له مرګه وروسته که پوښتنه د فتوا یا تعلیم په بنه وي چې په دیني مسئله کې ورته اړتیا وي، نو روا ده بلکې امر پرې شوی دی، او که هغه د مشقت او تکلف له مخې وي نو د همدې ډول په اړه په حدیث کې د پوښتنې کولو ممانعت راغلی؛ ځکه کېدی شي له امله یې داسې څه رامنځته شي لکه په بني اسرائیلو کې چې پېښ شوي و، کله چې هغوی ته د غوا د حلالولو امر وشو، نو که دوی هره غوا حلاله کړې وه، امر به یې پر ځای کړی و، خو هغوی سختي وکړه، نو سختي ورسره وشوه.

دویم: ممانعتونه؛ او هغه عبارت دي له هغو کړنو څخه چې پرېښودونکي ته یې اجر او کوونکي ته یې جزا ورکول کېږی، نو له ټولو څخه ډډه کول واجب دي.

دریم: اوامر دي؛ هغه کارونه چې تر سره کوونکي ته یې ثواب ورکول کېږي، نو د وسې په اندازه پر ځای کول یې واجب دي.

## د حدیث له فایدو څخه:

۱. پر هغه څه باید تمرکز وشي چې خورا مهم او اړین وي او هغه څه پرېښودل شي چې سمدلاسه ورته اړتیا نه وي، او د هغه څه په اړه په پوښتنې کولو له مشغولېدلو باید ډډه وشي چې پېښ شوي نه دي.

۲. د داسې پوښتنو کول حرام دي چې کېدی شي مسئلې پېچلې کړي، شکونو ته دروازه پرانیزي او د ډېرو اختلافاتو لامل وګرځي.

۳. د ټولو ممانعتونو په پرېښودلو امر؛ ځکه چې په پرېښودلو کې یې کوم مشکل نشته، لدې امله په عامه توګه ترې منع راغلې ده.

٤. پر هغه څه باید امر وشي چې د وس مطابق يې کول مطلوب دي؛ ځکه کېدی شي ځينې وختونه يې کول ستونزمن وي او يا يې انسان له کولو عاجز شي؛ له دې امله يې ادا کول د وس مطابق غوښتل شوي.

٥. د ډېرو پوښتنو کولو حرمت، علماوو پوښتنې کول په دوو برخو وېشلي: لومړی: هغه دي چې د دين په اړه د څه شي زده کولو ته اړتيا وي لکه د صحابه کرامو پوښتنې، نو دا هغه پوښتنې دي چې په کولو يې امر شوی. او دويم: هغه پوښتنې دي چې سختي او تکليف زېږوي، نو دا ډول پوښتنې حرامې دي.

٦. دې امت ته د خپل پيغمبر د نافرمانی په اړه خبرداری، لکه څنګه چې له دوی نه وړاندې په مخکنيو امتونو کې شوي دي.

٧. د هغه څه په اړه ډېرې پوښتنې چې اړتيا ورته نه وي او د پيغمبرانو په اړه اختلاف د هلاکت لامل دی، په ځانګړې توګه په هغه مسئلو کې چې رسېدل ورته شوني نه دي، لکه: د غيبو مسايل چې يوازې الله پرې پوهيږي او د قيامت د ورځې حالات.

٨. د سختو مسائلو په اړه د پوښتنې کولو ممانعت، اوزاعي فرمايلي: (کله چې الله تعالی وغواړي خپل بنده د علم له برکت څخه محروم کړي نو پر ژبه يې غولوونکي پوښتنې راولي (هغه چې خلک پرې تېر باسي)، نو دا ډول خلک مې تر ټولو د لږ علم خاوندان وموندل) او ابن وهب فرمايلي: (له مالک څخه مې اوريدلي چې ويل يې: په علم کې ځان ښودنه د سړي له زړه نه د علم روښنايي لرې کوي).

(4295)

**(19) – عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً، وَحَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا حَرَجَ، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ». [صحيح] - [رواه البخاري]**

**له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:** «زما څخه يو آيت هم - خلکو - ته ورسوئ او د بني اسرائيلو په اړه خبرې وکړئ - هغه پېښې چې هغوی ورسره مخ شوي دي - پدې کې کومه ملامتيا نشته، او چا چې پر ما په قصدي توګه دروغ وويل، نو د ځان لپاره دې په اور کې د ناستې ځای وټاکي». [صحيح حديث دی – بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم امر کوي چې د هغه لخوا دې خلکو ته د کتاب او سنت علم ورسول شي، که لږ هم وي لکه د قرآن یو آیت یا یو حدیث، پدې شرط چې رسوونکی خپله پر هغه څه پوه شي چې خلکو ته یې رسوي او بلنه ورته کوي. بیا رسول الله صلى الله عليه وسلم واضحه کړه چې پدې کې کوم باک نشته چې د بني اسرائیلو په حق کې د هغه څه په اړه وغږیږئ چې هغوی ته پېښ شوي دي پدې شرط چې زمونږ د شریعت سره په ټکر کې نه وي. بیا یې پر هغه د دروغ ویلو په اړه خبرداری ورکړ، او هغه څوک چې په قصدي توګه پر هغه دروغ ووايي، نو د ځان لپاره دې په اور کې ځای ونیسي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله په دین کې تبلیغ ته هڅول، او دا چې یو څوک باید هغه څه نورو ته ورسوي چې حفظ کړي یې دي او پرې پوه شوی دی، اګر که لږ هم وي.
٢. د دیني علم د زده کړې وجوب؛ تر څو په سمه توګه د الله تعالی عبادت وکړي او شریعت یې خلکو ته ورسوي.
٣. د حدیث له صحت څخه د ځان ډاډمنولو اړتیا؛ مخکې لدې چې خلکو ته یې ورسوي او یا یې خپور کړي، تر څو دې سخت ګواښ کې شامل نه شي.
٤. په خبرو کې په ریښتینولۍ ټینګار او له احتیاط څخه کار اخیستل، تر څو په دروغو کې واقع نه شي، په ځانګړې توګه د الله تعالی په شریعت کې.

(3686)

**(20) – عن المقدام بن معدِيْكَرِب رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:** «أَلَا هَلْ عَسَى رَجُلٌ يَبْلُغُهُ الْحَدِيثُ عَنِّي وَهُوَ مُتَّكِئٌ عَلَى أَرِيكَتِهِ فَيَقُولُ: بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ كِتَابُ اللهِ، فَمَا وَجَدْنَا فِيهِ حَلَالًا اسْتَحْلَلْنَاهُ، وَمَا وَجَدْنَا فِيهِ حَرَامًا حَرَّمْنَاهُ، وَإِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا حَرَّمَ اللهُ». **[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه]**

**له مقدام بن معدیکرب رضی الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل:** «خبردار اوسئ! نږدې ده چې یو سړي ته به زما لخوا نه حدیث ورسیږي او هغه به

**بالښت ته تکيه وهلي وي او وايي به: زموږ او ستاسو تر منځه د الله کتاب دی، نو څه مو چې پکې حلال ومونذل حلال يې ګڼو، او څه مو چې پکې حرام ومونذل حرام يې ګڼو، او حال دا چې هغه څه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم حرام کړي دي - حرمت يې داسې دی - لکه الله تعالی چې حرام کړي وي».** [صحيح حديث دی] – [ابو داود، ترمذي او ابن ماجه روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله - صلی الله عليه وسلم - خبر ورکوي چې داسې زمانه را نږدې شوې ده چې د خلکو يوه ډله به ناسته وي او يو تن به يې پر خپل بستر تکيه وهلې وي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث به ورته ورسيږي، نو وايي به: هغه څه چې زموږ او ستاسو ترمنځه په چارو کې پريکړه کوي هغه قرآن کريم دی او دا زموږ لپاره کافي دی، نو څه مو چې پکې حلال ومونډل عمل پرې کوو، او څه مو چې پکې له حرامو ومونډل ځان ترې ژغورو. بيا رسول الله - صلی الله عليه وسلم - دا خبره جوته کړه چې هر هغه شی چې هغه حرام کړی وي او يا يې په خپلو سنتو کې له هغه څخه منعه فرمايلې وي نو هغه په حکم کې داسې دی لکه الله جل جلاله چې په خپل کتاب کې حرام کړی وي؛ ځکه چې هغه د خپل رب له طرفه - پيغام - رسوونکی دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د قرآن کريم په څېر بايد د سنتو درناوی هم وشي او په څېر يې ومنل شي.
٢. د رسول - صلی الله عليه وسلم - اطاعت د الله تعالی اطاعت دی، او نافرماني يې د الله تعالی نافرماني ده.
٣. د سنتو د اعتبار ثبوت او په هغه چا رد چې سنت نه مني او انکار ورڅخه کوي.
٤. څوک چې له سنت څخه مخ واړوي او ادعا وکړي چې قرآن ورته بسنه کوي، نو هغه له دواړو څخه مخ اړولی دی او له قرآن څخه د پيروی کولو په دعوا کې دروغجن دی.
٥. د هغه صلی الله عليه وسلم د نبوت له دلايلو څخه يو د هغه څه په اړه خبر ورکول دي چې په راتلونکي کې به پېښيږي، او په هغه ډول پېښ شول لکه څرنګه يې چې ترې خبر ورکړی و.

(65005)

(21) – عن عائشة أم المؤمنين وعبد الله بن عباس رضي الله عنهما قالا: لَمَّا نَزَلَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيصَةً لَهُ عَلَى وَجْهِهِ، فَإِذَا اغْتَمَّ بِهَا كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهِ، فَقَالَ وَهُوَ كَذَلِكَ: «لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى اليَهُودِ وَالنَّصَارَى، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ» يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا. [صحيح] - [متفق عليه]

**له عائشې او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی (دواړو) ویلي: کله چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم - د مرګ حالات -راغلل، نو خپل مخ يې په خپل يو څادر سره پټ کړ، کله به چې پرې سختي راغله نو لرې به يې کړ، بيا يې پدې حال کې وويل: «په یهودو او نصاراو دې د الله لعنت وي چې د خپلو پيغمبرانو قبرونه يې د عبادت ځايونه ګرځولي» د هغوی د کړنو په اړه يې خلکو ته خبرداری ورکاوه.** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

عائشه او ابن عباس رضي الله عنهما خبر راکوي چې کله پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته مرګ راغی نو خپل مخ يې په يوې توټې (ټوکر) سره پټ کړ، نو کله به يې چې د مرګ د سختيو له امله ساه تنګه شوه بيا به يې لرې کړه، نو پدې سختو حالاتو کې يې وويل: په یهودو او نصاراو دې د الله لعنت وي او هغوی دې له خپل رحمت څخه وشړي؛ ځکه چې هغوی د خپلو پيغمبرانو په قبرونو جوماتونه جوړ کړل، او که چېرته دې کار خطر نه درلودی نو هېڅکله به يې پداسې سختو حالاتو کې د دې خبرې يادونه نه وی کړی، لدې امله رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت د دې کار په څېر له کولو څخه منع کړی دی، ځکه چې دا د یهودو او نصاراو عمل دی، او ځکه چې دا عمل شرک ته د رسيدو لار ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د انبياوو او صالحانو له قبرونو څخه د عبادت ځايونو جوړولو ممانعت چې د الله لپاره پکې لمونځ وشي، ځکه چې دا کار د شرک لپاره وسيله ده.
٢. توحيد ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم کلکه پاملرنه او لدې ويره چې د قبرونو تعظيم وشي، ځکه چې دا کار شرک ته لار جوړوي.

٣. په یهودانو او نصاراوو او هغو کسانو د لعنت ویلو جواز چې په قبرونو ودانۍ جوړوي او عبادت ځایونه یې ګرځوي.

٤. په قبرونو ودانۍ جوړول د یهودو او نصاراوو له طریقو څخه دي، او په حدیث کې هغوی سره له ورته والي منع راغلې ده.

٥. له قبرونو څخه د جوماتونو جوړولو یوه بنه دا ده چې تر څنګه یې لمونځ وشي او یا د لمانځه پر مهال ورته مخ شي، که څه هم جومات نه وي جوړ شوی.

(3330)

(22) – عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم: «اللهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِي وَثَنًا، لَعَنَ اللهُ قَوْمًا اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ». [صحيح] - [رواه أحمد]

**أبو هریره رضي الله عنه له نبي صلى الله علیه وسلم څخه روایت کوي: «یا الله زما قبر بت مه جوړوه، د الله لعنت دې وي په هغو خلکو چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې جوماتونه ګرځولي دي».** [صحیح حدیث دی] – [احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله علیه وسلم له خپل رب څخه وغوښتل چې د هغه قبر دې د هغه بت په څیر ونه ګرځوي چې خلک یې په تعظیم کولو سره عبادت کوي او سجده ورته کوي، بیا رسول الله صلى الله علیه وسلم خبر ورکړ چې الله تعالی هغه خلک له خپل رحمت څخه شړلي او لرې کړي دي چې د پیغمبرانو قبرونه یې جوماتونه ګرځولي، ځکه چې له هغوی څخه جوماتونه جوړول یې د عبادت کولو او په اړه یې د ناسمې عقیدې لرلو لامل ګرځي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د پیغمبرانو او صالحانو په قبرونو کې له شرعي حدودو څخه تېرېدل د دې لامل ګرځي چې له الله تعالی پرته یې عبادت وشي، نو د شرک له وسایلو څخه ځان ساتل واجب دي.

٢. دا روا نه ده چې قبرونو ته د هغوی د تعظیم لپاره تلل وشي او هلته یې عبادت وشي، که څه هم د دوی استوګن الله تعالی ته خومره نږدې هم وي.

٣. په قبرونو د جوماتونو جوړولو حراموالی.
٤. که جومات شتون ونه لري بیا هم د قبرونو سره لمونځ کول ناروا دي پرته له هغې جنازې څخه چې لمونځ پرې نه وي شوی.

(3336)

(23) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا، وَلَا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيدًا، وَصَلُّوا عَلَيَّ؛ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ».
**[حسن] - [رواه أبو داود]**

**له ابو هريره- رضي الله عنه -څخه روايت دی وايي چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم -فرمايلي دي: «خپل کورونه مو مقبرې مه ګرځوئ او زما قبر د عبادت ځای مه جوړوئ، او پر ما درود ووايئ، يقينا تاسو چې هر چېرې ياست ستاسو درود ماته رسيږي».** [حسن حديث دی] – [ابو داود روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمايلي ده چې کورونه دې له لمونځونو څخه فارغ شي، که داسې وشي نو حال به يې د هغې مقبرې په څېر وي چې لمونځ پکې نه کيږي. او په تکراري ډول يې د قبرونو له زيارت او تر څنګه يې له راټوليدو څخه منع فرمايلې ده، ځکه چې دا د شرک لپاره وسيله ګرځي. او د ځمکې په هر ځای کې يې پر هغه د سلام او درود ويلو امر کړی دی؛ ځکه چې له نږدې او لرې ځای څخه يو برابر ورته رسيږي، نو لدې امله يې بار بار قبر ته د ورتلو اړتيا نه ليدل کيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله تعالی له عبادت څخه د کورونو له خالي کولو څخه ممانعت.
٢. د پيغمبر صلى الله عليه د قبر د زيارت په نيت له سفر کولو څخه ممانعت، ځکه هغه امر کړی چې درود پرې وويل شي او خبر يې ورکړی چې ورته رسيږي، بل دا چې سفر يوازې نبوي مسجد ته د تللو او پکې د لمانځه کولو په نيت کيږي.
٣. د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قبر زيارت کول پداسې توګه حرام دي چې په ځانګړې توګه او په ځانګړې وخت کې ورتګ عادت وګرځول شي، او همدارنګه د هر قبر زيارت کول حرام دي.

٤. د خپل رب په وړاندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم درناوی، چې په هر وخت او هر ځای کې یې پرې درود او سلام ویيل روا کړي دي.

٥. ځکه چې په مقبرو کې له لمانځه څخه د منعې پرېکړه صحابه کرامو کړې وه؛ له همدې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمايلې ده چې له کورونو څخه دې هدیرې جوړې شي، کوم ځای کې چې لمونځونه نه کيږي.

(3350)

(24) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ المؤمنين رضي الله عنها: أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ ذَكَرَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَنِيسَةً رَأَتْهَا بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ، يُقَالُ لَهَا مَارِيَةُ، فَذَكَرَتْ لَهُ مَا رَأَتْ فِيهَا مِنَ الصُّوَرِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُولَئِكَ قَوْمٌ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الْعَبْدُ الصَّالِحُ، أَوِ الرَّجُلُ الصَّالِحُ، بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، أُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ».

**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې: ام سلمې رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د حبشې په خاوره کې د ماريا په نوم د يوې کليسا يادونه وکړه. نو هغې ورته د هغو انځورنو يادونه وکړه چې په کليسا کې يې ليدلي وو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «دا هغه خلک دي چې کله په دوی کې کوم نيک بنده يا نيک سړی مړ شي نو پر قبر يې جومات جوړوي او بيا پکې هغه تصويرونه انځوروي. دا د الله تعالى په نيز تر ټولو بد مخلوق دي».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

د مؤمنانو مور ام سلمه رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يادونه وکړه، چې کله هغه د حبشې په خاوره کې وه، نو هلته يې د ماريا په نوم يوه کليسا وليده چې مجسمې، نقشې او انځورونه پکې وو؛ او تعجب يې ورته وکړ! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د دې انځورونو لاملونه بيان کړل؛ ويې فرمايل: دا خلک چې تا يې يادونه وکړه، کله چې پکې يو نيک سړی مړ شي، نو پر قبر يې جومات جوړ کړي او لمونځونه پکې کوي، او دغه انځورونه يې جوړ کړي دي، او دا يې په ډاګه کړه چې د دې کار کوونکی د الله تعالى په نيز بد مخلوق دی؛ ځکه چې دا کار يې د شرک لامل ګرځي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. پر قبرونو د جوماتونو جوړول، هلته لمونځ کول او په جوماتونو کې د مړو ښخولو ممانعت؛ تر څو د شرک لاره بنده شي.
٢. پر قبرونو د جوماتونو جوړول او په هغو کې د انځورونو ایښودل، د یهودانو او نصاراوو کار دی، او څوک چې دا کار کوي د هغوی په شان دي.
٣. د ذی روحه شیانو انځورولو حرمت.
٤. څوک چې په قبر باندې جومات جوړ کړي او په هغه کې انځورونه ځای پر ځای کړي، نو دا د الله تعالی له بدو مخلوقاتو څخه دی.
٥. شریعت د ټولو هغو لارو په بندولو سره چې شرک ته لار هواروي، د توحید د لارې بشپړه ساتنه کوي.
٦. د صالحانو په اړه د مبالغې کولو څخه ممانعت؛ ځکه چې دا په شرک کې د واقع کېدلو یو لامل دی.

(10887)

(25) – عن جندب رضي الله عنه قال: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ بِخَمْسٍ وَهُوَ يَقُولُ «إِنِّي أَبْرَأُ إِلَى اللهِ أَنْ يَكُونَ لِي مِنْكُمْ خَلِيلٌ فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى قَدِ اتَّخَذَنِي خَلِيلًا كَمَا اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِي خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا! أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ! إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له جندب رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه پنځه ورځې مخکې ترې واورېدل چې ویل یې: «زه الله تعالی ته بېزارې ښایم لدې چې ستاسو څخه دې څوک په خالصې دوستۍ ونیسم، ځکه چې الله تعالی زه په خالصې دوستۍ نیولی یم، لکه څرنګه یې چې ابراهیم په خالصې دوستۍ نیولی دی، او که چېرته ما څوک په خالصې دوستۍ نیولی نو خامخا به مې ابو بکر نیولی و، خبردار اوسئ چې ستاسو نه مخکې خلکو د خپلو پیغمبرانو او نیکانو له قبرونو څخه جوماتونه جوړ کړي وو، خبردار اوسئ چې له قبرونو څخه جوماتونه جوړ نه کړئ، زه تاسو لدې څخه منع کوم». [صحیح حدیث دی] – [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالی په نزد د خپلې مرتبې په اړه خبر ورکوي چې هغه د مينې تر ټولو لوړې مرتبې ته رسېدلی ده، لکه څرنګه چې ابراهيم عليه السلام لاسته راوړې ده، لدې امله يې له الله تعالی پرته له بل خليل څخه انکار وکړ، ځکه چې زړه يې د الله تعالی له مينې، عظمت او پېژندګلوی څخه ډک شوی دی، نو له الله تعالی پرته پکې د بل چا لپاره ځای نشته. او که له مخلوق څخه يې څوک په خالصې دوستی نيولای نو هغه به ابوبکر صديق رضي الله عنه وای. بيا يې په مينه کې له جايز حد څخه د اوړېدو په اړه خبرداری ورکړ، کوم څه چې يهودانو او عيسويانو د خپلو پيغمبرانو او صالحانو له قبرونو سره وکړل تر دې چې شرکي معبودان يې وګرځول او له الله تعالی پرته يې عبادت وشو، او د هغوی پر قبرونو يې جوماتونه او عبادت ځايونه آباد کړل، او رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل امت له دې کار څخه منع کړ چې د هغوی په څېر عمل وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ابوبکر صديق رضي الله عنه فضيلت او دا چې هغه د صحابه کرامو تر ټولو غوره او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مرګ نه وروسته د هغه د ځای ناستي لپاره تر ټولو وړ کس دی.
٢. پر قبرونو د جوماتونو جوړول د پخوانيو امتونو له ناوړه کارونو څخه دي.
٣. له قبرونو څخه د عبادتځايونو لپاره د کار اخيستلو څخه ممانعت - چې لمونځ ورسره وشي او يا ورته وشي او جوماتونه او ګمبدې پرې جوړې شي، تر څو خلک لدې امله په شرک کې واقع نه شي.
٤. په نېکانو کې له مبالغې کولو څخه خبرداری؛ ځکه چې د شرک لامل ګرځي.
٥. د هغه څه جديت چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه خبرداری ورکړی و، لکه څرنګه چې هغه له خپل مرګ څخه پنځه شپې وړاندې پرې ټينګار کړی و.

(3347)

(26) – عن أبي الهيّاج الأسدي قال: قَالَ لِي عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ، وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ.

[صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو الهيَّاج الاسدي څخه روايت دی وايي چې: ماته علي بن ابي طالب رضي الله عنه وفرمايل: آيا زه ته د هغه کار لپاره ونه ليږم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې زه ليږلی وم؟ دا چې هېڅ مجسمه مه پرېږده پرته له دې چې ورانه يې کړې او هېڅ لوړ قبر مه پرېږده پرته له دې چې برابر يې کړې.** [صحيح حديث دی] – [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپل اصحاب لېږل تر څو هېڅ" مجسمه "له ورانولو پرته پرې نږدي - او له مجسمې څخه مراد د هر سا لرونکي شي انځور دی؛ هغه که مجسمه ولري او يا د انځور په بڼه وي.

او دا چې هېڅ لوړ قبر پرې نږدي پرته لدې چې د ځمکې سره يې برابر کړي او د پاسه ودانۍ پرې ونړوي، او يا يې داسې هوار کړي چې له ځمکې ډېر پورته نه وي، يعني د يوې لوېشتې په اندازه يې پورته کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د سا لرونکو انځورول ناروا دي؛ ځکه چې د شرک لپاره يوه وسيله ده.
٢. د هغه چا لپاره د لاس په واسطه د منکر د له منځه وړلو مشروعيت چې واک يا وړتيا ولري.
٣. رسول الله صلى الله عليه وسلم د هر هغه څه په لرې کولو ټينګار درلوده چې د جاهليت نښې نښاني پکې وي لکه انځورونه، مجسمې او په قبرونو ودانۍ.

(5934)

**(27) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسعودٍ رضي الله عنه عن رَسولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قال: «الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، -ثلاثًا-»، وَمَا مِنَّا إِلَّا، وَلَكِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ.** [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]

**له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی، -درې ځلې» او زموږ څخه هېڅوک داسې نشته مګر دا چې، الله جل جلاله يې په توکل سره له منځه وړي.** [صحيح حديث دی] – [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د بد فال نیونې په اړه خبرداری ورکړی دی، او هغه بد انګېرل دي که هغه له اورېدلو څخه وي یا د لیدلو څخه، او یا له مرغانو، حیواناتو، مصیبت ځپلو، شمېرو، ورځو او داسې نورو څخه وي. خو له الوتونکي مرغه یې ځکه یادونه وکړه چې د جاهلیت په زمانه کې مشهور و، په اصل کې به چې کله هغوی په کوم کار پیل کاوه لکه سفر، سوداګري او داسې نور، نو مرغه به یې خوشې کړ، که چېرته به ښي لور ته والوت نو نیک فال به یې ونیوه او خپل کار پسې به روان شو، او که چېرته به چپ لورې ته والوت نو بد فال به یې ونیوه او له خپل کار څخه به لاس په سر شو. او خبر یې ورکړ چې دا کار شرک دی، او بد فال نیول لدې امله شرک ګڼل شوی؛ چې هر خیر الله پېښوي، او هېڅوک شر نه شي دفع کولی مګر یوازې یو الله دی چې شریک نه لري.

او ابن مسعود رضي الله عنه یادونه وکړه چې کېدای شي د مسلمان په زړه کې یو څه بد فال راشي، خو باید په الله جل جلاله یې په توکل کولو سره دفع کړي، د اسبابو له کارولو سره.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. بد فال نیونه شرک دی؛ ځکه چې فال نیونه کې له الله جل جلاله پرته زړه له بل څه سره تعلق پیدا کوي.

٢. د اړینو مسایلو تکرار، تر څو حفظ شي او په زړه کې ځای ونیسي.

٣. بد فال نیونه پر الله جل جلاله په توکل سره له مینځه ځي.

٤. یوازې په یو الله جل جلاله په توکل کولو امر او له هغه پاک ذات سره د زړه تعلق ساتل.

(3383)

(28) – عن عمران بن حصين رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:
«لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَطَيَّرَ أَوْ تُطُيِّرَ لَهُ، أَوْ تَكَهَّنَ أَوْ تُكُهِّنَ لَهُ، أَوْ سَحَرَ أَوْ سُحِرَ لَهُ، وَمَنْ عَقَدَ عُقْدَةً، وَمَنْ أَتَى كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ».

**[حسن] - [رواه البزار]**

**له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «هغه څوک زمونږ څخه ندی چې (د یو څه په لیدلو سره له غیبو) وړاندوینه وکړي او**

يا ورته وړاندوینه وشي، کوډې وکړي او یا ورته کوډې وشي، جادو وکړي او یا ورته جادو وشي، او هر څوک چې کوډګر ته ورشي او په هغه څه کې یې ریښتینی وګڼي چې هغه یې وایي، نو پر هغه څه یې کفر وکړ چې پر محمد - صلی الله علیه وسلم - نازل شوي دي» [حدیث حسن دی] [بزار راوایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل امت څخه هغو کسانو ته پدې وینا سره خبرداری ورکوي چې ځینې کړنې یې کړي وي، فرمایي چې: "زمونږ څخه ندي" هغه خلک چې:

لومړی: "من تَطَيَّرَ أو تُطُيِّرَ له" دا په اصل کې: د مرغی له الوځولو څخه اخیستل شوی دی چې کله به هغوی په کوم کار او یا سوداګری پیل کاوه نو مرغی به یې خوشې کړه؛ که چېرته به یې ښي لور ته الوتنه وکړه په نیک فال به یې ونیوله او د هغه کار پسې به روان شو چې اراده یې کړې وه، خو که چېرته به یې چپ لور ته الوتنه وکړه، نو په بد فال به یې ونیوله او له خپل کار څخه به لاس په سر شو، نو دا کار د خپل ځان لپاره هم ناروا دی او د بل چا لپاره هم چې دنده ورکړل شي تر څو یې ورته تر سره کړي، او پدې کې هر بد فال نیول شامل دي که هغه اورېدل وي او یا د کوم شي لیدل، له مرغیو، څارویو، مصیبت ځپلو، شمېرو، ورځو او داسې نورو څیزونو څخه.

دویم: له "من تَكَهَّنَ أو تُكُهِّنَ له" څخه مراد دا دی چې څوک چې د ستورو او نورو شیانو په کارولو سره په غیبو د پوهېدو دعوه وکړي، یا داسې چاته ورشي چې د کاهن او داسې نورو په څېر په غیبو د پوهېدلو دعوه وکړي او په هغه څه باور وکړي چې هغه یې له غیبو وایي، نو په هغه څه یې کفر وکړ چې پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی.

دریم: "من سحر أو سحر له" یعني دا چې څوک په خپله سحر وکړي او یا بل چاته دنده ورکړي چې سحر ورته وکړي؛ تر څو پرې چاته ګټه او یا زیان ورسوي، او یا تار ته غوټه ورکړي او د حرامو دمونو په چف کولو سره پرې جادو وکړي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. پر الله جل جلاله توکل او د الله په اراده او تقدیر ایمان درلودل واجب دي او د فال، بد شګون، جادو، کوډو او یا پدې اړه له کوډګرو او جادوګرو څخه د پوښتنې کولو حراموالی.

٢. د غیب د علم دعوه شرک دی کوم چې له توحید سره په ټکر کې دی.

٣. په کوډګرو او جادوګرو باور کول او هغوی ته د ورتللو حراموالی او هغه څه چې د کف شناسۍ، پيالې، په برجونو کې ليدل او داسې نور دي هم همدا حکم لري، که څه هم يوازې د ليدلو په خاطر وي (يعني باور ورسره نه وي).

(5981)

(29) – عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا عَدْوَى، وَلَا طِيَرَةَ، وَيُعْجِبُنِي الْفَأْلُ» قَالَ قِيلَ: وَمَا الْفَأْلُ؟ قَالَ: «الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «نه د ناروغۍ لېږد شته، نه بد فال نيونه، او (نيک) فال نيول مې خوښيږي» هغوی وويل: فال څه شی دی؟ ويې فرمايل: «نېکه وينا».** [صحيح حديث دی] - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د جاهليت د وخت د خلکو هغه باور باطل دی چې ګمان به يې کاوه ساري ناروغي په خپله بل چا ته د الله جل جلاله له ارادې پرته لېږدول کېږي. او دا چې بد فال نيونه باطل عمل دی چې هغه عبارت دی لدې څخه چې څوک يو څه واوري يا يې وګوري لکه کوم الوتونکی مرغه، يا ژوی او يا مصيبت ځپلي، يا شميرې، يا ورځې او داسې نور او په هغه پورې بد فالې ونيسي، خو له الوتونکي مرغه يې ځکه يادونه وکړه چې د جاهليت پر مهال مشهور و، په اصل کې به چې کله هغوی په کوم کار پيل کاوه لکه سفر، سوداګرې او داسې نور، نو مرغه به يې خوشې کړ، که چېرته به ښي لور ته والوت نو نيک فال به يې ونيوه او خپل کار پسې به روان شو، او که چېرته به چپ لورې ته والوت نو بد فال به يې ونيوه او له خپل کار څخه به لاس په سر شو. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکړ چې نيک فال نيونه يې خوښيږي، او نيک فال هغه خوښي او خوشحالي ده چې يو چاته له نېکې وينا اورېدلو وروسته پيدا کيږي او له امله يې په خپل رب ښه ګمان کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په الله جل جلاله توکل کول او دا چې له الله پرته بل څوک خير نه رسوي او نه له الله پرته بل څوک د بدۍ مخه نيولی شي.

٢. د بد فالی ممانعت، چې هغه بدبيني ده او د کار کولو مخنيوی کوي.

٣. نيک فالي هغه بدبيني نده چې منع ترې راغلې، بلکې هغه په الله جل جلاله نېک ګمان کول دي.

٤. هر څه د الله جل جلاله په تقدير کيږي، هغه ذات چې شريک نه لري.

(3422)

(30) – عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الجُهَنِيِّ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَةَ الصُّبحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ عَلَى إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلَةِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: «هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟» قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ، فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ، وَأَمَّا مَنْ قَالَ: بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا، فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه فرمايلي دي: پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - مونږ ته په حديبيه کې د سهار لمونځ راکړ پداسې حال کې چې د شپې باران وريدلی و، نو کله يې چې سلام وګرځاوه، خلکو ته يې مخ کړ او وېې فرمايل: «آيا پوهيږئ چې رب مو څه وويل؟» هغوی وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، وېې فرمايل: «زما بنده ګانو پداسې حال کې سهار کړ چې ځينې له دوی څخه پر ما ايمان لرونکي او ځينې نور يې کفر کوونکي دي، نو هغه چا چې وويل: د الله په فضل او رحمت پر مونږ باران وشو، نو دا پر ما ايمان لرونکی او په ستورو کفر کوونکی دی، او هغه چا چې وويل: د فلاني او فلاني ستوري - د راښکاره کېدو - له امله پر مونږ باران وشو، نو دا پر ما کافر او په ستورو ايمان لرونکی دی».** [صحيح حديث دی] - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د سهار لمونځ په حديبې کې وکړ – چې مکې ته نږدې يو کلی – دی، پداسې حال کې چې په هغه شپه باران وريدلی و، نو کله يې چې سلام وګرځاوه او لمونځ يې پای ته ورساوه، خلکو ته يې مخ وروګرځاوه او وېې ويل: آيا تاسو پوهيږئ چې ستاسو رب العزت څه ويلي؟ نو هغوی ځواب ورکړ چې: الله او رسول يې ښه پوهيږي، نو وېې فرمايل: الله جل جلاله خلکو ته

ښکاره کړه چې د باران پر مهال خلک په دوو ډلو ويشل کيږي: يوه ډله هغه ده چې په الله ايمان لري او بله يې هغه ده چې په الله تعالی يې کفر کړی دی. نو هغه چا چې وويل: پر مونږ د الله په فضل او رحمت سره باران واوريد او د باران ورولو نسبت يې الله تعالی ته وکړ، نو هغه په الله؛ خالق ذات چې د کائناتو په چارو کې تصرف کوونکی دی ايمان لرونکی او په ستورو کافر دی. او هغه چا چې وويل: د فلاني او فلاني ستوري - په راښکاره کېدو - سره پر مونږ باران وشو؛ نو دی په الله تعالی کفر کوونکی او په ستورو ايمان لرونکی دی او دا کوچنی کفر دی ځکه چې د باران د ورولو نسبت يې ستوري ته وکړ؛ حال دا چې الله تعالی ستوري د باران ورولو لپاره شرعي او تقديري سبب ندی ګرځولی، او چا چې د باران ورولو او داسې نورو ځمکنيو حوادثو او د ستورو د خوځښتونو؛ راختلو او لوېدلو نسبت همدې شيانو ته وکړ، پدې باور چې - د دې - کارونو حقيقي تر سره کوونکي همدا څيزونه دي، نو دې انسان لوی کفر کړی دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د باران له ورېدو وروسته د دې وينا ويل مستحب دي چې ووايي: (د الله په فضل او رحمت پر مونږ باران اوريدلی دی).

٢. څوک چې د باران ورښت او نورو نعمتونو د پيدايښت او رامنځته کولو نسبت ستوري ته وکړي نو دی په لوی کفر سره کافر دی، او که چېرته يې لدې امله دې شيانو ته نسبت وکړ چې دا يې سبب دی، نو دی په کوچني کفر سره کافر شوی دی، ځکه چې – ستوری- يې نه شرعي سبب دی او نه حسي.

٣. يو نعمت هغه مهال د کفر لامل ګرځي کله يې چې ناشکري وشي او هغه مهال د ايمان لامل ګرځي کله چې پرې شکر ووېستل شي.

٤. د دې وينا ممانعت چې وويل شي «د فلاني ستوري - د راښکاره کېدو - له امله پر مونږ باران وشو» که څه هم د چا موخه ورڅخه وخت وي، تر څو د شرک مخنيوی وشي.

٥. دا فرض دي چې د نعمتونو د ترلاسه کولو او مصيبتونو د دفع کولو په اړه زړه د الله تعالی سره تعلق ولري. (يعني دا باور بايد شتون ولري چې دا ټول کارونه الله تعالی کوي).

(65010)

(31) – عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ إِلَيْهِ رَهْطٌ، فَبَايَعَ تِسْعَةً وَأَمْسَكَ عَنْ وَاحِدٍ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، بَايَعْتَ تِسْعَةً وَتَرَكْتَ هَذَا؟ قَالَ: «إِنَّ عَلَيْهِ تَمِيمَةً»، فَأَدْخَلَ يَدَهُ فَقَطَعَهَا، فَبَايَعَهُ، وَقَالَ: «مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ». [حسن] - [رواه أحمد]

له عقبة بن عامر الجهني رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه ډله راغله، نو هغه له نهو سره بيعت وکړ او يو ته يې د بيعت لاس ورنکړ، هغوی وويل: ای د الله رسوله، له نهو سره دې بيعت وکړ او دا دې پرېښود؟ هغه وفرمايل: «هغه تعويذ ځړولی دی» هغه لاس دننه کړ او تعويذ يې پرې کړ، نو بيعت يې ورسره وکړ او ويې فرمايل: «چا چې تعويذ وځړاوه نو يقينا چې شرک يې وکړ». [حديث حسن دی] [احمد راوايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه لس کسيزه ډله راغله، نو هغه له نهو سره په مسلمانېدو او پيروي کولو بيعت وکړ، خو له لسم سره يې بيعت ونه کړ، نو کله چې ورڅخه د دې کار د لامل په اړه پوښتنه وشوه، هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پر هغه تعويذ دی - يعني غاړه کې يې اچولی دی- او تعويذ هر هغه څه ته ويل کيږی چې له مريو او نورو څيزونو څخه د نظر لګيدلو او د ضرر د مخنيوي په موخه اچول کيږي. سړي خپل لاس د تعويذ ځای ته ورتېر کړ، پرې يې کړ او له ځانه يې لرې کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورسره بيعت وکړ او د تعويذ کاروني په اړه يې اخطار ورکړ او حکم يې ورته بيان کړ. «چا چې تعويذ ځوړند کړ نو شرک يې وکړ».

## د حديث له فايدو څخه:

١. څوک چې له الله پرته په بل چا تکيه وکړي، الله جل جلاله به د هغه د نيت خلاف چلند ورسره وکړي.

٢. داسې عقيده ساتل کوچنی شرک دی چې تعويذونه ځړول له ضرر او نظر وهلو څخه د خلاصون سبب دی، خو که دا عقيده ولري چې تعويذونه په خپله ګټه رسوي نو دا لوی شرک دی.

**(32) – عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «إِنَّ الرُّقَى والتَمائِمَ والتِّوَلَةَ شِرْكٌ». [صحيح] - [رواه أبو داود وابن ماجه وأحمد]**

**له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې «بېشكه (شركي) دمونه، بندونه او تعويذونه (يا كودې كول ) شرک دی».** [صحيح حديث دی] – [ابو داود، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه كارونه بيان كړل چې كول يې له شرک څخه دي؛ لكه:

اول: رقيه: (دم كول) هغه وينا چې شركي الفاظ به يې لرل او د جاهليت د زماني خلكو به پرې د شفاء غوښتنه كوله.

دويم: تعويذونه له: (مريو، كونجكو، هډوكو او داسې نورو شيانو څخه) چې ماشومانو، څارويو او نورو پورې تړل كيږي تر څو له نظره نشي.

دريم: (بند، كونجكه) هغه چې پدې موخه جوړيږي تر څو د ښځې او خاوند تر منځ مينه پيدا شي.

نو دا كارونه له شرک څخه دي؛ ځكه چې دا له يو شي نه سبب جوړول دي، حال دا چې دا خو نه شرعي سبب دی چې په دليل ثابت شوی وي او نه حسي سبب دی چې په تجربې سره ثابت شوی وي. او كوم چې شرعي اسباب دي لكه: د قرآن كريم لوستل، يا حسي اسباب دي لكه: درمل (دوا) چې په حسي تجربې ثابته شوې ده، نو دا جايز دي، خو بايد دا عقيده وساتل شي چې دا يوازې سبب دی، او دا چې ګټه او ضرر يوازې د الله په لاس كې دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له هر هغه شي څخه د توحيد او عقيدې ساتل چې هغه يې خرابوي.
٢. د شركي دمونو، تعويذونو او كودو كولو حراموالی.
٣. د دې دريو شيانو په اړه د انسان عقيده ساتل چې دا اسباب دي: كوچنی شرک دی؛ ځكه چې هغه څه يې سبب وګرځول چې هغه اسباب ندي، خو كه دا عقيده يې ولرله چې په خپله ګټه او تاوان رسوي نو دا لوی شرک دی.

٤. له شرکي او حرامو اسبابو کارولو څخه ځان ساتل.
٥. د (شرکي دمونو) حراموالی، او دا چې هغه له شرک څخه دي مګر هغه (دمونه) چې روا وي.
٦. زړه باید یوازې له الله تعالی سره تړاو ولري، ځکه چې ضرر او ګټه یوازې د هغه له لورې دي، هغه یو دی او هیڅ شریک نه لري، نو له الله پرته هېڅوک د خیر رسولو او یا شر لرې کولو واک نه لري.
٧. روا دمونه هغه دي چې په دریو شرطونو برابر وي: ١ - باور ولري چې دا سبب دی او د الله له اجازې پرته ګټه نه رسوي. ٢ - باید چې په قرآن کریم، د الله تعالی په غوره نومونو او صفتونو، مسنون دعاګانو او روا دمونو سره وي. ٣ - چې د پوهېدو وړ ژبه باندې وي او کوډې او جادو نه وي.

(5273)

## (33) – عن بعض أزواج النبي صلى الله عليه وسلم عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:

«مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځینو مېرمنو څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «څوک چې غیب ویونکي ته لاړ شي او له هغه څخه د یو څه په اړه پوښتنه وکړي، د څلوېښتو شپو لمونځ يې نه قبلیږي».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم غیب ویونکي ته له ورتګ څخه خبرداری ورکوي، او عراف : د غیب ویونکي، نجومي، په شګو کې خطونه کښونکی او داسې نورو کسانو ته ویل کیږي چې په غیبو د پوهېدلو لپاره پورته شیان کاروي - او کله چې څوک له دوی څخه یوازې پوښتنه وکړي (پرته لدې چې باور پرې وکړي) نو پوښتونکی به الله جل جلاله د څلوېښتو ورځو لپاره د هغه د لمانځه له ثواب څخه محروم کړي او دا د هغه لپاره د دې لویې ګناه د کولو سزا ده.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. غیب ویونکي (کاهن) ته تلل او له هغوی څخه د غیبو په اړه پوښتنه کول حرام دي.
٢. ځیني وختونه یو انسان د اطاعت له ثواب څخه د ګناه په کولو سره محرومیږي.

٣. حديث برجونو او په برجونو کې کتلو ته شامليږي (لکه د سرطان، اسد او داسې نور برجونه)، همدا رنګه د ورغوي لوستل (کف شناسي) -که څه هم يوازې د کتلو په موخه وي او باور پکې شتون ونه لري- ځکه دا ټول د غيب ويل او په غيبو د پوهېدلو له ادعا کولو څخه دي.

٤. کله چې دا د هغه چا سزا وي چې غيب ويونکي ته ورځي، نو خپله د غيب ويونکي سزا به څنګه وي؟

٥. د څلويښتو ورځو لمونځ يې له غاړې ساقطيږي او قضا راوړل يې پرې نشته، خو ثواب يې نه کيږي.

(5986)

(34) – عن ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أنه سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: لَا وَالْكَعْبَةِ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: لَا يُحْلَفُ بِغَيْرِ اللَّهِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ كَفَرَ أَوْ أَشْرَكَ». [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وأحمد]

**له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه له يوه سړي څخه يې واورېدل چې ويل يې: نه؛ قسم په کعبه، نو ابن عمر وويل: له الله پرته په بل څه قسم نه خوړل کيږي، يقينا چې ما له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «څوک چې له الله پرته په بل چا قسم وخوري هغه کفر او يا شرک وکړ»** [صحيح حديث دی] – [ابو داود، ترمذي او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې چا په الله تعالى، د هغه له نومونو او صفتونو پرته په بل څه قسم وکړ نو يقينا چې په الله يې کفر او يا شرک وکړ؛ ځکه چې قسم خوړل د هغه څه د عظمت تقاضا کوي چې قسم پرې ياد شوی دی، او لويي يوازې يو الله لره ده؛ نو قسم نه خوړل کيږي مګر په الله او يا د هغه په نومونو او يا صفتونو باندې، او دغه قسم د کوچني شرک څخه دی؛ خو که چېرته قسم کوونکي د هغه څه چې قسم يې پرې ياد کړی دی دومره تعظيم وکړي لکه د الله تعالى او يا له ده څخه زيات، نو دا مهال به يې لوی شرک کړی وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په قسم سره لويي يوازې د الله حق دی، نو قسم نه ياديږي مګر په الله تعالى، د هغه په نومونو او يا صفتونو باندې.

٢. په امر بالمعروف او نهي عن المنكر باندي د صحابه کرامو ټينګار، په ځانګړې توګه کله چې منکر له شرک سره تړاو ولري.

(3359)

(35) – عَنْ بُرَيْدَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ فَلَيْسَ مِنَّا». **[صحيح] - [رواه أبو داود وأحمد]**

**له بريدة رضي الله عنه ښخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «چا چې په امانت قسم وکړ؛ هغه زمونږ له ډلې ښخه نه دی».** [صحيح حديث دی] – [ابو داود او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم پر امانت له قسم خوړلو ښخه منع فرمايلې او اخطار يې ورکړی چې څوک دا کار کوي له موږ ښخه نه دی.

## د حديث له فايدو ښخه:

١. له الله سبحانه وتعالى پرته پر بل چا د قسم خوړلو ممانعت لکه: پر امانت قسم خوړل او دا يو ډول کوچنی شرک دی.
٢. په امانت کې طاعت، عبادت، د چا سره يو شي ايښودل، نقدې، او يو چا ته امنيت ورکول شامل دي.
٣. قسم يوازې په الله تعالى د هغه په نومونو او يا يو صفت سره کېږي.
٤. خطابي فرمايلي: دا داسې ده لکه چې د کراهت لامل يې په الله تعالى او په صفاتو يې د قسم کولو امر وي، او دا چې امانت يې له صفاتو ښخه يو صفت نه دی، بلکه له چارو يې يوه چاره او له فرضو يې يو فرض دی، نو دا چې د الله تعالى له صفاتو سره پکې ورته والى ليدل کېږي نو له دې امله ترې منع شول چې سوګند پرې ياد کړي.

(8964)

(36) – عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنَ الأَشْعَرِيِّينَ أَسْتَحْمِلُهُ، فَقَالَ: «وَاللَّهِ لاَ أَحْمِلُكُمْ، مَا عِنْدِي مَا أَحْمِلُكُمْ» ثُمَّ لَبِثْنَا مَا شَاءَ اللَّهُ فَأُتِيَ بِإِبِلٍ، فَأَمَرَ لَنَا بِثَلاَثَةِ ذَوْدٍ، فَلَمَّا انْطَلَقْنَا قَالَ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ: لاَ يُبَارِكُ اللَّهُ لَنَا، أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ فَحَلَفَ أَنْ لاَ يَحْمِلَنَا فَحَمَلَنَا، فَقَالَ أَبُو مُوسَى: فَأَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: «مَا أَنَا حَمَلْتُكُمْ، بَلِ اللَّهُ حَمَلَكُمْ، إِنِّي وَاللَّهِ -إِنْ شَاءَ اللَّهُ- لاَ أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ، فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا، إِلَّا كَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي، وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو موسى الأشعري رضي الله عنه څخه روایت دی فرمايي چې: زه د اشعريانو له يوې ډلې سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلم او د سپرلۍ غوښتنه مې ترې وکړه نو ويې وفرمايل: «په الله قسم چې سپرلۍ به در نه کړم، ما سره سپرلۍ نشته چې دربې کړم» بيا موږ هلته پاتې شو تر څو چې الله غوښتل، نو اوښان ورته راوستل شول او موږ ته يې د دريو اوښانو د راکولو امر وکړ، کله چې ترې روان شو، موږ ځينو يو بل ته وويل: قسم په الله، که الله راته پکې برکت واچوي، څکه مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلو او د سپرلۍ غوښتنه مو ترې وکړه، هغه قسم وکړ چې سپرلۍ به نه راکوي خو راېې کړه، نو ابو موسى وويل: موږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلو او د دې خبرې يادونه مو ورته وکړه، نو ويې فرمايل: «دا زه نه وم چې تاسو مې سپاره کړئ، بلکې الله تعالى سپاره کړئ (يعني سپرلۍ يې په واک کې درکړې) قسم په الله زه چې يم-إِنْ شَاءَ اللَّهُ -هيڅ قسم نه يادوم مګر کله چې راته له هغې غوره معلومه شي، بيا د قسم کفاره ورکوم، او هغه کار کوم چې ښه راته معلوم شي». [صحيح حديث دی] - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

ابو موسى الأشعري رضي الله عنه فرمايي چې هغه د خپلې قبيلې له يوې ډلې سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغی او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې له ورتګ څخه موخه دا وه چې هغوی ته د سپرلۍ لپاره اوښان ورکړي او په جهاد کې برخه واخلي، نو هغه عليه الصلاة و السلام قسم وکړ چې ور يې نه کړي او دا چې له هغه سره سپرلۍ نشته تر څو يې ورکړي او پرې سپاره شي. نو دوی بېرته راستانه شول او يو څه وخت (همهلته) پاتې شول، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم

ته درې اوښان راوستل شول، نو هغه يې دوی ته ورولېږل، نو ځينو يې يو بل ته يې وويل چې: الله به مونږ ته په دې اوښانو کې برکت نه اچوي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم کړی و چې مونږ به نه سپروي (د سپرلۍ لپاره به څه نه راکوي)، نو ورته راغلل او پوښتنه يې ترې وکړه، نو هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه چا چې تاسو يې سپاره کړي ياست (سپرلۍ يې درته پيدا کړې) هغه الله تعالى دی؛ ځکه هغه هغه ذات دی چې توفيق او روزي ورکوي، او زه چې يم يوازې يو سبب يم چې زما په لاسونو يې تر سره کوي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه چې يم قسم په الله - إن شاء الله - چې په هيڅ شي قسم نه يادوم چې دا کار به کوم او يا به يې نه کوم، او بيا وروسته راته خرګنده شي چې په کوم څه مې قسم کړی له هغه خير او غوره دی چې قسم مې پرې نه دی کړی، مګر دا چې هغه څه کوم چې هغه غوره وي او هغه پرېږدم چې قسم مې پرې کړی وي او د قسم کفاره ورکوم.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په يوې خبرې د ټينګار له امله قسم کول روا دي که څه هم چا قسم نه وي ورکړی او د راتلونکي پوري اړه ولري.

٢. له قسم يادولو وروسته" إن شاء الله " ويل جايز دي.

٣. د قسم نه وروسته د" ان شاء الله "په ويلو سره استثناء کول روا دي او که د قسم سره يو ځای د استثناء نيت وشي او د دواړو تر منځه واټن نه وي نو په قسم ماتوونکي کفاره نشته.

٤. قسم ماتولو ته هڅول؛ کله چې ورته د قسم خلاف کار خير او غوره معلوم شي (نو هغه کار به کوي) او د قسم کفاره به ورکوي.

(2961)

(37) – عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَقُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ وَشَاءَ فُلَانٌ، وَلَكِنْ قُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ». **[صحيح بمجموع طرقه] - [رواه أبو داود والنسائي في الكبرى وأحمد]**

له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «داسې مه وايئ چې: څه چې الله او فلانی وغواړي هغه کيږي، بلکې ووايئ: څه چې الله وغواړي او بيا يې فلانی وغواړي هغه کيږي». [د ټولو روايتونو په مجموعې سره صحيح دی] – [ابو داود، نسائي په (سنن) کبری کې او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې منع فرمايلې ده چې يو مسلمان په خپلو خبرو کې ووايي چې: «هغه څه چې الله يې وغواړي او فلانی يې وغواړي هغه کيږي». يا دا چې: څه چې الله او فلانی وغواړي هغه کيږي؛ ځکه چې د الله تعالی خوښه (مشيئت) او اراده يې مطلقه ده، هېڅوک ورسره په کې شريک نه دي. او په عطف کې د (واو) توري له کارولو څخه داسې انګېرل کيږي چې له الله تعالی سره دې بل څوک شريک او برابر وي. بلکې وايي به: څه چې الله وغواړي، بيا يې فلانی وغواړي هغه کيږي، نو پدې سره به د بنده خوښه د الله جل جلاله د خوښې تابع وګرځوي چې د (او) پر ځای د (بيا) کلمه وکاروي، ځکه بيا د ورپسې معنا ورکوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د دې وينا حراموالی چې ووايي: "هغه څه چې الله يې وغواړي او ته يې وغواړې کيږي" او دې ته ورته نورو ويناوو چې په الله جل جلاله پکې په واو سره عطف شوی وي؛ ځکه چې دا په الفاظو او خبرو کې د شرک يوه بڼه ده.

٢. د دې وينا روا والی چې ووايي: "هغه کيږي چې الله يې وغواړي او بيا يې ته وغواړې" او دې ته ورته ويناوو چې په الله تعالی پکې په (بيا) کلمې سره عطف شوی وي، ځکه دلته هغه څه نه انګېرل کيږي چې منع ترې راغلې ده.

٣. الله جل جلاله ته د خوښې (مشيئت) ثبوت، همدا رنګه بنده ته يې ثبوت او دا چې د بنده خوښه د الله جل جلاله د خوښې تابع ده.

٤. د الله تعالی سره په خوښه (مشيئت) کې د مخلوقاتو د شريکولو حراموالی که څه هم په الفاظو کې وي.

٥. که چېرته ويونکی دا عقيده ولري چې د بنده خوښه (مشيئت) د الله تعالی د خوښې په څېر ده يعنې په هر اړخېزوالي او اطلاق کې ورسره برابره ده، يا دا چې بنده خپلواکه خوښه (مشيئت) لري نو دا لوی شرک دی، خو که دا عقيده ولري چې د بنده خوښه د الله تعالی له خوښې (مشيئت) څخه کمه ده؛ نو دا کوچنی شرک دی.

(3352)

(38) – عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ» قَالُوا: وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «الرِّيَاءُ، يَقُولُ اللهُ عز وجل لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِذَا جُزِيَ النَّاسُ بِأَعْمَالِهِمْ: اذْهَبُوا إِلَى الَّذِينَ كُنْتُمْ تُرَاؤُونَ فِي الدُّنْيَا، فَانْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً؟». [حسن] - [رواه أحمد]

له محمود بن لبيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «په حقيقت کې هغه څه چې زه ترې پر تاسو ډېر ويرېږم کوچنی شرک دی». هغوی وفرمايل: اې د الله رسوله کوچنی شرک څه دی؟ هغه وفرمايل: «ځان ښودنه (ريا) ده، الله جل جلاله به د قيامت په ورځ هغه مهال وفرمايي کله چې خلک د خپلو عملونو په جزا ورسيږي: هغو خلکو ته ورشئ، چې تاسو به په دنيا کې ورته ځان ښودنه کوله، او وګورئ چې آيا له هغوی سره کومه بدله شته؟». [حديث حسن دی] [احمد راوايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې تر ټولو زيات شی چې هغه ترې په خپل امت ويره لري: کوچنی شرک دی: او هغه د يو چا په خاطر له عمل کولو څخه عبارت دی. بيا يې د قيامت په ورځ د ريا کارانو له جزا څخه خبر ورکړ چې هغوی ته به وويل شي: هغه چا ته ورشئ چې تاسو به يې په خاطر يو کار کاوه، نو وګورئ چې تاسو ته په هغو عملونو د اجر درکولو واک لري؟!

## د حديث له فايدو څخه:

١. په عمل کې الله تعالی ته د اخلاص کولو وجوب، او له ريا څخه ځان ساتل.
٢. په خپل امت د رسول الله صلى الله عليه وسلم زياته مهرباني، او د هغوی په هدايت او نصيحت يې ټينګار.
٣. کله چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ويره په صحابه کرامو دومره وه حال دا چې هغوی يې مخاطب وو او هغوي د نيکانو سرداران وو، نو څوک چې له هغوي وروسته راځي په هغوی يې ويره لا زياته ده.

(3381)

(39) – عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لاَ يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلًا بِالفُسُوقِ، وَلاَ يَرْمِيهِ بِالكُفْرِ، إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ، إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذَلِكَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: «هيڅ څوک پر بل د بدکارۍ او کفر تور نه لګوي، په داسې حال کې چې هسې نه وي مګر دا چې وينا يې بېرته پرې ورګرځي».** [صحيح حديث دی] - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه چاته خبرداری ورکوي چې بل ته فاسق او یا کافر وایي، ځکه که چېرته پکې هغه څه نه و چې ده ویلي، نو دی په خپله د همدې صفت مستحق دی او وینا يې پرې بېرته ورګرځي، خو که چېرته پکې فسق او کفر و نو بیا يې پرې وینا نه ورګرځي؛ ځکه چې په خپله وینا کې ریښتینی دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له شرعي جواز پرته پر خلکو د کفر او بد اخلاقۍ تور لګول حرام دي.

٢. د خلکو په اړه په قضاوت کولو کې ډاډمنتیا واجب ده.

٣. ابن دقیق العید وایي: پدې کې هغه چاته ستر ګواښ دی چې په یو مسلمان د کفر تور پورې کوي پداسې حال کې چې هسې نه وي او دا یوه لویه فاجعه ده.

٤. ابن حجر العسقلاني وايي: له دې وينا څخه دا نه لازمېږي چې پدې سره هغه فاسق او یا کافر نه ګرځي کله چې هغه ته ووايي: ته فاسق يې، بلکې په دې کې تفصيل دی: که چېرته يې نيت دا وي چې هغه او یا بل چاته نصيحت وکړي، او یا دا چې حال يې نورو ته بيان کړي نو بيا دا وينا جايز ده، خو که چېرته يې نيت هغه ته پېغور ورکول، هغه مشهورول او يوازې هغه ځورول و نو بيا جايز نه ده، ځکه ده ته امر شوی چې پرده پرې واچوي، ورزده يې کړي او نېکه لار ورته وښايي، نو څومره چې دا کار په نرمۍ سره کېږي ورته روا نه دي چې په زور او سختۍ سره يې وکړي؛ ځکه کېدی شي دا کار مقابل لوری په غیرت کې راولي او خپلو کړنو ته دوام ورکړي، لکه څنګه چې ډېری خلک همداسې خود مزاجه دي، په ځانګړي توګه کله چې نصيحت کوونکی له هغه چانه په رتبه کې ټيټ وي چې نصيحت ورته کوي.

(8883)

(40) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اثْنَتَانِ فِي النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ: الطَّعْنُ فِي النَّسَبِ، وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**
**«په خلکو کې د کفر دوه خويونه دي چې يو يې د خلکو د نسب پسې سپکې سپورې ويل او بل يې په مړو فرياد کول دي».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلکو کې له دوو کفري او د جاهليت له خويونو څخه خبر ورکوي چې هغه دواړه:

لومړی: د خلکو په نسبونو کې خبرې کول، نېمګړتياوې يې بيانول او ځان پرې پورته ګڼل.

دويم: د مصيبت پر مهال پر تقدير د ناخوښۍ له امله په لوړ غږ چيغې وهل او يا د ډېر فرياد له امله د جامو څيرې کول.

## د حديث له فايدو څخه:

١. پر عاجزۍ ټينګار او پر خلکو له تکبر څخه ممانعت.
٢. پر مصيبت صبر کول او بې صبري نه کول واجب دي.
٣. دا عملونه له کوچني کفر څخه دي، او په چا کې چې د کفر يوه برخه پيدا شوه نو هغه په لوی کفر سره نه کافر کېږي؛ هغه چې انسان پرې د اسلام له دايرې څخه وځي، بلکه هغه مهال (له اسلام څخه وځي) چې لوی کفر ترې صادر شي.
٤. اسلام هر هغه عمل منع کړی دی چې د مسلمانانو تر منځ اختلاف پيدا کوي لکه د نسبونو او داسې نورو پسې بد رد ويل.

(6361)

(41) – عن أَبِي مَرْثَدٍ الغَنَوِيّ رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ، وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو مرثد الغنوي - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «په قبرونو د پاسه مه کېنئ او لمونځ ورته مه کوئ».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په قبرونو له کېناستلو څخه منع فرمايلي ده.

همدا رنګه يې قبرونو ته له لمونځ کولو څخه منع فرمايلې ده، داسې چې قبر د لمونځ کوونکي مخې ته راشي، څکه چې دا د شرک لپاره وسيله ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. لکه څرنګه چې په سنتو ثابت دي چې د جنازې له لمانځه پرته په هديرو، د قبرونو تر منځه او يا قبرونو ته له لمونځ کولو څخه منع راغلې ده.

٢. له شرک څخه د مخنيوي په خاطر قبرونو ته له لمانځه کولو څخه ممانعت.

٣. اسلام د قبرونو په اړه له مبالغې او بې حرمتۍ څخه منعه کړې ده، نو پدې کې هېڅ ډول زياتي او غفلت نشته.

٤. د مسلمان حرمت د هغه له مرګه وروسته پاتې دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (كَسْرُ عَظْمِ المَيّت كَكَسْرِه حيًّا). (د مړي هډوکي ماتول داسې دي لکه د ژوندي هډوکي ماتول).

(10647)

(42) – عَنْ أَبِي طَلْحَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ تَدْخُلُ المَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ صُورَةٌ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو طلحة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**

**«ملايکې هغه کور ته نه ننوځي چې سپی يا انځور پکې وي».** [صحيح حديث دی] - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هغه کور ته د رحمت ملايکې نه ننوځي چې سپی او د ساه لرونکو انځور پکې وي؛ څکه چې د ساه لرونکو انځورول ګناه او ناوړه عمل دی، او پدې کې د الله تعالی د مخلوقاتو سره ورته والی او د شرک يوه وسيله ده، او ځينې يې د هغه څه انځور دی چې له الله تعالی پرته يې عبادت کيږي، او له هغه کور څخه يې منع فرمايلې چې سپی پکې وي، څکه چې (سپی) ډېر نجاستونه خوري، او ځينو ته يې شيطان ويل شوی؛ او ملايکې د شيطانانو ضد دي. او

ځکه چې سپی بد بوی لري؛ او ملايکې بد بوی نه خوښوي، او بل دا چې له ساتلو يې منع راغلې؛ نو په ساتلو سره د رحمت د ملايکو له راننوتلو، په کور کې يې د ملايکو لخوا لمونځ کولو، د ده لپاره د بخښنې غوښتلو، د کور برکتي کولو او د شيطانانو د ضررونو له دفع کولو څخه محروم شو.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ښکار، رمې او کروندې ساتلو پرته د سپي ساتل حرام دي.

٢. عکسونه اخيستل يو له ناوړه کارونو څخه دی چې ملائکې ترې کرکه کوي، او په يو ځای کې يې شتون له رحمت څخه د محرومېدو لامل ګرځي او دا ډول (حکم) د سپي هم دی.

٣. کوم کور کې چې سپی او انځور وي او ملايکې نه ورځي هغه د رحمت ملايکې دي، او کومې چې ساتونکې (حفظه) ملايکې او داسې نورې دي چې دندې لري لکه ملک الموت نو هغوی هر کور ته ننوځي.

٤. په ديوالونو او نورو ځايونو د ساه لرونکو عکسونو ځړول حرام دي.

٥. خطابي رحمه الله فرمايلي: او يقينا چې ملايکې هغه کور ته نه داخلېږي چې سپي يا انځور پکې وي؛ البته هغه سپی چې ساتل يې حرام دي او حرام انځورونه، او کوم چې حرام نه دي لکه: د ښکار، کروندې او رمې سپی، او هغه انځورونه چې په غالۍ، بالښتونو او نورو شيانو کې کارول کيږي، نو هغو کورونو ته ملايکې له ننوتلو منع نه دي.

(8950)

(43) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**

**«ملايکې له هغه ټولي سره ملګرتيا نه کوي چې سپی يا ګونګرو (زنګ) وي پکې».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې ملائکې په سفر کې له هغه ټولي سره ملګرتيا نه کوي چې سپی او يا هغه زنګ پکې وي چې د ژوو په غاړو کې ځوړنديږي او د حرکت پر مهال کرنګيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د سپي ساتلو حراموالی، پرته له هغه سپي نه چې د ښکار او یا پیړي لپاره وي.
٢. هغه ملایکې چې له ملتیا څخه دېده کوي د رحمت ملایکې دي او کومې چې ساتونکي (حفظة) پریښتې دي نو هغوی په سفر او اقامت دواړو کې له بندګانو نه جلا کیږي.
٣. د زنګ (ګونګرو) ممانعت، ځکه چې دا د شیطان له شپېلیو څخه دی او د عیسویانو زنګ ته ورته دی.
٤. مسلمان باید له هر هغه څه څخه لیرې پاتې شي چې ملائکې ترې لرې کیږي.

(8951)

(44) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولُ: مَنْ خَلَقَ كَذَا؟ مَنْ خَلَقَ كَذَا؟ حَتَّى يَقُولَ: مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ؟ فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ وَلْيَنْتَهِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هریرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي:** «شیطان ستاسو څخه یو ته راځي او وایي: دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ تر دې چې ووایي: ستا رب چا پیدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسیږه، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودریږي». [صحیح حدیث دی] - [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو پوښتنو په اړه چې شیطان یې مؤمن ته وسوسې ور اچوي د مؤثرې درملنې څخه خبر ورکوي. شیطان به ووایي: دا فلانی چا پیدا کړی دی؟ دا فلانی چا پیدا کړی دی؟ ځمکه چا پیدا کړې ده؟ نو مؤمن به ورته د دین، فطرت او عقل له مخې پدې وینا سره جواب ورکړي چې: الله، خو شیطان د وسوسې اچولو لدې حد سره نه ودریږي، بلکې بل پړاو ته ځي تر دې چې ووایي: ستا رب چا پیدا کړی دی؟ بیا مؤمن په درېو کارونو سره دغه وسوسه له منځه وړي:

- په الله تعالی باندې په ایمان لرلو سره.
- او له شیطان څخه په الله جل جلاله باندې پناه وړلو سره.
- او په وسوسو کې له مخکې تللو څخه په ودرېدلو سره.

## د حديث له فايدو څخه:

۱. د شيطان له وسوسو او خطرونو څخه مخ اړول او د هغو په اړه فکر نه کول او د لرې کولو لپاره يې الله سبحانه وتعالى ته پناه وړل.

۲. هره هغه وسوسه چې د انسان زړه ته لويږي او د شريعت خلاف وي، هغه به د شيطان له لورې وي.

۳. د الله تعالى په ذات کې د فکر کولو ممانعت، او د هغه په مخلوقاتو او نښانو کې په فکر کولو ټينګار.

(65013)

(45) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالحَرْبِ، وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ: كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ، وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ، وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِي عَنْ نَفْسِ المُؤْمِنِ، يَكْرَهُ المَوْتَ وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَهُ». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**

«بيشکه الله تعالى فرمايلي دي: څوک چې زما له دوست سره دښمني وکړي، نو ما له هغه سره د جنګ اعلان وکړ او زما بنده ما ته په بل هيڅ شي دومره نه دى رانږدې شوى لکه څومره چې د هغه څه په کولو سره رانږدې کيږي چې ما پرې فرض کړي دي او ماته زما بنده تر هغه د نوافلو په کولو سره رانږدې کيږي تر دې چې زه له هغه سره مينه ولرم، نو کله چې ورسره مينه وکړم: زه د هغه د بدن د غړو په کارولو کې توفيق ورکوم، داسې چې حق به اوري، حق به ګوري، لاسونه به په روا کړنو کې کاروي او په پښو به ښو ځايونو ته د تللو توفيق ورکوم، او که زما څخه سوال وکړي نو خامخا به يې ورکړم او که پر ما يې پناه وغوښته نو پناه به ورکړم او هيڅکله په يو کار کې متردد شوى نه يم چې کول يې غواړم پرته لدې چې کله د مؤمن روح اخلم، نو هغه مرګ بد ګڼي او زه د هغه خفه کول بد ګڼم». [صحيح حديث دى] - [بخاري روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم په قدسي حدیث کې خبر ورکوي چې الله جل جلاله فرمایلي: څوک چې زما اولیاوو ته ضرر ورسوي، غوسه یې کړي او یا ترې کرکه وکړي، نو هغه ته مې خبرداری ورکړی او له هغه سره مې دښمني اعلان کړې ده.

او ولي: هغه مومن دی چې تقوا لري او مومن چې په څومره اندازه ایمان او تقوا لري، په همغومره اندازه یې د الله جل جلاله سره د ولایت برخه ډېره وي. او مسلمان خپل رب ته په بل کار دومره نه دی نږدې شوی، څومره چې په هغو کارونو نږدې کیږي چې هغه پرې فرض او واجب ګرځولي لکه: د طاعتونو تر سره کول او د محرماتو پرېښودل، او تر هغه یو مسلمان خپل رب ته له فرضو سره د نوافلو په کولو نږدې کیږي تر دې چې د الله جل جلاله محبت ترلاسه کړي. نو کله چې الله تعالی ورسره مینه وکړي، الله تعالی به د دې څلورو غړو د سمې کارونې توفیق ورکړي:

په اورېدلو کې به توفیق ورکړي، نو هغه څه به اوري چې الله پرې راضي کیږي.

په لیدلو کې به توفیق ورکړي، نو یوازې هغه څه ته به ګوري چې الله یې خوښوي او پرې راضي کیږي.

د لاسونو په کارولو کې به توفیق ورکړي، نو په لاسونو به یوازې هغه کار کوي چې الله پرې راضي کیږي.

او د پښو په کارولو کې به توفیق ورکړي، نو یوازې هغه ځای ته به ځي چې الله یې خوښوي او یوازې هغه ځای ته به هڅه کوي چې خیر پکې وي.

لدې سره که له الله جل جلاله څخه د کوم شي سوال وکړي، نو الله به یې غوښتنه ومني. او پدې سره به هغه څوک شي چې دعا یې قبلیږي، او که په الله جل جلاله پناه وغواړي او هغه ته د ملاتړ په موخه پنا یوسي، نو الله پاک به پناه ورکړي او د هغه څه په وړاندې به یې ملاتړ وکړي چې وېره ترې لري.

بیا الله جل جلاله وفرمایل: او د هیڅ یو کار په کولو کې چې زه یې کول غواړم دومره متردد شوی نه یم څومره چې د مهربانۍ له مخې د مومن په روح اخیستلو کې متردد شوی یم، ځکه چې هغه مرګ د هغه درد له امله بد ګڼي چې پکې دی او الله هر هغه څه نه خوښوي چې مومن دردوي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. دا حدیث له هغو حدیثونو څخه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له خپل رب څخه روایتوي او قدسي یا الهي حدیث ورته ویل کیږي، دا هغه حدیثونه دي چې الفاظ او معنا یې د الله لخوا ده، پرته لدې چې د قرآن کریم هغه ځانګړتیاوې نه لري چې له نورو یې جلا کوي،

لکه په تلاوت سره یې عبادت کېدل، د راخیستلو لپاره یې طهارت کول، پدې سره ننګول او دا چې دا یو عاجزوونکی کتاب دی او داسې نور.

٢. د الله جل جلاله اولیاوو ته د ضرر رسولو ممانعت، هغوی سره محبت کولو ته هڅول او د هغوی په فضیلت اعتراف کول.

٣. د الله جل جلاله له دښمنانو سره په دښمنی کولو امر او د هغوی سره د محبت کولو حراموالی.

٤. څوک چې د الله جل جلاله د دوستی دعوه لري پداسې حال کې چې د شریعت پیروي یې نه کوي، نو په خپله دعوه کې دروغجن دی.

٥. د الله جل جلاله دوستي د واجباتو په کولو او د منهیاتو په پرېښودلو سره تر لاسه کېږي.

٦. له بنده سره د الله جل جلاله د محبت او د هغه د دعا قبلولو له لاملونو څخه یو د فرضو له ادا کولو وروسته د نفلي عبادتونو ترسره کول او د حرامو پرېښودل دي.

٧. د اولیاوو عزت او د هغوی لوړه مرتبه.

(6337)

**(46) – عن العِرْباضِ بن ساريةَ رضي الله عنه قال: قام فينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم، فوَعَظَنا مَوعظةً بليغةً وَجِلتْ منها القلوبُ، وذَرَفتْ منها العيونُ، فقيل: يا رسول الله، وعظتَنَا موعظةَ مُودِّعٍ فاعهد إلينا بعهد. فقال: «عليكم بتقوى الله، والسمع والطاعة، وإن عبدًا حبشيًّا، وسترون من بعدي اختلافًا شديدًا، فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين، عَضُّوا عليها بالنواجِذ، وإياكم والأمور المحدثات، فإن كل بدعة ضلالة».** [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]

**له عرباض بن ساریة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په مونږ کې ودرېده، نو مونږ ته یې یو ډېر له پند څخه ډک نصیحت وکړ، چې له امله یې زړونه په وېره کې شول او له سترګو اوښکې وبهېدلې، نو وویل شو چې اې د الله تعالی رسوله! تا خو مونږ ته داسې نصیحت وکړ لکه چې د الله په آمانی نصیحت چې وي، نو مونږ ته وصیت وکړه، هغه وفرمایل: «(زه تاسې) د الله تعالی نه په وېرېدلو او د حاکم (واکمن) په اطاعت سره وصیت کوم که څه هم دا واکمن یو حبشي غلام وي، او ژر دی چې تاسو به زما نه وروسته سخت**

اختلاف وويني، نو تاسي زما او د هدايت موندونكو راشدينو خلفاوو په سنتو كلكې منګولې ولګوئ، د ژامي غاښونه پرې كلک كړئ او په دين كې له نويو طريقو راوېستلو څخه ځان وساتئ، ځكه چې (په دين كې) هر نوښت ګمراهي ده». [صحيح حديث دی] – [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او احمد روايت كړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو صحابه كرامو ته داسې په زړه پورې خطبه وركړه چې له امله يې زړونه ووېرېدل او له ستركو اوښكې وبهېدې. نو هغوی وويل: اې د الله رسوله! دا خو داسې يو وعظ دی لكه څوک چې الله په اماني اخلي، ځكه هغوی رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې په وعظ او نصحيت كې يې زياته مبالغه وكړه، نو د وصيت غوښتنه يې ترې وكړه تر څو پرې له هغه وروسته منګولې ولګوي. هغه وفرمايل: د الله تعالى د واجباتو په پرې ځای كولو او له منهياتو څخه يې په ځان ساتلو سره درته له الله تعالى څخه په وېرېدلو وصيت كوم، او دا چې واكمنانو ته غوږ ونيسئ او پيروي يې وكړئ، كه څه هم پر تاسې يو غلام واكمن شي، يعنې تر ټولو ټيټ انسان پر تاسې امير وګمارل شي نو سرغړونه ترې مه كوئ بلكې پيروي يې وكړئ، تر څو فتنه راولاړه نشي، ځكه يقينا كه چېرته په تاسو كې له مانه وروسته څوک ژوندی پاتې شي نو زيات مخالفتونه به وګوري. بيا يې ورته لدې اختلاف څخه د وتلو لاره وښودله، چې هغه له هغه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم او راشدينو هدايت موندونكو خلفاوو په سنتو منګولې لګول دي؛ أبو بكر صديق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان او علي بن أبى طالب رضي الله عنهم أجمعين، او دا چې د ژامې وروستی غاښونه پرې ټينګ كړي، چې پدې سره يې موخه په سنتو كلک پاتې كېدل او منګولې لګول وو. او په دين كې يې له نويو كارونو راپيدا كولو څخه ووېرول، ځكه (په دين كې) هر نوښت ګمراهي ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. پر سنت د منګولو لګولو او ترې پيروي كولو اهميت.
٢. وعظ كولو او زړونو نرمولو ته پاملرنه.
٣. له هغه وروسته د څلور واړه راشدينو او هدايت موندونكو خلفاوو په پيروی سره امر كول دي چې هغوی؛ أبوبكر، عمر، عثمان او على رضي الله عنهم دي.

٤. په دين کې د هر نوښت ممانعت، او دا چې (په دين کې) هر نوښت ګمراهي ده.
٥. له معصيت پرته، له هغه چا نه اورېدل او پيروي کول چې د مومنانو چارې يې په لاس کې وي.
٦. په هر وخت او حالاتو کې له الله جل جلاله څخه د وېرې ارزښت.
٧. اختلاف پدې امت کې شته، او کله چې راپيدا شي نو هغه مهال د رسول الله صلى الله عليه وسلم او راشدينو خلفاوو سنتو ته رجوع کول ضروري دي.

(65057)

(47) – عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: «مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ، وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً، وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ، يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ، أَوْ يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ، أَوْ يَنْصُرُ عَصَبَةً، فَقُتِلَ، فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ، وَمَنْ خَرَجَ عَلَى أُمَّتِي، يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا، وَلَا يَتَحَاشَى مِنْ مُؤْمِنِهَا، وَلَا يَفِي لِذِي عَهْدٍ عَهْدَهُ، فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «څوک چې له اطاعت څخه ووت، او ټولې يې پرېښووده، بيا مړ شو، نو مرګ يې د جاهليت مرګ دی، او څوک چې د داسې يو بيرغ لاندې وجنګيده چې برخليک يې نه و معلوم يوازې د خپلوانو او قوم په خاطر په قهر او غصه شي، يا دا چې تعصب ته يې بلنه کوله، او يا يې ملاتړ د تعصب له مخې و، بيا مړ شو، نو مرګ يې د جاهليت دی، او چا چې زما پر امت خروج وکړ، داسې چې نيک او بد يې له منځه يوسي، او د مؤمن په اړه يې پروا و نه ساتي، او د هېڅ ژمني والا سره يې په ژمنه وفا نه کوي، نو هغه له ما څخه ندی او زه له هغه څخه نه يم». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د حاکمانو له اطاعت څخه ووځي او د اسلام له هغې ډلې څخه جلا شي چې له امام سره يې بيعت کړی وي او په همدې حالت کې مړ شي، نو هغه د جاهليت د خلکو په مرګ مړ شو، هغه خلک چې د امير اطاعت يې نه کاوه، د يو جماعت سره نه يو ځای کېدل، بلکې دوی بېلابېلې ډلې او ټپلې وې چې يو بل به يې سره وژل.

او هغه صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي، څوک چې د داسې بيرغ لاندې وجنګيږي چې حق لوری يې له باطل څخه روښانه نه وي، يوازې د خپل قوم يا خپلې قبيلې لپاره د تعصب په خاطر غصه

کيږي؛ نه د دين او حق د ملاتړ لپاره، نو له بصيرت او پوهې پرته د تعصب له مخې جنګيږي، که چېرته پدې حالت کې ووژل شو، مرګ يې لکه د جاهليت د مرګ په څېر دی.

او دا چې څوک د محمد صلى الله عليه وسلم د امت پر وړاندې بغاوت وکړي، نېک او فاجر دواړه يې وژني، او څه چې کوي هېڅ پروا يې نه ساتي او د هغه له امت څخه د مؤمنانو د وژنې له سزا څخه نه وېريږي، او د کافرانو سره يې چې له چاسره تړون کړی او يا يې د خپلو چاروواکو سره تړون کړی، نو وفا پرې نه کوي بلکه ماتوي يې، نو دا لويه ګناه ده، او چا چې دا ګناه وکړه، نو د سخت ګواښ مستحق دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د حاکمانو اطاعت د الله تعالى له نافرمانۍ پرته واجب دی.
٢. پدې کې هغو کسانو ته سخت خبرداری دی چې د امام له اطاعت څخه سرغړونه کوي او د مسلمانانو له ټولګي څخه جلا کيږي، نو که پدې حال کې مړ شو، نو د جاهليت د خلکو په لاره کې مړ شوی دی.
٣. په حديث کې د تعصب لپاره له جنګ څخه منع راغلې ده.
٤. په وعده وفا کول واجب دی.
٥. په پيروۍ او جماعت سره يو ځای پاتې کېدلو کې ډېر خير، امنيت، ډاډ او د چارو ښه والی وي.
٦. د جاهليت د وخت خلکو ته له ورته والي څخه ممانعت.
٧. د مسلمانانو ټولګي سره پر يو ځای کېدو امر.

(58218)

**(48) – عن مَعقِلِ بن يَسار المُزَنِيّ رضي الله عنه قال: إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللهُ رَعِيَّةً، يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ، إِلَّا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ».** [صحيح] - [متفق عليه]

**له معقل بن يسار المزني رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «هېڅ داسې يو بنده نشته چې الله تعالى د يو رعيت**

(چارې) ورترغاړې کړي، بيا مړ شي او په کومه ورځ چې مړ کيږي نو خپل رعيت لره غولوونکی وي، مګر دا چې الله تعالی به پرې جنت حرام کړي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هر هغه څوک چې الله تعالی د خلکو حاکم او مسوول وګرځوي، که هغه د شهزاده (امير) په څېر عمومي مسؤوليت ولري، يا خاص مسووليت ولري لکه سړی او يا ښځه په خپل کور کې، نو په خپل رعيت کې يې کوتاهي وکړه، او دوکه يې وکړه او په اړه يې سپارښتنه ونکړه، ديني او دنيوي دواړه حقونه يې ورته ضايع کړل، نو د دې سختې سزا مستحق دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا اخطار ستر زعيم -مشر- او د هغه مرستيالانو ته ځانګړی نه دی، بلکې دا د ټولو هغو کسانو لپاره عام دی چې الله ورته د رعيت سرپرستي ورترغاړې کړې وي.

٢. هر هغه څوک چې د مسلمانانو د چارو مسوول وي، پرې لازم دي چې هغوی ته نصيحت وکړي او د امانت په ادا کولو کې زيار وباسي او له خيانت کولو څخه ځان وساتي.

٣. د هر هغه چا د مسووليت لوی والی چې عامه او يا خاصه رعيت ورترغاړې وي، دا (مسووليت) لوی وي او که کوچنی.

(5335)

(49) – عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أُمِّ الْمُؤمنين رضي الله عنها: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «سَتَكُونُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ عَرَفَ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ» قَالُوا: أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ: «لَا، مَا صَلَّوْا». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**د مؤمنانو له مور ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:** «ژر دی چې تاسو به واکمنان وګورئ نو له ځينو کارونو سره به يې تاسو بلد ياست او ځيني نور به يې ردوئ، نو چا چې وپيژندل خلاص شو، او چا چې انکار وکړ نو هغه جوړ پاتې شو، خو هغه څوک چې پرې خوشحاله شو او پيروي يې وکړه» **نو هغوی وويل: آيا مونږ ورسره ونه جنګيږو؟ هغه وفرمايل:** «نه، تر څو چې لمونځ کوي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې پر موږ به واکمنان وګمارل شي، چې مونږ به یې ځیني عملونه پیژنو؛ چې د شریعت سره سمون لري، او د دوی له ځینو کارونو به انکار کوو، ځکه چې د شریعت خلاف دی، نو چا چې منکر کار په زړه کې بد وګڼه پداسې حال کې چې منع کول به یې په وسه کې نه وه، نو له ګناه او منافقت څخه وژغورل شو، او چا چې کولی شو په لاس او یا ژبه یې منع کړي، نو هغوی پرې رد وکړ، نو دی له ګناه کولو او یا پکې له ګډون کولو څخه سالم پاتې شو. خو چا یې چې په کړنو خوښي څرګنده کړه او له هغوی څخه یې پیروي وکړه، نو دوی به هم هلاک شي لکه څرنګه چې هغوی هلاک شول.

بیا دوی له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې، آیا د همداسې واکمنانو سره ونه جنګیږو چې دا صفتونه ولري؟ نو هغه لدې کار څخه منع کړل، او وې ویل: نه، تر هغه پورې چې په تاسو کې لمونځونه قایموي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت له نښانو څخه یوه دا ده چې هغه به د ناڅرګندو شیانو په اړه خبر ورکاوه چې په راتلونکي کې به پېښیږي او هغه دول به پېښېدل لکه څرنګه به یې چې خبر ورکړی و.

٢. په منکر راضي کېدل روا ندي او نه پکې ګډون کول، او منع کول ترې واجب دي.

٣. کله چې واکمنان داسې یو کار وکړي چې له شریعت سره په تضاد کې وي، نو اطاعت کول یې روا ندي.

٤. په واکمنانو راوتل جایز ندي؛ ځکه چې لوی فساد ترې جوړیږي؛ وینه تویېږي او امنیت له منځه ځي، نو د ګناهکارو واکمنانو زغمل او د هغوی په ضرر صبر کول لدې څخه آسان دي چې خروج پرې وشي.

٥. لمونځ ډېر لوی ارزښت لري، همدا لمونځ دی چې د کفر او اسلام تر منځ بیلوونکی دی.

(3481)

(50) – عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «سَتَكُونُ أَثَرَةٌ وَأُمُورٌ تُنْكِرُونَهَا» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «تُؤَدُّونَ الحَقَّ الَّذِي عَلَيْكُمْ، وَتَسْأَلُونَ اللَّهَ الَّذِي لَكُمْ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابن مسعود رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:** «داسې ځان غوښتونکي او چارې به وي چې تاسو يې نه خوښوئ» هغوی وويل: اې د الله رسوله، ته مونږ ته په څه امر کوې؟ هغه وفرمايل: «تاسو به هغه حق ادا کوئ چې پر تاسو دی، او خپل حق به له الله جل جلاله څخه غواړئ». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې په مسلمانانو به داسې حاکمان وګمارل شي چې د مسلمانانو په مال او نورو دنياوي چارو باندې به انحصار کوي، په خپله خوښه به يې مصرفوي او له مسلمانانو څخه به پټې د هغوی له حق څخه انکار کوي. او په ديني چارو کې به هم داسې کارونه کوي چې د منلو به نه وي. نو صحابه کرامو رضى الله عنهم پوښتنه وکړه چې: په داسې حالت کې بايد څه وکړي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل چې د هغوی دا کار - چې ستاسو مالونه يې ځانته کړل -بايد تاسو هغوی ته له غوږ نيولو او واجب اطاعت څخه منع نه کړي، بلکې صبر وکړئ، غوږ ورته ونيسئ او اطاعت يې وکړئ او د واک په سر ورسره شخړه مه کوئ، او تاسو خپل حق له الله څخه وغواړئ او - دعا ورته وکړئ چې  الله - يې اصلاح کړي او تاسو د هغوی له شر او ظلم څخه وساتي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر نبوت دليل دی، ځکه په راتلونکې کې يې د هغه څه په اړه خبر ورکړی چې د هغه په امت کې به پېښېږي، نو همغسې پېښ شول لکه څرنګه يې چې خبر ورکړی و.
٢. دا روا ده چې پر يو چا مصيبت راتلونکی وي او په اړه يې هغه ته مخکې له مخکې خبر ورکړل شي، تر څو يې په زړه کې ځای ونيسي، نو کله چې پرې راشي صبر کوونکی به وي او له الله جل جلاله څخه به يې اجر غوښتونکی وي.
٣. په قرآن او سنتو منګولې لګول له فتنو او اختلافونو څخه د خلاصون لار ده.

٤. هغه واکمنانو ته غوږ نیول او اطاعت یې کول چې په نیکۍ امر کوي او په وړاندې یې بغاوت نه کول، که څه هم دوی ظلم وکړي.
٥. د فتنو په وخت کې له حکمت څخه کار اخیستل او د سنتو پیروي کول.
٦. انسان باید هغه حق ادا کړي چې پرې دی، حتی که څه نا څه ظلم ورسره شوی وي.
٧. پدې کې د دې قاعدې ثبوت دی چې: له دوو شرونو څخه هغه غوره کیږي چې ضرر یې کم وي او له دوو ضررونو څخه هغه چې د بل په پرتله لږ وي.

(3156)

(51) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بنِ عُمرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّكُمْ رَاعٍ فَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، فَالأَمِيرُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ، وَالعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ، أَلاَ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:** «په تاسو کې هر یو ساتونکی او د خپل رعیت مسؤول دی، څوک چې په خلکو باندې واکمن وي هغه ساتونکی او د هغوی د ساتنې مسؤولیت لري او یو سړی د خپلې کورنۍ د خلکو ساتونکی او د هغوی د ساتنې مسؤولیت لري او ښځه د خپل میړه د کور او د هغه د اولادونو ساتونکې ده او د ساتنې مسؤولیت یې لري او خادم د خپل مالک د مال ساتونکی او د هغه مسؤول دی، خبردار اوسئ چې ستاسو هر یو مسوولیت لري او هر یو ستاسو څخه د خپل رعیت مسوول دی». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې په ټولنه کې هر مسلمان مسؤلیت لري چې باید په غاړه یې واخلي. واکمن د هغه څه د ساتنې مسوول دی چې الله ورسپارلي دي، باید قوانین یې خوندي کړي او له هغه چا یې ساتنه وکړي چې تیری پرې کوي او دا چې د دښمنانو په وړاندې یې

مبارزه وکړي او حقونه يې ضايع نه کړي. او هر سړی په خپلې کورنۍ کې مکلف دی چې نفقه ورکړي، ښه ژوند ورسره وکړي، زده کړه پرې وکړي او ادب ور وښيي. ښځه د خپل مېړه په کور کې د هغه د کور د سم مديريت او د هغه د ماشومانو د پالنې مسووله ده او مسؤوليت يې په غاړه لري. خدمتگار نوکر او مزدور د خپل بادار په هغه مال کې چې په واک کې يې دی د ساتنې او د هغه د خدمت مسووليت لري. نو ستاسو هر يو د هغه څه ساتونکی دی چې ساتل يې ورتر غاړې دي او هر يو د خپل رعيت مسوول دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په مسلمانه ټولنه کې مسؤليت عمومي دی او هر يو د خپل توان سره سم مسووليت لري.
٢. د ښځې ستر مسووليت، چې په حقه د خاوند د کور او د هغه د اولادونو په وړاندې مسووليت ادا کړي.

(5819)

(52) – عن عائشة رضي الله عنها قالت: سمعتُ من رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول في بيتي هذا: «اللَّهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ، وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، وايي چې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په خپل دې کور کې اورېدلي دي چې ويل يې: «يا الله! څوک چې زما د امت د چارو مسووليت په غاړه واخلي او له هغوی سره سختي وکړي نو سختي پرې راوله، او څوک چې زما د امت د چارو مسووليت پر غاړه واخيست او په نرمی يې ورسره چلند وکړ، نو پرې مهربانه شه».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هر هغه چا لپاره (بد دعايي) خبرا کړېده چې د مسلمانو له چارو څخه يې د يوې مسؤوليت پر غاړه واخلي، هغه که کوچنۍ وي يا لوی، او برابره خبره ده که دا عامه ولايت وي يا خاصه، او پر هغوی يې سختي راوسته او نرمي يې ورسره ونکړه، نو الله تعالی به

ورته سزا د عمل له جنس څخه ورکړي او سختي به ورسره وکړي.

او دا چې څوک پرې مهربانه شي، او چارې يې ورته اسانه کړي، نو الله به پرې مهربانه شي او چارې به يې ورته اسانه کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. څوک چې د مسلمانانو د يوې چارې مشرې پر غاړه واخلي، نو له هغوی سره دې هر څومره کېدای شي نرمي وکړي.

٢. سزا د عمل له جنس څخه وي.

٣. د نرمۍ او سختۍ معتبره اندازه هغه ده چې له کتاب (قرآن) او سنت سره په ټکر کې نه وي.

(5330)

(53) – عن تميم الداري رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ» قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له تميم الداري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «دين نصيحت دی» مونږ وويل: د چا لپاره؟ هغه وفرمايل: «د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواکو او د دوی عامو خلکو ته».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د دين بنسټ په اخلاص او صداقت ولاړ دی، تر دې چې په هغه ډول بشپړ ادا شي لکه څرنګه چې الله تعالی لازم کړی دی، پرته له هر ډول کوتاهۍ، غفلت او فريب څخه.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل شول: چې دين د چا لپاره نصيحت دی؟ نو هغه وفرمايل:

لومړی: د الله تعالی لپاره نصيحت: هغه ته په اخلاص سره عمل کول، له هغه سره شرک نه کول، د هغه په ربوبيت، الوهيت، اسماء او صفاتو ايمان لرل، د هغه امر لوی ګڼل، او پر هغه باندې ايمان راوړلو ته بلنه ورکول دي.

دويم: د هغه د کتاب؛ قرآن کريم لپاره نصيحت پدې خبره باور ساتل دي چې دا د هغه کلام او وروستی کتاب دی، د ټولو مخکنيو شريعتونو منسوخوونکی دی، مونږ يې درناوی کوو، په حقه يې لولو، په محکم يې عمل کوو، او متشابه ته يې غاړه ږدو، د تحريف کوونکو د تاويل په وړاندې ترې دفاع کوو، له نصيحتونو يې پند اخلو، علوم يې خپروو او بلنه ورته کوو.

دريم: د هغه د رسول؛ محمد صلى الله عليه وسلم لپاره نصيحت: پدې خبره ايمان لرل دي چې هغه وروستی پيغمبر دی او په هغه څه کې يې رښتنی وګڼو چې راتګ يې پرې کړی دی، حکمونه يې ومنو، له هغه څه ډډه وکړو چې مونږ يې ترې منع کړي يو، د الله عبادت يوازې په هغه څه سره وکړو چې هغه پرې راتګ کړی دی، د حق درناوی يې وکړو، احترام يې وکړو، دعوت ته يې بلنه ورکړو، شريعت يې خپور کړو او تورونه ترې لرې کړو.

څلورم: د مسلمانو چارواکو لپاره نصيحت : په حق چارو کې د هغوی ملاتړ کول، له هغوی سره د واک په سر شخړه نه کول، د الله تعالى د اطاعت په چوکاټ کې هغوی ته غوږ نيول او اطاعت يې کول.

پنځم: د مسلمانانو لپاره نصيحت: له هغوی سره نيکي کول، هغوی ته بلنه ورکول، هغوی ته د ضرر رسولو مخنيوی، له هغوی سره ښېګڼه خوښول، او له هغوی سره د نيکي او تقوا په چارو کې مرسته کول دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. ټولو ته په نصيحت کولو امر.
٢. په دين کې د نصيحت لويه مرتبه.
٣. دين؛ عقايدو، ويناوو او عملونو ته شامل دی.
٤. له نصيحت څخه دا هم دي چې کوم چاته نصيحت کيږي نو نصيحت کوونکی بايد له هر ډول دوکې څخه پاک وي او هغه ته د خير رسولو اراده ولري.
٥. د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د ښې ښوونې (ميتود کارول) چې يو شی لومړی عمومي ذکر کوي او بيا يې په اړه تفصيل ورکوي.
٦. تر ټولو مهم او بيا ورپسې مهم ته لومړيتوب ورکول، لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله لپاره په نصيحت پيل وکړ، بيا د هغه د کتاب لپاره، بيا د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم لپاره، بيا د مسلمانو چارواکو لپاره او بيا عامو مسلمانانو ته.

(4309)

(54) – عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: تَلَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الْآيَةَ: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ، وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ، وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} [آل عمران: ٧]. قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَإِذَا رَأَيْتِ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ سَمَّى اللهُ، فَاحْذَرُوهُمْ». [صحيح] - [متفق عليه]

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوست: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ، وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ، وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} [آل عمران: ٧].
يعني: (دی هغه ذات دی چې په تا باندې يې كتاب نازل كړی دی، په ده كې ځينې محكم (ښكاره مراد والا) آيتونه دي؛ چې هغه د كتاب اصل دي، نور يې متشابهات (پټ مراد والا) دي، نو هغه كسان چې د هغوی په زړونو كې كوږ والی دی؛ نو هغوی په هغو (آيتونو) پسې كېږي چې په دې (قرآن) كې متشابه (پټ مراد والا) دي، د فتنې لټولو لپاره او د هغو د مراد معلومولو لپاره، حال دا چې د هغوی په تاويل (مراد) باندې نه پوهېږي مګر الله، او هغه كسان چې په علم كې پاخه دي؛ هغوی وايي: مونږ پر ده ايمان راوړی دی، ټول (محكم او متشابه آيتونه) زمونږ د رب له جانبه دي، او پند نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان). عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «كله دې چې هغه كسان وليدل چې لدې آيتونو څخه د متشابهاتو پسې ګرځي نو همدوی هغه كسان دي چې الله تعالى يې يادونه كړې ده نو ځان ترې وساتئ». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت كړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوست: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ، وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ، وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ

رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} [آل عمران: ٧]. چې پدې کې الله پاک خبر ورکوي چې دی هغه ذات دی چې پر خپل پيغمبر يې قرآن نازل کړی، له هغه څخه ځينې د څرګند دلالت لرونکي آيتونه دي چې حکمونه يې معلوم دي، هيڅ ناڅرګندوالی پکې نشته، نو دا د کتاب اصل او مرجع دی، او د اختلاف پر مهال ورته رجوع کيږي، او داسې نور آيتونه هم شته چې له يو څخه زياتې معناوې لري، چې معنا يې پر ځينو خلکو ګډوډيږي او يا ګمان کوي چې د هغه او بل آيت تر منځه تضاد دی، بيا الله تعالی لدې آيتونو سره د خلکو تعامل په ډاګه کړ، نو د هغه چا په زړونو کې چې له حق څخه کوږوالی شتون ولري، هغوی محکم آيتونه پريږدي او احتمالي متشابه آيتونو باندې عمل کوي، پدې سره غواړي چې شکونه او شبهې راوپاروي او خلک ګمراه کړي او پدې سره غواړي چې آيتونه د خپلې خوښې پر اساس تاويل کړي، او هغه کسان چې په علم کې ثابت دي، نو هغوی پر دې متشابهاتو پوهيږي او محکمو آيتونو ته يې راجع کوي او ايمان پرې لري چې دا د الله پاک له لورې دي، او شوني نده چې تعارض او ګډوډي دې سره ولري، مګر دا هغه څه دي چې پدې يوازې د سالم ذهن لرونکي خلک پند اخلي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د مؤمنانو مور عايشې رضى الله عنها ته وفرمايل چې: کله يې دا ډول خلک وليدل چې د متشابهاتو پسې ګرځيدل نو يقينا همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی يې پدې وينا کې يادونه کړې ده چې فرمايي: { فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ } (يعني او هغه کسان چې په زړونو کې يې کوږوالی دی) نو له هغوی څخه ځان وساتئ او غوږ ورته مه نيسئ.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د قرآن کريم له آيتونو څخه هغه محکم دي چې: دلالت او معنا يې واضحه وي، او متشابه: هغه آيتونه دي چې له يوې معنا څخه د زياتو احتمال ولري، همدارنګه غور او پوهې ته اړتيا ولري.

٢. د منحرفو، بدعتيانو او هغه خلکو په اړه خبرداری چې د خلکو د ګمراه کولو لپاره ستونزې او شکونه رامنځته کوي.

٣. د الله تعالی پدې وينا سره د آيت پای ته رسيدل چې فرمايي: {وما يذكر إلا أولو الألباب} (يعنې او پند نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان) پدې کې د هغو خلکو څخه پرده پورته شوې چې تل حيران، زړه نا زړه وي او سمه لار نه مومي. او د ثابت قدمو خلکو صفت پکې شوی: يعنې هغه خلک چې پند او عبرت نه اخلي د خپلې خوښې پيروي کوي نو هغوی هيڅکله د سالم عقل خاوندان ندي.

٤. د متشابهاتو پیروي د زړه د کوږوالي لامل ګرځي.
٥. واجب ده چې متشابه آیتونه؛ هغه چې معنا یې واضحه نه وي محکمو آیتونو ته راجع شي.
٦. الله تعالی د خلکو د امتحان لپاره د قران کریم ځینې آیتونه محکم او ځینې نور یې متشابه ګرځولي تر څو د ایمان خاوندان له ګمراهانو څخه جلا شي.
٧. په قرآن کریم کې د متشابهاتو په شتون کې په نورو باندې د عالمانو د فضیلت اظهار دی. او عقلونو ته یې د کوتاهی په اړه خبرداری دی چې په خپلې عاجزی اعتراف وکړي.
٨. په علم کې د رسوخیت فضیلت او په هغه کې د ثبات اړتیا.
٩. پدې آیت کې: {وما يعلم تأويله إلا الله والراسخون في العلم} د (الله) په کلمه باندې په ودرېدلو کې مفسرین دوه قوله لري: څوک چې په (الله) کلمه وقف وکړي نو په تاویل سره به مراد د یو شي په حقیقت او جوهر پوهېدل مراد وي او هغه څه چې پوهېدل پرې ناشوني وي لکه: روح او قیامت؛ هر هغه څه چې الله تعالی پرې پوهېدل ځانته ځانګړي کړي وي، او څوک چې د (الله) کلمه وصل کړي او وقف پرې ونه کړي نو له تاویل څخه به مراد تفسیر، پلټنه او وضاحت وي، نو معنا به یې داسې وي چې الله پرې پوهیږي او په علم کې د رسوخ خاوندان پرې هم پوهیږي، نو ایمان پرې راوړي او محکم ته یې راجع کوي.

(65062)

(55) – عن أبي سعيد الخُدْرِيِّ رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو سعید الخدري- رضي الله عنه -څخه روایت دی وایې چې: ما له رسول الله- صلی الله علیه وسلم -څخه اوریدلي دي چې ویل یې: «له تاسو څخه چې چا ناروا کړنه ولیده نو په لاس سره دې منع کړي، که چیرته یې نشو کولای نو په ژبې سره، او که چیرته یې نشو کولای نو په زړه سره، او دا تر ټولو کمزوری ایمان دی».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - د وسې سره سم له منکر څخه په منع کولو امر کوي، او منکر هغه څه ته وایې چې الله او رسول یې ترې منع کړې وي - نو کله یې چې منکر ولیده پرې فرض دی چې

په لاس سره يې منع کړي که ځواک يې درلوده، که چیرته لدې څخه عاجز پاتې شو، نو په ژبې سره دې منع کړي، داسې چې د منکر یا بدی تر سره کوونکی یې له کولو څخه منع کړي، او ضرر يې ورته بیان کړي او د دې بدی پر ځای یې نیکی ته لارښوونه وکړي، که چېرته لدې مرتبې څخه هم عاجز پاتې شو نو په زړه سره دې بدلون ورکړي، داسې چې هغه - کار- په زړه کې بد وګڼي او په زړه کې دا اراده وکړي چې که چیرته یې له وسې پوره وای نو خامخا به يې منع کړی و. او - يو څه ته- په زړه سره بدلون ورکول له منکر څخه د منع کولو لپاره د ایمان تر ټولو کمزوری مرتبه ده.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. دا حديث له بدیو څخه د منع کولو د مرتبو په بیانولو کې اصل دی.
٢. په تدریجي ډول له بدیو څخه د منع کولو حکم، هر يو د خپل توان او وړتیاوو سره سم.
٣. له بدیو څخه منع کول په دین کې هغه ستر باب دی چې - دا کار- له هیچا څخه نه ساقطیږي، او هر مسلمان پرې د خپلې وسې پورې مکلف دی.
٤. په نیکی امر کول او له بدیو څخه منع کول د ایمان له ځانګړتیاوو څخه دي، او ایمان زیاتیږي او کمیږي.
٥. له بدیو څخه د منع کولو لپاره پدې پوهېدل شرط دي چې نوموړی کار ناروا دی.
٦. له بدیو څخه د منع کولو لپاره شرط دا دی چې هغه باندې بل ستر ناروا عمل مرتب نه شي.
٧. له بدیو څخه منع کول آداب او شرایط لري چې مسلمان يې باید زده کړي.
٨. له بدیو څخه منع کول دیني پالیسی، پوهې او بصیرت ته اړتیا لري.
٩. په زړه سره د ګناه بد نه ګڼل د ایمان په کمزورتیا دلالت کوي.

(65001)

(56) – عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَثَلُ القَائِمِ عَلَى حُدُودِ اللَّهِ وَالوَاقِعِ فِيهَا، كَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا عَلَى سَفِينَةٍ، فَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَعْلاَهَا وَبَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا، فَكَانَ الَّذِينَ فِي أَسْفَلِهَا إِذَا اسْتَقَوْا مِنَ المَاءِ مَرُّوا عَلَى مَنْ فَوْقَهُمْ، فَقَالُوا: لَوْ أَنَّا خَرَقْنَا فِي نَصِيبِنَا خَرْقًا وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا، فَإِنْ يَتْرُكُوهُمْ وَمَا أَرَادُوا هَلَكُوا جَمِيعًا، وَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ نَجَوْا، وَنَجَوْا جَمِيعًا». [صحيح] - [رواه البخاري]

**له نعمان بن بشير رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**

**«د هغه چا مثال چې د الله جل جلاله له حدودو سره ودرېږي او هغه څوک چې پکې ښکېل کېږي د هغه قوم په څېر دی چې په یوه کښتۍ کې قرعه اندازي وکړي، نو ځینو ته يې پورتنۍ برخه ورسېږي او ځينې نورو ته لاندینۍ برخه ورسېږي، نو هغه خلک چې په لاندې طبقه کې دي کله چې اوبو ته اړتیا پیدا کوي په پاسنیو خلکو تېرېږي، نو (خپلو کې سره) ووايي: که چېرته موږ په خپله برخه کې سوری کړی وای نو پورته خلک به مو نه ازارول، نو که چېرته يې پرېږدي چې هغه کار وکړي د کوم چې اراده لري نو ټول به هلاک شي، او که چېرته يې لاسنیوی وکړي ټول به وژغورل شي».** [صحیح حدیث دی] - [بخاري روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو کسانو مثال بیان کړی چې د الله تعالی له حدودو سره ودرېږي (او نه ترې تېرېږي)، چې هغوی د الله په امر ولاړ دي، په نیکی امر کوي او له بدیو څخه منع کول کوي. او د هغه چا مثال چې د الله په حدودو کې ښکېل وي، نیکي نه کوي او منع شوي کارونه تر سره کوي، او د ټولنې په ژغورلو د دې کار اغېز، د داسې یو قوم په مثال دی چې کښتۍ ته پورته شي او پدې سره قرعه واچوي چې څوک پورته کښېني او څوک ښکته، نو ځینو ته پورته برخه ورسېږي او ځینو ته ښکته، نو هغه خلک چې لاندې وي کله چې اوبه راوړي په پورتنیو خلکو تېرېږي، نو هغه کسان چې لاندې دي ووايي: که چېرته موږ په خپل ځای کې سوری کړی وای چې اوبه ترې وڅښو، نو پورته خلک به مو نه ازارولی، نو که چېرته يې پورتني خلک دې کار ته پرېږدي، نو کښتۍ به په ټولو غرقه شي، او که چېرته يې لدې کار څخه منع کړي او پرې يې نه ږدي، نو دواړه ډلې به وژغورل شي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د ټولنې په ساتنه او ژغورنه کې په نیکی د امر او له بدیو څخه د منع کولو اهمیت.

٢. د زده کړې یوه طریقه د مثالونو وړاندې کول دي، ترڅو معنی د یو روښانه انځور سره ذهن ته نږدې کړي.

٣. په ډاګه د بدی کولو ضرر ټولو ته رسېږي کله چې ورڅخه هېڅوک منع کول نه کوي.

٤. د ټولنې تباهي په دې کې ده چې بدان په ځمکه کې فساد کولو ته پرېښودل شي.

٥. ناسم چلند او ښه نیت د عمل د سمونتیا لپاره بسنه نه کوي.

٦. په اسلامي ټولنه کې مسؤلیتونه مشترک دي او یو ځانګړي فرد ته نه سپارل کیږي.

٧. د خاصو په ګناه د عامو خلکو نیول که چیرته منع شوي نه وي.

٨. بدي کوونکي خپل بد په داسې طریقه ښکاره کوي چې د ټولنې خلکو ته ښه ښکاره شي، لکه د منافقانو په څیر.

(3341)

(57) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:** «چا چې د هدایت لورې ته بلنه ورکړه نو دومره ثواب یې کیږي لکه څومره چې د هدایت د پیروانو کیږي پداسې حال کې چې د هغوی له اجر او ثوابونو څخه هېڅ نه کمیږي، او چا چې ګمراهی ته بلنه ورکړه، نو دومره ګناه یې کیږي څومره چې د ګمراهی د پیروانو کیږي، پداسې حال کې چې د هغوی له ګناهونو څخه هېڅ نه کمیږي». [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګندوي چې چا د خلکو داسې یوې لارې ته لارښوونه وکړه چې په هغې کې په وینا او عمل کې خیر وي، نو د هغه لپاره به د هغو کسانو په څیر اجر وي چې د حق لارې پیروي یې کړې ده، پرته له دې چې د پیروانو په اجر کې یې څه کمی راشي. او چا چې خلکو ته د غلطې او بدې لارې لارښوونه وکړه چې په هغې کې ګناه، خطا او یا داسې یو کار وي چې روا نه وي، هغه که وینا وي یا عمل، نو هغه به د پیروی کوونکو سره مساوي بار په غاړه اخلي پرته له دې چې د دوی په ګناهونو کې څه کمی راشي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. سمي لارې ته د بلنې ورکولو فضيلت، که لږه وي يا ډېره، او دا چې بلونکي ته د عمل کوونکي په څېر اجر دی، او دا چې دا د الله تعالی د لوی فضل او بشپړ سخاوت څخه دي.
٢. ګمراهۍ ته د بلنې خطر، که کوچنۍ وي او یا لویه، او دا چې څوک بلنه ورکوي، نو پر هغه هم د عمل کوونکي په څېر د ګناه پېټی دی.
٣. سزا د عمل له جنس څخه وي، نو چا چې نیکۍ ته بلنه ورکړه، هغه ته د نیکۍ د ترسره کوونکي په اندازه اجر دی، او چا چې بدۍ ته بلنه ورکړه، نو په هغه د ګناه کوونکي د عمل په اندازه پېټی بار دی.
٤. یو مسلمان باید ځان وساتي چې نور ورپسې په ګناه کې اقتدا ونه کړي، کله چې دی په ښکاره ګناه کوي، پداسې حال کې چې خلک يې ګوري، ځکه يقينا چې دی له ده څخه د نورو په تقلید ګنهکاریږي، که څه هم هغه يې دې ته هڅولی نه وي.

(3373)

(58) – عن أبي مسعود الأنصاري رضي الله عنه قال: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنِّي أُبْدِعَ بِي فَاحْمِلْنِي، فَقَالَ: «مَا عِنْدِي»، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنَا أَدُلُّهُ عَلَى مَنْ يَحْمِلُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يو سړی راغی، ويې ويل: زما سپرلۍ مړه شوه او زه په لاره کې پاتې يم نو ما په يوه سپرلۍ سپور کړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل: «زه يې نه لرم»، نو يو سړي وويل: اې د الله جل جلاله رسوله! زه به يو څوک وروښايم هغه به يې سپور کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «چا چې د يو ښه کار لارښوونه وکړه، هغه لره د هغه کار د تر سره کوونکي په څېر اجر دی».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يو سړی راغی او ورته ويې ويل: زما سپرلۍ مړه شوې ده، نو ما په يوه خاروي سپور کړه او ماته يوه سپرلۍ راکړه چې ومې رسوي، نو رسول الله صلی الله علیه

وسلم له هغه څخه بخښنه وغوښته ځکه چې هغه د هغه د سپرولو لپاره هېڅ شی نه درلود، نو یو سړی چې هلته حاضر و وویل: اې د الله رسوله! زه به یو څوک ورونښایم چې سپور یې کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې هغه د سپرلۍ د خاوند سره په ثواب کې شریک دی، ځکه چې اړمن ته یې د هغه لارښوونه وکړه.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. ښېګڼې ته په لارښوونې تینګار.
٢. ښېګڼې کولو ته هڅول د اسلامي ټولنې د پیوستون او یووالي یو لامل ګرځي.
٣. د الله تعالی د مهربانی پراخوالی.
٤. دا حدیث یوه عمومي قاعده ده چې د ښګڼې ټولو کارونو ته شاملیږي.
٥. که څوک د سوال کوونکي غوښتنه پوره نه کړای شي، نو بل چاته دې لارښوونه وکړي.

(5354)

(59) – عَنْ سَهْلِ بْنُ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ: «لَأُعْطِيَنَّ هَذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ، يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ»، قَالَ: فَبَاتَ النَّاسُ يَدُوكُونَ لَيْلَتَهُمْ أَيُّهُمْ يُعْطَاهَا، فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُو أَنْ يُعْطَاهَا، فَقَالَ: «أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ؟» فَقِيلَ: هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ، قَالَ: «فَأَرْسِلُوا إِلَيْهِ»، فَأُتِيَ بِهِ فَبَصَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَيْنَيْهِ وَدَعَا لَهُ، فَبَرَأَ حَتَّى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ، فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ، فَقَالَ عَلِيٌّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا؟ فَقَالَ: «انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الإِسْلَامِ، وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللَّهِ فِيهِ، فَوَاللَّهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا، خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له سهل بن سعد رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خیبر په ورځ وفرمایل:** «سبا ورځ به بیرغ هغه چاته ورکوم چې په لاسونو به یې الله فتح وکړي، دی هغه څوک دی چې د الله او د هغه د رسول سره مینه لري، او الله او رسول یې له هغه سره مینه لري»،

وايي: خلکو شپه پداسې حال کې سبا کړه چې هر يو د دې تمه درلوده چې چاته به ورکول کېږي، نو کله چې خلکو سهار کړ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلل، هر يو يې تمه درلوده چې بيرغ ورکړل شي، نو هغه وفرمايل: «علي ابن ابي طالب چېرته دی؟» ورته وويل شو: هغه د خپلې سترګې څخه شکايت کوي، ويې ويل: «هغه ته يو څوک ورولېږئ» نو راوستل شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په سترګو کې لياړې تو کړې او دعا يې ورته وکړه، نو داسې روغ شو لکه هېڅ ناروغي يې چې نه درلوده، نو بيرغ يې ورکړ، علی وويل: اې د الله رسوله، آيا تر هغه ورسره وجنګېږم چې تر څو زموږ په څېر شي؟ نو هغه وفرمايل: «په طبيعت دې ولاړ شه تردې چې د هغوی سيمې ته ورسېږې، بيا هغوی اسلام ته راوبله او د الله تعالی پر واجب حق يې خبر کړه، قسم په الله که چېرته ستا له امله الله يو سړي ته لار وښيي دا درته له سرو اوښانو غوره ده». [صحيح حديث دی] - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته سبا ورځ د خيبر پر يهودانو د مسلمانانو د بريا خبر ورکړ، د يوه سړي په لاس چې بيرغ به ورکوي، هغه بيرغ چې لښکر به يې د ځان لپاره نښانه ګرځوي، او د ده سړي له صفتونو څخه يو دا دی چې د الله او رسول سره يې مينه لري او الله او رسول يې هم ورسره مينه لري، نو صحابه کرامو شپه په بحث او خبرو تېره کړه چې بيرغ به چا ته ورکول کېږي؟ د دې ستر وياړ په هيله، کله چې سهار شو نو دوی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلل، ټولو هيله درلوده چې دا لوی شرف وګټي، نو هغه صلى الله عليه وسلم د علي بن ابي طالب رضي الله عنه پوښتنه وکړه ؟ ورته وويل شول: ناروغ دی او له سترګو نه شکايت کوي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورپسې خلک ورولېږل او راېې ووست، نو خپلې مبارکې لياړې يې د هغه په سترګو کې تو کړې او دعا يې ورته وکړه، نو داسې له ناروغۍ څخه روغ شو لکه بيخي چې ناروغ شوی نه وي، نو بيرغ يې ورکړ، او سپارښتنه يې ورته وکړه چې په نرمۍ سره حرکت وکړي تر دې چې د دښمن قلعې ته ورسيږي، نو په اسلام کې د داخلېدو وړانديز دې ورته وکړي، که وړانديز يې ومنلو بيا دې د هغو فرايضو په اړه خبر ورکړي چې کول يې په هغوی لازم دي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته د دعوت فضيلت بيان کړ، او دا چې يو بلونکی کله د يو چا د هدايت سبب شي نو دا ورته د سرو اوښانو نه غوره ده، کوم چې د عربو تر ټولو ارزښتمن مالونه دي، نو داسې به شي لکه دا يې چې خاوند وي او يا يې د الله په لار کې خيرات کړي وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د علي بن أبي طالب رضي الله عنه فضيلت، او په اړه يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ګواهي چې الله او رسول يې ورسره مينه لري، او دی هم د الله او د رسول سره يې مينه لري.

٢. د خير کارونو ته د صحابه کرامو ليوالتيا او يو له بل څخه مخکې کېدل.

٣. د جګړې پر مهال د ادابو مراعتولو مشروعيت او د غالمغال او بدرنګو غږونو پرېښودل چې اړتيا ورته نه وي.

٤. د هغه د نبوت د ثبوتونو له جملې څخه پر يهودانو د بريا خبر او د الله تعالى په اذن د هغه په لاسونو د علي بن ابي طالب رضي الله عنه د سترګو شفا.

٥. د جهاد تر ټولو ستره موخه اسلام کې د خلکو داخلېدل دي.

٦. اسلام ته بلنه په تدريج سره کيږي، نو لومړی له کافر څخه غوښتل کيږي چې د دوو شهادتونو په ويلو سره په اسلام کې داخل شي، بيا ورته د اسلام د فرايضو د ادا کولو امر کيږي.

٧. اسلام ته د بلنې فضيلت او هغه خير چې په بلونکي او بلل شوي کې دی، نو کېدی شي چې بلل شوي ته هدايت وشي او بلونکي ته لوی اجر او ثواب ورکړ شي.

(3409)

(60) – عن ابنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قال: قال رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلم: «مَن تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ». [حسن] - [رواه أبو داود وأحمد]

**له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «څوک چې له کوم قوم سره مشابهت وکړي نو دی له هغوی څخه دی».** [حسن حديث دی] – [ابو داود او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي، څوک چې د کافرانو، فاسقانو او يا نيکانو سره مشابهت وکړي؛ چې د هغوی له ځانګړنو عقايدو، عبادتونو او يا رواجونو څخه يو څه تر سره کړي، نو دی له هغوی څخه دی: ځکه چې په ښکاره ورسره مشابهت د دې لامل ګرځي چې باطني مشابهت ورسره پيدا شي، او پدې کې شک نشته چې له يو چا سره ورته والی له هغوی څخه د اغېزمنېدلو په

پایله کې کیږي، او کېدی شي هغوی سره د مینې کولو، هغوی ته د درناوي ساتلو لامل شي او دا کېدی شي انسان دې ته اړباسي چې په باطن او عباداتو کې ورسره مشابهت پیدا کړي، الله - جل جلاله - دې ترې مونږ وساتي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د کافرانو او فاسقانو سره د مشابهت نه خبرداری.
٢. له نېکانو سره ورته والی او ورپسې اقتداء کول.
٣. ظاهري تقلید په باطن کې مینه په میراث پرېږدي.
٤. انسان ته د مشابهت ډول ته په لیدلو ګواښ او ګناه رسیږي.
٥. له کفارو سره د هغوی په مذهب او د هغوی په رسمونو کې د هغوی له مشابهت څخه ممانعت، خو لدې پرته تشبیه په ممانعت کې نه داخلیږي لکه: د هنرونو زده کړه او داسې نور.

(5353)

(61) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبيَّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم قَالَ: «الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ، فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُم مَنْ يُخَالِل». [حسن] - [رواه أبو داود والترمذي وأحمد]

**له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «یو سړی د خپل ملګري د دین پیروي کوي، نو په تاسو کې دې څوک وګوري چې له چا سره خالصه ملګرتیا کوي».** [حدیث حسن دی] – [ابو داود، ترمذي او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګنده کړه چې انسان په خپلو اخلاقو او عاداتو کې له خپل مخلص دوست او ملګري سره مشابهت لري او دوستي په اخلاقو، سلوک او کړنو باندې تاثیر لري، لدې امله یې د دوست د ښه انتخاب لپاره لارښوونه وکړه، ځکه چې دا د هغه ملګري ته د ایمان، هدایت او نیکی لارښوونه کوي، او د ملګري لپاره د خیر په کارونو کې مرستندوی وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ښو خلکو په ملګرتيا امر کول او هغوی غوره کول او د بدو خلکو له ملګرتيا څخه ممانعت.
٢. له ملګري څخه يې ځانګړې يادونه وکړه او خپلوان يې ياد نه کړل، ځکه چې ملګری ته انتخابوې او ورور او خپلوان هغه څوک دي چې ته يې د انتخابولو اختيار نه لرې.
٣. ملګرتيا بايد د تفکر له مخې وشي.
٤. انسان د مؤمنانو په ملګرتيا خپل دين قوي کوي او د فاسقانو په ملګرتيا يې کمزوری کوي.

(3122)

(62) – عن تَميم الداري رضي الله عنه، قال: سمعتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الأَمْرُ مَا بَلَغَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ، وَلَا يَتْرُكُ اللهُ بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ هَذَا الدِّينَ، بِعِزِّ عَزِيزٍ أَوْ بِذُلِّ ذَلِيلٍ، عِزًّا يُعِزُّ اللهُ بِهِ الإِسْلَامَ، وَذُلًّا يُذِلُّ اللهُ بِهِ الكُفْرَ» وَكَانَ تَمِيمٌ الدَّارِيُّ يَقُولُ: قَدْ عَرَفْتُ ذَلِكَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، لَقَدْ أَصَابَ مَنْ أَسْلَمَ مِنْهُمُ الْخَيْرُ وَالشَّرَفُ وَالْعِزُّ، وَلَقَدْ أَصَابَ مَنْ كَانَ مِنْهُمْ كَافِرًا الذُّلُّ وَالصَّغَارُ وَالْجِزْيَةُ. [صحيح] - [رواه أحمد]

له تميم الدارى رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «دا دين به تر هغه ځاى ورسيږي چېرته چې شپه او ورځ رسېدلي او الله تعالى به په ښارونو او کليو کې هيڅ داسې کور پرې نه ږدي مګر دا چې دا دين به ورننباسي د عزت لرونکي په عزت او د ذليل انسان په ذلت سره؛ داسې عزت چې الله پرې اسلام لوړ او کفر پرې سپک او ذليل کړي» او تميم داري به ويېل: دا مې په خپلې کورنۍ کې وليدل؛ زما د اهل بيتو له جملې څخه چې چا اسلام قبول کړی و خير، شرافت او عزت يې تر لاسه کړ، او څوک چې له دوی څخه کافران وو، نو له ذلت، سپکاوي او جزيې سره مخ شول. [صحيح حديث دى] – [احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې دا دين به د ځمکې ټولې برخې ونيسي، هر هغه ځاى ته چې شپه او ورځ رسېدلي دا دين به ور ورسيږي. او الله تعالى به ښارونو، کليو او بانډو کې هيڅ کور پرې نه ږدي پرته له دې چې دا دين پرې ورننباسي. نو چا چې دا دين قبول کړ او ايمان يې پرې راوړ،

نو د اسلام په درناوي سره به عزتمند وي. او چا چې ترې انکار وکړ او کفر يې پرې وکړ نو ذليل او سپک به شي.

بيا تميم داري رضي الله عنه وايي چې هغه څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه وړاندوينه کړې وه د خپلې کورنۍ په خلکو کې مې وليدل؛ چا چې له دوی څخه اسلام راوړی و، نو ښېګڼه، شرف او عزت يې تر لاسه کړ، او چا چې له دوی څخه کفر وکړ؛ ذليل او سپک شول او سربېره پر دې به يې مسلمانانو ته جزيه هم ورکوله.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مسلمانانو لپاره ښه زيری چې د ځمکې په ټولو برخو کې به د دوی دين خپور شي.
٢. د اسلام او مسلمانانو لپاره عزت او د کفر او کافرانو لپاره ذلت دی.
٣. په دې کې د نبوت له ثبوتونو څخه يو ثبوت او له نښو څخه يې يوه نښانه ده چې هغه څه پېښ شول چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه خبر ورکړی و.

(11220)

(63) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أنه قال: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:** «قسم په هغه ذات چې د محمد روح يې په لاس کې دی، له دې امت څخه چې هر څوک؛ که هغه يهودي وي يا نصراني، زما په اړه خبره شي، او بيا پداسې حال کې مړ شي چې په هغه څه يې ايمان نه وي راوړی چې زه پرې رالېږل شوی يم، مګر دا چې هغه به له دوزخيانو څخه شي». [صحيح حديث دی [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم يادوي چې لدې امت څخه چې هر يهودي يا نصراني او يا بل چاته د نبي صلى الله عليه وسلم بلنه ورسيږي او بيا مړ شي پداسې حال کې چې پر ده يې ايمان نه وي راوړی مګر دا چې له دوزخيانو څخه به وي او د تل لپاره به پکې پاتې شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. ټولې نړۍ ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيغام عموميت او د هغه د پيروۍ کولو وجوب، او د هغه په شريعت سره د نورو ټولو شريعتونو منسوخېدل.

٢. څوک چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم کافر شو، د هغه دا ادعا ورته ګټه نه رسوي چې په نورو پيغمبرانو عليهم السلام يې ايمان راوړی دی.

٣. چا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه نه وي اورېدلي او د اسلام بلنه ورته نه وي رسېدلي، هغه معذور دی او په اخرت کې يې چاره د الله تعالى سره ده.

٤. اسلام د انسان لپاره فايدور تماميري که څه هم له مرګ څخه لږ مخکې وي، ولو که د سختې ناروغۍ پر مهال هم وي، خو مخکې لدې چې روح مرۍ ته نه وي رارسيدلی.

٥. د کافرانو دين سم ګڼل - چې يهود او نصارا هم له دوی څخه دي - کفر دی.

٦. -په حديث کې - له يهودي او مسيحي څخه يادونه بل هر چا ته خبرداری دی؛ ځکه چې يهود او نصارى کتاب لري، نو کله چې د دوئ حال داسې وي، نو نور هغه کسان چې کتاب نه لري، په طريقه اولى د دې عذاب مستحق دي، ځکه چې ټول بايد د هغه په دين کې داخل شي او د هغه صلى الله عليه وسلم پيروي وکړي.

(3272)

(64) – عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ الْعَقَبَةِ وَهُوَ عَلَى نَاقَتِهِ: «الْقُطْ لِي حَصًى» فَلَقَطْتُ لَهُ سَبْعَ حَصَيَاتٍ، هُنَّ حَصَى الْخَذْفِ، فَجَعَلَ يَنْفُضُهُنَّ فِي كَفِّهِ وَيَقُولُ: «أَمْثَالَ هَؤُلَاءِ فَارْمُوا» ثُمَّ قَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ، إِيَّاكُمْ وَالْغُلُوَّ فِي الدِّينِ، فَإِنَّمَا أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ الْغُلُوُّ فِي الدِّينِ». [صحيح] - [رواه ابن ماجه والنسائي وأحمد]

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د عقبه جمرې (لويې جمرې) په سهار په داسې حال کې چې په اوښ سپور و وفرمايل: «ماته تيږې/ګيټی راټولې کړه» نو ما ورته اووه کاڼي/ګيټې راټول کړل، نو هغه په ورغوو کې ومروړل او وې ويل: «د دې په څېر، په کاڼو ويشتل وکړئ». بيا يې وفرمايل: «اې خلکو، په دين کې له افراطيت څخه ځان وساتئ، په حقيقت کې ستاسو څخه مخکې خلک په دين کې د افراطيت له امله هلاک شوي دي». [صحيح حديث دی] – [ابن ماجه، نسائي او احمد روايت کړی].

## تشريح:

ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په حجة الوداع کې د قربانۍ په ورځ د جمرة العقبې د ويشتلو په سهار و. نو امر يې ورته وکړ چې کنکرې/ګيټۍ ورته راټولې کړي، نو هغه ورته اووه کنکرې راټولې کړې چې حجم يې د نخود يا چڼې په اندازه و، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس کې ونيولې بيا يې وښوځولې او ويې ويل: د دې په اندازه (ګيټو) ويشتل وکړئ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم له افراطيت، تشدد او په ديني چارو کې له حد څخه د اوړېدلو په اړه خبرداری ورکړ (او ويې ويل): «پخواني امتونه په دين کې له حد څخه په تجاوز، افراطيت او تشدد له امله تباه شوي دي».

## د حديث له فايدو څخه:

١. په دين کې له افراطيت څخه ممانعت او د هغې بدې پايلې بيانول او دا چې د هلاکت سبب ګرځي.
٢. زموږ څخه مخکې له پخوانيو امتونو نه عبرت اخيستل د دې لپاره چې د هغو خطاګانو څخه ځان وژغورل شي په کومو کې چې هغوی واقع شوي وو.
٣. د سنتو پيروی ته هڅول.

(3395)

**(65) – عن عبد الله بن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُون» قالها ثلاثًا. [صحيح] - [رواه مسلم]**

**له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «تشدد کوونکي هلاک شول» درې ځلې يې وويل.** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه افراطيانو د مايوسۍ او زيان په اړه خبر ورکوي چې له هدايت او علم پرته افراطيت کوي، او دا چې دوی په دنيا او آخرت، ويناوو او کړنو کې له شرعي حدودو څخه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې راټګ کړی دی اوړيدلي دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په ټولو چارو کې د افراط او تکلف ممانعت، او په هر څه کې ترې پر ځان ساتلو ټينګار؛ په ځانګړې توګه په عباداتو او نېکانو ته په درناوي کې.
٢. په عبادت او نورو شيانو کې د کمال غوښتنه د ستاينې وړ ده؛ او دا د شريعت په پيروی سره کيږي.
٣. د مهمې خبرې تصديقول اړين دي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دا جمله درې ځلې تکرار کړه.
٤. د اسلام مراعت او آسانتيا.

(3420)

(66) – عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْيَهُودُ مَغْضُوبٌ عَلَيْهِمْ، وَالنَّصَارَى ضُلَّالٌ». [صحيح] - [رواه الترمذي]

**له عدي بن حاتم رضى الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**
«يهوديان هغه څوک دي چې غضب کړای شوي او نصارا ګمراهان دي». [صحيح حديث دی] – [ترمذي روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې يهود يو داسې قوم دي چې الله پرې قهر شوی دی؛ ځکه چې دوی حق وپېژانده خو عمل يې پرې ونه کړ. او نصارا ګمراه قوم دي، ځکه چې له علم او پوهې پرته يې عمل وکړ.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د علم او عمل تر منځ په يو ځای کولو کې د هغو کسانو له لارې خلاصون دی چې الله پرې قهر شوی او هغه کسان چې لار يې ورکه کړې ده.
٢. د يهودو او نصاراوو له لارو ځان ساتل او په نېغه لار ثابت پاتې کېدل چې هغه اسلام دی.

٣. هره ډله؛ يهود او نصارا لار ورکي دي او غضب کړای شوي دي، خو د يهودو ځانګړي صفتونه دا دي چې غضب پرې شوی او د نصاراوو ځانګړی صفت ګمراهي ده.

(65061)

(67) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضي الله عنهما قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «كَتَبَ اللهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، قَالَ: وَعَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: «الله د آسمانونو او ځمکې له پيدا کولو څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو تقدير ليکلی دی، وايې: پداسې حال کې چې عرش يې د اوبو له پاسه و».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله پاک د ځمکې او آسمانونو له پيدايښت څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو د تقدير په اړه هر هغه څه په تفصيل سره په لوح محفوظ کې ليکلي دي چې پيښيږي به: لکه ژوند، مرګ، رزق او داسې نور، او دا د هغه تقدير سره سم ترسره کېدونکي دي لکه څرنګه يې چې الله تعالى پريکړه کړې ده. هرڅه چې شتون مومي نو هغه د الله تعالى د پريکړې او تقدير سره سم کيږي. نو هغه څه چې بنده ته رسيدونکي دي هيڅکله به ترې خطا نه شي، او هغه څه چې ورته رسيدونکي ندي، هيڅکله به ور ونه رسيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په قضا او قدر د ايمان فرضيت.
٢. تقدير د شيانو په اړه د الله تعالى له پوهې، ليکلو، ارادې، او د هغوی له پيدا کولو څخه عبارت دی.
٣. پدې ايمان چې تقديرونه د اسمانونو او ځمکې له پيدايښت څخه مخکې ليکل شوي دا ثمره زيږوي چې انسان پرې راضي شي او تقدير ته تسليم شي.

٤. دا چې د رحمن ذات عرش د ځمکې او آسمانونو له پیدایښت څخه وړاندې د اوبو له پاسه و.

(65038)

(68) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ المَصْدُوقُ: «أَنَّ خَلْقَ أَحَدِكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا وَأَرْبَعِينَ لَيْلَةً، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَهُ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَهُ، ثُمَّ يُبْعَثُ إِلَيْهِ المَلَكُ، فَيُؤْذَنُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ، فَيَكْتُبُ: رِزْقَهُ وَأَجَلَهُ وَعَمَلَهُ وَشَقِيٌّ أَمْ سَعِيدٌ، ثُمَّ يَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الجَنَّةِ حَتَّى لاَ يَكُونُ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ إِلَّا ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الكِتَابُ، فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُ النَّارَ، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ إِلَّا ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الكِتَابُ، فَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته وفرمایل - حال دا چې - هغه رښتینی او امانتدار دی چې:** «ستاسو څخه د یو تن پیدایښت داسې وي چې د خپلې مور په ګېډه کې څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې راټولېږي، بیا د پنډ شوي سختې وینې په څېر شي، بیا د غوښې دیوې ټوټې په څېر - چې ژول شوي وي - وګرځي، بیا ورته ملایکه راولیږل شي او د څلورو خبرو حکم ورته وکړل شي، نو د هغه رزق، اجل، عمل، نېکمرغي او یا بد مرغي ولیکي، بیا پکې ساه پوکړل شي، نو یو څوک به داسې وي چې د جنتیانو عملونه به کوي تر دې چې د هغه او جنت تر منځه یو ګز واټن پاتې شي، نو تقدیر به پرې رامخکې شي او د دوزخیانو عمل به ترسره کړي او اور ته به داخل شي، او یو څوک به داسې وي چې د دوزخیانو عملونه به تر سره کوي، تر دې چې د هغه او د دوزخ تر منځه یو ګز واټن پاتې شي، نو تقدیر به پرې رامخته شي او د جنتیانو عمل به وکړي نو جنت ته به داخل شي». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته دا خبره کړې ده او هغه په خپلو خبرو کې رښتینی دی؛ ځکه چې الله تعالی رېښتونی ګڼلی دی. هغه وفرمایل: ستاسو

څخه د يو تن جوړښت راټولېږي، داسې چې کله يو سړی د خپلې مېرمنې سره يو ځای کېږي، نو د هغه شېندل شوې منې د ښځې په رحم کې د څلوېښتو ورځو لپاره د نطفې په شکل کې راټولېږي. بيا علقه وګرځي چې هغه ټينګه او وچه وينه ده، او دا - کار - په دويمه څلوېښتی کې کېږي، بيا مضغه شي؛ چې هغه د غوښې دومره اندازه ټوټه ده چې ژوول ته برابره وي، او دا په درېمه څلوېښتی کې کېږي. بيا ورته الله تعالی ملايکه راولېږي، نو د درېمې څلوېښتی په پای کې پکې روح پوکړي، ملايکې ته امر وشي چې څلور خبرې وليکي: د هغه رزق؛ چې له هغه اندازې نعمتونو څخه عبارت دی چې په خپل عمر کې به يې لاسته راوړي، د هغه اجل؛ او دا په دنيا کې د هغه د پاتې کېدا موده ده، د هغه عمل، چې څه دی؟ او دا چې آيا نيکمرغه دی که بد مرغه. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم ياد کړ چې يو سړی به د جنتيانو عمل کوي او عملونه به يې نيک وي، يعنې هغه څه چې خلکو ته ښکاري؛ تر هغه وخته پورې به همداسې وي، تر دې چې د ده او جنت تر منځه يوازې د يو ګز په اندازه فاصله پاتې شي، يعنې د ده او جنت ته د رسېدو په منځ کې به دومره فاصله پاتې شي لکه د يو ګز په اندازه، نو تقدير او هغه څه به پرې غالب شي چې ورته ليکل شوي دي نو د دوزخيانو عمل به وکړي، نو په همدې سره به يې خاتمه وشي او اور ته به داخل شي. ځکه چې د عمل د منلو شرط دا دی چې په هغه باندې ثابت قدمه پاتې شي او بدلون ورنکړي. او د خلکو څخه يو بل تن به د دوزخيانو عمل تر هغه وخته پورې کوي چې هغه دوزخ ته ننوتلو ته نږدې شي او داسې به وي لکه د ده او د اور تر منځ چې د ځمکې د يو ګز په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې غالب شي او هغه څه چې ورته ليکل شوي دي نو د جنتيانو عمل به وکړي او جنت ته به داخل شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په آخرت کې د چارو برخليک د هغه څه پر بنا دی چې له وړاندې يې په اړه پرېکړه شوې وي او تقدير پرې جاري شوی وي.

٢. په عملونو له دوکه کېدو څخه ويروونه؛ ځکه چې عملونو ته اعتبار په پای سره دی.

(65037)

(69) – عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: «الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ، وَالنَّارُ مِثْلُ ذَلِكَ». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «جنت ستاسو څخه يو تن ته د هغه د بوټانو له تسمې څخه ډېر نږدې دی او دوزخ هم همداسې دی».** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې جنت او دوزخ انسان ته دومره نږدې دي لکه د پښې پر څټ د بوټانو تسمې چې نږدې دي، ځکه چې کله هغه داسې يو عمل وکړي چې الله جل جلاله پرې خوښيږي، نو له امله يې جنت ته ځي او يا ګناه وکړي چې له امله يې دوزخ ته ځي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. ښه کار ته هڅول که لږ هم وي او له بد کار څخه وېرول که لږ هم وي.
٢. مسلمان بايد په خپل ژوند کې اميد او وېره سره يوځای کړي، او تل له الله تعالی څخه وغواړي چې په حق يې ثابت ولري، ترڅو نجات ومومي او په خپل حال مغرور نه شي.

(3581)

(70) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ، وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «دوزخ په خواهشاتو سره پوښل شوی دی، او جنت په سختيو سره پوښل شوی دی».** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم واضحه کړه چې اور په هغو کارونو سره پوښل شوی دی چې نفس يې غواړي لکه حرام کارونه او يا په واجباتو کې غفلت کول. څوک چې نفس د خپلو خواهشاتو

تابع کړي نو د اور مستحق دی. او دا چې جنت په هغو شیانو سره پوښل شوی دی چې نفس ترې کرکه کوي لکه د هغو کارونو تر سره کول چې امر پرې شوی وي، او د حرامو کارونو پرېښودل او ترې صبر کول، نو که چېرته يې ترې ځان وساته او د خپل ځان سره يې مبارزه وکړه نو جنت ته د ننوتلو مستحق کرځي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په شهوتونو کې د ښکېل کېدلو يو لامل منکر او ناوړه کار لره د شيطان ښايسته کول دي، تر دې چې نفس ته ښايسته ښکاره شي او لورې ته يې تمايل پيدا کړي.

٢. له حرامو خواهشاتو څخه د ځان ساتلو امر؛ ځکه چې دا د دوزخ لاره ده، او په سختيو صبر کول، ځکه چې دا د جنت لاره ده.

٣. د ځان په وړاندې د مبارزې فضيلت او په عبادت کې زيار وېستل او د اطاعت په شاوخوا کې په ننګونو او سختيو صبر کول.

(3702)

(71) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ أَرْسَلَ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلامُ إِلَى الْجَنَّةِ، فَقَالَ: انْظُرْ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لِأَهْلِهَا فِيهَا. فَنَظَرَ إِلَيْهَا فَرَجَعَ، فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا. فَأَمَرَ بِهَا فَحُفَّتْ بِالْمَكَارِهِ، فَقَالَ: اذْهَبْ إِلَيْهَا فَانْظُرْ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لِأَهْلِهَا فِيهَا. فَنَظَرَ إِلَيْهَا، فَإِذَا هِيَ قَدْ حُفَّتْ بِالْمَكَارِهِ، فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ. قَالَ: اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَى النَّارِ وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لِأَهْلِهَا فِيهَا. فَنَظَرَ إِلَيْهَا فَإِذَا هِيَ يَرْكَبُ بَعْضُهَا بَعْضًا، فَرَجَعَ فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لَا يَدْخُلُهَا أَحَدٌ. فَأَمَرَ بِهَا فَحُفَّتْ بِالشَّهَوَاتِ، فَقَالَ: ارْجِعْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا. فَنَظَرَ إِلَيْهَا فَإِذَا هِيَ قَدْ حُفَّتْ بِالشَّهَوَاتِ، فَرَجَعَ وَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَنْجُوَ مِنْهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا». [حسن]

- [رواه أبو داود والترمذي والنسائي]

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:**

«کله چې الله - تعالی - جنت او اور (دوزخ) پیدا کړل، نو جبرائيل عليه السلام يې جنت ته ولېږه، او ورته ويې ويل: ورته وګوره او هغه څه ته چې ما يې خاوندانو ته پکې چمتو کړې دي. نو ورته يې وکتل

او بیرته راوګرځېده او وېي فرمایل: ستا په عزت مې دې قسم وي، هیڅوک به يې په اړه نه اوري مګر دا چې ورته به ننوځي. نو امر يې وکړ چې په سختو کارونو سره دې وپوښل شي، نو وېي فرمایل: ورشه او ورته وګوره او هغه څه ته چې ما يې د خاوندانو لپاره چمتو کړي دي، نو هغه ورته وکتل، ګوري چې په سختو کارونو سره پوښل شوی دی، نو وېي فرمایل: ستا په عزت مې دې قسم وي زه ووېرېدم چې هیڅوک به ورته داخل نه شي. وېي فرمایل: لاړ شه او اور ته وګوره او هغه څه ته چې ما يې د خاوندانو لپاره چمتو کړي دي. هغه ورته وکتل، ګوري چې یو د بل له پاسه سپریږي (یعنې د اور لمبې یو پر بل د پاسه کیږي) نو راوګرځېده او وېي ویل: زما دې ستا په عزت قسم وي چې هیڅوک به ورته داخل نه شي. نو امر يې وکړ او په شهوتونو وپوښل شو، نو وېي فرمایل: وګرځه او ورته وګوره. نو ورته يې وکتل: ګوري چې په شهوتونو سره پوښل شوی دی، نو راوګرځېده او وېي فرمایل: زما دې ستا په عزت قسم وي، یقینا زه ووېرېدم چې هیڅوک به ترې خلاص نه شي مګر دا چې ور داخل به شي». [حسن حدیث دی] – [ابو داود، ترمذي او نسائي روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې کله الله تعالی جنت او دوزخ پیدا کړل نو جبرائیل علیه السلام ته يې وویل: جنت ته لاړ شه او هغه ته وګوره، نو هغه لاړ او هغه ته يې وکتل او بیا بیرته راغی، جبریل وویل: اې ربه ستا په عزت مې دې قسم وي هیڅوک به يې په اړه نه اوري او نه د هغه څه په اړه چې په دې جنت کې له نعمتونو، عزتونو او ښېګڼو څخه دي مګر دا چې خوښ به ګڼي چې ورداخل شي او د هغه لپاره عمل وکړي. بیا الله تعالی جنت په سختیو او مشکلاتو سره وپوښه چې هغه د اوامرو پر ځای کول او له نواهیو څخه ځان ساتل دي، نو څوک چې جنت ته د ننوتلو اراده ولري باید له هغو سختیو څخه تېر شي. وروسته له هغه چې الله جل جلاله جنت په سختیو سره وپوښه، نو جبریل ته يې وفرمایل! لاړ شه او جنت ته وګوره، نو هغه لاړ او هغه ته يې وکتل، بیا راغی او وېي ویل: اې ربه، ستا په عزت مې دې قسم وي، زه ویره لرم چې هیڅوک به هغه ته د هغه په لاره کې د سختیو له امله داخل نشي. او کله چې الله تعالی اور پیدا کړ نو وېي ویل: اې جبرائیله! لاړ شه او هغه وګوره، نو هغه لاړ او وېي لیده، بیا راغی او جبرائیل علیه السلام وویل: اې ربه! ستا په جلال مې دې قسم وي چې هیڅوک به يې د هغه عذاب، ستونزو او ربړونو په اړه نه اوري مګر دا چې له ننوتلو څخه به يې کرکه وکړي او له اسبابو څخه به يې ځان وژغوري. بیا الله جل جلاله اور پټ کړ او د ورتګ لاره يې په شهوتونو او لذتونو سره وګرځوله، بیا يې وویل: اې جبرائیل! ورشه او ورته

وګوره، نو جبرائیل لاړ او ورته يې وکتل، بیا راغی او ویې ویل: اې ربه! ستا په عزت مې دې قسم وي زه  وویرېدم او اندیښنه راسره پیدا شوه چې د هغه شهوتونو او خوندونو له امله چې ترې چاپیره شوي دي، هیڅوک به ترې خلاصی ونه مومي؛

## د حدیث له فایدو څخه:

١. پدې ایمان درلودل چې جنت او دوزخ همدا اوس شتون لري.
٢. په غیبو ایمان درلودل فرض دي او په هر هغه څه چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له لورې راغلي وي.
٣. په مصیبتونو د صبر کولو اهمیت، ځکه دا هغه لاره ده چې جنت ته رسوونکې ده.
٤. له حرامو څخه د ځان ساتلو ارزښت، ځکه چې - حرام - اور ته د رسېدو لار ده.
٥. په سختیو سره د جنت پوښل او په خواهشاتو سره د دوزخ پوښل په دنیوي ژوند کې د امتحان او ارزونې غوښتنه ده.
٦. د جنت لاره سخته ده، له ایمان سره صبر او کړاو ته اړتیا لري او د دوزخ لاره په دې دنیا کې له لذتونو او خواهشاتو ډکه ده.

(65034)

(72) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ»، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً. قَالَ: «فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو هریره - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «ستاسو اور د جهنم د اور له اویا برخو څخه یوه برخه ده» وویل شو: اې د الله رسوله! که څه هم - د دنیا اور د خلکو د تعذیب لپاره - بسنه کوله! هغه وفرمایل: «د آخرت اور ته د دنیا د اور په پرتله نهه شپېته درجې زیات تودوالی ورکړل شوی دی، چې هره درجه يې په تودوالي کې د دنیا د اور په څېر ده».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د دنیا اور د جهنم د اور له اویا برخو څخه یوه برخه ده، د آخرت اور د دنیا د اور د تودوخې په پرتله نهه شپېته درجې زیاتوالی لري چې هره درجه یې د دنیا د اور له تودوخې سره برابره ده. نو وویل شو: اې د الله رسوله: که څه هم د آخرت اور؛ دوزخ ته د داخلېدونکو د تعذیب لپاره بسنه کوله! نو ویې فرمایل: د جهنم اور ته د دنیا د اور په پرتله نهه شپېته درجې زیاته تودوخه ورکړل شوې چې هره درجه یې په تودوخه کې د دنیا د اور په اندازه ده.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د اور په اړه خبرداری؛ تر څو خلک له هغو کړنو څخه ډډه وکړي چې اور ته د تللو لامل ګرځي.
٢. د دوزخ د اور عظمت، عذاب او د هغې د تودوخې شدت.

(65036)

(73) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «يَقْبِضُ اللَّهُ الأَرْضَ، وَيَطْوِي السَّمَوَاتِ بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا المَلِكُ، أَيْنَ مُلُوكُ الأَرْضِ».

**[صحيح] - [متفق عليه]**

له ابوهریره- رضي الله عنه -څخه روایت دی وایي چې: ما له رسول الله- صلى الله علیه وسلم -څخه اورېدلي دي چې ویل یې: «الله جل جلاله به ځمکه په خپله قبضه کې ونیسي، او اسمانونه به په ښي لاس کې نچه کړي، بیا به وفرمایي: زه پادشاه یم، چېرته دي د ځمکې پادشاهان». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د قیامت په ورځ به الله جل جلاله ځمکه ونیسي او راغونډه به یې کړي، او اسمانونه به په خپل ښي لاس کې نچه کړي او یو د بل د پاسه به یې راتاو کړي او لرې به یې کړي او له منځه به یې یوسي، بیا به وفرمایي: زه پادشاه یم، چېرته دي د ځمکې پادشاهان؟!

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا په ياد لرل چې د الله جل جلاله پادشاهي تلپاتې ده او د نورو خلکو سلطنتونه له منځه تلونکي دي.
٢. د الله جل جلاله عظمت، د هغه د قدرت لوی والی، د هغه د واک او سلطنت بشپړتيا.

(65028)

(74) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ المُؤمنينَ رضي الله عنها قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ سَتَرْتُ سَهْوَةً لِي بِقِرَامٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ، فَلَمَّا رَآهُ هَتَكَهُ وَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ وَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ، أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُضَاهُونَ بِخَلْقِ اللهِ» قَالَتْ عَائِشَةُ: «فَقَطَعْنَاهُ فَجَعَلْنَا مِنْهُ وِسَادَةً أَوْ وِسَادَتَيْنِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم په داسې حال کې راغی چې ما د خپلو کاليو صندق په يوې تکې سره پوښلی و چې انځورونه پکې وو، نو کله يې چې وليده بده يې وګڼله، رنګ يې تغير شو او ويې فرمايل: «ای عائشې د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب هغه چاته ورکول کيږي چې د الله جل جلاله مخلوقات انځوروي» عائشې وويل: «نو هغه تکه (ټوکر) مو څيرې کړ او يو يا دوه بالښتونه مو ترې جوړ کړل».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل کور کې عاېشې رضي الله عنها ته ورغی نو په داسې حال کې يې وليده چې هغې خپل هغه صندق چې کالي پکې اېښودل کيږي په داسې يوه ټوټه پوښلی و چې د ذی روحه شيانو انځورونه پکې و، نو د الله لپاره غصه شو، رنګ يې بدل شو، او ويې فرمايل: د قيامت په ورځ به تر ټولو زيات عذاب د هغو خلکو وي چې په انځورګرۍ کې د الله جل جلاله مخلوقات انځوروي. عاېشه وايي: نو يو يا دوه بالښتونه مو ترې جوړ کړل.

## د حديث له فايدو څخه:

١. سم د لاسه بايد د بدۍ مخنيوی وشي او سستي پکې ونه شي، مګر دا چې لوی فساد ترې جوړيږي.

٢. د ګناه لوی والي ته په لیدو یې د قیامت په ورځ عذاب توپیر لري.
٣. د ژوندیو شیانو انځورول له کبیره ګناهونو څخه یوه ده.
٤. د انځور اخیستلو د ممانعت له حکمتونو څخه یو دا دی چې د الله تعالی له مخلوقاتو سره پکې ورته والی رامنځته کیږي، برابره خبره ده که د انځورګر اراده د تشبیه رامنځته کول وي او یا نه.
٥. په شریعت کې د مال په ساتنې ټینګار، چې له ګټلو وروسته په حرامو کې ونه کارول شي.
٦. د ذی روحه شیانو د انځورولو ممانعت که په هره بڼه وي، که څه هم دا کار د حرفې یا مسلک له مخې وي.

(5931)

(75) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا، فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ المَالُ حَتَّى لاَ يَقْبَلَهُ أَحَدٌ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له أبوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دي وایې چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي:**
**«قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی، نږدې ده چې په تاسو کې به عیسې زوی د مریمې په عدالت قایمولو سره راښکته شي، صلیب به مات کړي او خنزیر به ووژني، جزیه به وباکي، او مال به دومره پراخه شي چې هېڅوک به یې (د صدقې په حېث) نه قبلوي».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله علیه قسم یادوي چې د عیسی علیه السلام د راکوزیدو وخت نږدې شوی دی تر څو خلکو کې د محمدي شریعت په رڼا کې په عدل فیصله وکړي. او دا چې دی به هغه صلیب ماتوي چې مسیحیان یې درناوی کوي. او دا چې عیسی علیه السلام به خنزیر وژني. او دا چې هغه علیه السلام به جزیه ردي، او ټول خلک به اړباسي تر څو په اسلام کې داخل شي. او دا چې مال به دومره زیات شي چې د زیاتوالي له امله به یې هېڅوک نه اخلي؛ د ډېر والي له وجې، او هر څوک به په هغه څه به بې نیازه وي چې په لاس کې یې لري، او دا چې پرلپسې برکتونه او خیراتونه به نازل شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په وروستی زمانه کې د عيسی عليه السلام د راکوزېدلو ثبوت، او دا چې د هغه راکوزېدل د قيامت له نښانو څخه دی.
٢. نور شريعتونه د رسول الله صلی الله عليه وسلم شريعت نه منسوخوي.
٣. په اخره زمانه کې په مال کې د برکتونو نازلېدل، په داسې حال کې چې خلک به ترې ډېره کوي.
٤. د اسلامي دين په باقي پاتې کېدو سره زيری، چې عيسی عليه السلام به پرې په اخره زمانه کې فيصلې کوي.

(65025)

(76) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَمِّهِ: «قُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، أَشْهَدُ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ»، قَالَ: لَوْلَا أَنْ تُعَيِّرَنِي قُرَيْشٌ، يَقُولُونَ: إِنَّمَا حَمَلَهُ عَلَى ذَلِكَ الْجَزَعُ لَأَقْرَرْتُ بِهَا عَيْنَكَ. فَأَنْزَلَ اللهُ: {إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ} [القصص: ٥٦]. [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل کاکا ته ووېل: «(لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ووايه، زه به درته د الله تعالی په وړاندې د قيامت په ورځ ګواهي ورکړم»، وايي: که چېرته قريشو پېغور نه راکاوه او نه يې ويل: چې سختی - د مرګ وېرې او کمزورۍ - دې کار ته اړ وېسته نو ستا سترګې به مې پدې سره يخې کړې وې، نو الله تعالی دا آيت نازل کړ: {إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ} [القصص: ٥٦]. يعني: بېشکه ته هدايت نشې کولی هغه چا ته چې ته يې خوښوې، او لېکن الله هدايت ورکوي چا ته چې وغواړي او هغه ښه عالم دی په هدايت موندونکو باندې)** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپل تره ابو طالب څخه په داسې حال کې چې د مرګ په سختيو کې و، وغوښتل چې: (لا اله الا الله) ووايي تر څو ورته د قيامت په ورځ شفاعت وکړي، او په اسلام يې ګواهي ورکړي، هغه د شهادت له کلمې څخه لدې وېرې انکار وکړ چې قريش به يې وکنځي او په اړه به يې ووايي چې: هغه د مرګ او کمزورۍ له وېرې اسلام راوړ! نو نبي صلی الله عليه

وسلم ته يې وويل: که چېرته داسې نه وای نو خامخا به مې د شهادت په ویلو سره ستا سترګې یخې کړې وې، او ته به مې ستا مراد ته رسولی وی تر دې چې ته راضي شې! نو الله تعالی هغه آیت نازل کړ چې پدې دلالت کوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم اسلام ته د توفیق د هدایت واک نه لري، بلکې الله تعالی یوازې هغه ذات دی چې د توفیق هدایت چاته ور په برخه کوي، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم خلک په دلالت، بیان، لارښوونې او بلنې سره خلک نیغې لارې ته رابلې.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د خلکو د خبرو له وېرې حق نه پرېښودل کیږي.
٢. نبي صلی الله علیه وسلم یوازې د لارښوونې د هدایت واک لري نه د توفیق د هدایت.
٣. د ناروغ کافر د پوښتنې روا والی، تر څو اسلام ته راوبلل شي.
٤. په هر حالت کې د الله لارې ته په رابللو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټینګار.

(65069)

(77) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما قَالَ: قالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ، مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ، وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ المِسْكِ، وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلاَ يَظْمَأُ أَبَدًا». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «زما حوض د یوې میاشتې واټن - په اندازه اوږد او پراخ - دی، اوبه یې د شېدو څخه سپینې دي، او بوی یې له مشکو څخه غوره دی، جامونه یې د اسمان د ستورو په څېر دي، څوک چې له هغې څخه وڅښي هېڅکله به تږی نشي».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې د قیامت په ورځ به د ده لپاره یو حوض وي چې اوږدوالی به یې د یوې میاشتې واټن په اندازه وي او عرض به یې هم همدارنګه وي. او دا چې اوبه به یې په سپین والي کې له شېدو ډېرې سپینې وي، او دا چې بوی به یې پاکیزه او د مشکو له بوی څخه ډېر غوره وي، او د هغه جامونه به په زیاتوالي کې لکه د آسمان د ستورو په څېر وي، چا چې په هغو کوزو له حوض څخه څښاک وکړ نو هېڅکله به تږی نه شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د پيغمبر صلى الله عليه وسلم حوض د اوبو له يو لوى ډنډ څخه عبارت دى چې د قيامت په ورځ به يې له امتيانو څخه مؤمنان ورځي.

٢. د هغه چا لپاره د نعمت لاسته راوړل چې له حوض څخه څښاك وكړي نو هيڅكله به تږى نه شي.

(65030)

(78) – عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُؤْتَى بِالْمَوْتِ كَهَيْئَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ، فَيُنَادِي مُنَادٍ: يَا أَهْلَ الجَنَّةِ، فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ، فَيَقُولُ: هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، هَذَا المَوْتُ، وَكُلُّهُمْ قَدْ رَآهُ، ثُمَّ يُنَادِي: يَا أَهْلَ النَّارِ، فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ، فَيَقُولُ: وهَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، هَذَا المَوْتُ، وَكُلُّهُمْ قَدْ رَآهُ، فَيُذْبَحُ ثُمَّ يَقُولُ: يَا أَهْلَ الجَنَّةِ خُلُودٌ فَلاَ مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ فَلاَ مَوْتَ، ثُمَّ قَرَأَ: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ} [مريم: ٣٩]، وَهَؤُلاَءِ فِي غَفْلَةٍ أَهْلُ الدُّنْيَا {وَهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ} [مريم: ٣٩]». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:** «مرګ به د يو برګ پسه په څېر راوستل شي، يو اواز کوونکى به غږ وکړي: اې جنتيانو، دوى به غړې او سرونه راپورته کړي او ګوري به، وبه وايي: آيا تاسو دا پيېژنئ؟ هغوى به ووايي: هو، دا مرګ دى، پداسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلى و. بيا به آواز وکړي: اې دوزخيانو. نو غړې او سرونه به راپورته کړي او ګوري به، وبه وايي: او آيا تاسو دا پيژنئ؟ هغوى به ووايي: هو، دا مرګ دى، په داسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلى و، نو حلال به کړاى شي، بيا به ووايي: اې جنتيانو، تلپاتې اوسئ؛ مرګ نشته، او اې دوزخيانو تلپاتې اوسئ مرګ نشته، بيا يې - دا آيت - ولوست: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ} [مريم: ٣٩] او ته دوى د حسرت (او ارمان) له ورځې نه ووېروه كله چې به كار فيصله كړى شي، حال دا چې دوى (اوس) په غفلت کې دي، او دوى د دنيا خلک په غفلت کې دي {وَهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ} او دوى ايمان نه راوړي». [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت په ورځ به مرګ داسې راوستل شي لکه د پسه په څېر چې سپين او تور وي. نو غږ به وکړای شي: اې د جنت خاوندانو! دوی به خپلې غاړې او څټونه راوږده کړي او سرونه به راپورته کړي او ګوري به، نو ورته به ووايي: آيا دا پېژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، پداسې حال کې چې ټولو ليدلی او پېژندلی دی. بيا به آواز کوونکی آواز وکړي: اې د اور خاوندانو، نو څټونه او غړی به راوږدې کړي، سرونه به راپورته کړي او ګوري به، او و به وايي: آيا دا پېژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، پداسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلی و؛ نو حلال به کړای شي، بيا به آواز کوونکی ووايي: اې د جنت اوسېدونکو، د تل لپاره ژوندي اوسئ، مرګ نشته، او ای دوزخيانو، د تل لپاره ژوندي اوسئ، مرګ نشته. دا - وينا - مؤمنانو ته په نعمتونو او کافرانو ته په عذاب کې د زياتوالي له امله کيږي. بيا رسول الله **صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوست:** {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ} [مريم: ٣٩]. **(او ته دوی د حسرت (او ارمان) له ورځې نه ووېروه کله چې به کار فيصله کړی شي، حال دا چې دوی (اوس) په غفلت کې دي او دوی ايمان نه راوړي)** نو د قيامت په ورځ به د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ جلاوالی راوستل شي او هر يو به خپل ځای ته د تل لپاره ورننوځي. نو بدي کوونکی به په نيکی نه کولو پښيمانه شي او کوتاهي کوونکی به هم پښېمانه شي چې ولې يې ښه عملونه زيات ندي کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په آخرت کې د انسان برخليک په جنت يا دوزخ کې ابديت دی.
٢. د قيامت د ورځې د وحشت په اړه سخت خبرداری او دا چې د پښېمانتيا او افسوس ورځ ده.
٣. د جنتيانو د تلپاتې خوښۍ او دوزخيانو د تل پاتې غم بيان.

(65035)

(79) – عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: إنه سمع نبي الله صلى الله عليه وسلم يقول: «لَو أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ، لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ، تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا». [صحيح] - [رواه الترمذي وابن ماجه وأحمد]

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې هغه له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «كه چېرته تاسو په الله تعالى په حقه سره توكل وكړئ، نو داسې روزي به دركړي لكه څرنګه يې چې يو مرغه (الوتونكي) ته وركوي، چې سهار مهال خالي نس - له ځالې - وځي او ماښام مهال بېرته په ډک نس سره - خپلې ځالې ته – راګرځي». [صحيح حديث دی] – [ترمذي، ابن ماجه او احمد روايت كړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم پر مونږ ټينګار كوي چې د دنيا او دين په چارو كې د ګټې د لاسته راوړلو او ضرر دفع كولو لپاره پر الله جل جلاله توكل وكړو، ځكه چې له هغه پاک ذات پرته بل څوک د وركړې، منع كولو، ضرر او يا ګټې رسولو واک نه لري. او دا چې په الله تعالى له رېښتوني باور سره هغه اسباب وكاروو چې ګټې راجلبوي او ضرر دفع كوي، نو كله چې مونږ دا كار وكړو الله تعالى به مونږ ته داسې روزي راكړي لكه هغه مرغانو ته يې چې وركوي چې سهار وختي وږي وځي او بېګا مهال بېرته ډكې خېټې راګرځي، د الوتونكو دا كار د رزق د پلټنې پسې د اسبابو كارولو يو ډول دی، پرته له دې چې سستي او تمبلي وكړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د توكل فضيلت او دا چې دا يو له هغو لويو اسبابو څخه دی چې رزق پرې لاسته راوړل كيږي.
٢. توكل د اسبابو له كارولو سره په ټكر كې عمل نه‌دی، ځكه هغه وفرمايل چې رېښتينی توكل د رزق په لټه كې له سهار او بېګا وتلو سره په ټكر كې عمل نه‌دی.
٣. د زړه اعمالو ته د شريعت پاملرنه؛ ځكه چې توكل يو قلبي عمل دی.
٤. يوازې له اسبابو سره تړاو ساتل په دين كې نيمګړتيا ده، او د اسباب كارولو پرېښودل د عقل نيمګړتيا ده.

(4721)

(80) – عَن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى المَاشِي، وَالمَاشِي عَلَى القَاعِدِ، وَالقَلِيلُ عَلَى الكَثِيرِ».
وَلِلْبُخَارِي: «يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الكَبِيرِ، وَالمَارُّ عَلَى القَاعِدِ، وَالقَلِيلُ عَلَى الكَثِيرِ». **[صحيح - [متفق عليه]**

**له ابو هريره- رضي الله عنه -څخه روايت دی وايي چي رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمايلي دي: «سپور به په پیاده، پیاده به په ناست او کم به په ډېرو سلام اچوي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خلکو ته د سلام اچولو آداب ورښودلي - چي الفاظ يې داسي دي" - السلام عليكم ورحمة الله وبركاته"، نو کوچنی به په لوی، سپور به په لاروي، لاروی به په ناست او لږ شمېر به په ډېرو سلام اچوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په هغه ډول سلام اچول مستحب دي چي په حديث کې راغلی دی، نو که چي پیاده سوار ته سلام واچاوي او داسې نور چي يادونه يې شوې ده، دا جایز دي، خو د اولی او افضل خلاف عمل دی.
٢. په حديث کې د ذکر شوي طريقې سره سم سلام اچول د مينې او يووالي له لاملونو څخه يو دی.
٣. که دوی په هغه څه کې مساوي وو چي يادونه يې وشوه، نو غوره يې هغه څوک دی چي په سلام پيل وکړي.
٤. د دي شريعت کمال دا دی چي ټول هغه څه بیانوي چي خلک ورته اړتيا لري.
٥. د سلام د آدابو ښوول او هر چا ته د هغه حق ورکول.

(4243)

(81) – عن أبي ذر رضي الله عنه: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا رَوَى عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: «يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي، وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا، فَلَا تَظَالَمُوا، يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ، فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ، يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ، فَاسْتَطْعِمُونِي أُطْعِمْكُمْ، يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ عَارٍ إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ، فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ، يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ لَكُمْ، يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضَرِّي فَتَضُرُّونِي، وَلَنْ تَبْلُغُوا نَفْعِي فَتَنْفَعُونِي، يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي شَيْئًا، يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي شَيْئًا، يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ، يَا عِبَادِي إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا لَكُمْ ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا، فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدِ اللهَ، وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذَلِكَ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ».

**[صحيح] - [رواه مسلم]**

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی: له پيغمبر – صلی الله عليه وسلم – څخه – په هغه څه کې چې هغه يې له خپل رب څخه روايتوي چې هغه فرمايلي دي: «اې زما بندګانو، ما پر خپل ځان ظلم حرام کړی دی او ستاسو تر منځه مې هم حرام ګرځولی نو يو پر بل ظلم مه کوئ، اې زما بنده ګانو تاسو ټول ګمراه ياست مګر هغه څوک چې ما ورته هدايت کړی دی، نو زما څخه هدايت وغواړئ زه به تاسو ته هدايت وکړم، اې زما بنده ګانو! تاسو ټول وږي ياست مګر هغه څوک چې ما موړ کړی دی، نو زما څخه روزي وغواړئ زه به تاسو ته روزي درکړم، اې زما بنده ګانو! تاسو ټول بربنډ ياست مګر هغه څوک چې ما پټ کړی دی، نو زما څخه جامې وغواړئ زه به تاسو پټ کړم، اې زما بنده ګانو تاسو شپه او ورځ ګناهونه کوئ او زه ټول ګناهونه بخښم، نو زما څخه بخښنه وغواړئ زه به تاسو ته بخښنه وکړم، اې زما بنده ګانو! تاسو زما ضرر ته نه شئ رارسيدلی چې ماته ضرر راورسوئ، او نه زما ګټې ته رارسيدلی شئ چې ماته ګټه راورسوئ، اې زما بنده ګانو! که چېرته مخکني او وروستني ستاسو، انسانان او پېريان ستاسو ټول د يو تر

ټولو تقوا لرونکي انسان په زړه باندې شي، نو زما په پادشاهۍ کې به هېڅ شی زيات نه شي. اې زما بنده ګانو! که چېرته مخکيني او وروستني ستاسو، انسانان او پېريان ستاسو؛ ټول په يو ميدان کې ودرېږي او زما څخه سوال وکړي او هر يو ته د هغه د غوښتنې مطابق ورکړم؛ نو هېڅ شی به کم نه شي له هغه څه نه چې ما سره دي مګر د ګنډلو د يوې ستنې په اندازه چې په درياب کې وتومبل شي، اې زما بنده ګانو! يقينا دا ستاسو عملونه دي زه يې تاسو ته حسابوم بيا يې تاسو ته درسپارم، نو چا چې خير وموند نو د الله ستاينه دې وکړي او چا چې پرته لدې بل څه وموندل نو يوازې خپل ځان دې ملامته کړي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې الله تعالی فرمايلي دي چې هغه ظلم پر خپل ځان حرام کړی دی او د خپلو مخلوقاتو تر منځه يې هم ظلم حرام کړی دی نو هېڅوک به پر بل ظلم نه کوي. او دا چې ټول مخلوقات له حق لارې څخه بې لارې دي مګر د الله تعالی په هدايت او توفيق سره، او څوک چې د الله تعالی څخه هدايت وغواړي نو هغه ته توفيق ورکوي او هدايت ورته کوي. او دا چې خلک د الله تعالی په نېز غريب دي او هغه ته په خپلو ټولو اړتياوو کې محتاج دي، او څوک چې له الله څخه وغواړي هغه يې اړتيا پوره کوي او بسنه ورته کوي. دوی د شپې او ورځې ګناهونه کوي، او الله تعالی پرې پرده اچوي او کله چې ترې بنده بخښنه وغواړي نو له ګناهونو څخه يې ورته تېرېږي. او دا چې دوی نشي کولی الله تعالی ته زيان ورسوي او يا ورته د څه شي ګټه ورسوي. او دا چې که دوی د يو تر ټولو پاک زړه لرونکي سړي په څېر پاک وو، نو د الله په پاچاهۍ کې به د دوی تقوی هېڅ زياتوالی نه و راوستی. او که چېرته دوی د يو بد زړي سړي د زړه په څېر وي، نو د دوی بې لارېتوب به د هغه له ملکيت څخه هېڅ شی نه و کم کړی، ځکه چې دوی کمزوري او الله تعالی ته محتاج دي، په هر حالت، وخت او ځای کې الله تعالی ته اړتيا لري او هغه ذات بډای او پاک دی. او دا چې که د دوی مخکيني او وروستني د انسانانو او پېريانو په شمول په يوه ځای کې ودرېږي او له الله تعالی څخه وغواړي او هغه هر يو ته هغه څه ورکړي چې هغه يې غواړي، نو دا به له هغه څه څخه هېڅ شی کم نه کړي چې د الله تعالی سره دي مګر د يوې ستنې په اندازه چې په درياب کې ډوبه شي او بېرته راووېستل شي، نو درياب په هغې سره هېڅ نه کمېږي، دا د هغه د بشپړ بډايتوب له امله.

او دا چې الله پاک د خپلو بندګانو اعمال ساتي او د هغوی لپاره يې حسابوي بيا يې د قيامت په ورځ پوره ورکوي، نو چا چې د خپلو کړنو بدله ښه ومونده له د الله ستاينه دې ادا کړي چې د اطاعت توفيق يې ورکړی، او چا چې د خپلو کړنو بدله لدې پرته بل څه ومونده نو له خپل نفس پرته دې بل څوک نه ملامتوي ځکه چې نفس يې ورته په بدی امر کاوه او دی يې تاوان ته مخ کړی و.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا حديث له هغو حديثونو څخه دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې له خپل رب څخه روايتوي، او دې ته قدسي يا الهي حديث ويل کيږي، دا هغه حديث دی چې لفظ او معنا يې دواړه د الله تعالی له لوري دي، پرته لدې چې د قرآن هغه ځانګړتياوې نه لري چې له نورو شيانو څخه يې جلا کوي لکه: په هغه سره عبادت کول، د هغه لپاره پاکوالی ساتل، ننګونه، اعجاز او داسې نورې ځانګړتياوې چې قرآن کريم يې لري.

٢. هغه څه چې بندګانو ته د علم او هدايت څخه لاسته راځي، نو هغه د الله تعالی په هدايت او تعليم سره دي.

٣. کوم خير چې بنده ته رسيږي هغه د الله تعالی له فضل څخه دي، او کوم شر چې ورته رسيږي، هغه يې د خپل نفس او خواهشاتو له امله دی.

٤. چا چې نيکي وکړه نو هغه د الله په توفيق سره ده، او بدله يې د الله تعالی لخوا فضل دی، نو هغه لره ستاينه ده، او چا چې بدي وکړه، نو يوازې ځان دې ملامته کړي.

(4810)

(82) – عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اتَّقُوا الظُّلْمَ، فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ، فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له جابر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «له ظلم څخه ځان وساتئ، ځکه چې ظلم د قيامت په ورځ تيارې دي او له بخل څخه ځان وساتئ، ځکه چې بخل له تاسو څخه مخکې خلک هلاک کړي دي، دې ته يې اړ ويستلي چې خپلو کې وينې توی کړي او د الله جل جلاله محرمات ځانته حلال وګرځوي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د ظلم په اړه خبرداری ورکړ، چې له جملې څخه يې: د خلکو سره ظلم کول، په خپل ځان ظلم کول او د الله تعالى په حق کې ظلم کول دي. او ظلم: حقدار ته د حق نه ورکول دي او دا چې ظلم د قيامت په ورځ د ظالمانو لپاره تيارې دي چې له امله به يې له سختيو او وحشتونو سره مخ شي. او له هغه بخل څخه يې منعه وفرمايله چې حرص ورسره مل وي، چې يو دول يې د مالي حقونو په ادا کولو کې غفلت او په دنيا سخت حرص کول دي. دا ډول ظلم هغه ظلم دى چې زموږ څخه مخکني ملتونه يې تباه کړي دي، اړ يې ويستل چې يو بل ووژني او د الله جل جلاله محرمات ځانته حلال کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مال لګښت او له ورونو سره خواخوږي د خپلمنځۍ مينې او ارتباط ټينګېدلو يو لامل دى.
٢. بخل د ګناهونو، بد اخلاقۍ او بدکاريو لامل ګرځي.
٣. له مخکنيو امتونو څخه پند اخيستل.

(5787)

(83) – عن أبي موسى رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ اللهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ، حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ» قَالَ: ثُمَّ قَرَأَ: «{وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ}[هود: ١٠٢]» **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو موسى - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايي چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:** «بېشکه الله - جل جلاله - ظالم ته مهلت ورکوي، تر دې چې کله يې راونيسي بيا يې نه پرېږدي» بيا يې (دا آيت) ولوست: {وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ}[هود: ١٠٢] «او په شان د دغو (نيولو) نيول د رب ستا دي کله چې هغه کلي نيسي، په داسې حال کې چې هغه (کلي) ظالم وي، بېشکه د هغه (الله) نيول ډېر دردوونکي، ډېر سخت دي». [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په ګناه، شرک او د خلکو سره د هغوی په حقونو کې په دوامداره توګه له ظلم کولو څخه خبرداری ورکوي، چې یقینا الله جل جلاله ظالم ته مهلت ورکوي، ځنډوي یې، عمر یې اوږدوي او مال یې زیاتوي، نو په سزا ورکولو کې یې بیړه نه کوي، که چیرته یې توبه ونه کړه بیا یې رانیسي او نه یې خوشي کوي او د هغه د ډېر ظلم له مله یې نه پرېږدي.

بیا رسول الله صلى الله علیه وسلم دا آیت ولوست: {وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ}[هود: ۱۰۲]، «او په شان د دغو (نيولو) نیول د رب ستا دي کله چې هغه کلي نیسي، په داسې حال کې چې هغه (کلي) ظالم وي، بېشکه د هغه (الله) نیول ډېر دردوونکي، ډېر سخت دي».

## د حدیث له فایدو څخه:

١. هوښیار سړی باید په توبې وېستلو کې ګړندی اوسي، او کله چې ظلم کوي نو د الله تعالی له مکر څخه دې نه بې پروا کیږي.
٢. الله جل جلاله ظالمانو ته مهلت ورکوي او هغوی ته په عذاب ورکولو کې بیړه نه کوي، بلکې په تدریج سره یې رانیسي او کله چې توبه ونه کړي نو بیا یې عذاب دوه چنده کوي.
٣. ظلم کول؛ په امتونو باندې د الله جل جلاله د عذاب یو لامل دی.
٤. کله چې الله جل جلاله یو کلی تباه کوي، نو کېدای شي چې نېکان خلک هم پکې وي، نو دوی به د قیامت په ورځ له هغه نیک عمل سره راپورته کیږي چې پرې مړه شوي دي او دا چې دوی هم په عذاب سره مړه شوي دي نو دوی ته کوم زیان نه لري.

(5811)

(84) – عن ابن عباس رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِي عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ: «إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ، ثُمَّ بَيَّنَ ذَلِكَ، فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً، فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ، إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً، فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت دی په هغه څه کې چې هغه له خپل رب څخه روايت کوي، فرمايي: «په حقيقت کې الله جل جلاله ښه او بد ليکلي، بيا يې بيان کړي دي، نو چا چې د نيکۍ اراده وکړه خو يې ونه کړه، الله تعالی به د هغه لپاره پوره نيکي وليکي، او که چېرته يې اراده وکړه او عمل يې پرې هم وکړ نو الله تعالی به ورته لس نيکۍ تر اوه سوه چنده، او څو چنده زياتې وليکي، او چا چې د بدۍ اراده وکړه خو عمل يې پرې ونه کړ نو الله تعالی به يې ورته د ځان سره پوره نيکي وليکي، خو که چېرته يې د بدۍ اراده وکړه او عملي يې کړه نو الله تعالی به ورته يوه بدي وليکي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې الله تعالی نيکۍ او بدۍ اندازه کړې دي، بيا يې دوه ملايکو ته ورښودلې چې څنګه يې وليکي: نو څوک چې د يو نيک کار اراده، نيت او عزم وکړي، د هغه لپاره يوه نيکي ليکل کيږي اګر که عملي کړي يې هم نه وي، خو که چېرته يې عملي کړه نو هغه ورته لس چنده تر اووه سوه چنده او څو چنده زياتيږي، او زياتوالی په زړه کې د اخلاص او نورو ته ګټې رسوونې او داسې نورو کړنو په اندازه وي.

او څوک چې د کوم بد کار اراده، قصد او عزم وکړي، بيا يې د الله تعالی لپاره پرېږدي، د هغه لپاره نيکي ليکل کېږي، او که چېرته يې لدې امله پرېښوده چې ورځخه په بل کار بوخت شو او د هغه کار اسباب يې هم تر سره نه کړل، نو هيڅ شی ورته نه ليکل کيږي، او که چېرته يې د ناتوانۍ له امله پرېښود نو د نيت په اساس ورته - ثواب او يا ګناه ليکل کيږي - او که چېرته يې ګناه عملي کړه نو يوازې يوه بدي ورته ليکل کيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په دې امت باندې د الله تعالی د لوی فضل بيانول چې نيکي ورته څو چنده د الله تعالی سره ليکل کيږي او په مقابل کې يې بدي يوازې يوه بدي ليکل کيږي.
٢. په اعمالو کې د نيت ارزښت او اغيزه.
٣. د الله جل جلاله فضل، مهرباني او احسان چې څوک د نيکۍ اراده وکړي او عملي يې هم نه کړي الله تعالی يې ورته نيکي ليکي.

(4322)

(85) – عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنُؤَاخَذُ بِمَا عَمِلْنَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ؟ قَالَ: «مَنْ أَحْسَنَ فِي الْإِسْلَامِ لَمْ يُؤَاخَذْ بِمَا عَمِلَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَمَنْ أَسَاءَ فِي الْإِسْلَامِ أُخِذَ بِالْأَوَّلِ وَالْآخِرِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابن مسعود - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې وايي: يو سړي وويل: اې د الله رسوله، آيا د جاهليت په کړنو سره نيول کيږو؟ هغه وفرمايل: «چاچې په اسلام کې نيکي وکړه نو د جاهليت په کړنو نه نيول کيږي، او چا چې په اسلام کې بدی وکړې نو په لومړی او دويمې دواړو سره نيول کيږي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په اسلام کې د داخليدو فضيلت بيانوي، او دا چې چا اسلام قبول کړ او ښه مسلمان شو او صادق او رښتينی و؛ نو د جاهليت په زمانه کې د ګناهونو حساب به ورسره نه کيږي، او چا چې په اسلام کې بدي وکړه؛ چې منافق و يا له خپل دين څخه مرتد شو؛ نو له هغه سره به د هغو عملونو حساب وشي چې په کفر کې يې کړي دي او هغه چې په اسلام کې يې له - بدو عملونو - څخه کړي دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. هغه عملونو ته د صحابه کرامو - رضوان الله عليهم - پاملرنه او ورڅخه يې وېره چې د جاهليت په وخت کې ترې صادر شوي دي.
٢. په اسلام ثابت پاتې کېدلو باندې ټينګار.
٣. په اسلام کې د داخليدو فضيلت او دا چې د پخوانيو عملونو کفاره ده.
٤. مرتد او منافق سره به د هر هغه عمل حساب کيږي چې د جاهليت پر مهال يې تر سره کړي او د هرې هغې ګناه چې په اسلام کې يې کړې دي.

(65002)

(86) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ نَاسًا مِنْ أَهْلِ الشِّرْكِ، كَانُوا قَدْ قَتَلُوا وَأَكْثَرُوا، وَزَنَوْا وَأَكْثَرُوا، فَأَتَوْا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: إِنَّ الَّذِي تَقُولُ وَتَدْعُو إِلَيْهِ لَحَسَنٌ، لَوْ تُخْبِرُنَا أَنَّ لِمَا عَمِلْنَا كَفَّارَةً، فَنَزَلَ {وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ}[الفرقان: ٦٨]، وَنَزَلَتْ: {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ} [الزمر: ٥٣]. [صحيح] - [متفق عليه]

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی: دا چې ځينو مشرکانو زيات وژل کړي وو، زناګانې يې زياتې کړې وې، نو دوی محمد صلی الله عليه وسلم ته راغلل، او ويې ويل: په حقيقت کې، هغه څه چې تاسو يې وايئ او بلنه ورته کوئ ډېر ښه به وي که تاسو موږ ته وواياست چې آيا د هغه څه لپاره کفاره شته چې مونږ کړي دي نو دا آيت نازل شو {وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ}[الفرقان: ٦٨] (يعني او د رحمن ذات بنده ګان هغه دي) چې له الله سره بل معبود نه بلي او هغه نفس چې الله حرام کړی وي؛ ناحقه نه قتلوي او زنا نه کوي) او دا آيت نازل شو: {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ} [الزمر: ٥٣]. ته (دوی) ته ووايه: اې زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زياتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نا اميده کېږئ.[الزمر: ٥٣]. [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته له مشرکانو څخه ځيني خلک راغلل، پداسې حال کې چې زيات قتلونه او زناګانې يې کړې وې، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل: هغه څه چې ته ورته له اسلامي لارښوونو څخه بلنه ورکوې ښه کار دی، خو د هغه شرک او لويو ګناهونو له امله به زمونږ برخليک څنګه شي چې مونږ پکې لوېدلي يو، نو آيا (زمونږ لپاره) کومه بخښنه شته؟

نو دا دوه آيتونه نازل شول: چې الله تعالی يې په ترڅ کې د هغو خلکو توبه قبوله کړه، سره لدې چې زيات او لوی ګناهونه يې کړې وو، او که داسې نه وای شوي نو په خپل کفر او سرکشۍ کې به وړاندې تللي وو او هېڅکله به پدې دين کې نه وو داخل شوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اسلام فضیلت او عظمت او دا چې هغه مخکني ګناهونه له منځه وړي.

٢. پر بندګانو د الله تعالی د مهربانی، بښنې او عفوې پراخوالی.

٣. د شرک حراموالی، په ناحقه د نفس د وژلو حراموالی، د زنا حراموالی، او هغه چاته ګواښ چې دا ګناهونه کوي.

٤. ریښتیني توبه چې اخلاص او نیک عملونه ورسره وي د ټولو لویو ګناهونو لپاره کفاره ګرځي، چې پدې کې په الله تعالی کافرېدل هم شامل دي.

٥. د الله تعالی له رحمت څخه د نا امیدی او ناهیلي کېدو حراموالی.

(65071)

(87) – عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا فِي الجَاهِلِيَّةِ مِنْ صَدَقَةٍ أَوْ عَتَاقَةٍ، وَصِلَةِ رَحِمٍ، فَهَلْ فِيهَا مِنْ أَجْرٍ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ مِنْ خَيْرٍ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له حکیم بن حزام رضی الله عنه څخه روایت دی چې فرمايي: ما وویل: اې د الله رسوله، ماته د هغو کارونو په اړه خبر راکړه چې ما به پرې جاهلیت کې عبادت کاوه لکه: صدقه، د مریانو ازادول او صله رحمي، نو آيا په هغې څه اجر شته؟ نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «اسلام دي رواړی د هغو نیکو عملونو سره چې مخکې دي کړي دي/ داسې مهال دې اسلام راوړی چې مخکې دي ترې ښه کارونه کړي دي».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چې که کافر مسلمان شي نو هغه ته به د هغو نیکو عملونو ثواب ورکول کیږي چې د جاهلیت په زمانه کې يې له اسلام څخه وړاندې کړي دي. لکه صدقه ورکول، د غلامانو ازادول او صله رحمي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. که چېرته يو څوک د کفر په حالت کې مړ شي نو هغه ته د هغو نېکو عملونو ثواب نه ورکول کيږي چې په دنيا کې يې کړي دي.

(65016)

(88) – عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ لَا يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً، يُعْطَى بِهَا فِي الدُّنْيَا وَيُجْزَى بِهَا فِي الْآخِرَةِ، وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ بِهَا لِلَّهِ فِي الدُّنْيَا، حَتَّى إِذَا أَفْضَى إِلَى الْآخِرَةِ، لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَةٌ يُجْزَى بِهَا».

**[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**

**«الله تعالی په مؤمن باندې په نيکی کې ظلم نه کوي، په دنيا کې پرې بدله ورکوي او په آخرت کې پرې هم بدله ورکوي، او کافر ته په هغې نيکی سره خواړه ورکوي چې په دې دنيا کې يې د الله لپاره کړي وي، تر دې چې کله آخرت ته لاړ شي، نو داسې کوم نيک عمل به نه لري چې بدله يې ورکړل شي».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په مومنانو باندې د الله تعالی فضل او کافرانو سره د هغه د عدالت لويي څرګندوي. د مؤمن لپاره د هغه د نيک عمل اجر نه کميږي؛ بلکې هغه ته په دنيا کې هم د هغه د اطاعت په بدل کې نيکي ورکول کيږي، د هغې بدلې سربېره چې په آخرت کې ورته ذخيره کيږي؛ او کېدای شي چې ټوله بدله ورته د آخرت لپاره وساتل شي. او کافر چې دی، نو هغه ته الله تعالی په دنيا کې د هغه د نيکو اعمالو په بدل کې بدله ورکوي، تر دې چې کله آخرت ته لاړ شي نو ثواب به نه لري چې بدله يې ورکړل شي؛ ځکه هغه نېک عمل چې خاوند ته يې په دنيا او آخرت کې ګټه رسوي شرط يې دا دی چې کوونکی به يې مؤمن وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا چې څوک په کفر مړ شو نو عمل يې ورته ګټه نه رسوي.

(65015)

(89) – عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلاَ أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ، وَلاَ أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لاَ تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً». [حسن] - [رواه الترمذي]

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل يې: الله پاک فرمایلي:** «اې د آدم زویه، تر څو چې ته ما رابلې او ماته امید ساتې، زه درته بخښنه کوم که هر څومره ګناهکار وې او پروا نه ساتم، اې د آدم زویه، که ستا ګناهونه د آسمان تر کنارو ورسیږي او بیا له ما څخه بخښنه وغواړې، زه درته بښنه کوم او پروا نه ساتم، اې د آدم زویه که ته ماته د ځمکې په اندازه له ګناهونو سره راشې او بیا زما سره مخ شې په داسې حال کې چې ماسره دې شرک نه وي کړی، نو په همدې اندازه به درته بخښنه وکړم». [حدیث حسن دی] – [ترمذي روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اړه خبر ورکړ چې الله تعالی په قدسي حدیث کې فرمایلي: «اې د آدم زویه! تر څو چې ما رابلې او زما مهربانی ته هیله مند یې او مایوسه نه یې؛ په ګناه دې پرده اچوم، درڅخه يې پاکوم او په اړه يې هېڅ پروا نه ساتم؛ که څه هم دا ګناه او نافرماني له کبیره ګناهونو څخه وي. اې د آدم زویه: که ستا ګناهونه دومره زیات شي چې د آسمان او ځمکې تر منځ واټن ډک کړي، تر دې چې کنارو ته يې ورسیږي او اړخونه يې هم ونیسي او بیا له ما څخه بخښنه وغواړې، نو ګناهونه به دې له منځه یوسم او ټول به درته وبخښم، پرته له دې چې ډېروالي ته يې وګورم.

اې د ادم زویه: که ته له مرګه وروسته ماته له دومره ګناهونو او نافرمانیو سره راشې چې د ځمکې د ډکوالي په اندازه وي او ته موحد مړ شوی يې او زما سره دې شرک نه وي کړی؛ نو زه به يې په مقابل کې د ځمکې د ډکوالي په اندازه بخښنه وکړم؛ ځکه چې زه د لوی مغفرت خاوند یم او له شرک پرته ټول ګناهونه بخښم.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله تعالى د رحمت، بخښنې او فضل پراخوالى.

٢. د توحيد فضيلت، او دا چې الله تعالى موحدينو ته ګناهونه او تېروتنې بخښي.

٣. د شرک خطر او دا چې الله مشرک ته بخښنه نه کوي.

٤. ابن رجب وايي: په دې حديث کې هغه درې لاملونه شامل دي چې له مخې يې ګناهونه بخښل کيږي: لومړى: له اميد سره دعا، دويم: استغفار او د توبې غوښتل، دريم: د توحيد له (عقيدې سره) مړينه.

٥. دا هغه حديث دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې له خپل رب څخه روايتوي او قدسي يا الهي حديث ورته ويل کيږي او دا هغه ډول حديث دى چې الفاظ او معنا يې د الله له طرفه دي، خو د قرآن کريم هغه ځانګړتياوې نه لري چې له نورو يې جلا کوي، لکه: په تلاوت سره يې عبادت کول، طهارت ورته کول، ننګونه، معجزه او داسې نور.

٦. ګناهونه په درې ډوله دي: لومړى: له الله سره شرک کول؛ چې الله تعالى يې نه بښي، الله جل جلاله فرمايلي: {إنه من يُشرك بالله فقد حرم الله عليه الجنة} [بيشکه څوک چې په الله شرک وکړي، نو يقينا چې الله پرې جنت حرام کړ]، دويم: پر خپل ځان د بنده ظلم چې ګناهونه او تېروتنې کوي، نو دا د هغه او د هغه د رب تر منځ خبره ده؛ نو الله تعالى يې ورته بښي او که وغواړي نو ورته ترې تېريږي، دريم: هغه ګناهونه چې الله تعالى ترې هېڅ نه تېريږي لکه: د بندګانو خپلمنځي ظلمونه، چې پدې کې خامخا قصاص اخېستل کيږي.

(5456)

(90) – عن أبي هريرة رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِيمَا يَحْكِي عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ، قَالَ: «أَذْنَبَ عَبْدٌ ذَنْبًا، فَقَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَذْنَبَ عَبْدِي ذَنْبًا، فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ، وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ، ثُمَّ عَادَ فَأَذْنَبَ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: عَبْدِي أَذْنَبَ ذَنْبًا، فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ، وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ، ثُمَّ عَادَ فَأَذْنَبَ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَذْنَبَ عَبْدِي ذَنْبًا، فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ، وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ، اعْمَلْ مَا شِئْتَ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی (هغه) له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه** په هغه څه کې روايت کوي چې هغه یې له خپل رب څخه حکايت کوي، وايي: «یوه بنده په ګناه کولو سره ګناه وکړه او ویې ویل: اې الله ماته زما ګناه وبخښه، نو الله تبارک وتعالی وفرمایل: زما بنده ګناه وکړه او پوهه شو چې یو رب یې شته چې ګناهونه بخښي او په ګناه نیول کوي، بیا راوګرځید او ګناه یې وکړه، ویې ویل: اې ربه! ماته زما ګناه وبخښه، رب العزت وفرمایل: زما بنده ګناه وکړه، او پوهه شو چې هغه یو رب لري چې ګناهونه بخښي، او په ګناه نیول کوي، بیا راوګرځېده ګناه یې وکړه او ویې ویېل: اې ربه ! ماته زما ګناه وبخښه، نو الله تبارک و تعالی وفرمایل: زما بنده په ګناه کولو سره ګناه وکړه، نو پوهه شو چې هغه یو رب لري چې ګناهونه بخښي او په ګناه نیول کوي، څه دي چې خوښه وي هغه وکړه، ځکه چې ما تاته بخښنه کړې ده». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل رب څخه روایت کوي چې کله یو بنده ګناه وکړي او بیا ووايي چې: اې الله! ما ته زما ګناه وبخښه، الله تعالی وفرمايي -زما بنده ګناه وکړه او پوهه شو چې هغه یو رب لري چې ګناه بخښی، نو پرده پرې واچوي او ورته ترې تېر شي، او یا پرې سزا ورکوي،- (بیا وفرمايي) ما هغه ته بخښنه وکړه. بیا بنده راوګرځېد او ګناه یې وکړه، ويې وییل: اې ربه زما! ماته زما ګناه وبخښه، نو الله تعالی وفرمایل: زما بنده ګناه وکړه، نو پوهه شو چې هغه یو رب لري چې ګناه بخښي - نو پرده پرې واچوي او ورته ترې تېر شي - او یا پرې سزا ورکوي (نو وفرمايي) یقینا چې ما مې خپل بنده ته بخښنه وکړه. بیا راوګرځېد ګناه یې وکړه، ويې وییل: ربه ماته زما ګناه وبخښه، نو الله تعالی وفرمایل: بنده مې ګناه وکړه، نو پوهه شو چې هغه یو رب لري چې ګناه بخښي، نو پرده پرې واچوي او ورته ترې تېر شي، او یا پرې سزا ورکړي (نو وفرمايي) یقینا چې ما مې بنده ته بخښنه وکړه، نو څه چې غواړي هغه دې وکړي تر څو پورې چې هغه ګناه وکړي، نو ګناه پرېږدي، پښېمانه شي او هوډ وکړي چې بیا به (ګناه کولو ته) نه ورګرځي، خو نفس پرې غالبه شي، نو په ګناه کې یو ځل بیا ښکېل شي، نو تر څو پورې چې داسې کوي؛ چې ګناه کوي او توبه وباسي، نو زه به ورته بخښنه کوم، یقینا چې توبه له هغې مخکې هر څه ویجاړوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. پر بندګانو باندې د الله تعالی لوی رحمت، او دا چې که انسان څومره ګناهونه وکړي او هر څه وکړي نو الله تعالی یې توبه قبلوي کله چې هغه ته توبه وباسي او هغه ته بېرته وروګرځي.

٢. مؤمن له خپل رب څخه د بخښنې تمه لري، د هغه له عذابه وېرېږي، نو په تېزۍ سره توبه وباسي او ګناه ته دوام نه ورکوي.

٣. د رېښتينې توبې شرطونه: د ګناه پرېښودل، پر (ګناه) پښېمانه کېدل، او ګناه ته د بېرته نه راګرځيدلو هوډ کول، او که چېرته توبه د بندګانو د مال، عزت او نفس په اړه وي (يعنې د بندګانو حقونه ورپورې تړلي وي)، نو څلورم شرط پکې اضافه کېږي، چې هغه: د حق له خاوند څخه ځان خلاصول دي، او يا يې هغه ته حق ورکول دي.

٤. د الله تعالی د پېژندنې اهميت، چې له امله يې بنده د خپل دين په چارو کې پوهه تر لاسه کوي نو کله چې ګناه وکړي، توبه وباسي، نو نه نا هيلی کېږي او نه په ګناه کې ورانديږي ځي.

(4817)

(91) – عن عَلِيٍّ قَالَ: إِنِّي كُنْتُ رَجُلًا إِذَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا نَفَعَنِي اللهُ مِنْهُ بِمَا شَاءَ أَنْ يَنْفَعَنِي بِهِ، وَإِذَا حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ اسْتَحْلَفْتُهُ، فَإِذَا حَلَفَ لِي صَدَّقْتُهُ، وَإِنَّهُ حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرٍ، وَصَدَقَ أَبُو بَكْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا، ثُمَّ يَقُومُ فَيَتَطَهَّرُ، ثُمَّ يُصَلِّي، ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللهَ، إِلَّا غَفَرَ اللهُ لَهُ»، ثُمَّ قَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ: {وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ} [آل عمران: ١٣٥]. **[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي في الكبرى وابن ماجه وأحمد]**

**له علي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: زه داسې يو سړی وم چې کله به مې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يو حديث واورېد نو الله به چې څومره غوښتلي و ماته به يې پرې ګټه راورسوله او کله به چې هغوی ماته يو روايت بياناوه نو ما به قسم ورکاوه، نو کله به يې چې راته قسم وکړ بيا به مې پرې باور وکړ، او يقينا چې أبوبکر راته حديث بيان کړی او رښتيا يې ويلي، وايې چې ماله رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «هېڅوک نشته چې ګناه وکړي، بيا پاځيږي، ځان پاک کړي او بيا لمونځ وکړي، بيا له الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي، مګر دا چې الله به هغه ته بخښنه وکړي»، بيا يې دا آيت ولوست: {وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا**

فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ} [آل عمران: ١٣٥]. [او هغه کسان چې کله څه بد کار وکړي، يا پر خپلو ځانونو (بل) ظلم وکړي (نو) الله ياد کړي، (او) ورپسې د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي] [آل عمران سورت: 135آيت]. [صحيح حديث دی] – [ابو داود، ترمذي، نسائي په سنن کبری کې، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې کله يو بنده کومه ګناه وکړي، بيا په ښه توګه اودس وکړي، بيا پاڅيږي او له نوموړي ګناه څخه د توبې ويستلو په نيت دوه رکعته لمونځ وکړي، بيا له الله څخه بخښنه وغواړي، مګر دا چې الله به ورته بخښنه وکړي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی دا وينا ولوستله: {وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ ومن يغفر الذنوب إلا الله ولم يصروا على ما فعلوا وهم يعلمون}. (او هغه کسان چې کله دوی کومه لويه ګناه وکړي يا په خپلو ځانونو ظلم وکړي، نو الله ياد کړي او د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي او څوک دی چې له الله پرته ګناهونه وبخښي او بيا استمرار نه کوي پر هغه ګناه چې کړې يې ده، حال دا چې دوی پوهيږي (چې مونږ ګناه کړې ده)) [آل عمران سورت: 135آيت].

## د حديث له فايدو څخه:

١. په لمانځه تېنګار، او بيا له ګناه کولو وروسته بخښنه غوښتل.

٢. د الله تعالی د بخښنې پراخوالی او دا چې توبه قبلوي او بخښنه کوي.

(65063)

(92) – عَنْ أَبِي مُوسَى رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ، وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ، حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو موسی الاشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:** «الله - تعالی - خپل لاس شپه مهال غوړوي تر څو د ورځې ګنهکار توبه وباسي، او د ورځې خپل لاس غوړوي تر څو د شپې ګنهکار توبه وباسي، تر دې چې لمر د لويديځ له خوا راوخيژي».

[صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې: الله تعالى د خپلو بندګانو توبه قبلوي، که بنده د ورځې ګناه وکړي او د شپې توبه وباسي، نو الله يې توبه قبلوي، او که د شپې ګناه وکړي او د ورځې توبه وباسي، نو الله يې توبه قبلوي. او هغه پاک ذات د بنده په توبه خوشحالېږي نو لاس ورته غوړوي او قبلوي يې او د توبې دروازه تر هغه وخته پورې خلاصه ده چې لمر له لوېديځ څخه راوخېژي چې دا د نړۍ د پای ته رسېدو نښه ده، نو کله چې راوخېژي د توبې دروازه بندېږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. توبه تر هغه پورې قبلېږي چې دروازه يې خلاصه وي، او د لوېديځ له خوا په لمر راختلو سره يې دروازه بندېږي، او انسان بايد مخکې له دې وړاندې توبه وباسي چې ځنکندن پرې ولړېږي او ساه يې مرۍ ته راورسېږي.
٢. د ګناه له امله بايد (انسان) مايوسه او نا اميده نه شي، ځکه چې د الله تعالى بخښنه او رحمت پراخ دي او د توبې دروازه خلاصه ده.
٣. د توبې شرطونه: لومړی: د ګناه پرېښودل، دويم: د ګناه په کولو پښېمانه کېدل. او درېيم: دا هوډ کول چې هېڅکله به بيا دا ګناه نه کوي، دا که چېرته د الله تعالى د حقونو پورې يې اړه درلوده، او که چېرته يې د بنده له حقونو سره تړاو درلوده، نو د توبې د صحت لپاره شرط دا دی چې هغه حق يې خاوند ته وروسپاري او يا حقدار ورته بخښنه وکړي.

(4318)

(93) – عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ، يَقُولُ: «مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ؟ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ؟ مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ؟»». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «زموږ پروردګار، تبارک وتعالى، هره شپه په وروستۍ پاتې دريمه برخه کې د دنيا اسمان ته راکوزېږي وايي چې: «څوک شته چې ما راوبلي او زه يې بلنه ومنم؟ څوک شته چې زما څخه سوال وکړي او زه يې ورکړم؟ څوک شته چې بخښنه راڅخه وغواړي او بخښنه ورته وکړم؟»». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګندوي چې الله جل جلاله هره شپه دشپې په دريمه وروستۍ پاتې برخه کې د دنيا آسمان ته راکوزيږي، خپل بندګان هڅوي چې راوبې بلي، ځکه هغه ذات د هغه چا بلنه مني چې راوبې بلي، او دې ته يې هڅوي چې خپلې غوښتنې ورڅخه وغواړي، له هغه ذات څخه چې څوک غوښتنه وکړي هغه يې ورکوي، او (خپل بندګان) دې ته رابلي چې د خپلو ګناهونو بخښنه ترې وغواړي، ځکه هغه ذات خپلو مومنو بندګانو ته بخښنه کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د شپې د وروستۍ دريمې برخې فضيلت، او پکې د دعا او بخښنې غوښتلو فضيلت.
٢. د دې حديث له اوريدلو نه وروسته انسان ته په کار دي چې د دعا د قبليدو وختونه غنيمت وګڼي.

(10412)

(94) – عن النُّعمان بن بَشير رضي الله عنه قال: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ -وَأَهْوَى النُّعْمَانُ بِإِصْبَعَيْهِ إِلَى أُذُنَيْهِ-: «إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ، كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ، أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً، إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ». [صحيح] - [متفق عليه]

له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويل يې: -او دلته نعمان رضي الله عنه خپلې دواړه ګوتې غوږونو ته پورته کړې، معنا دا چې په دواړو غوږونو مې ترې اوريدلي دي:- «يقينا چې حلال څرګند او حرام څرګند دي، او ددې دواړو تر منځه هغه چارې دي چې حلال او حرام يې څرګند ندی (شکي چارې دي) چې ډيری خلک پرې نه پوهيږي، نو چا چې لدې شکي چارو څخه ځان وساته په حقيقت کې هغه خپل دين او عزت وساته، او څوک چې پدې شکي چارو کې ښکيل شو هغه په حرامو کې ولويد، لکه يو چوپان چې د فصل (پټي) خواوشا رمه څروي نو - هره شيبه - شوني ده چې ورګډه

شي او پکې وځړيږي - خبردار اوسئ چې هر پادشاه د ځان لپاره منع شوي ځايونه لري چې هلته ورننوتل منع وي - نو خبردار اوسئ چې د الله تعالی منعه شوي ځايونه د هغه محارم دي؛ يعنې هغه کارونه چې هغه حرام کړي دي، خبردار اوسئ چې په بدن کې د (غوښې) يو ټوټه ده، که هغه روغه وه ټول بدن روغ دی، او که فاسده وه نو ټول بدن فاسد دی، خبردار اوسئ چې هغه زړه دی». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د شيانو په اړه عمومي قاعده بيان کړې ده، چې په شريعت کې -شيان - په دريو برخو وېشل شوي دي: ښکاره حلال، ښکاره حرام او مشکوک شيان چې د حلال او يا حرام حکم يې ځرګند ندی، او ډيری خلک يې له حکم څخه ناخبره دي.

نو چا چې هغه مشکوک شيان پرېښودل، له حرامو څخه په لرې پاتې کېدلو سره يې دين وساتل شو، او ابرو او عزت يې هم د خلکو له خبرو څخه خوندي پاتې شو، ځکه چې له هغه څه نه يې ځان ساتلی چې کول يې خلک عيب ګڼي. او څوک چې له مشکوکو کارونو څخه ډډه ونکړي، نو يا خو به په حرامو کې واقع شي، او يا دا چې عزت به يې د خلکو له خبرو څخه خوندي پاتې نه شي. او رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه چا بېلګه بيان کړه چې شکمن کارونه کوي چې مثال يې د هغه چوپان په څېر دی چې خپله رمه د يو چا د ساتل شوي فصل خواوشا څروي، نو شوني ده چې رمه په نوموړي کرونده ورګډه شي، ځکه چې ورته نږدې ده، نو همدا مثال د هغه چا دی چې شکمن کارونه کوي، ځکه هغه پدې سره حرامو ته نږدې کيږي نو شوني ده چې په حرامو کې واقع شي. ورپسې رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکړ چې (د انسان) په بدن کې د غوښې يو ټوټه ده (چې هغه زړه دی) په روغ پاتې کېدلو سره يې بدن روغ وي او په فاسد کېدلو سره يې فاسديږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د شکمنو کارونو پرېښودلو ته لېوالتيا، او دا چې - شکمن کارونه هغه دي - چې د حلال او يا حرام حکم يې معلوم نه وي.

(4314)

(95) – عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِي، فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ، وَلاَ نَصِيفَهُ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو سعيد الخدری رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:** «زما اصحابو ته کنځلې مه کوئ، ځکه که ستاسو څخه يو څوک د احد (د غره) په اندازه سره زر خيرات کړي، نو د هغه د يوې يا نيمې لپې په اندازه صدقې ته به ونه رسيږي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو او په تېره بيا مخکښو مهاجرينو او انصارو ته له کنځلو کولو منعه کړې ده؛ او فرمايلي يې دي چې که يو څوک د احد د غره په اندازه سره زر خيرات کړي نو په ثواب کې به د صحابه کرامو د يوې يا نيمې لپې خيرات ته هم ونه رسيږي، د لپې څخه مراد د برابر سړي دواړه لاسونه دي چې (سره يو ځای يې کړي او) ډک يې کړي؛ دا د هغوی د زيات اخلاص، پاکو نيتونو او په خيرات کولو کې د مخکښۍ او جګړې له امله او دا چې هغوی د مکې له فتحې څخه وړاندې په سختو شيبو کې وو او خپله يې اړتيا زياته وه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. صحابه کرامو رضي الله عنهم ته کنځلې کول حرام او د لويو ګناهونو څخه دي.

(11000)

(96) – عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَالَ: «يَا غُلَامُ، إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ، احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ، وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ، لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ، وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ، لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ». **[صحيح] - [رواه الترمذي]**

**له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې:** زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره شاته په سپرلۍ سپور وم نو ویې ویل: «**اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښایم: الله په یاد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په یاد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه یې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه یې وغواړه او پوهه شه چې: که دا ټول خلک راغونډ شي تر څو تاته د څه ګټه درورسوي، نو هغوی به تاته هیڅ ګټه و نه رسوي پرته له هغې چې الله درته لیکلې وي، او که دوی راغونډ شي تر څو تاته یو څه ضرر در ورسوي، نو هیڅ ضرر به در ونه رسوي له هغه پرته چې الله تعالی درته لیکلي وي. قلمونه پورته شوي او کاغذونه وچ شوي دي**». [صحیح حدیث دی] - [ترمذي روایت کړی].

## تشریح:

ابن عباس رضي الله عنهما خبر ورکوي چې هغه کوچنی و او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: زه تاته یو څه کارونه او شیان درښایم چې الله تعالی به پرې ګټه دروسوي:

الله - تعالی - په یاد لره د هغه د اوامرو په ساتلو او له منهیاتو څخه یې په ځان ژغورلو سره، داسې چې په اطاعت او عبادت کې دې ومومي او په نافرمانۍ او ګناهونو کې دې ونه مومي، که چېرته دې داسې وکړل، نو بدل به دې دا وي چې الله تعالی به دې د دنیا او آخرت له سختیو وساتي او په هر ځای کې چې یې نو په چارو کې به دې درسره مرسته وکړي.

او کله دې چې څه غوښتل نو یوازې له الله جل جلاله یې وغواړه، ځکه یوازې هغه - ذات دی چې - سوال کوونکو ته ځواب ورکوي (دعا یې قبلوي).

او که مرسته غواړې نو یوازې له الله تعالی نه مرسته وغواړه.

او باید دا باور ولرې چې که د ځمکې ټول خلک تاته د ګټې رسولو لپاره راغونډ شي، تاته هیڅ ګټه لاسته نه درځي مګر هغه چې الله - جل جلاله - درته لیکلې ده، او که د ځمکې ټول خلک تاته د ضرر رسولو لپاره راغونډ شي، نو تاته به هیڅ ضرر ونه رسیږي مګر هغه چې الله تعالی درته لیکلی دی.

او دا چې دا کار د الله پاک لخوا د هغه د حکمت او پوهې له مخې ټاکل شوی دی، او د الله جل جلاله حکم لره هیڅ بدلون نشته.

## د حديث له فايدو څخه:

١. كوچنيانو او ماشومانو ته د توحيد، ادب او نورو ديني چارو د ښوونې ارزښت.
٢. سزا د عمل له جنس څخه ده.
٣. په الله تعالی باندې د باور كولو او له بل چا پرته پر هغه توكل كولو باندې امر، او همهغه - ذات - د چارو غوره كارساز دی.
٤. د (الله تعالی) په پرېكړه او تقدير باندې ايمان او پرې خوښې ښكاره كول او دا چې الله جل جلاله په هر شي قادر دی.
٥. چا چې د الله تعالی امر ضايع كړ، نو الله تعالی به يې ضايع كړي او ساتنه به ترې ونه كړي.

(4811)

(97) – عَنْ سُفْيان بنِ عَبْدِ اللهِ الثَّقَفِيّ رضي الله عنه قال: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، قُلْ لِي فِي الْإِسْلَامِ قَوْلًا لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا غَيْرَكَ، قَالَ: «قُلْ: آمَنْتُ بِاللهِ، ثُمَّ اسْتَقِمْ». **[صحيح] - [رواه مسلم وأحمد]**

**له سفيان بن عبد الله الثقفی رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: ما وويل: اې د الله جل جلاله رسوله، ماته په اسلام كې داسې يوه وينا وښايه چې له تا پرته له بل چا څخه پوښتنه ونكړم، هغه وفرمايل: «ووايه چې په الله مې ايمان راوړی، بيا پرې ټينګ پاتې شه».** [صحيح حديث دی – [مسلم او احمد روايت كړی].

## تشريح:

صحابي سفيان بن عبدالله رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وكړه چې هغه ته يوه داسې وينا وښيي چې د اسلام په جامع مفهوم مشتمله وي تر څو پرې عمل وكړي او له بل چا يې په اړه پوښتنه ونكړي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ووايه چې: الله مې يو ګڼلی او ايمان مې راوړی چې هغه مې خالق او حق معبود دی او هېڅ شريک نه لري. بيا د فرايضو په ادا كولو سره د الله جل جلاله پيروی ته غاړه ږدي او محارم يې پرېږدي او همداسې دوام وركوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د دين بنسټ په الله جل جلاله، د هغه په ربوبيت، الوهيت، نومونو او صفتونو ايمان درلودل دي.

٢. له ايمان راوړلو وروسته د استقامت اهميت، عبادت ته ادامه ورکول او په هغه باندې ثابت قدمه پاتي کېدل.

٣. ايمان د عمل د قبلېدو لپاره شرط دی.

٤. په الله جل جلاله ايمان؛ په هغه اصولو او عقايدو باور ساتل دي چې ايمان راوړل پرې واجب دي او هغه څه چې د زړونو له عملونو څخه يې پيروي کوي، او الله جل جلاله ته غاړه ايښودل، په ظاهر او باطن کې هغه ته تسلمېدل دي.

٥. استقامت؛ د واجباتو په تر سره کولو او د منهياتو په پرېښودلو سره په مستقيمې لارې له دوامداره تللو څخه عبارت دی.

(65018)

(98) – عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ، إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى». [صحيح] - [متفق عليه]

**له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:** «په شفقت، مينې او خواخوږۍ کې د مؤمنانو مثال داسې دی لکه د بدن غړي، که يو غړی شکايت وکړي، د بدن پاتې برخه يې په بې خوبۍ او تبې سره نور غړي دګډون لپاره رابلي».

[صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړې چې د مسلمانانو حالت بايد د يو بل سره د مينې، رحمت، مرستې او ملاتړ پر بنا وي او پر هغه څه څوريدل چې کله له دوی څخه يو ته ضرر ورسيږي، لکه د يو بدن په څېر، کله يې چې يو غړی ناروغ شي، نو ټول بدن ورسره بې خوبه شي او تبه يې ونيسي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مسلمانانو حقونو ته باید درناوی وشي او له دوی سره مرستې او مهربانۍ ته هڅول وشي.
٢. د ایمان لرونکو خلکو ترمنځ باید مینه او ملاتړ وي.

(4969)

(99) – عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي: «څوک چې ښه اودس وکړي، نو ګناهونه یې له بدن څخه وځي، تر دې چې د نوکانو له لاندې برخې څخه یې هم وځي».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله علیه وسلم خبر ورکوي چې څوک د اصولو او آدابو په نظر کې نیولو سره اودس وکړي نو دا د ګناهونو او خطاګانو د بخښلو لامل ګرځي «**تر دې چې ګناهونه یې**» د دواړو لاسونو او دواړو پښو د نوکانو له لاندې برخې څخه هم وځي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له سنتو او آدابو سره د اوداسه زده کړې ته هڅول او عمل پرې کول.
٢. د اوداسه فضیلت، او دا چې (اودس) د وړو ګناهونو لپاره کفاره ده، او کوم چې لوی ګناهونه دي نو د هغوی لپاره توبه ضروري ده.
٣. د ګناهونو د وتلو لپاره په بشپړه توګه د اودس کول شرط دی، چې پرته له نیمګړتیا څخه وشي؛ لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله علیه وسلم بیان کړی دی.
٤. په دې حدیث کې د ګناهونو کفاره د لویو ګناهونو څخه د ځان ساتلو او ورڅخه توبې ویستلو پورې مقیده ده، الله تعالی فرمایلي: (إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ) [النساء:31]. یعني: (که چېرته تاسو له هغو غټو ګناهونو څخه ځان وساتئ، چې تاسو ترې منع شوي یاست ()، نو) مونږ به له تاسو نه ستاسو (واړه) ګناهونه لرې کړو).

(6263)

(100) – عَن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا نَرْكَبُ البَحْرَ، وَنَحْمِلُ مَعَنَا القَلِيلَ مِنَ الْمَاءِ، فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا، أَفَنَتَوَضَّأُ مِنَ الْبَحْرِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ، الحِلُّ مَيْتَتُهُ».

**[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه وأحمد]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: يو سړي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې ويل: ای د الله رسوله! مونږ په بحر کې سفر کوو، پداسې حال کې چې لږې اوبه راسره وي، نو که چېرته پرې اودس وکړو تنده مو وهي، نو آيا د بحر په اوبو اودس وکړو؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «اوبه يې پاکې او مرداره يې حلاله ده».** [صحيح حديث دی] – [ابو داود، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

يو سړي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه، ويې ويل: اې د الله رسوله! مونږ په بحري کښتيو کې د ښکار، سوداګرۍ او نورو موخو لپاره سپرېږو او د څښاک لپاره لږې اوبه راسره اخلو، نو که د اودس او غسل لپاره د څښاک اوبه وکاروو، اوبه خلاصيږي او د څښاک لپاره يې بيا نه شو موندلی، نو آيا موږ ته روا دي چې د بحر په اوبو اودس وکړو؟

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د بحر د اوبو په اړه وفرمايل چې: اوبه يې په خپل ځان کې پاکې او نورو شيانو لره پاکوونکي دي؛ نو اودس او غسل کول دواړه پرې روا دي، او هغه څه چې ترې له ماهيانو او کبانو او داسې نورو ځيزونو څخه راوځي حلال دي، که څه هم له ښکار پرته مردار شوي وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د بحر مرداره حلاله ده، او له مرداري څخه موخه: هغه حيوانات دي چې له بحر پرته ژوند نه شي کولای.

٢. پوښتونکي ته له هغه څخه زيات ځواب ورکول چې پوښتنه يې کړي وي، تر څو پرې بشپړه فايده مرتبه شي.

٣. كله چې د اوبو خوند، رنګ او بوی په یو پاکیزه شي سره بدل شي، نو تر هغه پورې پاک دی چې د اوبو حقیقت بدل شوی نه وي، اګر که تروشوالی، حرارت او یا یخوالي يې ډېر زیات هم شي.

٤. د بحر په اوبو سره لویه او وړه بې اودسي دواړه له منځه ځي او په پاک شي لوېدلي ناپاکي هم پاکوي لکه پر: بدن، کالیو او داسې نورو.

(8355)

(101) – عَن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَاءِ وَمَا يَنُوبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ، فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ». [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه وأحمد]

**له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایې چې: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغو اوبو په اړه پوښتنه وشوه چې کورني او ځنګلي حیوانات ورته په پرلپسې توګه راځي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «کله چې اوبه د دوه چاټیو (قلتینو) په اندازه وي نه ناپاکه کیږي».** [صحیح حدیث دی] – [ابو داود، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او احمد روایت کړی].

## تشریح:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغو اوبو د پاکوالي په اړه پوښتنه وشوه چې کورني او وحشي حیوانات ترې څښاک کوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې اوبه د دوه لویو چاټیو په اندازه وي چې د (۲۱۰) لیترو په اندازه کیږي، نو دا ډېرې اوبه دي او نه مردارېږي، مګر دا چې د نجاست له امله يې له درېیو اوصافو څخه په یو کې بدلون راشي چې هغه رنګ، خوند او بوی دي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. اوبه هغه مهال ناپاکه ګرځي چې د ناپاکۍ له امله يې له درېو ځانګړنو څخه یوه بدله شي چې هغه: رنګ، خوند او یا بوی دی، حدیث کې دا مقدار لدې امله یاد شوی چې غالبا (خلک همدومره اوبه ذخیره کوي) او مطلب ترې د اوبو همدا اندازه نه ده.

٢. د علماوو په دې اجماع ده چې که اوبه د نجاست له امله ناپاکې شي هغه بالکل نجسې دي، برابره خبره ده که هغه اوبه لږې وي او یا ډېرې.

(8357)

(102) – عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا» قَالَ أَبُو أَيُّوبَ: فَقَدِمْنَا الشَّأْمَ فَوَجَدْنَا مَرَاحِيضَ بُنِيَتْ قِبَلَ القِبْلَةِ فَنَنْحَرِفُ، وَنَسْتَغْفِرُ اللَّهَ تَعَالَى. [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو ایوب الانصاري رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «کله چې د حاجت رفع کولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ یا شا مه اړوئ، بلکې، ختیځ او یا لوېدیځ لورې ته شئ» ابو ایوب وویل: نو موږ شام ته لاړو، ومو لیدل چې کنارابونه قبلې لورې ته جوړ شوي وو، نو موږ به ترې کږېدلو، او له الله تعالی څخه به مو بخښنه غوښتله.** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم هر هغه ځوک چې د وروکي یا لوی حاجت رفع کولو اراده ولري قبلې ته له مخ یا شا کولو څخه منع کړی دی، بلکې ختیځ او یا لوېدیځ لورې ته ترې باید کوږ شي، البته که چېرته یې قبله د مدینې د خلکو د قبلې په څېر وي. بیا ابو ایوب رضي الله عنه وویل چې کله دوی شام ته لاړل نو ویې لیدل چې د حاجت رفع کولو لپاره کنارابونه د قبلې لورې ته جوړ شوي دي، نو دوی به خپل ځانونه د قبلې څخه کږول او لدې سره به یې د الله تعالی نه بخښنه غوښتله.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. پدې کې حکمت دا دی چې د کعبې حرمت او درناوی وشي.

٢. د حاجت رفع کولو له ځای څخه له راوتلو وروسته استغفار ویل.

٣. د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه تعلیم؛ ځکه چې کله یې حرام یاد کړل، حلال ته یې اشاره وکړه.

(3078)

(103) – عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُمْسِكَنَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ وَهُوَ يَبُولُ، وَلَا يَتَمَسَّحْ مِنَ الْخَلَاءِ بِيَمِينِهِ، وَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاءِ». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو قتادة-رضي الله عنه -څخه روایت دی وایي چې رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمایلي دي: «په تاسو کې دې هېڅوک د ادرار کولو پر مهال ښی لاس خپلې تناسلي آلې ته نه وروړي او نه دې په ښي لاس د حاجت ځای پاکوي او نه دې په لوښي کې پوکی کوي». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې آداب بیان کړل: چې یو سړی دې د تشو متیازو کولو پر مهال خپله تناسلې آله په ښي لاس کې نه نیسي، او نه دې په ښي لاس د تناسلي آلې یا مقعد څخه نجاست لرې کوي، ځکه چې ښي لاس د نیکو کارونو لپاره چمتو شوی دی، همدارنګه یې لدې څخه منع فرمایلي ده چې د څښاک په لوښي کې د څښلو پر مهال ساه واخیستل شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په آدابو او پاکوالي کې د اسلام لومړیتوب.
٢. د ناپاکو څیزونو څخه ډډه کول، که اړ و چې باید دا کار وکړي، نو په چپ لاس دې وکړي.
٣. پر چپ لاس د ښي لاس د عزت او فضیلت بیانول.
٤. د اسلامي شریعت بشپړتیا او د هغه د تعلیماتو هر اړخیزوالی.

(3079)

(104) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيَاشِيمِهِ». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «کله چې ستاسو څخه یو څوک له خوبه راپاڅېده، نو درې ځلې دې خپله پوزه کې اوبه واچوي او بېرته

دې سونړ کړي، ځکه چې شیطان يې په خیشوم (د پوزې پاس برخه کې) شپه تېره کړې ده». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ټینګار کوي چې څوک له خوبه راپاڅېږي نو باید چې درې ځلې خپله پوزه له وينځلو وروسته سونړ کړي؛ ځکه چې شیطان يې په پوزه شپه تېره کړې وي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. هر هغه څوک چې له خوبه راپاڅېږي باید د پوزې په سونړ کولو سره د شیطان اثرات له پوزې لرې کړي، او که چېرته يې اودس کاوه نو بیا خو د پوزې په سونړ کولو زیات ټینګار شوی دی.

٢. د پوزې د سونړ کولو ګټه دا ده چې پوزې ته اوبه اچول او بېرته سونړ کولو سره د پوزې دننه برخه پاکېږي او له اوبو سره ټوله ناپاکي راوځي.

٣. د شپې د خوب یادونه د (یبیت) د لفظ له امله شوې ده، ځکه چې بیتوته د شپې په خوب کې کېږي، او په همدې خوب کې انسان ډوب او غرق ویده کېږي.

٤. حدیث په دې دلیل دی چې شیطان د انسان سره اختلاط کوي، په داسې حال کې چې هغه پرې نه پوهېږي.

(8377)

(105) – عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ، أَوْ كَانَ يَغْتَسِلُ، بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ، وَيَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ. [صحيح] - [متفق عليه]

**له انس رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به په یوې پیمانې (صاع) غسل کاوه نو تر پنځو لپو پورې به يې غسل کاوه او په یوه لپه به يې اودس کاوه.** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به له جنابت څخه په پیمانه غسل کاوه نو تر پنځو لپو پورې به يې اوبه کارولې او اودس به يې په ورغوي سره کاوه: او (مد) یعنې پیمانه څلور لپې کیږي: د یو برابر انسان لپه چې دواړه ورغوي سره یو ځای کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اودس او غسل پر مهال د اوبو په لګښت کې ګذران کول او له اسراف څخه ډډه کول، که څه هم اوبه پرېمانه وي.

٢. د اودس او غسل پر مهال د اړتيا په اندازه د لږو اوبو لګول مستحب دي، او دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم لارښوونه ده.

٣. موخه دا ده چې اودس او غسل په بشپړه توګه وشي، سربېره پر دې چې سنتونه او آداب بايد مراعت شي پرته لدې چې اسراف وشي، وخت به مراعتوي او د اوبو زياتوالى او لږوالى او داسې نور به پام کې نيسي.

٤. د جنابت اطلاق په هر هغه چا کيږي چې مني ترې لاړ شي او يا جماع وکړي او جنابت ورته ځکه ويل کيږي چې جُنب انسان د لمانځه او عبادت څخه تر هغه پورې ډډه کوي چې پاک شي.

٥. پيمانه (صاع) د تول پېژندل شوې آله ده، او موخه ورڅخه نبوي پيمانه ده چې وزن يې (480) مثقاله ښې وربشې کيږي او په ليتر (٣ ليتره) کيږي.

٦. مد: د اندازه کولو شرعي واحد دى چې د معتدل شخص د ډکو لاسونو اندازه ده چې کله يې ډک کړي او لاسونه ورسره اوږده کړي او مد: د فقهاوو په اتفاق څلور صاعه کيږي او اندازه يې (٧٥٠) ملى ليتره ده.

(8387)

(106) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «لَا يَقْبَلُ اللَّهُ صَلَاةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «له تاسو څخه الله جل جلاله د هيچا لمونځ نه قبلوي کله چې اودس مات کړي تر دې چې اودس وکړي».** [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې د لمانځه د صحت لپاره يو شرط پاکوالى دى، نو ځوک چې د لمانځه اراده وکړي اودس دې وکړي که چېرته يې له اودس ماتوونکو څخه په يو اودس مات شوى وي؛ لکه ډکې او تشې متيازې کول؛ خوب او داسې نور.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د بې اودسه لمونځ نه قبليږي تر دې چې د لويې بې اودسۍ څخه په غسل او له وړې بې اودسۍ څخه په اودس کولو ځان پاک نه کړي.

٢. اودس په خوله کې له اوبو اچولو او بېرته راوېستلو، بيا پوزې ته دننه د اوبو کش کولو، بيا يې بېرته راوېستلو، بيا درې ځلې د مخ وينځلو، بيا له څنګلو سره د دواړو متو درې ځلې وينځلو، بيا يې د ټول سر يو ځلې مسح کولو او وروسته له ښنګرو سره د دواړو پښو له وينځلو څخه عبارت دی.

(3534)

(107) – عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قال: أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: أَنَّ رَجُلًا تَوَضَّأَ فَتَرَكَ مَوْضِعَ ظُفُرٍ عَلَى قَدَمِهِ فَأَبْصَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «ارْجِعْ فَأَحْسِنْ وُضُوءَكَ» فَرَجَعَ، ثُمَّ صَلَّى. [صحيح بشواهده] - [رواه مسلم]

**له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي چې: عمر بن الخطاب رضی الله عنه راته وويل چې: يو سړي اودس وکړ او په پښه کې يې د يو نوک په اندازه ځای (وچ) پرېښود، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وليد او ويې فرمايل: «بېرته لاړ شه او سم اودس وکړه». نو وګرځېده او بيا يې لمونځ وکړ.** [د شواهدو په اعتبار صحيح دی] – [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

له عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يو سړی وليد چې اودس يې پای ته ورساوه او په پښه کې يې د نوک په اندازه ځای پرېښی و چې اوبه ورته نه وې رسېدلې، نو پاتې شوي ځای ته په اشارې سره يې ورته وويل: بېرته لاړ شه او په ښه توګه اودس وکړه، بشپړ يې کړه او هر غړي ته يې په اندازه اوبه ورکړه. نو سړی وګرځېد، اودس يې بشپړ کړ او بيا يې لمونځ وکړ.

## د حديث له فايدو څخه:

١. ناپوهه او غافل انسان ته لارښوونه او په ځانګړې توګه کله چې د ناروا عمل له امله عبادت فاسديږي نو په نيکی امر کولو کې بيړه کول په کار دي.

٢. د اودس تولو غړو ته د اوبو رسول واجب دي او دا چې چا د غړي يوه برخه - که لږه هم وي - پرېښوده، نو اودس يې نه صحيح کيږي، او که زيات وخت پرې تېر شوی و نو بيا کول يې پرې لازم دي.
٣. په سمه توګه د اودس کولو مشروعيت، داسې چې د شرعي احکامو سره سم بشپړ شي.
٤. دواړه پښې د اودس له غړو څخه دي او مسح کول يې بسنه نه کوي، بلکې بايد ومينځل شي.
٥. د اودس غړي بايد سمدلاسه يو بل پسې ومينځل شي، داسې چې د مخکني غړي له وچېدو مخکې ورپسې نور غړي ومينځي.
٦. ناپوهي او هېرېدل فرض نه ساقطوي، بلکې ګناه ساقطوي، ځکه دغه کس چې د خپلې ناپوهۍ له امله يې په سمه توګه اودس ونه کړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ترې واجب ساقط نه کړ چې هغه اودس دی، بلکه امر يې ورته وکړ چې بيا يې وکړي.

(8386)

(108) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضيَ اللهُ عنهما قَالَ: رَجَعْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيقِ تَعَجَّلَ قَوْمٌ عِنْدَ الْعَصْرِ، فَتَوَضَّؤُوا وَهُمْ عِجَالٌ، فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: موږ د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سره له مکې مکرمې بيرته مدينې ته د راستنېدو په حال کې وو، تر دې چې يو ځای کې اوبو ته راورسيدو، نو زموږ ملګرو د مازديګر پر مهال بيړه وکړه، اودسونه يې وکړل، نو کله چې وروړسېدو پوندې يې معلومېدې چې وچې دي او لمدې شوې ندې، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: «پوندې په اور سره هلاکې دي، اودس بشپړ کړئ».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلو اصحابو سره له مکې څخه مدينې ته په سفر روان و چې ځينې صحابه کرامو اوبه وليدې، نو د مازديګر د لمانځه د ادا کولو لپاره يې په اوداسه کې بيړه

وکړه، تر دې چې د پوندو وچوالی يې له ورايه ښکارېده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغو خلکو ته په اور کې عذاب او هلاکت دی چې د اودس پر مهال د پوندو په وينځلو کې نيمګړتيا کوي، او بيا يې ورته امر وکړ چې د اودس په بشپړولو کې بايد مبالغه وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اودس پر مهال د پښو وينځل واجب دي، ځکه که مسح کول روا وای، نو د پښو په مينځلو کې غفلت کوونکی به يې په اور سره نه و ګواښلی.
٢. هغه غړي چې وينځل کېږي د ټول غړي بشپړ وينځل واجب دي، او دا چې څوک قصدا او يا د بې پروايي له امله د داسې يو غړي د يوې برخې وينځل پرېږدي چې وينځل يې واجب وي، نو لمونځ يې نه صحيح کېږي.
٣. ناپوهانو ته د ښوونې او لارښوونې اهميت.
٤. کله چې يو عالم د فرضو او يا سنتو په ادا کولو کې غفلت ويني نو غفلت کوونکی په مناسبو اسلوبو سره منع کوي.
٥. محمد بن اسحاق الدهلوي رحمه الله فرمايلي: (بشپړ وينځل) په درې ډوله دي: فرض؛ چې هغه په بشپړه توګه يو ځل د غړي وينځل دي، او سنت چې هغه درې ځلي د يو غړي وينځل دي، او مستحب چې د درې ځلې وينځلو سربېره له ټاکلي حد څخه د غړي اضافه برخه وينځل دي.

(66392)

(109) – عن عَمْرُو بْنُ عَامِرٍ عَنْ أَنَس بن مالك قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، قُلْتُ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ؟ قَالَ: يُجْزِئُ أَحَدَنَا الْوُضُوءُ مَا لَمْ يُحْدِثْ.

**[صحيح] - [رواه البخاري]**

**عمرو بن عامر له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت کوي فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به هر لمانځه ته اودس کاوه، ما وويل: تاسو به څنګه کول؟ هغه وويل: زمونږ څخه به يو تن تر هغه پورې په - يو اودس سره لمونځونه کول - تر څو به يې چې اودس مات شوی نه و.**

[صحيح حديث دی] – [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هر فرض لمانځه لپاره اودس کاوه، اګر که اودس به یې مات شوی هم نه و؛ دا - کار به یې د - اجر او فضیلت د لاسته راوړلو په خاطر کاوه.

په یوه اودس سره له یو فرض لمونځ څخه زیات لمونځونه کول روا دي، تر هغه وخته چې اودس ولري.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د رسول الله صلى الله علیه وسلم دېر عمل داسې و چې د هر لمانځه لپاره به یې اودس کاوه؛ تر څو بشپړ - اجر تر لاسه کړي -.

٢. د هر لمانځه لپاره اودس کول مستحب دي.

٣. په یو اودس سره له یو څخه زیات لمونځونه کول روا دي.

(65080)

(110) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً.

**[صحیح] - [رواه البخاري]**

**له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی فرمایي: رسول الله صلى الله علیه وسلم داسې اودس وکړ چې هر غړی یې یو یو ځل ومینځه.** [صحیح حدیث دی] – [بخاري روایت کړی].

## تشریح:

ځینې وختونه به چې کله رسول الله صلى الله علیه وسلم اودس کاوه نو د اودس هر غړی به یې یو یو ځل وینځه، نو مخ به یې ومینځه - چې پدې کې خوله او پوزه وینځل شامل دي - او لاسونه او پښې یو یو ځل، او - په اوداسه کې - همدا واجب اندازه ده.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د غړو یو ځل مینځل واجب او تر هغه زیات مستحب دي.

٢. کله کله د غړو مینځل یو یو ځل هم جایز دي.

٣. د سر په مسح کولو کې شرعي طریقه یو ځل مسح کول دي.

(65081)

(111) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ. [صحيح] - [رواه البخاري]

له عبد الله بن زيد رضي الله عنه څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه دوه ځلې اودس وکړ (یعني هر غړی یې دوه دوه ځلې ووینځه) [صحیح حدیث دی] – [بخاري روایت کړی].

**تشريح:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې ځینې وختونه اودس کاوه د نو اودس هر غړی به یې دوه دوه ځلې وینځه، نو مخ به یې ومینځه - چې پدې کې خوله او پوزه وینځل شامل دي - او دواړه لاسونه او دواړه پښې دوه دوه ځلې.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د غړو وینځل یو یو ځل واجب دي او کوم چې لدې څخه زیات شي نو مستحب عمل دی.
٢. کله کله د اوداسه د غړو وینځل دوه دوه ځلې هم جواز لري.
٣. سر یو ځل مسح کیږي.

(65082)

(112) – عَنْ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضي الله عنه: أَنَّهُ رَأَى عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ دَعَا بِوَضُوءٍ، فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ مِنْ إِنَائِهِ، فَغَسَلَهُمَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الْوَضُوءِ، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلَاثًا، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ غَسَلَ كُلَّ رِجْلٍ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، وَقَالَ: «مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ». [صحيح] - [متفق عليه]

له حمران - د عثمان بن عفان له ازاد شوي غلام - څخه روایت دی چې هغه عثمان ولیده چې د اودس لپاره یې اوبه راوغوښتې، نو له لوښي څخه یې په لاسونو اوبه راتوی کړې او درې ځلې یې ومینځل، بیا یې ښی لاس لوښي ته ښکته کړ، بیا یې خولې ته او پوزې ته اوبه واچولې او پوزه یې سوڼ کړه، بیا یې درې ځلې مخ پرې مینځه، او لاسونه یې تر څنګلو پورې درې ځلې ووینځلې، بیا

يې په سر مسحه وکړه، بيا يې دواړه پښې درې ځلې ومينځلې، بيا يې وويل: پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - مې وليده چې زما د اودس په څېر اودس يې کاوه او ويل يې: «چا چې زما د دې اودس په څېر اودس وکړ، بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړ او له ځان سره يې پکې خبرې ونه کړې (يعني له وسوسو يې ځان وژغوره) ټول مخکني ګناهونه به يې ورته وبخښل شي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

عثمان رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اودس کولو طريقه په عملي بڼه وښودله، د زيات وضاحت لپاره يې اوبه راوغوښتې، نو درې ځلې يې په لاسونو راتوی کړې، بيا يې خپل ښی لاس په لوښي کې ښکته کړ، اوبه يې ترې راواخيستې، خولې ته يې واچولې او په خوله کې تاوې راتاوې کړې، بيا يې راوويستلې، بيا يې اوبه پوزې ته دننه کش کړې، بيا يې سونړ کړلې، بيا يې خپل مخ درې ځلې ووينځه، بيا يې د څنګلو په شمول لاسونه درې ځلې ووينځل، بيا يې خپل لوند لاس يو ځل په سر راښکود، بيا يې پښې له ښنګرو سره درې ځلې ووينځلې.

بيا چې کله هغه رضي الله عنه له اودس څخه فارغ شو نو هغوی ته يې خبر ورکړ چې هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم ليدلی دی چې د دې اودس په څېر اودس يې وکړ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته زيری ورکړی دی چې چا د هغه د اودس په څېر اودس وکړ او دوه رکعته لمونځ يې وکړ، په داسې حال کې چې د خپل رب په وړاندې له عاجزۍ او د زړه له حضور سره ودريد، نو الله تعالی به پدې بشپړ اودس او دې خالص لمونځ اجر وکړي، داسې چې ټول مخکني ګناهونه به يې وبخښي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اودس په پيل کې لوښي ته له ښکته کولو مخکې د لاسونو وينځل مستحب دي، که څه هم چې له خوب څخه راپاڅيدلی نه وي، خو که چېرته له خوب څخه راپاڅېدلی و نو وينځل يې پرې واجب دي.

٢. ښوونکی بايد د زده کونکي د پوهولو لپاره نږدې لاره غوره کړي، او پدې کې عملي طريقه شامله ده.

٣. لمونځ کوونکی باید د دنیوي کارونو اړوند ټول فکرونه له سر نه وباسي، ځکه د لمونځ پوره والی او بشپړتیا د زړه په حضور کې ده، کنه نو له فکرونو څخه ځان ژغورل ناشوني دي، نو باید چې د ځان په وړاندې مبارزه وکړي او په فکرونو کې ډوب لاړ نشي.

٤. په اوداسه کې په ښي غړي پیلول مستحب دي.

٥. د خولې او پوزې په وینځلو او بیرته سوڼ کولو کې د ترتیب مشروعیت.

٦. د مخ، لاسونو او دواړو پښو درې ځلې وینځل مستحب او یو ځل وینځل یې واجب دي.

٧. الله جل جلاله د دواړو کارونو په کولو سره مخکېني ګناهونه بخښي؛ اودس، او دوه رکعته لمونځ په هغه طریقه چې په حدیث کې راغلې ده.

٨. د اوداسه هر غړی ځانته حد لري، د مخ حد: په اوږدوالي د سر د ویښتانو له شنه کېدلو څخه د زنې تر لاندې برخې پورې او په پلنوالي له یو غوږ څخه تر بل غوږ پورې، او د لاس حد: د ګوتو له څوکو څخه تر څنګلو پورې یعنې هغه بند پورې چې د مټ او مړوند تر منځه دی، او د سر حد: د مخ د څنډو د ویښتانو له شنه کېدو څخه د ستونې تر پورته برخې پورې، او د غوږونو مسح کول له سر څخه دي، او د پښې حد: ټول قدم دی تر هغه بند پورې چې د پښې او د پنډۍ تر منځه دی.

(3313)

(113) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْثُرْ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ، وَإِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي وَضُوئِهِ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لاَ يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ».

ولفظ مسلم: «إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي دي:**

«کله چې ستاسو څخه یو څوک اودس وکړي، نو پوزې ته دې اوبه واچوي، بیا دې سوڼ کړي، او که له تاسو څخه یو څوک اودس وچوي نو په تاق عدد (اودس ماتو) دې وچ وکړي او کله چې له تاسو څخه یو څوک له خوبه راپاڅیږي، نو خپل لاس دې ومینځي، مخکې له دې چې هغه په لوښي کې ښکته کړي، ځکه چې ستاسو څخه یو څوک پدې نه پوهیږي چې لاس یې شپه چیرته تېره کړې

ده». او د مسلم لفظ داسې دی: «کله چې له تاسو څخه څوک له خوبه راويښ شي، نو تر هغې دې خپل لاس په لوښي کې نه ډوبوي، تر څو چې يې درې ځلې پرېمنځلی نه وي، ځکه هغه نه پوهېږي چې لاس يې په کوم ځای کې شپه تېره کړې ده». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د پاکوالي ځينې حکمونه بيان کړل چې له جملې څخه يې ځينې دا دي: لومړی: څوک چې اودس کوي نو بايد چې پوزې ته اوبه له تنفس سره کش کړي، او بيا يې بېرته په تنفس کولو سره راوباسي، يعنې سونږ يې کړي. دويم: که څوک وغواړي چې د حاجت له رفع کولو وروسته له پليتی څخه ځان له اوبو پرته په نورو ښيزونو پاک کړي لکه تيږه او داسې نور نو بايد چې په تاق عدد سره يې پاک کړي چې تر ټولو کم شمېر يې درې دی او زيات يې دومره دی چې ناپاکي پرې پاکه شي او د اودس ماتي ځای پاک شي. دريم: څوک چې د شپې له خوبه راپاڅېږي نو بايد د اودس کولو لپاره خپل لاس په لوښي کې دننه نه کړي تر دې چې له لوښي څخه د باندې يې درې ځلې ووينځي، ځکه هغه نه پوهېږي چې لاس يې چېرته شپه تېره کړې ده، او هېڅ ډاډ نشته چې لاس به يې له پليتی څخه پاک وي او کېدای شي شيطان پرې لوبې کړې وي او داسې شيان يې ورته راوړي وي چې انسان ته ضرر لري او يا اوبه خرابوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په اودس کې استنشاق واجب دی، چې هغه پوزې ته له اوبو کش کولو څخه عبارت دی، همدارنګه بېرته يې سونږ کول هم واجب دي، يعنې د تنفس وېستلو په واسطه بېرته د اوبو راوېستل.
٢. په تاقو تيږو سره اودس وچول مستحب دي.
٣. د شپې له خوب څخه وروسته درې ځلې د لاسونو مينځل مشروع عمل دی.

(3033)

(114) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبْرَيْنِ، فَقَالَ: «إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لاَ يَسْتَتِرُ مِنَ البَوْلِ، وَأَمَّا الآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ» ثُمَّ أَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً، فَشَقَّهَا نِصْفَيْنِ، فَغَرَزَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لِمَ فَعَلْتَ هَذَا؟ قَالَ: «لَعَلَّهُ يُخَفِّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په دوو قبرونو تېر شو نو ويې فرمايل: «دوی دواړو ته عذاب ورکول کيږي، او په کومه لويه ګناه عذاب نه ورکول کيږي؛ يو له دوی څخه به له تشو متيازو ځان نه ساته او بل چې و نو هغه به د خلکو تر منځ چغلګري کوله» بيا يې يوه لنده (لمده) لخته راواخيسته، دوه ترازې يې کړې، او په هر قبر يې يوه لخته وتومبله، هغوی وويل: اې د الله جل جلاله رسوله؟ دا کار دې ولې وکړ؟ ويې فرمايل: «کيدی شي له امله يې له دواړو تر هغه پورې عذاب سپک شي، تر څو چې دواړه وچې شوې نه وي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په دوو قبرونو تېر شو نو ويې فرمايل: د دې دواړو قبرونو خاوندانو ته عذاب ورکول کيږي؛ او دوی په داسې يو کار سره نه عذابيږي چې ستاسو په نظر کې به کومه لويه ګناه وي، که څه هم د الله تعالى په نيز لويه ګناه ده، له دې دوو څخه يو يې د حاجت پر مهال له ادرار څخه د ځان او جامو ساتلو څخه بې پروا و، او بل به يې د خلکو تر منځ چغلګري کوله، د نورو خلکو خبرې به يې د ضرر رسولو او د خلکو تر منځ د اختلاف او درز اچولو په موخه وړلې راوړلې.

## د حديث له فايدو څخه:

١. چغلي کول او له ادرار څخه ډډه نه کول کبيره ګناهونه دي او د قبر د عذاب سبب ګرځي.

٢. الله تعالى ځينې غيبونه ښکاره کړل - لکه د قبر عذاب - تر څو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د نبوت ښکارندويي وکړي.

٣. د دوو خمبو (شنو لختو) د پرې کولو او په قبر يې د تومبولو عمل د رسول الله صلى الله عليه وسلم پورې خاص دی، ځکه چې الله تعالى هغه ته په قبر کې د هغو دواړو مړو په اړه خبر ورکړ، نو نور خلک پرې نه قياس کيږي، ځکه چې د مړو پر حال هېڅوک نه پوهيږي.

(3010)

(115) – عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الخَلَاءَ قَالَ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حاجت رفع کولو ته ننوتلو نو ویل به یې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ».** «اې الله! زه پر تا له نارینه او ښځینه شیطانانو څخه پناه نیسم». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتل هغه ځای ته ننوځي چې حاجت به یې پکې رفع کاوه، یعني تشې یا ډکې متیازې به یې کولې، نو په الله تعالی به یې پناه غوښتله تر څو یې د نرانو او ښځینه شیطانانو له شر څخه وساتي. او د: (الخبث والخبائث) تفسیر په شر او پلیتیو هم شوی دی.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. تشناب یا د حاجت رفع کولو ځای ته د ننوتلو پر مهال دا دعا ویل مستحب والی.
٢. ټول مخلوقات خپل رب ته محتاج دي تر څو یې له هغه څه نه وساتي چې زیان ورته رسوي او یا ورته په چارو کې ضرر رسوي.

(3150)

(116) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ المؤْمنينَ رَضيَ اللهُ عنها: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ مِنَ الغَائِطِ قَالَ: «غُفْرَانَكَ». [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]

**د ام المؤمنین بي بي عایشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې: کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم د حاجت د رفع کولو له ځای څخه راووت نو: «غُفْرَانَكَ» به یې ویل، یعني اې ربه ماته بخښنه وکړه.** [صحیح حدیث دی] - [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله د حاجت رفع کولو له ځای څخه راووت نو ویل به یې: اې الله! زه ستا نه (ستا د بخښنې) سوال کوم.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د حاجت د رفع کولو له ځای څخه د راوتلو پر مهال د "غُفرانَك" ویل مستحب دي.
٢. رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر حالت کې له الله تعالی څخه بخښنه غوښتله.
٣. د حاجت رفع کولو نه وروسته د بخښنې غوښتلو د سبب په اړه ویل شوي چې: تر څو د الله تعالی د شکر په ادا کولو کې تقصیر ونه شي، له دې نعمتونو څخه یې یو له بدن څخه د هغه څه راوتل دي چې انسان ته ضرر لري، او یا دا چې د هغه څه په اړه بخښنه غواړم چې ستا له ذکر څخه د حاجت رفع کولو پر مهال بوخت شوم.

(10046)

(117) – عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ، مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ». **[صحيح] - [رواه النسائي وأحمد]**

**له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وايې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:**

«مسواک د خولې د پاکی او د رب د خوښی سبب ګرځي». [صحیح حدیث دی] - [نسائي او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د اراک ونې په لرګي سره د غاښونو مسواکول خوله له ګنده کېدو او بد بویۍ څخه پاکوي. او دا له بنده څخه د الله تعالی د راضي کېدو یو لامل دی؛ ځکه چې پدې سره د الله تعالی اطاعت او د هغه امر پر ځای کیږي او همدارنګه پدې کې پاکوالی دی چې الله تعالی یې خوښوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مسواک فضیلت او دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت دې ته وهڅول چې ډېره استفاده ترې وکړي.
٢. په مسواک وهلو کې غوره دا ده چې د اراک د ونې لرګي وکارول شي، او د برس او کریم کارول یې ځای نیسي.

(3588)

( 118) – عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ. [صحيح] - [متفق عليه]

**له حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: کله چې به رسول الله صلى الله عليه وسلم د شپې له خوبه پاڅېد، نو په مسواک به يې خپله خوله پاکوله.** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به زياتره مسواک واهه او امر به يې پرې کاوه، او په ځينو وختونو کې به يې پرې تاکيد کاوه لکه: د شپې تهجدو ته پاڅېدل، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به مسواک واهه او خپله خوله به يې پاکوله.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د شپې له خوبه وروسته په مسواک وهلو ټېنګار، ځکه چې د شپې له خوب سره د خولې بوی بدلېږي او مسواک د پاکولو وسيله ده.

٢. د مخکنۍ معنا پر بنا هر ځل د خولې د بدبويۍ پر مهال د مسواک پر وهلو ټينګار.

٣. په ټولېزه توګه د پاکوالي مشروعيت، او دا چې دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو يوه برخه او يو عالي ادب دی.

٤. مسواک وهل ټولې خولې ته شامليږي لکه: غاښونه، ورۍ او ژبه.

٥. مسواک د اراک يا بلې ونې څخه پرې شوی لرګی دی چې د خولې او غاښونو د پاکولو، د خولې تازه کولو او بد بويۍ د لرې کولو لپاره کارول کيږي.

(3063)

(119) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ -أَوْ: عَلَى أُمَّتِي- لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «که پر مؤمنانو- او يا زما پر امت مې -د سختۍ کولو (ويره نه وي) نو خامخا به مې ورته د هر لمانځه پر مهال د مسواک وهلو امر کړی و».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي که چېرته پر مؤمنانو د سختی راوستلو وېره نه وی نو د هر لمانځه پر مهال به يې پرې مسواک وهل واجب کړي و.

## د حديث له فايدو څخه:

١. پر خپل امت د رسول الله صلی الله علیه وسلم مهرباني او پر هغوی د سختی راوستلو وېره.
٢. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امر واجبوالی، مګر دا چې دلیل شتون ولري چې دا نفلي حکم دی.
٣. د هر لمانځه پر مهال مسواک وهل مستحب دي او فضيلت لري.
٤. ابن دقيق العيد رحمه الله فرمايي: د لمانځه په وخت کې د مسواک کولو حکمت دا دی چې دا الله تعالی ته د نژدې والي حالت دی، نو پکار ده چې د عبادت د شرافت د ځرګندولو لپاره د کمال او پاکوالي په حالت کې وي.
٥. د حديث له عموم څخه معلومېږي چې د روژه نیونکي لپاره هم د مسواک دا حکم شامل دی، که څه هم له زوال څخه وروسته وي، لکه د: ماسپښين او مازديګر لمونځونه.

(3364)

(120) – عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا، يَغْسِلُ فِيهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:** «دا په هر مسلمان حق دی چې په هرو اوو ورځو کې يو ځل غسل وکړي، چې په هغه کې خپل سر او خپل ځان ووينځي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې: د طهارت او پاکوالي په موخه په هر عاقل او بالغ مسلمان دا حق دی چې د اونی په هرو اوو ورځو کې يوه ورځ غسل وکړي؛ خپل سر او بدن ووينځي، او د دي کار لپاره تر ټولو غوره ورځ د جمعې ورځ ده لکه څرنګه چې له ځينو رواياتو څخه همداسي انګېرل کيږي او د جمعې په ورځ د جمعې له لمانځه څخه مخکې غسل کول تاکيدي

مستحب عمل دی، اګر که د پنجشنبې په ورځ يې غسل هم کړی وي مثلا، او دا چې دا عمل واجب ندی دليل يې د عائشې رضي الله عنها وينا ده چې فرمايي: هغه مهال خلک کاريګر و، نو کله به چې د جمعې لمانځه ته لاړل نو همغه د کار په بڼه به لاړل: نو ورته وويل شو: "که غسل مو کړی وای" ، بخاري روايت کړی، يعني د خولو او داسې نور بويونه به ترې تلل، خو لدې سره يې بيا هم ورته وويل: "که غسل مو کړی وای" نو له دوی پرته په نورو خلکو خو په طريقه اولی سره واجب ندی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. پاکوالی او طهارت مراعتولو ته د اسلام پاملرنه.

٢. د جمعې د لمانځه لپاره غسل کول تاکيدي مستحب عمل دی.

٣. له سر څخه يادونه د سر د اهميت په خاطر شوې ده، کنه نو بدن سر ته هم شامليږي.

٤. په هغه چا باندې غسل واجب دی چې بوی ترې ځي او له امله يې خلک ازاريږي.

٥. هغه ورځ چې په غسل کولو پکې ټينګار شوی د جمعې ورځ ده، د فضيلت له امله يې.

(65084)

(121) – عن أبِي هريرة رضي اللَّه عنه: سمعتُ النبِيّ صلى الله عليه وسلم يقول: «الفِطْرَةُ خمسٌ: الخِتَانُ والاستحدادُ وقصُّ الشَّارِبِ وتقليمُ الأظفارِ وَنَتْفُ الآبَاطِ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابوهريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «فطرت پنځه څيزونه دي: سنتېدل، د نامه لاندې د وېښتانو لرې کول، د برېتونو لنډول، د نوکانو لنډول او د تخرګونو د وېښتانو وېستل».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د اسلام د مبارک دين پنځه ځانګړنې او د پيغمبرانو سنتونه (طريقې) بيان کړي دي:

د نر د تناسلي آلې د پاسه د اضافي پوستکي پرې کول، او د ښځينه و لپاره د شرمګاه د پوستکي د سر پرې کول چې د دخول د ځای د پاسه دی.

او دویم یې: د نوم د لاندې برخې د وېښتانو لرې کول دي، کوم چې د مخکنۍ شرمګاه شاوخواشاته دي.

او دریم یې : د برېتونو لنډول دي، چې نارینه د پاسنۍ شونډې د پاسه د وېښتانو له لرې کولو څخه عبارت دی، تر څو شونډه ښکاره شي.

څلورم یې: د نوکانو لنډول دي.

او پنځم یې: د تخرګ د وېښتانو وېستل دي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د پیغمبرانو خویونه - چې الله جل جلاله یې خوښوي، پرې خوشحالیږي او امر پرې کوي - د بشپړتیا، پاکوالي او ښکلا لوري ته بلنه ورکوي.

٢. د دې شیانو پر ځان د لازمولو مشروعیت، او غفلت ترې نه کول.

٣. دا خویونه دیني او دنیوي ګټې لري چې له جملې څخه یې: ظاهري ښکلا، د بدن پاکوالی، د پاکوالي لپاره احتیاط، له کفارو سره مخالفت او د الله تعالی د حکم اطاعت.

٤. په نورو حدیثونو کې لدې پنځو څخه ډېر د فطرت خویونه ښودل شوي دي، لکه: ږیره پرېښودل، مسواک وهل او داسې نور.

(3144)

**(122) – عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ: كُنْتُ رَجُلًا مَذَّاءً وَكُنْتُ أَسْتَحْيِي أَنْ أَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ بْنَ الْأَسْوَدِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ: «يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ».**

**وَلِلْبُخَارِيِّ: فَقَالَ: «تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ». [صحيح] - [متفق عليه]**

**د علي رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي: زه داسې یو څوک وم چې زیات مذي به راتلل، او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه شرمېدم چې د حکم په اړه یې ترې پوښتنه وکړم، ځکه چې لور یې ماته ناسته وه، نو مقداد بن اسود رضی الله عنه ته مې امر وکړ چې پوښتنه ترې وکړي، هغه وویل: «خپله تناسلي آله دې وینځي او اودس دې کوي». او د بخاري روایت کې دي چې وېې ویل: «اودس وکړه او تناسلي آله دې ومینځه».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

علي بن ابي طالب رضي الله عنه خبر ورکوي چې هغه داسې يو څوک و چې زيات مذي به ترې تلل - مذي يو ډول سپيني نرۍ سريخناکه اوبه دي چې د شهوت پر مهال او يا له کور والي څخه مخکې له تناسلي آلې څخه راوځي، او دی پدې نه پوهېده چې د راوتلو پر مهال يې څه وکړي، نو شرمېده چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړي؛ ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د لور؛ فاطمې خاوند و، نو له مقداد بن الأسود څخه يې وغوښتل چې د حکم په اړه يې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړي. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: خپله تناسلي آله دې ووينځي او بيا دې اودس وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د علي بن ابي طالب رضي الله عنه فضيلت چې شرم او حيا يې ممانعت ونه کړ چې د بل چا په واسطه پوښتنه وکړي.
٢. د فتوا غوښتلو لپاره د بل چا د کمارلو جواز.
٣. د مصلحت په خاطر روا ده چې يو انسان د ځان په اړه بل چاته خبر ورکړي چې هغه ترې شرميږي.
٤. د مذي نجاست او له بدن او جامو څخه يې د مينځلو وجوب.
٥. مذي وتل له اودس ماتوونکو څخه دي.
٦. د تناسلي آلې او خصيتينو(هګيو) مينځل واجب دي، ځکه چې په بل حديث کې يې يادونه شوې ده.

(3348)

(123) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ المؤمنين رضي الله عنها قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الجَنَابَةِ، غَسَلَ يَدَيْهِ، وَتَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلاَةِ، ثُمَّ اغْتَسَلَ، ثُمَّ يُخَلِّلُ بِيَدِهِ شَعَرَهُ، حَتَّى إِذَا ظَنَّ أَنَّهُ قَدْ أَرْوَى بَشَرَتَهُ، أَفَاضَ عَلَيْهِ المَاءَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ غَسَلَ سَائِرَ جَسَدِهِ، وَقَالَتْ: كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، نَغْرِفُ مِنْهُ جَمِيعًا. **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له أم المؤمنين عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له جنابت څخه غسل کاوه نو، لاسونه يې ومينځل او لکه د لمانځه په څېر اودس يې وکړ، بيا يې غسل وکړ، بيا يې ويښتانو کې ګوتې ننباسلې تر دې چې ډاډه شو چې لاندې پوستکی يې لوند شو بيا يې درې ځلې (مخ ته) اوبه واچولې، بيايې ټول ځان ووينځه او فرمايلي يې دي، ما او د الله رسول صلى الله عليه وسلم به له يو لوښي څخه لامبل، دواړو به ترې لپې را اخېستلې.**

[صحيح حديث دی] – [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله غوښتل له جنابت څخه غسل وکړي نو د لاسونو پر وينځلو به يې پيل وکړ. بيا به يې داسې اودس وکړ لکه څنګه چې د لمانځه لپاره کېږي، بيا به يې وېښتان په لاسونو سره خلال کړل، تر دې چې ډاډمن به شو چې د وېښتانو بېخونه لانده شول او مخ ووينځل شو، بيا به يې په سر درې ځلې اوبه واړولې او د بدن پاتې برخه به يې ومينځله. او عايشې رضي الله عنها فرمايلي چې: ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به له يو لوښي څخه لامبل، دواړو به ترې لپې راډکولې.

## د حديث له فايدو څخه:

١. غسل په دوه ډوله دی: هغه چې غاړه پرې خلاصيږي او بشپړ غسل، کوم چې غاړه خلاصوونکی غسل دی نو هغه داسې دی چې انسان د طهارت نيت وکړي بيا د خولې او پوزې وينځلو په شمول په ټول بدن اوبه واړوي. او بشپړ غسل هغه دی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د غسل په څېر غسل وکړي لکه څرنګه چې پدې حديث کې بيان شوی دی.

٢. د جنابت اطلاق په هغه چا کېږي چې مني ترې ووځي، يا دا چې کوروالی وکړي که څه هم مني ترې لاړ نه شي.

٣. د ښځې او خاوند لپاره د يو بل شرمګاه ته کتل او له يو لوښي څخه غسل کول روا دي.

(3316)

**(124) – عَنْ عَمَّارِ بنِ ياسِرٍ رضي الله عنه قال: بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَاجَةٍ، فَأَجْنَبْتُ فَلَمْ أَجِدِ الْمَاءَ، فَتَمَرَّغْتُ فِي الصَّعِيدِ كَمَا تَمَرَّغُ الدَّابَّةُ ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ: «إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ أَنْ تَقُولَ بِيَدَيْكَ هَكَذَا» ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدَيْهِ الْأَرْضَ ضَرْبَةً وَاحِدَةً، ثُمَّ مَسَحَ الشِّمَالَ عَلَى الْيَمِينِ، وَظَاهِرَ كَفَّيْهِ وَوَجْهَهُ.**
**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عمار بن ياسر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو کار پسې ولېږلم، هلته جنب شوم، اوبه مې ونه موندلې، نو په خاورو کې لکه د ځاروي په څېر ورغړېدم، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم، او پدې اړه مې ورته یادونه وکړه، هغه راته وفرمایل: «بسنه کوي چې په لاسونو سره داسې وکړې» بیا یې په دواړو لاسونو یو ځل ځمکه ووهله، بیا یې ښي لاس په چپ لاس راکش کړ او د لاسونو مخ او شتونه یې مسح کړل.** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم عمار بن یاسر رضي الله عنه د خپلو ځینو حاجاتو لپاره په سفر ولېږه، نو هلته په کوروالي کولو او یا په شهوت سره مني وتلو باندې جنب شو، نو اوبه یې ونه موندلې چې غسل پرې وکړي، او له جنابت څخه د تیمم کولو په حکم نه پوهېده، بلکې یوازې له بې اودسی څخه یې په حکم پوهېده. نو اجتهاد یې وکړ او دا فکر یې وکړ چې لکه څرنګه د بدن ځینې برخې د اودس لپاره د ځمکې په خاورو سره مسح کیږي، نو له جنابت څخه په تیمم کې باید ټول بدن په خاورو ککړ شي؛ په اوبو یې قیاس وکړ، نو په خاورو کې ولوغړېده تر دې چې ټول ځان یې په خاورو کړ بیا یې لمونځ وکړ، نو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، پدې اړه یې ورته یادونه وکړه، تر څو پوه شي چې سم کار یې کړی که نه؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته له دواړو بې اودسیو؛ وړې او غټې لکه: تشې متیازې او یا جنابت څخه د پاکوالي طریقه وښوده: داسې چې په دواړو لاسونو سره به ځمکې ته یوه ضربه ورکړې، بیا به چپ لاس په ښي لاس راکش کړې او د دواړو لاسونو مخونه او شتونه به مسح کړې.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له تيمم څخه وړاندې د اوبو پسي پلټنه واجب ده.
٢. د جنب انسان لپاره په هغه حالت کې تيمم روا دی چې اوبه ونه مومي.
٣. د لويې بې اودسۍ لپاره تيمم داسې دی لکه د وړې بې اودسۍ لپاره.

(3461)

**(125) – عَنْ الْمُغِيرَةِ رضي الله عنه قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَأَهْوَيْتُ لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ، فَقَالَ: «دَعْهُمَا، فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ» فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا. [صحيح - [متفق عليه]**

**له مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: زه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يو سفر کې وم، نو زه ټيټ شوم چې (د اودس پر مهال يې) موزې وباسم، نو ويې فرمايل: «پرې يې ږده، يقينا چې له پاکۍ سره مې پښو کړي دي» (يعنې په اودس مې پښو کړي دي).**

نو مسح يې پرې وکړه. [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو سفر کې و چې اودس يې وکړ، نو کله چې پښو وينځلو ته ورسېده، مغيره بن شعبه دواړه لاسونه ور اوږده کړل تر څو د رسول الله صلى الله عليه وسلم له پښو څخه موزې وباسي چې پښې ومينځي! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پرې يې ږده او مه يې باسه، يقينا چې دواړه موزې مې په داسې حال کې پښو کړې دي چې زه په طهارت کې وم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د پښو وينځلو پر ځای په خپلو دواړو موزو مسح وکړه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د وړې بې اودسۍ څخه د اودس کولو پر مهال پر موزو د مسحې کولو مشروعيت او د لويې بې اودسۍ پر مهال د پښو وينځل اړين دي.
٢. مسح کول يو ځل د موزې په پورتنۍ برخه د لوند لاس په تېرولو سره کيږي، نه په لاندې برخه.
٣. په موزو باندې د مسحې کولو لپاره شرط دا دی چې له بشپړ اودس نه وروسته اغوستل شوي

وي، او پښې يې په اوبو سره وينځلې وي او دا چې موزې پاکې وي او هغه ځای يې پټ کړی وي چې په اودس کې يې وينځل فرض دي، او دا چې مسح بايد په ورځ بې اودسی کې وي نه په جنابت او نه داسې څه کې چې غسل واجبوي، او دا چې مسح بايد د شريعت په ټاکلې موده کې وي چې هغه د مقيم لپاره يوه شپه او ورځ او د مسافر لپاره درې شپې او ورځې دي.

٤. په موزو باندې هر هغه شی قياس کېږي چې پښې پټوي لکه جرابې او داسې نور، نو مسح پرې جايز ده.

٥. د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښه اخلاق او ښه ښوونه، چې مغيره يې د موزو له وېستلو څخه منع کړ او سبب يې ورته بيان کړ: چې موزې يې د پاکوالي په حالت کې پښو کړې دي، تر څو مطمئن شي، او حکم وپېژني.

(3014)

(126) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ المؤمنين رضي الله عنها أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: إِنِّي أُسْتَحَاضُ فَلاَ أَطْهُرُ، أَفَأَدَعُ الصَّلاَةَ؟ فَقَالَ: «لَا، إِنَّ ذَلِكِ عِرْقٌ، وَلَكِنْ دَعِي الصَّلاَةَ قَدْرَ الأَيَّامِ الَّتِي كُنْتِ تَحِيضِينَ فِيهَا، ثُمَّ اغْتَسِلِي وَصَلِّي». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې فاطمه بنت أبی حبيش له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې ويل: زه چې حيض شم نه پاکيږم، نو آيا لمونځ پرېږدم؟ هغه وفرمايل: «نه، هغه رګ دی، خو د هغو ورځو په اندازه لمونځ پرېږده څومره به چې مخکې حيض کېدلې، بيا غسل وکړه او لمونځ وکړه».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

فاطمه بنت أبي حبيش له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې ويل: زما وينه نه دريږي او همداسې جاري وي تر دې چې د حيض نېټه هم تېره شي، نو آيا حکم يې د حيض حکم دی چې لمونځ پرېږدم؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هغه د استحاضې وينه ده چې په حقيقت کې د ناروغی وينه ده او په رحم کې د يو رګ د پرې کېدو له امله رامنځته کېږي او د حيض وينه نه ده. نو کله چې د حيض وخت راشي چې ته به پکې د مياشتني عادت له مخې حيض

کېدلې مخکې لدې چې دا ناروغي درته پیدا شي، نو لمونځ، روژه او هر هغه کار پرېږده چې حیض لرونکي ترې د حیض پر مهال منع شوي دي. او کله چې د هغه نیټې په اندازه وخت پای ته ورسیږي، نو ته به له حیض څخه پاکه شوې یې، نو د وینې ځای ومینځه، بیا دې ټول ځان په بشپړه توګه ووینځه چې بې اودسي درڅخه لاړه شي، بیا لمونځ وکړه.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د حیض د پای ته رسېدو پر مهال د ښځې لپاره غسل کول واجب دي.
٢. په مستحاضې لمونځ واجب دی.
٣. حیض: طبیعي وینه ده چې رحم یې د بالغې ښځې د شرمګاه له لارې وباسې، چې په معلومه نیټه کې پرې راځي.

٤. استحاضه: د رحم له لاندې برخې څخه بې وخته د وینې له راتګ څخه عبارت ده او دا چې وینه د رحم له بیخ (منځ) څخه نه راوځي.
٥. د حیض او استحاضې د وینو تر منځ توپیر: د حیض وینه توره او بدبویه وي، او د استحاضې وینه سره او نرۍ وي او هیڅ بد بویې نه لري.

(3029)

(127) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا، فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا، فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا، أَوْ يَجِدَ رِيحًا». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:**
**«کله چې ستاسو څخه یو څوک په خپلې ګېډه کې څه شی ومومي او په دې پوه نه شي چې ایا څه ترې ووتل که نه، نو تر هغه دې له جوماټ څخه نه وځي تر څو چې غږ واوري او یا باد بوی ومومي».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چي كله د لمونځ كوونكي په ګېډه كې څه شی ښكته پورته شي، نو دی پوه نه شي چي آيا څه تريې ووتل كه نه ؟ نو د دې لپاره چي بيا اودس وكړي لمونځ دي تر هغه پورې نه پرې كوي تر څو له اودس ماتوونكي لامل څخه ډاډمن شي؛ داسې چي يا د باد غږ واوري، يا بوی حس كړي؛ ځكه چي يقيني شی په شک سره نه باطليږي، پداسې حال کې چې د ده طهارت يقيني دی او اودس ماتېدل يې مشكوک حالت دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا حديث د اسلام له اصولو څخه يو اصل او له فقهي قواعدو څخه يوه قاعده ده، هغه دا چي : يقين په شک سره له منځه نه ځي، او اصل هر څه په خپل حالت پرېښودل دي، تر دې چي د هغه خلاف شی يقيني شي.

٢. شک په طهارت کې اغېزمن ندی، او لمونځ كوونكی په خپل طهارت پاتې دی تر هغه چې له بې اودسی څخه ډاډمن شي.

(65083)

(128) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْسِلْهُ سَبْعًا».

ولمسلم: «أولاهُنَّ بالتُّراب». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:**

**«كله چي ستاسو څخه د يو چا په لوښي كې سپی څښاک وكړي نو اووه ځلې دې ووينځي».**

د مسلم په روايت كې راغلي: **«لومړی ځل به يې په خاورو وينځي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت كړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چي هغه لوښی دې اووه ځلې ومينځل شي چې سپي پكې ژبه وهلې وي، داسې چې لومړی ځل يې په خاورو سره وي او ورپسې په اوبو، نو پدې سره به

بشپړ پاکوالی رامنځته شي او د نجاست او ضرر مخنیوی به یې وشي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د سپي لعاب خورا ناپاک دي.
٢. په لوښي کې د سپي خوله وهل یې نجسوي، او هغه اوبه هم نجسوي چې په لوښي کې وي.
٣. په خاورو پاکول او پرلپسې اووه ځلې وینځل یوازې په هغه حالت کې دي چې سپی په یو شي کې خوله ووهي، نه دا چې د سپي په متیازو، غایطه موادو او یا نورو چټلیو سره یې ناپاکه کړي.
٤. په خاوره د لوښي د وینځلو طریقه دا ده چې: په لوښي کې به اوبه واچوي او بیا به پکې خاوره واچوي او بیا پرې لوښی وینځل کیږي.
٥. د حدیث ظاهري معنی دا ده چې دا د ټولو سپیو په اړه عمومي دی، حتی که هغه سپی هم وي چې شریعت یې د ساتلو اجازه ورکړې لکه: د ښکار، پیرې او رمې سپي.
٦. صابون او د مینځلو پوډر د خاورې ځای نه نیسي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خاورې په اړه حکم کړی دی.

(3143)

(129) – عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، فَقَالَ أَحَدُكُمْ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، قَالَ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:** «کله چې اذان کوونکی: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووایي: نو ستاسو څخه دې یو اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، ووایي، بیا چې (اذان کوونکی) أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووایي، دا دې هم : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا

اللهُ ووايي. بيا چي (اذان كوونكى) أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايي، نو دا دي هم : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايي، بيا چي (اذان كوونكى) حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ ووايي او دي به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي. بيا چي (اذان كوونكى) حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ووايي، دا به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي، بيا چي مؤذن: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي، دا به هم: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي. بيا چي (اذان كوونكى) لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، او دا د زړه نه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ووايي، نو جنت ته داخل شو». [صحيح حديث دى] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

اذان خلكو ته د وخت د داخليدلو په اړه خبر وركوي، او د آذان كلمې د ايماني عقيدې ټولګه ده.

په دې حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د اذان د اورېدو پر مهال بيانوي چې اورېدونكى به د اذان كوونكي په څېر الفاظ ووايي، كله چې اذان كوونكى "الله أكبر" ووايي: نو اورېدنكى هم: "الله أكبر"وايي او همداسې ورپسې، تر دې چې كله اذان كوونكى "حي على الصلاة" او "حي على الفلاح"، ووايي نو اورېدونكى به "لا حول ولا قوة إلا بالله" ووايي.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا هم بيان كړه چې چا له مؤذن سره د زړه له اخلاصه (د اذان كلمې) تكرار كړې، نو جنت ته به داخل شي.

او د اذان د كلمو معنا (په لاندې ډول ده) "الله أكبر": يعني دا چې هغه پاک ذات تر ټولو لوى، معزز او له هر شي څخه ستر دى.

"أشهد أن لا إله إلا الله": يعني له الله پرته پر حقه بل معبود نشته.

"أشهد أن محمّدًا رسول الله": يعني زه په خپله ژبه او زړه اعتراف كوم او شاهدي وركوم چې محمد د الله رسول دى، د الله لخوا راليږل شوى او اطاعت يې واجب دى.

"حيَّ على الصَّلاة "يعني لمانځه ته راشئ، او د اورېدونكي دا وينا "لا حول ولا قوَّة إلّا بالله"، دا معنا لري چې د اطاعت له موانعو څخه د خلاصون لپاره حيله او يا د كولو لپاره يې ځواک او قدرت نشته مګر د الله تعالى په توفيق سره.

"حيَّ على الفلاح "يعني د كاميابى سبب ته راشئ، چې هغه جنت ګټل او له اور څخه ژغورل دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. اذان کوونکي ته د هغه د وينا په څېر په الفاظو سره جواب ورکول، پرته له حي على الصلاة او حي الفلاح څخه، چې هلته به يې په ځواب کې "لا حول ولا قوة إلا بالله" وايي.

(65086)

(130) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضي الله عنها أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ، ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا، ثُمَّ سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ، فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ، لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللهِ، وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ، فَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «کله چې مو له اذان کوونکي څخه (د اذان الفاظ) واورېدل نو تاسو هم هغه څه وايئ چې هغه يې وايي، بيا پر ما درود ووايئ، ځکه څوک چې پر ما درود ووايي، نو الله تعالى به پر هغه لس ځلې درود وايي، بيا ماته له الله جل جلاله څخه د وسيلې سوال وکړئ، چې هغه په جنت کې يو مقام دی، او د الله په بندګانو کې يوازې يو تن ته ورکول کيږي او له هغه پرته بل چاته نه ښايي، زه امېد لرم چې هغه به زه يم، او څوک چې زما لپاره وسيله وغواړي نو شفاعت به يې کيږي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم لارښوونه کوي چې چا د لمانځه لپاره له اذان کوونکي څخه د اذان الفاظ واورېدل نو ورپسې دي همغه الفاظ تکرار کړي پرته له : حي على الصلاة، او : حي على الفلاح څخه، ځکه له هغوی وروسته به: لا حول ولا قوة الا بالله وايي، بيا به د اذان په پای کې په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ووايي، ځکه چې چا په رسول الله صلى الله عليه وسلم يو ځل درود ووايي، نو الله تعالى به پرې د هغه له امله لس ځلې درودونه ووايي، او د الله تعالى لخوا پر بنده باندې د درود ويلو معنا: د ملايکو پر وړاندې د بنده ستاينه کول دي.

بیا یې امر وکړ چې د هغه صلی الله علیه وسلم لپاره له الله تعالی څخه د وسیلې سوال وشي، چې هغه په جنت کې یو مقام دی او تر ټولو لوړ دی، چې د الله تعالی په ټولو بندګانو کې یوازې د یو بنده سره ښایي او ورته ورکول کیږي، او زه تمه لرم چې هغه زه اوسم، او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره د عاجزی او تواضع له مخې کړې ده؛ ځکه چې کله هغه مقام یوازې د یو چا لپاره وي، نو هغه یو تن به لده صلی الله علیه وسلم پرته بل څوک نه وي، ځکه چې هغه د مخلوقاتو تر ټولو غوره دی.

بیا هغه صلی الله علیه وسلم څرګنده کړه چې چا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وسیلې دعا وکړه نو هغه انسان ته د هغه صلی الله علیه وسلم شفاعت حاصل دی.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. اذان کوونکي ته په ځواب ویلو ټینګار.
٢. اذان کوونکي ته له ځواب ویلو وروسته په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د درود ویلو فضیلت.
٣. په رسول الله صلی الله علیه وسلم له درود ویلو وروسته هغه ته د وسیلې پر غوښتنه ټینګار.
٤. د وسیلې د معنا بیان، د هغې لوړ شان، چې له یو بنده پرته بل چاته نه ښایي.
٥. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فضیلت بیان، چې پر دغه لوړ مقام سره ځانګړی شوی دی.
٦. چا چې له الله تعالی څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره د وسیلې غوښتنه وکړه نو هغه انسان ته یې شفاعت یقیني شو.
٧. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تواضع او عاجزی بیان چې له خپل امت څخه یې د نوموړي مقام د لاسته راوړلو لپاره دعا وغوښته، پداسې حال کې چې هغه مقام د همده لپاره دی.
٨. د الله تعالی لوی فضل او رحمت، چې نیکي په لس چنده ده.

(65087)

(131) – عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي: چاچې کله اذان واوريد، او وېې ويل: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ». «يعني زه ګواهي ورکوم چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته او شريک نه لري. او پدې چې محمد - صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی. پدې خوښ يم چې الله مې رب دی او پدې چې محمد صلى الله عليه وسلم مې رسول دی او پدې چې اسلام مې دين دی، نو ګناه به يې ورته وبښل شي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي، څوک چې له مؤذن څخه د اورېدو پر مهال ووايي: "أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له" يعني، زه اقرار کوم او خبر ورکوم چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته، او له هغه پرته بل هر معبود باطل دی، "وأن محمدًا عبده ورسوله" او محمد د الله بنده او رسول دی يعني محمد صلى الله عليه وسلم بنده دی؛ عبادت يې نه کيږي، او رسول دی دروغ نه وايي. "رضيت بالله ربًا" زه په الله د څښتن په توګه راضي يم، يعني د هغه په ربوبيت، الوهيت، نومونو او صفتونو. "وبمحمد رسولًا" او په محمد صلى الله عليه وسلم د رسول په توګه، يعني: د هر هغه څه سره چې هغه رالېږل شوی او موږ ته يې رارسولي دي. "وبالإسلام" او په اسلام، يعني د اسلام له ټولو حکمونو او منهياتو سره،"دينًا"يعني باور او پيروي په توګه، نو هغه ته يې ګناهونه وبخښل شول، يعني: له وړو ګناهونو څخه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اذان پر مهال د دې دعا تکرارول د ګناهونو کفاره ده.

(6272)

(132) – عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ، حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ القِيَامَةِ».

**[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له جابر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې اذان واوري او بيا ووايي: «اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ» «اې د دې بشپړې بلنې او د دې ودريدونکي لمونځ (مالکه)؛ محمد - صلی الله عليه وسلم - ته وسيله او فضيلت ورکړه، او هغه ستايل شوي مقام ته يې ولېږه چې تا يې ورسره ژمنه کړې ده. (چا چې د اذان پسې دا دعا وويله نو) هغه د قيامت په ورځ زما د شفاعت مستحق وګرځېده».** [صحيح حديث دی] – [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: کله چې اذان کوونکی له اذان څخه فارغ شي او اوريدونکی دا دعا ووايي: (اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ)، اې د دې بلنې ربه! دا د اذان هغه الفاظ دي چې د الله تعالی عبادت او لمانځه ته پرې بلنه ورکول کيږي، (التَّامَّةِ) يعني بشپړې بلنې چې د توحيد او رسالت بلنه ده، (وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ) او اې د هغه لمونځ ربه چې تل تر تله به ادا کيږي، (آتِ) ورکړه، (مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ) محمد صلی الله عليه وسلم ته په جنت کې هغه لوړ مقام او منزلت ورکړه چې له هغه پرته بل چاته نه ښايي، (وَالفَضِيلَةَ) او هغه رتبه چې د مخلوقاتو له رتبې څخه ښه او غوره ده (وَابْعَثْهُ) او ورکړه (مَقَامًا مَحْمُودًا) هغه ستايل شوې رتبه چې استوګن يې ستايل کيږي، کومه چې د قيامت په ورځ لوی شفاعت دی (چې دی به يې کوي)، (الَّذِي وَعَدْتَهُ) هغه چې تا يې ورسره په خپله دې وينا کې ژمنه کړې ده چې: {عسى أن يبعثك ربك مقامًا محمودًا} لرې نه ده چې ستا رب به تا د ستاينې وړ مقام خاوند کړي. تر څو دا مقام د هغه صلی الله عليه وسلم شي.

نو څوک چې دا دعا ووايي د قيامت په ورځ به د رسول الله صلی الله عليه وسلم د شفاعت مستحق وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا دعا هغه مهال ویل کېږي چې کله اورېدونکی د مؤذن پسې د اذان د کلمو له تکرارولو خلاص شي، او چا چې اذان نه وي اورېدلی نو هغه به دا دعا نه وايي.

٢. د رسول الله صلی الله علیه وسلم دفضیلت بیان چې د مخلوقاتو تر منځ د پرېکړې پر مهال به وسیله، فضیلت، ستایل شوی مقام او لوی شفاعت ورکول کېږي.

٣. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دې وینا پر بنسټ د شفاعت اثبات چې فرمايي: "حلَّت له شفاعتي يوم القيامة " يعنې زما د شفاعت مستحق وګرځېد.

٤. رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خپلو هغه امتيانو شفاعت کوي چې کبیره ګناهونه یې کړي وي تر څو دوزخ ته لاړ نه شي او یا هغوی چې ورننوتي وي تر څو ترې بېرته راووځي، او یا دا چې بې حسابه یې جنت ته داخل کړي او یا د دې لپاره چې څوک جنت ته ننوتی وي مرتبې یې پکې لوړې کړي.

٥. طيبي رحمه الله فرمايلي: د اذان له پیله تر دې وینا پورې "محمدًا رسول الله" دا بشپړه بلنه ده، او حي على الصلاة چې دی نو دا هغه لمونځ دی چې ادا کولو ته یې په: (يُقيمون الصلاة) کې اشاره شوې، او کېدی شي چې د الصلاة څخه مراد دعا او له (القائمة) څخه مراد تل ادا کېدونکی لمونځ وي، لکه چې وايي (قام الشئ) يعني په دوامداره توګه یې یو کار تر سره کړ، او په دې سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا" : والصلاة القائمة "بشپړه بلنه ده، او کېدی شي چې په الصلاة سره هغه معمول لمونځ مراد وي کوم ته چې هغه مهال بلنه ورکول کېږي او همدا یې ظاهره معنا ده.

٦. المهلب ويلي: په حديث کې د لمونځونو په وختونو کې پر دعا ټینګار شوی؛ ځکه چې د قبلېدو لپاره د امید حالت دی.

(10635)

### (133) – عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

«الدُّعَاءُ لَا يُرَدُّ بَيْنَ الأَذَانِ وَالإِقَامَةِ». [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي]

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «د اذان او اقامت تر منځ دعا نه ردیږي».** [صحیح حدیث دی] - [ابو داود، ترمذي او نسائي روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د اذان او اقامت تر منځ د دعا فضیلت بیان کړی او فرمایلي يې دي چې نه رديږي او خامخا قبليږي، نو په دې وخت کې د الله تعالی نه دعا وغواړئ.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د دعا لپاره د دې وخت فضیلت.
٢. کله چې دعا کوونکی د دعا ادبونه مراعت کړي، غوره ځایونه او وختونه وپلټي، د الله تعالی له نافرمانی ځان وساتي، په شکونو او شبهو کې له لویدو ځان وساتي، په الله تعالی نېک باور ولري، نو ډېره نږدې ده چې د الله تعالی په امر يې دعا قبوله شي.
٣. مناوي رحمه الله د دعا د قبلیدو په اړه فرمايي: د دعا د شرطونو، ارکانو او ادابو له پوره کولو وروسته دعا قبليږي، که چېرته له دې څخه کوم یو کم و، نو یوازې خپل ځان دې ملامته کړي.
٤. د دعا قبلېدل: یا به يې دعا ژر تر ژره قبوله شي، یا به ورڅخه د ورته شر مخه ونیسي او یا به ورته اجر په آخرت کې خوندي شي، دا ټول کارونه د الله تعالی د حکمت او رحمت مطابق تر سره کيږي.

(5479)

(134) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْمَى، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّهُ لَيْسَ لِي قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الْمَسْجِدِ، فَسَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيَ فِي بَيْتِهِ، فَرَخَّصَ لَهُ، فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ، فَقَالَ: «هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ؟» فَقَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَأَجِبْ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو ړوند سړی راغی او ورته يې وویل: اې د الله رسوله، زه څوک نلرم چې لاس نیولی مې جومات ته راولي، نو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې غوښتنه وکړه چې په کور کې د لمانځه کولو اجازه ورکړي، نو اجازه يې ورکړه، کله چې روان شو غږ يې پسې وکړ، ورته يې وویل: «آیا د لمانځه لپاره اذان اورې؟» ويې ویل: هو، ورته يې وویل: «نو د اذان بلنه ومنه» (يعني جومات ته راځه). [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو ړوند سړی راغی ورته یې وویل: اې د الله رسوله، ما سره څوک نشته چې مرسته راسره وکړي او د پنځه وخته لمانځه لپاره مې لاس نیولی جومات ته راولي، غوښتل یې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازه ورکړي تر څو جماعت پرېږدي (او په کور کې لمونځ وکړي) نو اجازه یې ورکړه، کله چې روان شو ورغږ یې کړ او ورته یې وویل: آیا ته د لمانځه لپاره اذان اورې؟ هغه وویل: هو، نو ورته یې وویل: کله چې بلونکی (موذن) د لمانځه بلنه درکړي، نو بلنه یې ومنه.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. په جماعت سره د لمانځه کولو وجوب، ځکه چې رخصت یوازې له لازم او واجب شي څخه وي.
٢. د هغه دا وینا چې: "اجابت وکړه" پدې دلالت کوي چې هغه څوک چې اذان اوري نو په جماعت سره لمونځ کول پرې واجب دي، ځکه چې امر په اصل کې د وجوب لپاره دی.

(11287)

(135) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا، مَا تَقُولُ ذَلِكَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ؟» قَالُوا: لَا يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ شَيْئًا، قَالَ: «فَذَلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الخَمْسِ، يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الخَطَايَا». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي یې چې فرمایل یې:** «خبر راکړئ چې که ستاسو څخه د یو چا د دروازې په خوله کې یو نهر وي چې هغه پکې د ورځې پنځه ځلې غسل کوي، نو څه وایئ چې په هغه کې به څه خیرې پاتې شي؟» **هغوی وویل: نه هیڅ خیرې به یې پاتې نه شي، ویې فرمایل:** «همدا د پنځه وخته لمونځونو مثال دی، چې الله جل جلاله پرې ګناهونه پاکوي». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه د کوچنیو ګناهونو په پاکولو کې د یو نهر په شان بللي دي چې د یو چا د کور په دروازه کې وي او هره ورځ پکې پنځه وخته غسل کوي، نو هیڅ خیرې به پکې پاتې نه شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا فضيلت د کوچنيو ګناهونو د کفارو لپاره ځانګړې دی، خو د لويو ګناهونو لپاره توبه ويستل حتمي دي.

٢. د پنځه وخته لمونځونو فضيلت او د شرطونو، رکنونو، واجباتو او سنتونو سره يې ادا کولو ته پاملرنه.

(4968)

(136) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بِن مَسْعُودٍ رضي الله عنه قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ العَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ قَالَ: «الصَّلاَةُ عَلَى وَقْتِهَا»، قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «ثُمَّ بِرُّ الوَالِدَيْنِ» قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» قَالَ: حَدَّثَنِي بِهِنَّ، وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي. [صحيح] - [متفق عليه]

**له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وپوښتل چې: کوم کار الله ته ډېر محبوب دی؟ هغه وفرمايل: «لمونځ په خپل ټاکلي وخت» هغه وويل: بيا کوم؟ ويې فرمايل: «بيا له مور او پلار سره نيکي»، هغه وويل: بيا څه؟ ويې فرمايل: «د الله په لاره کې جهاد» هغه وفرمايل: ماته يې د هغوی په اړه وويل، که ما ترې نور زياتوالی غوښتی و، يعني زياتې پوښتنې مې ترې کړې وې نو خامخا به يې زيات معلومات راکړي وو.**

[صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې: کوم کار الله ته ډېر محبوب دی؟ هغه وفرمايل: فرض لمونځ په خپل ټاکلي وخت چې شريعت ورته ټاکلی دی. بيا د مور او پلار سره ښېګڼه کول، چې له دواړو سره نيکي وشي، حقونه يې ادا شي، او نافرماني يې ونه شي. بيا د الله جل جلاله په لار کې د الله جل جلاله د کلمې د پورته کولو په موخه جهاد او د اسلام له دين څخه په ځان او مال سره دفاع کول او شعاير يې ښکاره کول دي.

ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل: ماته يې پدې عملونو خبر راکړ؛ او که چېرته مې ورته ويلي و چې بيا کوم؟ نو خامخا به يې راته زيات کړي وو.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د هغې اندازې له مخې چې الله جل جلاله يې خوښوي عملونه په خپلو کې يو پر بل غوره والى لري.
٢. پر مسلمان تينګار کول چې ښه او تر ټولو ښه عملونه تر سره کړي.
٣. د ښه عمل په اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځوابونو توپير، هغه به شخص او احوالو ته په ليدو ځواب ورکاوه، او دا چې کوم کار يې زيات فايدور دى.

(3365)

(137) – عَنْ عُثْمَانَ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا مِنَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا، إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ، مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً، وَذَلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له عثمان رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې:** «هيڅ مسلمان نشته چې کله د فرض لمانځه وخت راورسيږي، نو دى ورته ښايسته اودس وکړي، خشوع او رکوع يې پر ځاى کړي مګر دا چې د مخکنيو ګناهونو لپاره به يې کفاره وګرځي، تر دې چې لويه (کبيره) ګناه ونه کړي. او همداسې د تل لپاره». [صحيح حديث دى] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې هيڅ داسې مسلمان نشته چې د فرض لمانځه وخت پرې داخل شي او په ښه توګه اودس وکړي او بشپړ يې کړي، بيا په عاجزى سره داسې لمونځ وکړي چې زړه او اندامونه يې ټول الله ته متوجې وي او د هغه عظمت يې په زړه کې حاضر کړى وي او د لمانځه کړنې لکه: رکوع، سجده او داسې نور بشپړ کړي، مګر دا چې دا لمونځ به يې د مخکنيو وړو ګناهونو لپاره کفاره وګرځي، تر دې چې لويه ګناه ونه کړي او دا فضيلت د تل لپاره په هر وخت او هر لمانځه کې دى.

## د حديث له فايدو څخه:

١. هغه لمونځ د ګناهونو لپاره کفاره ده چې بنده ورته په ښه ډول اودس کړی وي، په عاجزی سره يې ادا کړي او موخه يې يوازې د الله جل جلاله رضا وي.

٢. په عباداتو کې د استقامت فضيلت او دا چې دا د کوچنيو ګناهونو د بخښنې لامل دي.

٣. د ښايسته اودس او لمانځه فضيلت او دا چې خشوع پکې وشي.

٤. د کوچنيو ګناهونو د بخښلو لپاره له لويو ګناهونو څخه د ځان ساتلو اهميت.

٥. لوی ګناهونه يوازې په توبه بخښل کيږي.

(6254)

(138) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يقول: «الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ، وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ، مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به فرمايل:** «پنځه وخته لمونځونه، له يوې جمعې څخه تر بلې پورې، او له يو رمضان څخه تر بل پورې، د دوی تر منځه د ګناهونو کفاره ده پدې شرط چې له کبيره ګناهونو څخه ځان وساتل شي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په شپه او ورځ کې پنځه وخته فرض لمونځونه، او هره اونۍ کې د جمعې لمونځ، او هر کال د رمضان د مياشتې روژه د دوی تر منځه د صغيره ګناهونو کفاره ده پدې شرط چې د لويو ګناهونو څخه ځان وژغورل شي. او کوم چې لوی ګناهونه دي لکه: زنا او شراب څښل نو پرته له توبې يې کفاره نشته.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له ګناهونو څخه ځيني واړه او ځيني لوی وي.

٢. د کوچنيو ګناهونو د کفارې لپاره د لويو ګناهونو څخه ځان ژغورل شرط دی.

٣. لوی (کبیره) ګناهونه هغه دي چې په دنیا کې پرې حد ټاکل شوی وي او یا په آخرت کې پرې په عذاب او یا غضب سره ګواښل شوي وي، او یا پکې تهدید وي او یا یې په تر سره کوونکي لعنت ویل شوی وي لکه: زنا او شراب څښل.

(3591)

(139) – عن عمرو بن شُعيب عن أبيه عن جدِّه قال: قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: «مُرُوا أولادكِم بالصلاةِ وهم أبناءُ سبعِ سِنينَ، واضرِبوهم عليها وهم أبناءُ عَشرٍ، وفرِّقوا بينهم في المَضاجِعِ». [حسن] - [رواه أبو داود]

**له عمرو بن شعیب رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له خپل پلار او هغه له خپل نیکه څخه روایت کوي وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:** «خپلو اولادونو ته په اووه کلنۍ کې په لمانځه امر وکړئ، او (د نه کولو په صورت کې یې پرې ووهئ) کله چې لسو کلونو ته ورسیږي، او د خوب ځایونه یې سره جلا کړئ». [حدیث حسن دی] – [ابو داود روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې پلار باید خپلو - نارینه او ښځینه و- اولادونو ته په لمانځه امر وکړي کله چې اووه کلن شي او دا چې هغه کارونه وروښايي چې د لمانځه کولو لپاره ورته اړتیا لري. او کله چې لس کلنۍ ته ورسیږي، خبره یې نوره هم زیاته کړې ده، هغه دا چې وهي به یې کله چې په لمانځه کې کوتاهي وکړي، او دا چې د خوب ځایونه یې سره جلا شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. بلوغ ته له رسیدو څخه مخکې اولادونو ته دیني چارې ورښودل چې تر تولو مهم یې لمونځ دی.

٢. وهل د ادب لپاره وي، نه د شکنجې کولو لپاره، نو باید په داسې ډول ووهل شي چې له حالت سره یې سم وي.

٣. عزت او ناموس ساتنې ته د شریعت پاملرنه او دا چې هره هغه لار یې بنده کړې ده چې د فساد لامل کرځي.

(5272)

(140) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عنه سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «قَالَ اللهُ تَعَالَى: قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ: {الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ}، قَالَ اللهُ تَعَالَى: حَمِدَنِي عَبْدِي، وَإِذَا قَالَ: {الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ}، قَالَ اللهُ تَعَالَى: أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي، وَإِذَا قَالَ: {مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ}، قَالَ: مَجَّدَنِي عَبْدِي، -وَقَالَ مَرَّةً: فَوَّضَ إِلَيَّ عَبْدِي-، فَإِذَا قَالَ: {إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ}، قَالَ: هَذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، فَإِذَا قَالَ: {اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ، صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ}، قَالَ: هَذَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابوهريره- رضي الله عنه -څخه روايت دی چې: ما له رسول الله- صلی الله عليه وسلم -څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «الله جل جلاله فرمايي چې : ما د خپل ځان او خپل بنده تر منځه لمونځ په دوو برخو ويشلی دی او زما بنده به هغه څه ترلاسه کوي چې هغه يې غواړي، نو کله چې بنده {الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} ووايي، نو الله تعالى وفرمايي چې : زما بنده زما حمد ادا کړ، کله چې ووايي:{الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ}، نو الله جل جلاله وفرمايي چې: زما بنده پر ما ثنا وويله، او کله چې ووايي: {مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ}، نو وفرمايي چې: زما بنده زما لويي بيان کړه،. يو ځل (راوي وويل) الله تعالى وفرمايي چې: خپلي چارې يې ماته راوسپارلې، نو کله چې ووايي: {إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ}: الله تعالى وفرمايي چې: دا زما او زما د بنده ترمنځه ده، زما بنده چې هر څه وغواړي هغه لره شته، نو کله چې ووايي: {اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ، صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ}، وايي: دا زما د بنده لپاره دي او زما بنده ته هر هغه څه شته چې هغه يې غواړي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله تعالى په حديث قدسي کې فرمايلي دي چې: ما د خپل ځان او خپل بنده تر منځه د فاتحې سورت په لمانځه کې په دوو برخو ويشلی دي، چې نيم يې زما او نيم يې زما د بنده لپاره دی.

نو لومړی نيمه برخه يې: ستاينه، ثنا او لويي بيانول دي، چې په هغې سره غوره اجر ورکوم.

او دويمه نيمايي برخه يې: عاجزي او دعا ده چې زه يې ورته قبلوم او هغه څه ورکوم چې هغه يې غواړي.

نو کله چې لمونځ کوونکی ووايي: {الحمد لله رب العالمين}، الله تعالی وفرمايي: زما بنده زما ستاينه وکړه، او کله چې ووايي: {الرحمن الرحيم}، الله تعالی وفرمايي: زما ستاينه يې وکړه، زه يې وستايلم او ماته يې پر بندګانو زما په ټولو نعمتونو اقرار وکړ، او کله چې ووايي: {مالك يوم الدين}، الله تعالی وفرمايي: زما بنده زما لويي بيان کړه، کوم چې لوی عزت دی.

کله چې ووايي: {إياك نعبد وإياك نستعين}، الله تعالی وفرمايي: دا زما او زما د بنده تر منځه ده.

نو لدې آيت څخه لومړی برخه يې چې هغه: {إياك نعبد} ده، الله تعالی ته په الوهيت اقرار او د هغه بندګي منل دي، او پدې سره د الله جل جلاله نيمايي برخه پای ته رسيږي.

او د آيت دويمه نيمايي برخه د بنده لپاره ده چې هغه: {إياك نستعين} ده، له الله تعالی څخه د مرستې غوښتل او د هغه لخوا د مرستې وعده ده.

او کله چې ووايي: {اهدنا الصراط المستقيم * صراط الذين أنعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين}، الله تعالی وفرمايي: دا زما د بنده لخوا عاجزي او دعا ده، او زما د بنده لپاره هر هغه څه دي چې هغه يې غوښتنه کړې، او ما د هغه دعا قبوله کړې ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د فاتحې (سورت) لوی شان لري او دا چې الله تعالی ورته (لمونځ) ويلی دی.
٢. خپل بنده ته د الله تعالی د پاملرنې بيان، چې د خپل بنده په حمد، ثنا او لويی بيانولو سره يې د هغه ستاينه وکړه، او له هغه سره يې ژمنه وکړه چې څه وغواړي هغه به ورکړي.
٣. د دې سپيڅلي سورت په ترڅ کې د الله تعالی ستاينه، د آخرت يادوونه، له الله تعالی څخه د دعا غوښتنه، هغه ته په عبادت کې اخلاص، له هغه څخه سمې لارې ته د هدايت سوال او د باطلو لارو په اړه خبر داری ورکړ شوی دی.
٤. لمونځ کوونکی چې کله فاتحه لولي نو دا سورت احساسوي، او په لمانځه کې يې عاجزي زياتيږي.

(65099)

(141) – عن بريدة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ الْعَهْدَ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ». [صحيح] - [رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه وأحمد]

**له بريده رضى الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:** «يقينا چې زموږ او د دوی تر منځ تړون لمونځ دی، نو چا چې دا پرېښود، هغه کافر شو». [صحيح حديث دى] - [ترمذي، نسائي، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګندوي چې د مسلمانانو او نورو کفارو او منافقانو تر منځ ژمنه او تړون يوازې لمونځ دی، نو چا چې پرېښوده يقينا چې کافر شو.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د لمانځه لوی اهميت، او دا د مؤمن او کافر ترمنځ بيلوونکی دی.
٢. د اسلام د احکامو ثبوت د انسان په ظاهري حالت دی پرته له باطن څخه يې.

(65094)

(142) – عن جابرٍ رضي الله عنه قال: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: «إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له جابر رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوريدلي دي چې ويل يې:** «د انسان، شرک او کفر تر منځه توپير: د لمانځه پرېښودل دي». [صحيح حديث دى] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د فرض لمانځه د پرېښودو په اړه خبرداری ورکړی او فرمايلي يې دي چې د يو انسان او په شرک او کفر کې د لوېدلو تر منځه يوازې د لمانځه پرېښودل دي، نو لمونځ د اسلام له ارکانو څخه دويم رکن دی او په اسلام کې ستر حيثيت لري، چا چې پرېښوده پداسې حال کې چې له فرضيت څخه يې منکر و، نو د مسلمانانو په اجماع کافر دی او که چېرته يې پکې ناغېرې

وکړه او بيخي يې لمونځ کول پرېښودل نو بيا هم کافر دی، او پدې اړه د صحابه کرامو اجماع رانقل شوې ده او که چېرته يې کله پرېښوده او کله يې لمونځ کاوه نو هغه ته دا ستر ګواښ متوجه دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د لمانځه ارزښت او ورته پاملرنه، ځکه چې همدا د کفر او ايمان تر منځ بيلوونکی دی.

٢. د لمانځه د پرېښودلو او ضايع کولو په وړاندې سخت خبرداری.

(65093)

(143) – عن سالم بن أبي الجَعْدِ قال: قال رجل: ليتني صَلَّيتُ فاسترحْتُ، فكأنّهم عابُوا ذلك عليه، فقال: سمعتُ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم يقول: «يا بلالُ، أقِمِ الصَّلاةَ، أَرِحْنا بها». [صحيح] - [رواه أبو داود]

**له سالم بن ابي الجعد رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو سړي وويل: کاش چې لمونځ مې کړی وای نو راحت شوی به وم، نو لکه چې دوی د هغه لپاره دا خبره عيب وګڼله او ملامت يې کړ، هغه وويل چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: «اې بلاله، د لمانځه لپاره - اذان او - اقامت وکړه او مونږ پرې راحت کړه».** [صحيح حديث دی] – [ابو داود روايت کړی].

## تشريح:

له صحابه و څخه يو سړي وويل: کاش چې لمونځ مې کړی وای نو راحت شوی به وم، داسې انګېرل کېده لکه چې چاپېره خلکو پدې خبره ملامت کړ، نو هغه وويل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: اې بلاله! د لمانځه لپاره اذان وکړه او لمونځ ودروه؛ تر څو پرې راحت شو، دا ځکه چې په لمانځه کې د الله تعالى سره مناجات کېږي او زړه او روح ته پکې سکون دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د زړه لپاره په لمانځه کې سکون دی؛ ځکه چې د الله تعالى سره پکې مناجات کېږي.

٢. پر هغه چا رد چې عبادت پرې دروند وي.

٣. څوک چې هغه واجبات تر سره کړي چې کول يې پرې واجب وي، او خپله غاړه يې ترې خلاصه کړي، نو پدې سره به ورته راحت، سکون او ډاډ حاصل شي.

(65095)

(144) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذَا كَبَّرَ فِي الصَّلَاةِ، سَكَتَ هُنَيَّةً قَبْلَ أَنْ يَقْرَأَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَرَأَيْتَ سُكُوتَكَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ، مَا تَقُولُ؟ قَالَ «أَقُولُ: اللهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله په لمانځه کې تکبير ووايه نو له قراءت پيلولو وړاندې به يوه لحظه چپ پاتې شو، نو ما وويل: اې د الله رسوله ! زما پلار او مور دې له تا څخه قربان شي، د تکبير او قراءت تر منځه د چوپتيا په اړه خبر راکړه، چې څه وايې؟ هغه وفرمايل: «زه وايم: اللهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ». «اې الله زما او د ګناهونو تر منځه داسې لرې والی راوله لکه څرنګه دې چې ختيځ له لوېديځ څخه لرې کړی دی، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپينه جامه چې له خيرو څخه پاکيږي، اې الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ګلی سره ومينځه».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه لپاره تکبير وکړ، نو د فاتحې ويلو نه مخکې به يې يو لنډ ځنډ کاوه چې پدې کې به يې لمونځ په ځينو دعاګانو سره پرانيسته، او ځينې لدې دعاګانو څخه چې وارد دي د هغه دا وينا ده: **«اللهم باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب، اللهم نقني من خطاياي، كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس، اللهم اغسلني من خطاياي بالماء والثلج والبرد»**،«اې الله زما او زما د ګناهونو تر منځه داسې لرې والی راوله لکه څرنګه دې چې ختيځ له لوېديځ څخه لرې کړی دی، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپينه جامه چې له خيرو څخه پاکيږي، اې الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ګلی سره ومينځه». له الله جل جلاله څخه غوښتنه کوي چې د هغه او ګناهونو تر منځه يې لرې والی راولي تر څو پکې واقع نه شي، داسې لرې والی چې هيڅکله يې تر منځه ملاقات ونه شي، لکه څنګه چې د ختيځ او

لوېديځ تر منځ هېڅکله ملاقات نه کيږي، او که چېرته په ګناه کې واقع شو نو چې داسې يې ترې پاک کړي او ګناهونه ترې لرې کړي لکه څنګه چې له سپينې جامې څخه خيرې لرې کيږي، او دا چې له ګناهونو يې پدې پاکيزه شيانو؛ اوبو، واورې او يخ سره پاک کړي، تر څو د ګناهونو لمبې او تودوخه سړه شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د استفتاح دعا په پټه لوستل، که څه هم لمونځ په جهري لمانځه کې وي.
٢. صحابه کرام رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حرکاتو او سکناتو کې د هغه د حال احوال معلومولو ته ليواله وو.
٣. د استفتاح (سبحانک اللهم وبحمدک..) دعا په نورو بنو هم راغلي دي، خو غوره دا ده چې سړی هغه الفاظ ووايي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي، نو کله دې يوه بنه وايي او کله بله بنه.

(3104)

(145) – عَن ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ، وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ أَيْضًا، وَقَالَ: «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ»، وَكَانَ لاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي السُّجُودِ.

**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د لمانځه د پرانيستې پر مهال خپل لاسونه د اوږو په برابرۍ پورته کول، او کله به يې چې د رکوع لپاره تکبير وايه او کله به يې چې له رکوع څخه سر پورته کاوه همدا رنګه به يې دواړه پورته کول او ويل به يې: «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ» «الله د هغه چا ثنا واورېده چې د هغه ستاينه يې وکړه، اې زمونږه ربه تا لره ستاينه ده» او د سجدې پر مهال به يې داسې نه کول.** [صحيح حديث دی – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د لمانځه پر مهال خپل لاسونه اوږو ته مخامخ یا د اوږو برابر پورته کول، (اوږه) هغه ځای دی چې داوږې او بازو هډوکي سره یو ځای کېږي.

لومړی مقام: کله چې په تحریمه تکبیر سره د لمانځه پرانیسته کوي.

دویم: کله چې د رکوع لپاره تکبیر وایي.

دریم: کله چې له رکوع څخه سر پورته کړي او ووایي: سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد.

د سجدې په پیل کې به یې لاسونه نه پورته کول او نه به یې د پورته کېدو پر مهال.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. په لمانځه کې د لاسونو پورته کولو یو حکمت دا دی چې دا د لمانځه لپاره زینت او د الله جل جلاله تعظیم دی.

٢. له هغه صلى الله علیه وسلم څخه ثابت دي چې خپل لاسونه یې په څلورم مقام کې هم پورته کړي دي لکه په ابو داود او نورو کې د ابو حمید الساعدي روایت دی چې د لومړي تشهد څخه د ولاړېدو پر مهال په درېیم رکعتې او څلورم رکعتي لمونځونو کې پورته کړي دي.

٣. دا هم له رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه ثابت دي چې خپل لاسونه به یې د غوږونو برابر پورته کول پرته له دې چې له غوږونو سره یې ولګوي، لکه څنګه چې په صحیحینو کې د مالک بن الحویرث په روایت کې راغلي دي چې: «**رسول الله صلى الله علیه وسلم به د تکبیر ویلو پر مهال لاسونه پورته کول تر دې چې د غوږونو سره به یې برابر کړل**»

٤. د : سمع الله لمن حمده او ربنا ولک الحمد یو ځای ویل یوازې د امام او منفرد لپاره دي، او مقتدي به یوازې: ربنا ولک الحمد وایي.

٥. د رکوع نه وروسته په: "رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ " کې له رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه څلور صیغې واردې دي چې دا یې یوه ده، خو غوره دا ده چې سړی دا ټولې صیغې ووایي، کله یوه ووایي او کله بله.

(3095)

(146) – عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ». [صحيح] - [متفق عليه]

له عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «د هغه چا لمونځ صحيح ندی چې فاتحة الکتاب (الحمد لله) يې نه وي لوستلي». [صحيح حديث دی – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډاګه کوي چې له سورة الفاتحة ويلو پرته لمونځ نه صحيح کيږي، هغه په هر رکعت کې د لمانځه رکن دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الفاتحة پر ځای د بل څه لوستل نه صحيح کيږي، په داسې حال کې چې فاتحة لوستلی شي.
٢. هغه رکعت چې فاتحه پکې نه وي لوستل شوې باطل دی، هغه که په قصدي توګه وي، يا د ناپوهۍ له امله يا دا چې هېره يې شي، ځکه چې فاتحه رکن دی او رکن په مطلق ډول نه ساقطيږي.
٣. فاتحه يوازې له مقتدي څخه هغه وخت ساقطيږي چې امام په رکوع کې لاندې کړي.

(5378)

(147) – عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أنه كَانَ يُكَبِّرُ فِي كُلِّ صَلَاةٍ مِنَ الْمَكْتُوبَةِ وَغَيْرِهَا، فِي رَمَضَانَ وَغَيْرِهِ، فَيُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ، ثُمَّ يَقُولُ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، ثُمَّ يَقُولُ: رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، قَبْلَ أَنْ يَسْجُدَ، ثُمَّ يَقُولُ: اللهُ أَكْبَرُ حِينَ يَهْوِي سَاجِدًا، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ مِنَ الْجُلُوسِ فِي الِاثْنَتَيْنِ، وَيَفْعَلُ ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ، حَتَّى يَفْرُغَ مِنَ الصَّلَاةِ، ثُمَّ يَقُولُ حِينَ يَنْصَرِفُ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنِّي لَأَقْرَبُكُمْ شَبَهًا بِصَلَاةِ رَسُولِ اللهِ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنْ كَانَتْ هَذِهِ لَصَلَاتَهُ حَتَّى فَارَقَ الدُّنْيَا. **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې: هغه به په فرض او نورو لمونځونه کې تکبیر ویلو، په روژه کې او له روژې پرته، نو کله به چې پاڅېده تکبیر به یې وکړ، بیا یې چې کله رکوع کوله نو تکبیر یې وکړ، بیا یې: سمع الله لمن حمده وویل، بیا یې ربنا ولک الحمد وویل؛ مخکې لدې چې سجدې ته لاړ شي، بیا چې کله سجدې ته ټیټېده نو الله اکبر یې وویل، بیا یې له سجدې څخه د راپورته کېدو پر مهال تکبیر وکړ، بیا چې کله له دوو سجدو څخه راپورته کېده نو تکبیر یې وکړ، او همداسې به یې په ټول رکعت کې کول، تر دې چې د لمانځه څخه فارغ شو، بیا یې چې کله مخ وګرځاوه نو ویې ویل: زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په لاس کې دی، زه په لمانځه کې په تاسو ټولو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمانځه ته زیات ورته والی لرم، او همدا یې تر هغه پورې د لمانځه طریقه وه تر څو چې له دنیا څخه لاړ.** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه د بیانولو په موخه یوه برخه را نقلوي او وایي چې کله به د لمانځه لپاره پاڅېده نو تحریمه تکبیر به یې وکړ، بیا به چې کله رکوع ته تللو نو تکبیر به یې وکړ او کله به چې سجدې ته تللو، او کله به یې چې له سجدې څخه سر راپورته کاوه، او کله به یې چې دویمه سجده کوله، او کله به یې چې ترې سر راپورته کاوه، او کله به چې له دوو لومړیو رکعتونو څخه راپورته کېده وروسته لدې چې لومړي تشهد ته به په درې رکعتي او څلور رکعتي لمونځونو کې کېناسته، بیا به یې په ټول لمانځه کې همداسې کول تر دې چې لمونځ به یې بشپړ کړ، او کله به یې چې ملا له رکوع څخه پورته کوله نو : سمع الله لمن حمده به یې ویل او بیا به یې په ولاړه ویل : ربنا لک الحمد.

بیا چې ابو هریره کله له لمانځه څخه سلام وګرځاوه نو ویل به یې: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې ده، زه په تاسو ټولو کې په لمانځه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمانځه ته ورته والی لرم، چې همدا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه طریقه وه تر دې چې له دنیا څخه یې رحلت وکړ.

## د حديث له فايدو څخه:

۱. تکبير د هر ښکته کېدو او پورته کېدو پر مهال ويل کيږي، پرته له رکوع څخه د راپورته کېدو پر مهال چې هلته مهال سمع الله لمن حمده ويل کيږي.

۲. صحابه کرام د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې اقتدا کولو او د هغه سنت ساتلو ته لېواله وو.

(65098)

(148) – عن ابنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما عن النبيِّ صلى الله عليه وسلم قال: «أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ: عَلَى الْجَبْهَةِ وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ، وَالْيَدَيْنِ، وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَأَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ، وَلَا نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعَرَ». [صحيح] - [متفق عليه]

**ابن عباس رضي الله عنهما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي:** «ماته امر شوی چې په اوو اندامونو سجده وکړم: په تندي او په لاس سره يې خپلې، پوزې، دواړو لاسونو، دواړو زنګنونو، او د پښو ګوتو ته اشاره وکړه، او دا چې جامې به نه راټولوو او ويښتان به نه غوټه کوو». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې الله تعالى ورته د لمانځه پر مهال امر کړی چې د بدن له غړو څخه دې په اوو غړو سره سجده وکړي چې هغه عبارت دي له:

لومړی: تندی: چې هغه د پوزې او دواړو سترګو د پاسه د مخ پورته برخه ده. او رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل لاس سره خپل مخ ته اشاره وکړه، تر څو واضحه کړي چې تندی او پوزه دواړه له اوو غړو څخه يو غړی دی، او پر دې د ټينګار لپاره چې سجده کوونکی به پوزه پر ځمکه لګوي.

دويم او دريم غړی: دواړه لاسونه.

څلورم او پنځم: دواړه زنګنونه.

شپږم او اووم: د دواړو قدمونو ګوتې.

او مونږ ته يې امر کړی چې د سجدې پر مهال به وېښتان نه غوټه کوو او يا دا چې خپل کالي به يو د بل د پاسه نه راټولوو، بلکې پرېږدو به يې تر دې چې پر ځمکه ولګيږي، نو د غړو سره به يو ځای سجده وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په لمانځه کې په اوو غړو سجده کول واجب دي.
٢. په لمانځه کې د جامو او وېښتانو راټولولو او راغونډولو کراهيت.
٣. پر لمونځ کوونکي واجب دي لدې داډ حاصل کړي چې په سجده کې يې اووه واړه غړي په ځمکه لګولي، او همداسې پاتې شي تر دې چې (په سجده کې) مشروع ذکر پر ځای کړي.
٤. د وېښتانو غوټه کول يوازې د سړيو پورې خاص دي؛ ځکه چې ښځې ته په لمانځه کې په ځان پټولو امر شوی دی.

(10925)

**(149) – عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنَ العَبْدِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الآخِرِ، فَإِنْ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللَّهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ فَكُنْ». [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي]**

**له ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې عمرو بن عبسة رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «د نيمايي شپې په وروستۍ برخه کې الله تعالی بنده ته تر ټولو زيات نږدې وي، نو که دې وکولی شول له هغو خلکو شې چې هغه شيبه کې الله يادوي نو شه».** [صحيح حديث دی] - [ابو داود، ترمذي او نسائي روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د شپې په وروستۍ دريمه برخه کې الله تعالی بنده ته ډېر نږدې وي؛ نو اې مؤمنه! که موفق شوې او ودې کولی شول چې په دغه وخت کې له عبادت کوونکو، لمونځ کوونکو، ذکر کوونکو او توبه کوونکو څخه شې، نو دا يو فرصت دی چې له لاسه ورکول يې په کار نه دي، او بايد کوښښ پکې وشي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د شپې په وروستۍ برخه کې ذِکر کولو ته د مسلمان هڅوونه.
٢. وختونه په خپلو کې د ذکر، دعا او لمانځه لپاره يو پر بل فضيلتونه لري.
٣. دلته دوه روايتونه راغلي: هغه وخت چې رب پکې خپل بنده ته ډېر نږدې وي، او بل روايت کې راغلي چې بنده پکې خپل رب ته ډېر نږدې وي. د دواړو تر منځه د توپير په اړه ميرک ويلي: دلته مراد هغه وخت دی چې رب پکې خپل بنده ته ډېر نږدې وي چې هغه د شپې وروستۍ برخه ده، او په هغه بل روايت کې د بنده د حالت په اړه وضاحت دی چې الله ته پکې ډېر نږدې وي؛ چې هغه د سجدې حالت دی.

(3236)

(150) – عن جَرِيْر بنِ عبدِ الله رضي الله عنه قال: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةً -يَعْنِي الْبَدْرَ- فَقَالَ: «إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ، لَا تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ، فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا» ثُمَّ قَرَأَ: «{وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ}» [صحيح] - [متفق عليه]

له جرير بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: مونږ يو شپه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو چې سپوږمۍ ته يې وکتل - يعنې د څوارلسمې شپې وه - نو ويې فرمايل: «خامخا به تاسو خپل رب داسې وينئ لکه څرنګه چې تاسو دا سپوږمۍ وينئ پرته له کومې ستړتيا او سختۍ څخه، نو که چېرته مو وکولای شول چې د لمر راختلو څخه مخکې او له لمر پرېوتلو وړاندې لمونځ درڅخه پاتې نه شي، نو دا کار وکړئ» بيا يې دا آيت ولوست {وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ}» يعني: او د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه له لمر ختلو نه مخکې او له لمر ډوبيدلو نه مخکې». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

صحابه کرام رضی الله عنهم له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يوه شپه ول چې سپوږمۍ ته يې وکتل، د څوارلسمې شپې سپوږمې وه - نو ويې فرمايل: مؤمنان به خپل رب بې له شکه په

رښتينو سترګو ويني پرته لدې چې اشتباه وکړي، پداسې حال کې چې يو بل سره به ټيل ماټيل نه کوي، نه به سترې کيږي او نه به د هغه تعالى د ليدو پر مهال سختي ګوري. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که ومو کولای شول چې د سهار او مازديګر له لمونځونو څخه منع کوونکي اسباب له مينځه يوسئ نو دا کار وکړئ، او په خپل وخت سره يې په جماعت سره ادا کړئ، ځکه چې دا کار د الله جل جلاله مخ ته د کتلو له اسبابو څخه دی. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوست: (وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ) (او د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه له لمر ختلو نه مخکې او له لمر ډوبېدلو نه مخکې).

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مؤمنانو لپاره په جنت کې د الله تعالى د ليدلو زيری.
٢. تاکيد، هڅونه، او مثالونه وړاندې کول د دعوت له طريقو څخه دي.

(5657)

(151) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ: {قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ}، وَ{قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ}. **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د سهار د لمانځه په دوو رکعتونو کې {قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ}، او {قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ} ولوستل.** [صحيح حديث دی [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به خوښ ګڼل چې د سهار په دوو سنت رکعتونو کې له فاتحې وروسته په لومړي رکعت کې: {قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ} او په دويم رکعته کې {قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ} سورت ولولي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د سهار په سنتو کې له فاتحې نه وروسته د دې دوو سورتونو لوستل مستحب دي.
٢. دې دواړو سورتونو ته د الإخلاص سورتونه وايي؛ ځکه چې د الکافرون په سورت کې له ټولو

هغو شیانو څخه بېزاري ده چې مشرکان يې له الله جل جلاله پرته عبادت کوي، او دا چې هغوی د الله بندګان نه دي، ځکه چې شرک يې عملونه بربادوي، او دا چې هم هغه الله د عبادت مستحق دی، او ځکه چې د الاخلاص په سورت کې د الله تعالی یووالی، هغه ته اخلاص او د هغه د صفتونو بیان شوی دی.

(11256)

(152) – عن أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ» [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو موسی الأشعري- رضی الله عنه -څخه روایت دی چې بېشکه رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمايلي:** «څوک چې دوه د یخنی لمونځونه وکړي نو جنت ته به داخل شي» [صحیح حدیث دی - [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د یښنی د وخت د دوو لمونځونو په ادا کولو تینګار کوي چې هغه د سهار او مازدیګر لمونځونه دي، او زیری ورکوي چې چا دا دواړه وکړل او د دوی حق يې ادا کړ یعني په وخت او جماعت سره يې ادا کړل، نو دا دواړه به يې جنت ته د داخلېدو لامل وګرځي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د سهار او مازدیګر پر لمونځونو ټينګار؛ ځکه چې د سهار لمونځ د خوندور خوب پرمهال او د مازدیګر لمونځ د انسان د بوختیا پر مهال وي، نو چا چې پرې تینګار وکړ نو خامخا نورو پاتي لمونځونو ته پاملرنه کوي.

٢. د سهار او مازدیګر لمونځونو ته ځکه د یخنی لمونځونه وویل شول چې؛ د سهار په لمانځه کې د شپې یخني او د مازدیګر په لمانځه کې د ورځې یښني وي، که څه هم په ګرمی کې وي ځکه چې د غرمې د ګرمی په پرتله یخ وي، یا دا چې د تغلیب له مخې دا نوم ورکول شوی، لکه څنګه چې لمر او سپوږمی ته قمران ویل کیږي.

(4198)

(153) – عن جُندب بن عبد الله القَسْرِي رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَنْ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبحِ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللهِ، فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ، فَإِنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ، ثُمَّ يَكُبَّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له جندب بن عبدالله القسري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «څوک چې د سهار لمونځ وکړي هغه د الله جل جلاله په ساتنه (ذمه) کې دی، نو الله تعالی دې له تاسو څخه د هغه د ذمې په اړه د څه شي غوښتنه ونه کړي، ځکه چې يقينا که چېرته الله تعالی د چا سره د خپلې ذمې په اړه حساب وکړ نو راګير به يې کړي، بيا به يې پړمخه د جنهم په اور کې وغورځوي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک د سهار لمونځ اداء کړي نو هغه د الله په حفاظت، ساتنه او ملاتړ کې دی، د هغه دفاع کوي او هغه برلاسی کوي.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې عهد د ماتولو په اړه خبرداری ورکړ چې (د دې تړون ماتول خو ) يا د سهار د لمانځه په پرېښودلو سره کېږي او يا د سهار په لمونځ کوونکو باندې په راوتلو او بريد کولو سره، نو يقينا چې چا دا کار وکړ نو دا ګاونديتوب يې مات کړ او د سختې سزا مستحق شو، چې الله تعالی به ترې د هغه په حق کې د غفلت په اړه پوښتنه وکړي، او الله تعالی چې د چا پسې شو نو راګير به يې کړي، بيا به يې پړمخه په اور کې واچوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د سهار د لمانځه د اهميت او فضيلت بيان.

٢. د هغو کسانو لپاره سخت ګواښ چې د سهار لمونځ کوونکي ته ضرر رسول غواړي.

٣. د الله تعالی انتقام له هغه چا څخه د هغه نيکو بندګانو ته لار نيسي.

(5435)

(154) – عن بريدة بن الحصيب رضي الله عنه أنه قال: بَكِّرُوا بِصَلَاةِ الْعَصْرِ، فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ تَرَكَ صَلَاةَ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له بريده بن الحصيب رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې: د مازديګر لمونځ وختي وکړئ، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «چا چې د مازديګر لمونځ پرېښوده نو يقينا چې عمل يې برباد شو».** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مازديګر د لمانځه په اړه خبرداری ورکړی چې په قصدي توګه له ټاکلي وخت څخه وروسته ادا شي (قضا شي) او دا چې چا دا کار وکړ نو عمل يې باطل او فاسد شو، او بې ځايه لاړ.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په لومړي وخت کې د مازديګر د لمانځه په ادا کولو ټينګار او دې کار کې سبقت کول.

٢. د هغو کسانو لپاره سخت ګواښ چې د مازديګر لمونځ پرېږدي او په خپل وخت کې يې نه کوي، (ځکه د مازديګر د لمانځه پرېښودل) د بل لمانځه په پرتله ډېره ګناه لري چې په خپل وخت کې ادا نه شي، ځکه چې دا منځنی لمونځ دی چې الله تعالى پرې په خپلې دې وينا سره امر کړی دی چې فرمايي: {حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى} [البقرة: 23] (د لمونځونو ساتنه کوئ او (خصوصًا) د بېخي منځني لمونځ).

(6261)

(155) – عن أنس بن مالك رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهَا، لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذَلِكَ: {وَأَقِمِ الصَّلاةَ لِذِكْرِي} [طه: ١٤]». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «له چا څخه چې لمونځ هېر شو، نو هغه مهال دې وکړي کله چې ورياد شو، لدې پرته يې بله کفاره نشته: {وَأَقِمِ الصَّلاةَ لِذِكْرِي} [او زما د ياد لپاره لمونځ وکړئ] [طه: 14]».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې له چا څخه هر يو فرضي لمونځ هېر شو تر دې چې قضا شو، نو كله چې وریاد شو بايد په راكرځولو كې يې بېړه وكړي، ځكه د لمانځه د پرېښودلو ګناه يې نه بخښل كيږي او نه پرې پرده اچول كيږي تر دې چې مسلمان بېرته خپل لمونځ راوګرځوي كله چې وریاد شي، الله جل جلاله په خپل عزتمند كتاب كې فرمايلي: {وأقم الصلاة لذكري} [طه: 14]، يعني هېر شوی لمونځ ادا كړه كله چې دې درياد شو.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د لمانځه اهميت بيانول او په كولو او راكرځولو كې يې ناغيړي نه كول.

٢. پرته له عذر څخه په قصدي توګه د لمانځه وروسته كول روا ندي.

٣. پر هغه چا د لمانځه راكرځول واجب دي چې هېر شوی لمونځ يې وریاد شي، همدا رنګه په ويده انسان كله چې راويښ شي.

٤. د قضا شوو لمونځونو راكرځول سمدلاسه واجب دي، كه څه هم په منع شوي وختونو كې وي.

(65088)

(156) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ أَثْقَلَ صَلَاةٍ عَلَى الْمُنَافِقِينَ صَلَاةُ الْعِشَاءِ وَصَلَاةُ الْفَجْرِ، وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا، وَلَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَتُقَامَ، ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيُصَلِّيَ بِالنَّاسِ، ثُمَّ أَنْطَلِقَ مَعِي بِرِجَالٍ مَعَهُمْ حُزَمٌ مِنْ حَطَبٍ إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْهَدُونَ الصَّلَاةَ، فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ بِالنَّارِ».

**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**

«پر منافقانو تر ټولو دروند لمونځ د ماخوستن او سهار لمونځونه دي، كه دوی پوه شي چې په دوی كې څه دي، نو دوی به ورته راتګ كړی و، اګر كه په خاپوړو وای، او ما هوډ وكړ چې د لمانځه د ادا كولو امر وكړم، بيا يو سړي ته امر وكړم چې خلكو ته لمونځ وركړي، بيا د ځان سره سړي بوځم چې د لرګيو ګېډۍ ورسره وي، او په هغو خلكو كورونه وروسوځوم چې لمانځه ته نه حاضريږي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت كړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د منافقينو او په لمانځه کې د هغوی د سستۍ او په ځانګړې توګه د ماخوستن او سهار په لمونځونو کې د هغوی د سستۍ په اړه خبر ورکوي او فرمايي چې: که دوی پوه شي چې د مسلمانانو سره په جماعت کې د ګډون کولو اجر او ثواب څومره دی، نو دوی به لکه د ماشوم په څېر په خاپوړو دې دواړو لمونځونو ته راتګ کړی وو.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا تصميم نيولی و چې د لمانځه د ادا کولو امر وکړي او د هغه پر ځای يو سړی د خلکو امامت وکړي، بيا لاړ شي او هغه خلک له ځان سره واخلي چې د لرګيو ګېډۍ ورسره وي، هغو سړيو ته ورشي چې د جماعت لمونځونو ته نه حاضريږي، نو کورونه پرې په اور سره وسوځوي، د هغې سختې ګناه له امله چې دوی کړې ده، -خو دا کار يې ونه کړ- ځکه چې په کورونو کې بې ګناه ښځې، کوچنيان او نور معذوره خلک وي چې هېڅ ګناه نه لري.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په جومات کې د جماعت د لمانځه د نه ادا کولو خطر.

٢. منافقانو په خپل عبادت سره بله اراده نه درلوده پرته له ځان ښودنې او شهرت څخه، نو دوی لمونځ ته نه راځي مګر هغه مهال چې خلک يې وګوري.

٣. په جماعت سره د ماخوستن او سهار لمونځونو د اجر لويوالی او دا چې خلک بايد ورته لاړ شي که په خاپوړو هم وي.

٤. د ماخوستن او مازديګر لمونځونو ته پاملرنه انسان له نفاق څخه په امن کوي او شاته ترې پاتې کېدل د منافقانو له ځانګړنو څخه دي.

(3366)

(157) – عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ ظَهْرَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابن ابي اوفی رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې: کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله ملا له رکوع څخه پورته کړه نو - دا دعا به يې ويله: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ». «الله د هغه چا -وينا- واوريده چې د هغه ثنا

يې وويله، اې الله زمونږ ربه ستا لره ستاينه ده، د آسمانونو د ډکوالي او د ځمکې د ډکوالي او د هغه څه د ډکوالي په اندازه چې له دوی نه وروسته دي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله په لمانځه کې خپله ملا له رکوع څخه راپورته کړه نو «سمع الله لِمَن حمده»، به يې ويل، يعنې چا چې د الله تعالی ستاينه وکړه، الله تعالی يې دعا قبوله کړه او د هغه ستاينه يې ومنله، بيا پدې وينا سره د الله تعالی ثنا بيانوي : «اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ»، يعنې اې الله تا لره ستاينه ده، د آسمانونو او ځمکې د ډکوالي په اندازه او هغه څه چې لدې څخه وروسته دي، داسې ستاينه چې آسمانونه او ځمکې ډکوي او څه يې چې تر منځه دي، او هغه څه ډکوي چې الله يې وغواړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د هغه څه بيان چې لمونځ کوونکي ته مستحب دي چې له رکوع څخه د پورته کېدلو پر مهال يې ووايي.
٢. د رکوع څخه له راپورته کېدلو نه وروسته د برابرېدو او اطمينان مشروعيت؛ ځکه چې شوني نده دا ذکر ووايي پرته لدې چې برابر او مطمئن نه شي.
٣. دا ذکر په ټولو لمونځونو کې مشروع دی، هغه که فرض لمونځونه وي او يا نفل.

(65101)

(158) – عن حُذَيْفَةَ رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ: «رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي». [صحيح] - [رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه وأحمد]

**له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د دوو سجدو تر منځه «رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي» ويل.** [صحيح حديث دی] - [ابو داود، نسائي، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د دوو سجدو تر منځه د ناستې پر مهال دا دعا کوله: «رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي». «یعنې ربه ما ته بښنه وکړه، ربه ما ته بښنه وکړه». او تکراروله به يې.
او د رب اغفرلي معنا: له رب څخه د بنده غوښتنه ده تر څو يې ګناه پاکه او عیبونه يې پټ کړي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. په فرض او نفل لمونځونو کې د دوو سجدو تر منځه د دې دعا د ویلو مشروعیت.
٢. د رب اغفرلي د تکرارولو مشروعیت، پداسې حال کې چې یو ځل لوستل يې واجب دي.

(65104)

(159) – عن ابن عباس رضي الله عنهما: كان النبي صلى الله عليه وسلم يقول بين السجدتين: «اللَّهمَّ اغْفِرْ لي، وارْحَمْنِي، وعافِنِي، واهْدِني، وارزقْنِي». [حسن بشواهده] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]

**له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د دوو سجدو تر مینځه «اللَّهمَّ اغْفِرْ لي، وارْحَمْني، وعافِني، واهْدِني، وارزقْني» ویېل. یعني «اې الله، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته روغتیا راکړه، لارښوونه راته وکړه، او روزي راکړه».** [د شواهدو له وجې حسن دی] - [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په خپل لمانځه کې د دوو سجدو تر مینځه په دغو پنځو دعاګانو سره دعا کوله چې مسلمان ورته سخته اړتیا لري او د دنیا او آخرت خیر پکې دی لکه: د بخښنې غوښتل، د ګناهونو پټول او بنده ته ترې تېرېدل، بشپړ رحمت، له شکونو، خواهشاتو، ناروغیو او مرضونو څخه نجات، د حق لپاره له الله جل جلاله څخه مرسته غوښتل او پرې ثابت پاتې کېدل، او د ایمان، علم، نیک عمل او پاکیزه حلال مال رزق غوښتل.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د دوو سجدو تر منځه په ناسته کې د دې دعا مشروعيت.

٢. د دې دعاګانو فضيلت، ځکه چې د دنيا او اخرت خير پکې دی.

(10930)

(160) – عَنْ حِطَّانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الرَّقَاشِيِّ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ صَلَاةً، فَلَمَّا كَانَ عِنْدَ الْقَعْدَةِ قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: أُقِرَّتِ الصَّلَاةُ بِالْبِرِّ وَالزَّكَاةِ، قَالَ: فَلَمَّا قَضَى أَبُو مُوسَى الصَّلَاةَ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ فَقَالَ: أَيُّكُمُ الْقَائِلُ كَلِمَةَ كَذَا وَكَذَا؟ قَالَ: فَأَرَمَّ الْقَوْمُ، ثُمَّ قَالَ: أَيُّكُمُ الْقَائِلُ كَلِمَةَ كَذَا وَكَذَا؟ فَأَرَمَّ الْقَوْمُ، فَقَالَ: لَعَلَّكَ يَا حِطَّانُ قُلْتَهَا؟ قَالَ: مَا قُلْتُهَا، وَلَقَدْ رَهِبْتُ أَنْ تَبْكَعَنِي بِهَا، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: أَنَا قُلْتُهَا، وَلَمْ أُرِدْ بِهَا إِلَّا الْخَيْرَ، فَقَالَ أَبُو مُوسَى: أَمَا تَعْلَمُونَ كَيْفَ تَقُولُونَ فِي صَلَاتِكُمْ؟ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَنَا فَبَيَّنَ لَنَا سُنَّتَنَا وَعَلَّمَنَا صَلَاتَنَا، فَقَالَ: «إِذَا صَلَّيْتُمْ فَأَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ، ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، وَإِذْ قَالَ: {غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ} [الفاتحة: ٧]، فَقُولُوا: آمِينَ، يُجِبْكُمُ اللهُ، فَإِذَا كَبَّرَ وَرَكَعَ فَكَبِّرُوا وَارْكَعُوا، فَإِنَّ الْإِمَامَ يَرْكَعُ قَبْلَكُمْ، وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ»، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَتِلْكَ بِتِلْكَ، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، يَسْمَعِ اللهُ لَكُمْ، فَإِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، وَإِذَا كَبَّرَ وَسَجَدَ فَكَبِّرُوا وَاسْجُدُوا، فَإِنَّ الْإِمَامَ يَسْجُدُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ»، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَتِلْكَ بِتِلْكَ، وَإِذَا كَانَ عِنْدَ الْقَعْدَةِ فَلْيَكُنْ مِنْ أَوَّلِ قَوْلِ أَحَدِكُمُ: التَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلهِ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له حطان بن عبدالله الرقاشي څخه روايت دی وايي چې: ما له ابو موسى الأشعري رضی الله عنه سره لمونځ وکړ، نو کله چې قعدې ته ورسېده له خلکو څخه يو سړي وويل: لمونځ له نيکۍ او زکات سره يو ځای ذکر شو. هغه وويل: نو کله چې ابو موسى لمونځ پای ته ورساوه او سلام

يې وګرځاوه مخ يې راوګرځاوه او وې ويیل: په تاسو کې چا دا او دا خبرې وکړې؟ وايي: خلک چپ شول، بيا يې وويل: په تاسو کې چا دا او دا خبرې وکړې؟ نو خلک چپ شول، وې ويیل: اې حطانه! کيدای شي تا به کړي وي؟ هغه وويل: ما ندي کړي، او يقينا زه وويرېدم چې ته به پرې ما ورټې، نو له خلکو څخه يو سړي وويل: ما وکړې او ما پرې له خير پرته بله اراده نه درلوده، نو ابو موسى وويل: آيا تاسو نه پوهيږئ چې په خپلو لمونځونو کې څه ووايئ؟ يقينا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته خطبه راکړه، نو مونږ ته يې زمونږ سنتونه بيان کړل او مونږ ته يې زمونږ لمونځ راوښود، وې ويیل: «کله چې تاسې لمونځ کوئ، نو خپل صفونه برابر کړئ، بيا دې ستاسو څخه يو ستاسو امامت وکړي، نو کله يې چې تکبير ووايه، تاسو هم تکبير ووايئ، او کله يې چې: {غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ} [الفاتحة: 7]، وويل: نو تاسو آمين ووايئ، ستاسو دعا به الله قبوله کړي، نو کله يې چې تکبير ووايه او رکوع يې وکړه، تاسو هم تکبير ووايئ او رکوع وکړئ، يقينا چې امام ستاسو څخه مخکې رکوع کوي، او ستاسو څخه مخکې راپورته کيږي»، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «دا په هغې سره- جبران -شو (يعني رکوع ته د وروسته تللو نقصان له رکوع څخه په وروسته پورته کېدلو سره جبران شو) او کله چې ووايي: سمع الله لمن حمده، تاسو ووايئ: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، نو ستاسو څخه به يې الله واوري، يقينا چې الله تعالى د خپل رسول صلى الله عليه وسلم په ژبه ويلي دي: سمع الله لمن حمده، يعني الله د هغه چا وينا واورېده چې د هغه ستاينه يې وکړه، او کله يې چې تکبير وکړ او سجده يې وکړه، نو تاسو هم تکبير ووايئ او سجده وکړئ، بيشکه چې امام ستاسو څخه مخکې سجده کوي او ستاسو څخه مخکې له سجدې څخه پورته کيږي»، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «دا په هغې سره- جبران شو - او کله چې قعدې ته لاړ نو ستاسو څخه د يو تن لومړى وينا دې دا وي: التَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلهِ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ». «ثنا، ستاينې او پاکي الله لره دي، اې نبي ! پرتا دې سلام، د الله رحمت او برکتونه وي، پر مونږ او د الله پر نيکو بندګانو دې سلام وي، شاهدي ورکوم چې بې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دى». [صحيح حديث دى] [مسلم روايت کړى].

## تشريح:

صحابي ابو موسى الأشعری رضي الله عنه لمونځ وکړ، نو کله چې هغه قعدې ته ورسېده چې تشهد پکې دی، نو شاته یې له لمونځ کوونکو څخه یو سړي وویل: په قرآن کې لمونځ د نیکۍ او زکات سره یو ځای یاد شوی دی، نو کله چې ابو موسی رضي الله عنه له لمانځه څخه فارغ شو مقتدیانو ته یې مخ وروګرځاوه، نو پوښتنه یې ترې وکړه، په تاسو کې چا دا وینا وکړه چې : په قرآن کې لمونځ د نیکۍ او زکات سره یو ځای یاد شوی دی؟! نو خلک چپ شول، او لدوی څخه هېچا خبرې ونه کړې، نو یو ځل بیا یې ترې پوښتنه تکرار کړه، کله چې هېچا ځواب ورنکړ، ابو موسی رضي الله عنه وویل: اې حطانه! کېدی شي تا به ویلي وي! د هغه د جرأت له امله او دا چې هغه ته نږدې و او له هغه سره یې اړیکه وه، او دا چې د هغه تور پورې کول یې نه زوروي، او د دې لپاره چې د دې کار اصلي تر سره کوونکی اقرار کولو ته اړ باسي، نو حطان انکار وکړ او وې ویل: یقینا زه ووېرېدم چې ته به پرې ما ورتې پدې ګمان چې ما به ویلي وي؛ همدا و چې یو سړي وویل: ما دا خبره کړې ده، او له خیر پرته مې بله اراده نه درلوده، نو ابو موسی هغه سړي ته د ښوونې په موخه وویل: آیا تاسو نه پوهېږئ چې په خپلو لمونځونو کې څه ووایئ؟! دا یې په هغه د رد په موخه وویل: بیا ابو موسی خبر ورکړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځل هغوی ته خطبه ورکړه، نو هغوی ته یې د هغوی شریعت بیان کړ، او لمونځ یې وروښوده، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:

کله مو چې لمونځ کاوه نو صفونه ودروئ او پکې برابر شئ، بیا دې ستاسو څخه یو امامت وکړي، نو کله چې امام تحریمه تکبیر وکړ، تاسو هم د هغه په څېر تکبیر وکړئ او کله یې چې فاتحه ولوستله او {غير المغضوب عليهم ولا الضالين} [الفاتحة: 7]، ته ورسېده، نو تاسو آمین ووایئ؛ کله مو چې دا کار وکړ الله تعالی به ستاسو دعا قبوله کړي، کله یې چې تکبیر وکړ او رکوع یې وکړه، نو تاسو هم تکبیر ووایئ او رکوع وکړئ؛ یقینا چې امام ستاسو څخه مخکې رکوع کوي او ستاسو څخه مخکې له رکوع نه پورته کیږي، نو مه ترې مخکې کیږئ؛ ځکه هغه لحظه چې امام پکې ستاسو څخه مخکې رکوع ته تللی او تاسو پکې وروسته پاتې کیږئ، ببرته پدې سره جبرانیږي چې ستاسو څخه مخکې سر پورته کوي او تاسو ترې وروسته پاتې کیږئ، نو دا کمبود په هغې سره جبرانیږي، او د هغه د رکوع په اندازه ستاسو رکوع هم کیږي، او کله چې امام: سمع الله لمن حمده ووایي: نو تاسو ووایئ: «اللهم ربنا لك الحمد»، یعني اې الله زمونږه ربه! تالره ستاینه ده، کله چې لمونځ کوونکو دا وویل بیشکه چې الله پاک یې دعا او وینا اوري، یقینا چې الله پاک د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ژبه ویلي: سمع الله لمن حمده، یعني الله د هغه چا وینا واورېده چې د هغه ستاینه یې وکړه، بیا چې کله امام تکبیر

ووايه او سجده يې وکړه، نو پر مقتديانو تکبير ويل او سجده کول دي، يقينا چې امام له دوى څخه مخکې سجده کوي، او له هغوى څخه مخکې له سجدې نه پورته کيږي، نو دا په هغې سره جبرانيږي، او د دوى د سجدې اندازه هم د امام د سجدې په اندازه کيږي، او کله چې د تشهد قعدې ته ورسيږي نو د لمونځ کوونکو لومړى وينا بايد دا وي: "التحيات الطيبات الصلوات لله" نو بادشاهي، بقاء او لويي يوازې الله تعالى لره ښايي، او همدا رنګه ټول پنځه وخته لمونځونه "السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين". نو له الله تعالى څخه د هر عيب، آفت، نقصان او فساد څخه سلامتيا وغواړئ؛ او خپل رسول صلى الله عليه وسلم په سلام ويلو سره ځانګړى کوو، بيا د الله تعالى په نيکو بندګانو سلام وايو؛ هغوى چې د الله تعالى او د بندګانو واجب حقونه يې ادا کړي دي، بيا ګواهيورکوو چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته، او ګواهي ورکوو پدې چې محمد د الله بنده او رسول دى.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د تشهد له صيغو څخه د يوې صيغې بيان.
٢. د لمانځه کړنې او ويناوې خامخا بايد هغه ډول وي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت دي، نو هېچا ته جايز ندي چې له ځانه پکې کومه کړنه او يا وينا جوړه کړي چې په سنت ثابته نه وي.
٣. له امام څخه د مخکې کېدلو او يا وروسته کېدلو ناروالى، او په مقتدي د امام په کړنو کې د هغه پيروي لازمه ده.
٤. تبليغ ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم پاملرنه، او امت ته يې د دين د احکامو ښوونه.
٥. امام د مقتدي لپاره قدوه دى چې بايد اقتدا پسې وکړي، نو ورته روا ندي چې د لمانځه په کړنو کې ترې مخکې شي، او يا ورسره يو برابر شي او يا ترې وروسته شي، بلکې په لومړي سر کې بايد اقتدا پسې وکړي وروسته لدې چې له هغه عمل څخه ځان ډاډمن کړي چې امام ورداخليږي، او دا چې سنت طريقه د هغه پيروي کول دي.
٦. په لمانځه کې د صفونو ودرولو مشروعيت.

(65097)

(161) – عَنِ ابْنَ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قَالَ: عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَفِّي بَيْنَ كَفَّيْهِ، التَّشَهُّدَ، كَمَا يُعَلِّمُنِي السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ: «التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

وفي لفظ لهما: «إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّلَامُ، فَإِذَا قَعَدَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَقُلْ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، فَإِذَا قَالَهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلَّهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنَ الْمَسْأَلَةِ مَا شَاءَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم راته تشهد داسې رازده کړ لکه څرنګه به يې چې له قرآن څخه يو سورت رازده کاوه، دا پداسې حال کې چې زما لاس د هغه په لاسونو کې و:** «التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ» «ټولې ستاينې ژبنې، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا ای پیغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نيکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل هيڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی». **او د دواړو په يو بل لفظ کې راغلي:** «يقينا الله سلام دی، نو کله چې ستاسو څخه يو څوک په لمانځه کې کيناست نو ودې وايي: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ» التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ ... ثنا، ستاينې او پاکي الله لره دي، اې نبي ! پرتا دې سلام، د الله رحمت او برکتونه دې وي، پر مونږ او دالله پر نيکو بندګانو دې سلام وي. کله يې چې دا دعا ووېله هر نيک بنده ته به په اسمان او ځمکه کې ورسيږي. (بيا به ووايي) «ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته او پدې ګواهي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی». **د دې پسې بيا کولی شي هر ډول سوال او دعا چې وغواړي غوره يې کړي»** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ابن مسعود رضي الله عنه ته هغه تشهد ور زده کړ چې په لمانځه کې وېيل کېږي، پداسې حال کې چې د ابن مسعود لاس يې په دواړو لاسونو نيولی و، تر څو د ابن مسعود پام ځانته را واړوي، تشهد يې داسې ور زده کړ لکه څرنګه يې چې د قرآن يو سورت ور زده کاوه. دا کار د دې تشهد الفاظو او معنا ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم پاملرنه ښيي. نو وېې فرمايل: "التَّحِيَّات لله": دا هره هغه وينا او عمل دی چې پر تعظيم دلالت کوي، چې د ټولو حقدار الله جل جلاله دی. "الصَّلَوَاتُ": دا هغه پېژندل شوی لمونځ دی چې د الله تعالی لپاره يې فرض او نفل کيږي. "الطَّيِّبَاتُ": دا هغه ښې ويناوې، عملونه او پاکيزه صفتونه دي چې د کمال ځرګندونه کوي او د ټولو حقدار الله جل جلاله دی. "السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته "هغه ته له هر مصيبت او ضرر څخه د خوندي پاتې کېدلو او د هر ډول خير او ښېګڼې د زياتوالي دعا ده. "السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين": د لمونځ کوونکي او په اسمان او ځمکه کې د هر صالح بنده لپاره د خونديتوب دعا ده. "أشهد أن لا إله إلا الله": يعني زه په ټينګه اقرار کوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته. "وأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ ورسولُهُ": او زه پدې اقرار کوم چې هغه د الله بنده دی او رسالت يې تر ټولو وروستی او د پيغمبری لړی لره پای ته رسوونکی دی.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم لمونځ کوونکی وهڅاوه چې هر ډول دعا وغواړي نو غوره دي کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د دې تشهد ځای له وروستی سجدې پسې دی، کله چې لمونځ کوونکی په قعده کيني او په درې رکعتي او څلور رکعتي لمونځونو کې له دويم رکعت څخه وروسته.

٢. په تشهد کې د: التحيات ويل واجب دي، او په هر ډول الفاظو چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت دي تشهد ويل روا دی.

٣. په لمانځه کې يې چې هره دعا خوښه وي هغه غوښتلی شي خو پدې شرط چې ګناه (ناروا) نه وي.

٤. په دعا کې مستحب دي چې لومړی د ځان لپاره په دعا پيل وشي.

(3096)

(162) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو وَيَقُولُ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ».

وفِي لَفْظٍ لِمُسْلِمٍ: «إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ، فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ أَرْبَعٍ: مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ». [صحيح - [متفق عليه]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به دعا کوله او ويل به يې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ». «اي الله! زه پر تا د قبر له عذاب څخه پناه نيسم او د اور له عذاب څخه، او پناه نيسم پر تا د ژوند او مرګ او مسحه شوي دجال له فتنې څخه». او د مسلم په لفظ کې راځي: «کله چې ستاسو څخه يو له وروستي تشهد څخه فارغ شو، نو له څلورو شيانو څخه دې الله ته پناه يوسي: مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ». «د دوزخ له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنې او د مسحه شوي دجال له فتنې څخه». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په لمانځه کې د وروستي تشهد پسې او له سلام ګرځولو څخه مخکې له څلورو شيانو څخه په الله جل جلاله پناه غوښتله او مونږ ته يې امر کړی چې مونږ هم ترې پناه وغواړو،

لومړی: د قبر له عذاب څخه.

دويم: او د قيامت په ورځ د اور له عذاب څخه.

دريم: د ژوند له فتنې څخه، يعنې د دنيا له حرامو خواهشاتو او ګمراه کوونکو شکونو څخه او د مرګ له فتنې څخه، يعنې د ځنکندن پر مهال، چې هغه له اسلام او سنت څخه اوړېدل دي، او د قبر له فتنې (امتحان) څخه لکه د دوو پرښتو پوښتنه.

څلورم: د دجال فتنه چې په اخر وخت کې به راڅرګند شي، او الله تعالی به پرې خپل بندګان وازمايي؛ له هغه څخه يې د لوې فتنې او ګمراهۍ له امله په ځانګړې توګه يادونه وکړه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دا پناه غوښتل له مهمو او جامعه دعاګانو څخه دي، ځکه چې د دنيا او آخرت له شر څخه پناه غوښتلو ته شامليږي.

٢. د قبر د عذاب ثبوت او دا چې حق دی.

٣. د فتنو خطر او له هغو څخه د خلاصون لپاره له الله تعالی څخه د مرستې او دعا غوښتلو اهميت.

٤. د دجال د راوتلو او د هغه د فتنې د لوی والي ثبوت.

٥. د وروستي تشهد پسې د دې دعا ويل مستحب والی.

٦. د هر نيک عمل پسې د دې دعا ويل مستحب والی.

(3103)

(163) – عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيُّ قَالَ: لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ؟ أَوْ قَالَ قُلْتُ: بِأَحَبِّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ، فَسَكَتَ. ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَسَكَتَ. ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ: سَأَلْتُ عَنْ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً، إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً» قَالَ مَعْدَانُ: ثُمَّ لَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لِي: مِثْلَ مَا قَالَ لِي: ثَوْبَانُ. [صحيح] - [رواه مسلم]

له مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِي څخه روايت دی وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ازاد شوي غلام ثوبان سره مخ شوم، نو ورته مې وويل: په داسې يو عمل مې خبر کړه چې الله تعالى مې پرې جنت ته داخل کړي؟ يا وايي چې ومې ويل: هغه عمل چې الله تعالى ته ګران وي، نو چپ شو. بيا مې ترې پوښتنه وکړه، نو چپ شو، بيا مې ترې په دريم ځل پوښتنه وکړه، نو وې ويل: پدې اړه مې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه، نو وې فرمايل: «الله تعالى ته ډېرې سجدې کوه، ځکه چې ته الله ته هره سجده کوې، الله تعالى دې پرې درجه لوړوي، او يوه ګناه درڅخه تويوي» معدان وويل: بيا له ابو الدرداء سره مخ شوم نو پوښتنه مې ترې وکړه، نو هغه خبره يې راته وکړه لکه څنګه چې ثوبان راته کړې وه». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه د هغه کار په اړه پوښتنه وشوه چې جنت ته د ننوتلو سبب ګرځي، یا د هغه عمل په اړه چې الله تعالی ته زیات ګران وي.
نو رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتونکي ته وویل: په لمانځه کې زیاتې سجدې کوه، ځکه ته چې الله تعالی ته هره سجده کوې، نو الله دې پرې درجه لوړوي او یوه ګناه درته ښئي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. فرضي او نفلي لمونځونو ته د مسلمانانو هڅول، ځکه چې زیاتې سجدې پکې وي.
٢. د صحابه کرامو د پوهې بیانول او دا چې هغوی پوه و چې جنت د الله تعالی له رحمت نه وروسته یوازې په عمل سره تر لاسه کیږي.
٣. په لمانځه کې سجده د درجو د لوړېدو او د ګناهونو د ښڅلو له لاملونو څخه دی.

(3732)

(164) – عن عَائِشَةَ رضيَ اللهُ عنها قالت: إِنِّي سمعْتُ رسولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يقول: «لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ، وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې:** «هغه مهال لمونځ کول نه صحیح کیږي چې خواړه د خوراک لپاره چمتو وي او نه هغه مهال چې د وروکي او یا لوی اودس ماتي له امله یې اودس تنګ وي». [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه خوراک په شتون کې له لمانځه څخه منعه کړې چې د عبادت کوونکي اشتها ورته راځي او زړه یې ورسره تړلی وي.
همدا رنګه یې هغه مهال له لمانځه څخه منع فرمایلې ده چې اودس ماتی ورتینګ وي - تشې او یا ډکې متیازې ورځي - ځکه چې د دې دواړو ایسارول یې مشغولوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. لمونځ کوونکي ته په کار دي چې په لمانځه له پيلولو مخکې هر هغه شی له مخې لرې کړي چې مشغولوي يې.

(3088)

(165) – عن عُثْمَانَ بْنَ أَبِي الْعَاصِ رضي الله عنه: أنه أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي وَقِرَاءَتِي يَلْبِسُهَا عَلَيَّ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزَبٌ، فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ، وَاتْفُلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا»، قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي. [صحيح] - [رواه مسلم]

د عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه څخه روايت دی چې: هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله، زما او زما د لمانځه او زما د قرائت تر منځه شيطان مداخله وکړه تر څو يې راباندې ګډوډ کړي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «دا يو شيطان دی چې خنزب ورته ويل کيږي، نو کله دې چې حس کړ، له هغه څخه په الله پناه وغواړه، او چپ لوري ته دې درې ځلې تو کړه»، وايي: دا کار مې وکړ، نو الله تعالی راڅخه لرې کړ. [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله زما او زما د لمانځه تر منځه شيطان مانع ګرځېدلی دی، زه يې په لمانځه کې له خشوع او عاجزۍ څخه منع کړی يم، او قراءت يې راباندې ګډوډ کړی، او په لمانځه کې يې شکي کړی يم. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: دا هغه شيطان دی چې خنزب ورته ويل کيږي، که دا مو وموند او احساس مو کړ، نو الله تعالی دې ملاتړ وګرځوه، او په الله تعالی ترې پناه وغواړه او چپ لوري ته دې د لړو لاړو سره درې ځلې تو کړه، عثمان وويل: هغه څه مې وکړل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې راته امر کړی، نو الله تعالی راڅخه لرې کړ.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د عاجزۍ او په لمانځه کې د زړه د حضور اهمیت، او دا چې شیطان هڅه کوي لمونځ کوونکی ګډوډ کړي او په شک کې یې واچوي.

٢. په لمانځه کې د شیطان د وسوسې پر مهال مستحب دي چې پناه ترې وغوښتل شي او چپ لوري ته درې ځلې تو کړای شي.

٣. د صحابه کرامو د حالت بیان چې هغوی به د ستونزو پر مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رجوع کوله تر څو یې ورته حل کړي.

٤. د صحابه کرامو د زړونو ویښتوب او دا چې هغوی د اخرت په اړه فکر کاوه.

(65105)

(166) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَسْوَأُ النَّاسِ سَرَقَةً الَّذِي يَسْرِقُ صَلَاتَهُ» قَالَ: وَكَيْفَ يَسْرِقُ صَلَاتَهُ؟ قال: «لَا يُتِمُّ رُكُوعَهَا، وَلَا سُجُودَهَا». [صحيح] - [رواه ابن حبان]

**له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:** «په خلکو کې تر ټولو بد غل هغه دی چې هغه خپل لمونځ غلا کوي» **هغه وفرمایل: څنګه خپل لمونځ غلا کوي؟ ویې فرمایل چې:** «نه یې رکوع بشپړوي، او نه یې سجده». [صحیح حدیث دی] - [ابن حبان روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې په غلا کې تر ټولو بد سړی هغه دی چې له لمانځه څخه غلا کوي. دا ځکه چې د بل چا مال اخیستل به کېدی شي په دنیا کې ورته ګټه ورسوي، د دې غل په خلاف، ځکه چې ده خپل حق له ثواب او اجر څخه غلا کړ، دوی وویل: او څنګه له خپل لمانځه څخه غلا کوي؟ هغه وفرمایل: نه یې رکوع پوره کوي او نه یې سجده؛ داسې چې رکوع او سجده په تېزۍ سره کوي، نو په بشپړه توګه یې نه ادا کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د لمانځه د ښه ادا کولو اهميت، او ارکان يې په ډاډ او خشوع سره ادا کول.
٢. هغه څوک چې په سمه توګه رکوع او سجده نه کوي، نو په غل سره ترې يادونه لدې کار څخه نفرت ثرګندوي، او حراموالي ته يې پاملرنه ده.
٣. په لمانځه کې د رکوع او سجدې بشپړول او ببرته ترې برابر پورته کېدل واجب دي.

(65100)

(167) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ - أَوْ: لاَ يَخْشَى أَحَدُكُمْ - إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ الإِمَامِ، أَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ، أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ صُورَتَهُ صُورَةَ حِمَارٍ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «ايا له تاسو څخه يو څوک نه وېرېږي – يا ستاسو څخه څوک دا وېره نه لري چې: کله دی له امام څخه مخکې خپل سر راپورته کوي، چې الله جل جلاله به يې سر د خره وګرځوي، او يا به يې څېره د خره څېره وګرځوي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه چا لپاره سخت ګواښ بيانوي چې له خپل امام څخه مخکې سر راپورته کوي، چې الله تعالی به يې سر د خره سر وګرځوي او يا به يې څېره د خره څېره وګرځوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. مقتدي له امام سره څلور حالتونه لري: درې هغه دي چې منع ترې شوې ده چې هغه: مخکې کېدل، برابر حرکت کول، او وروسته ترې پاتې کېدل دي، او د مقتدي لپاره روا حالت د امام متابعت کول دي.
٢. په لمانځه کې پر مقتدي د امام متابعت واجب دی.
٣. د هغه چا د څېرې بدلولو ګواښ چې له امام څخه مخکې سر پورته کوي چې سر به يې د خره شي او دا کار شونی دی او دا يو ډول مسخه ده.

(3086)

(168) – عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ، فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلَّى ثَلَاثًا أَمْ أَرْبَعًا، فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ، وَلْيَبْنِ عَلَى مَا اسْتَيْقَنَ، ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ، فَإِنْ كَانَ صَلَّى خَمْسًا شَفَعْنَ لَهُ صَلَاتَهُ، وَإِنْ كَانَ صَلَّى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ كَانَتَا تَرْغِيمًا لِلشَّيْطَانِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو سعيد الخدري رضى الله عنه څخه روايت دى وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:** «كه په تاسو كې يو څوک د خپل لمانځه په اړه شک وكړي او نه پوهيږي چې څو ركعته (لمونځ) يې كړى؛ درې كه څلور ركعته، نو شک دې لرې كړي او په هغه څه دې باور وكړي چې يقيني وي، بيا دې له سلام اړولو مخكې دوه سجدې وكړي، نو كه چېرته يې پنځه ركعته كړي وو نو سجدې به يې ورته لمونځ جفت كړي، او كه چېرته يې د څلورو د پوره كولو لپاره كړې وي نو د شيطان د رټلو لپاره به وي». [صحيح حديث دى] [مسلم روايت كړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې كه يو لمونځ كوونكى په لمانځه كې شكي شي او نه پوهېږي چې څو ركعته يې كړي دي؛ درې كه څلور؟ نو مشكوک عدد دې له ذهن نه وباسي او اعتبار دې نه وركوي او هغه څه چې په اړه يې يقيني دى هغه درې ركعته دي، نو څلورم ركعت دې وكړي، بيا دې له سلام اړولو مخكې دوه سجدې وكړي.

كه كړي ركعتونه يې په ريښتيا څلور وي؛ نو له اضافي ركعت سره به پنځه شي او د سهوې لپاره دوه سجدې به يې د بل ركعت په بدل كې شي، نو د ركعتونو شمېر به يې جفت شي نه تاق، او كه چېرته يې د اضافي ركعت سره د ركعتونو شمېر څلور و؛ نو خپل لمونځ به يې پوره كړى وي، نه به زيات وي او نه كم.

او د سهوې دوه سجدې به د شيطان د رټلو او سپكولو په موخه شوي وي، او د دې لپاره چې هغه ذليل شي او خپل مراد ته ونه رسيږي؛ ځكه چې لمونځ يې پرې ګډوډ كړى و، او د لمانځه د فاسدېدو لپاره ورته راښكاره شوى و، نو د بني آدم لمونځ الله تعالى ته په سجدې كولو سره پوره شو، هغه سجده چې ابليس يې په نه كولو سره ګناهكار شوى و، كله يې چې آدم عليه السلام ته په سجدې نه كولو د الله تعالى نافرماني وكړه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. لمونځ کوونکي چې کله په خپل لمانځه کې شک درلوده او ډاډه نه و چې څو رکعته يې کړي دي، نو شک دې وغورځوي او په عمل دې يقين وکړي چې هغه لږ عدد دی، نو لمونځ به يې پوره شي او د سهوې لپاره به له سلام اړولو مخکې دوه سجدې وکړي، بيا به سلام وگرځوي.

٢. په دې دوو سجدو سره لمونځ جبرانيږي، شيطان پرې رټل کيږي، په داسې حال کې چې ذليل او سپک به وي او خپل مراد ته به نه وي رسېدلی.

٣. کوم شک چې په حديث کې دی، هغه شک دی چې انسان په کې متردد وي او له هېڅ عدد څخه ډاډمن نه وي، نو کله چې غالب گمان پيدا شو او زړه ډاډه شو نو عمل دې پرې وکړي.

٤. د وسوسو په وړاندې مبارزې ته هڅول او د شريعت امر ته په غاړې اېښودلو سره يې له منځه وړل.

(11231)

(169) – عَنْ وَابِصَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا صَلَّى وَحْدَهُ خَلْفَ الصَّفِّ، فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيدَ صَلَاتَهُ. [حسن] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]

**له وابصة رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سړی وليد چې د صف تر شا يې يوازې لمونځ کاوه، نو هغه ته يې د لمانځه د راگرځولو امر وکړ.** [حديث حسن دی – [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سړی وليد چې د صف تر شا يې يوازې لمونځ کاوه، نو هغه ته يې امر وکړ چې خپل لمونځ بېرته راوگرځوي، ځکه چې په دې صورت کې د هغه لمونځ صحيح نه و.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د جماعت لمانځه ته پر وختي راتللو ټينگار او مخکې درېدل، او دا چې بايد د صف تر شا ځانته لمونځ ونه کړي، تر څو يې لمونځ باطل نه شي.

٢. ابن حجر رحمه الله وايي: څوک چې په صف کې يوازې لمونځ پيل کړي او بيا له رکوع نه د راپورته کېدلو نه مخکې صف ته ننوځي، پر هغه د لمانځه راگرځول واجب نه دي، لکه څنگه

چې د ابوبکره په حديث کې راغلي دي، که نه نو د وابصه د حديث د عموم له مخې پرې راګرځول واجب دي.

(11303)

**(170) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بنِ مسعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ نَامَ لَيْلَهُ حَتَّى أَصْبَحَ، قَالَ: «ذَاكَ رَجُلٌ بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنَيْهِ، أَوْ قَالَ: فِي أُذُنِهِ».**
**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې: د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندې يو سړی ياد شو چې ټوله شپه تر سهاره ويده پاتې شوی و. هغه وفرمايل: «دا هغه سړی دی چې شيطان يې په غوږونو کې متيازې کړې، يا يې داسې وويل چې: په غوږ کې يې».**
[صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندې د يو سړي يادونه وشوه چې د سهار د لمر تر راختلو پورې ويده و او فرضي لمانځه ته نه و پاڅيدلی، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دا هغه سړی دی چې شيطان يې په غوږ کې متيازې کړې دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د قيام الليل د پرېښودلو کراهيت، او دا چې لامل يې شيطان دی.
٢. له هغه شيطان څخه ويرول چې په هره لار کې انسان ته کيني؛ تر څو يې د الله جل جلاله له اطاعت څخه منع کړي.
٣. ابن حجر فرمايلي: دا وينايې چې فرمايي (ما قام إلى الصلاة) لدې څخه مراد عموما لمونځ دی، او کيدی شي چې مراد ترې هغه لمونځ وي چې ذهن ورته سبقت کوي، يعنی مراد ترې د شپې او يا د تهجد لمونځ دی.
٤. طيبي فرمايلي: غوږ يې ځکه په ځانګړې توګه ياد کړ، اګر چې د سترګې يادونه مناسب وه ځکه چې خوب دروند وي، او غوږونه د توجه سرچينه ده، او ادرار يې ځکه ياد کړل؛ ځکه چې داخل ته ننوتل يې اسانه، او رګونو ته ژر رسيږي، نو له امله يې د بدن ټول غړي سستيږي.

(3714)

(171) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا، وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «تر ټولو غوره ورځ چې لمر پرې راختلی د جمعې ورځ ده، په همدې ورځ آدم پيدا شوی او په همدې ورځ جنت ته داخل شوی او په همدې ورځ ترې راوېستل شو، او قيامت د جمعې له ورځې پرته نه راځي».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې تر ټولو غوره ورځ چې لمر پرې راختلی د جمعې ورځ ده. د جمعې ورځې له ځانګړنو څخه دا دي چې: الله جل جلاله آدم علیه السلام په همدې ورځ پيدا کړ، جنت ته يې داخل کړ او په همدې ورځ يې ببرته ترې راوويست او ځمکې ته يې ښکته کړ، او قيامت هم د جمعې له ورځې پرته نه راځي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اونۍ پر نورو ورځو د جمعې د ورځې فضيلت.

٢. د جمعې په ورځ زيات نيک عملونه کول او ټېنګار پرې کول، او د الله تعالی د رحمت د ترلاسه کولو لپاره چمتووالی نيول او له نعمتونو څخه د محروميدو دفع کول.

٣. د جمعې د ورځې دغه ځانګړتياوې چې په احاديثو کې راغلي د جمعې د فضيلت په اړه دي، خو داسې ويل شوي چې: دا د جمعې د ورځې د فضيلت د يادولو ځانګړتياوې نه دي؛ ځکه چې د آدم ويستل او د قيامت راتګ فضيلت نه ګڼل کېږي. او ويل شوي چې: دا ټول فضيلتونه دي او د آدم ويستل د رسولانو، انبياوو او نيکانو د نسلونو د شتون سبب دی، او د قيامت قائمېدل د نېکانو د بدلې او په عجلې سره د کراماتو د لاسته راوړلو لامل دی چې الله تعالی ورته چمتو کړی دی.

٤. لدې روايت پرته په نورو روايتونو کې د جمعې د ورځې نورې ځانګړتياوې هم ذکر شوي دي لکه: پدې کې د آدم توبه قبوله شوې، او په همدې ورځ وفات شوی او پدې کې يو ساعت دی

چې هر مؤمن بنده پکې له الله تعالی نه څه وغواړي هغه ته يې ورکوي.

٥. د کال تر ټولو غوره ورځ د عرفات ورځ ده، او داسې هم ويل شوي چې: د قربانی ورځ ده، او د هفتې تر ټولو غوره ورځ جمعه او غوره شپه د قدر ده.

(3711)

(172) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الجُمُعَةِ غُسْلَ الجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الخَامِسَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ المَلاَئِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:**
**«څوک چې د جمعې په ورځ دجنابت غسل وکړي او (په لومړي ساعت کې جومات ته) لاړ شي، نو داسې ده لکه يو اوښ چې قرباني کړي، او څوک چې په دويم ساعت کې لاړ شي، نو لکه يوه غوا چې قرباني کړي، او څوک چې په دريم ساعت کې لاړ شي لکه يو ښکرور پسه چې قرباني کړي او څوک چې په څلورم ساعت کې لاړ شي نو لکه يوه چرګه چې قرباني کړي، او څوک چې په پنځم ساعت کې لاړ شي نو لکه يوه هګۍ چې خيرات کړي، او کله چې امام (د خطبې لپاره) راووت ملايکې حاضرېږي او ذِکر ته غوږ نيسي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته د جمعې لمانځه ته د وختي تللو فضيلت بيانوي، چې دا وختي تلل د لمر له راختلو څخه د امام تر راتګ پورې دی؛ او دا نږدې پنځه ساعتونه کيږي، چې د وخت سره سم وېشل کيږي؛ د لمر له راختلو څخه د امام تر راتګه او بيا د خطبې لپاره د منبر ختلو پورې:

لومړی: څوک چې لکه د جنابت په څېر بشپړ غسل وکړي، بيا د جمعې جومات ته په لومړي ساعت کې لاړ شي، نو اجر يې دومره دی لکه يو اوښ چې خيرات کړي.

دويم: څوک چې په دويم ساعت کې لاړ شي نو داسې ده لکه يوه غوا چې خيرات کړي.

دريم: څوک چې په دريم ساعت کې لاړ شي، نو داسې ده لکه يو نر ښکرور پسه چې خيرات کړي.

څلورم: څوک چې په څلورم ساعت کې لاړ شي نو داسې ده لکه يوه چرګه چې خيرات کړي.

پنځم: څوک چې په پنځم ساعت کې لاړ شي نو داسې ده لکه يوه هګۍ چې خيرات کړي.

خو کله چې امام د خطبې لپاره راووځي، ملايکې د هغه چا نومونه ليکل بس کړي چې يو د بل پسې جومات ته راځي، او خپله ذکر او خطبې ته غوږ ونيسي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د جمعې په ورځ غسل ته هڅوونه، او بايد چې لمانځه ته له ټللو وړاندې وي.

٢. د ورځې په لومړيو ساعتونو کې د جمعې لمانځه ته د وختي تللو فضيلت.

٣. په نيکو عملونو ټينګار او ورته هڅوونه.

٤. د جمعې لمانځه ته د ملايکو حاضرېدل او خطبې ته غوږ نيول.

٥. ملايکې د جوماتونو په دروازو کې کيني، او يو د بل پسې د جمعې لمانځه ته د راتلونکو نومونه ليکي.

٦. ابن رجب فرمايي: دا وينا يې چې فرمايي: " من اغتسل يوم الجمعة، ثم راح " يعني چا چې د جمعې په ورځ غسل وکړ او بيا لاړ، پدې دليل دی چې د جمعې لپاره مستحب غسل دا دی چې د سهار د راختلو پر مهال وشي او ورستی وخت يې هغه مهال دی چې د جمعې لمانځه ته د تللو پر مهال څي.

(5393)

(173) – عن ثَوْبَانَ رضي الله عنه قال: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا، وَقَالَ: «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ» قَالَ الْوَلِيدُ: فَقُلْتُ لِلْأَوْزَاعِيِّ: كَيْفَ الْاسْتِغْفَارُ؟ قَالَ: تَقُولُ: أَسْتَغْفِرُ اللهَ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ. **[صحيح] - [رواه مسلم]**

له ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: کله به چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل لمونځ پای ته ورساوه نو درې ځلې به يې استغفر الله ويل، او «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ

ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ» به يې ووېل، «يعني اې الله! ته سلامتيا ورکوونکی يې، او سلامتيا ستا لخوا ده، ډېر لوړ دی شان ستا، اې د جلال او عزت خاونده». وليد وېلي: ما اوزاعي ته ووېل چې استغفار څنګه وي؟ هغه ووېل: چې ووايې: أَسْتَغْفِرُ اللهَ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ. [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله لمونځ پای ته ورساوه نو: (أستغفر الله، أستغفر الله، أستغفر الله) به يې ويل.

بيا به يې په خپلې دې وينا سره د خپل رب لويي بيان کړه: «اللَّهمَّ أنتَ السَّلامُ، ومنْك السَّلامُ، تباركْتَ ذا الجَلالِ والإكرامِ» نو الله جل جلاله لره د هغه په صفتونو کې سلامتيا ده او هغه د بشپړو صفتونو خاوند دی، له هر عيب او نيمګړتيا څخه پاک دی، يوازې له هغه پاک ذات څخه د دنيا او آخرت له شرونو څخه سلامتيا غواړې، ځکه په دنيا او آخرت کې د هغه پاک ذات ښېګڼې زياتې دي، هغه د عظمت او نيکی خاوند دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د لمانځه پسې استغفار ويل او دا کار په دوامداره توګه کول مستحب دي.
٢. په عبادت کې د نيمګړتياوو پوره کولو، د پيروی جبرانولو او په عبادت کې د نيمګړتياوو د شتون په خاطر استغفار ويل مستحب عمل دی.

(10947)

(174) – عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ: كَانَ ابْنُ الزُّبَيْرِ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ حِينَ يُسَلِّمُ: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» وَقَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهَلِّلُ بِهِنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو الزبير څخه روايت دی وايي: ابن زبير به چې د هر لمانځه په پای کې سلام وګرځاوه نو (دا ذکر به يې ويل)** «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ. لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» «له الله پرته بل معبود نشته، هغه یو دی او هېڅ شریک نه لري، هغه لره پادشاهي او ستاینه ده او هغه پر هر څه قادر دی، له الله پرته بل هېڅ حال بدلوونکی او ځواک نشته، له الله پرته بل هېڅ معبود نشته، او مونږ له هغه پرته دبل هېچا عبادت نه کوو، هغه لره لورېنې او هغه لره فضل دی، او د هغه لپاره ښه ستاینه ده، له الله پرته بل هېڅ معبود نشته، (مونږ) هغه ته په عبادت کې اخلاص کوونکي یو، که څه هم کافران زمونږ دا کړنه بده مني» او ويې ويل چې : «رسول الله صلی الله علیه وسلم به له هر لمانځه وروسته دغه ذکر کاوه». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هر فرض لمانځه وروسته دغه ستر ذکر کاوه، چې معنا يې دا ده:

"لا إله إلا الله": يعني: له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته.

"وحده لا شريك له "يعني: هغه لره په الوهيت، ربوبيت، نومونو او صفتونو کې هېڅ شريک نشته.

"له الملك "هغه لره پادشاهي ده ": مطلقه، عامه، شامله او پراخه واکمني، چې د اسمانونو، ځمکې او څه چې د دوی تر مېنځه دي د ټولو واکمني هغه لره ده.

"وله الحمد " هغه په مطلق کمال سره ياد شوی، په هر حال کې په بشپړ محبت او لويی سره په آسانتيا او سختی کې ستايل شوی.

"وهو على كل شيء قدير "او هغه په هر څه قادر دی، ځواک يې بشپړ او هر اړخيز دی، هېڅ شی هغه لره عاجزولای نشي، او هېڅ کار د هغه لپاره ناشونی ندی.

"لا حول ولا قوة إلا بالله" يعني له يو حالت نه بل ته او د الله جل جلاله له اطاعت څخه نافرمانی ته اوړېدل نشته مګر د الله په توفيق سره؛ هغه ذات توفيق ورکوونکی او پر همغه توکل دی.

"لا إله إلا الله، ولا نعبد إلا إياه" :"له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او مونږ له هغه پرته د بل چا عبادت نه کوو " پدې کې د الوهيت پر معنا او د شرک په نفي ټينګار شوی او دا چې له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق ندی.

"له النعمة وله الفضل": هغه لره لورينه او مهرباني ده، دی هغه ذات دی چې نعمتونه پيدا کوي او لري يې او له خپلو بندګانو څخه يې چې چاته وغواړي هغه ته يې ورکوي.

"وله الثناء الحسن": د هغه لپاره ښايسته ستاينه ده؛ د هغه په صفتونو، افعالو، نعمتونو او هر حال باندې.

"لا إله إلا الله، مخلصين له الدين" :"نشته دی لايق د عبادت مګر يو الله دی (مونږ هغه ته په عبادت کې اخلاص کوونکي يو)": يعني په يووالي کې هغه ته اخلاص کوونکي يو، نه ځان ښودنه کوو او نه د الله تعالی په پيروي کې ځان مشهوروو.

"ولو كره الكافرون" :" که څه هم کافران له دې څخه کرکه لري "يعني: د الله جل جلاله په وحدانيت او د هغه په عبادت کې ثابت قدمه يو، که څه هم کافران دا بده ګڼي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د هر فرض لمانځه نه وروسته دا ذکر کول مستحب دی.
٢. مسلمان په خپل دين وياړي او د عباداتو ښودنه يې کوي، که څه هم کافر ترې کرکه کوي.
٣. کله چې په حديث کې د "دُبر الصلاة " کلمه راشي، يعني د لمانځه په پای کې: نو که په حديث کې له کوم ذکر څخه يادونه شوي وي، نو اصل دا دی چې هغه به له لمانځه څخه وروسته وي او که چېرته دعا وي نو هغه به په لمانځه کې له سلام ګرځولو څخه مخکې وي.

(6203)

(175) – عَنْ وَرَّادٍ كَاتِبِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: أَمْلَى عَلَيَّ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ فِي كِتَابٍ إِلَى مُعَاوِيَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ». [صحيح] - [متفق عليه]

**د مغيره ابن شعبه له کاتب وَرَّاد څخه روايت دی وايي چې: مغيره بن شعبه راباندې هغه ليک وليکه چې معاويه ته يې ليږه چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم به د هر فرضي لمانځه په پای کې دا ذکر کاوه: «له الله تعالی پرته بل معبود بر حق نشته، هغه يو دی، شريک نلري، هغه لره (د کائناتو) پاچاهي او پوره غوره ستاينه ده، او هغه پر هر څه قادر دی، اې الله ! ته چې (چا ته**

څه ورکوې، د هغه څوک مانع بندوونکی نشته، او ته چې (له چا نه) څه بند کړې، د هغه څوک ورکوونکی نشته، او فائده نه کوي مالدار لره د هغه مال ستا د عذاب (په لرې کولو کې)». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هر فرض لمانځه څخه وروسته دا دعا ويله: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ».

يعنې: د توحيد په کلمې؛ لا اله اِلا الله، اقرار او اعتراف کوم، حق عبادت الله تعالى ته ثابتوم، او له هغه پرته يې له نورو څخه نفي کوم، نو له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته، او پدې اقرار کوونکی يم چې حقيقي او بشپړه پادشاهي يوازې الله لره ده، او الله تعالى د ځمکې او آسمانونو د خلکو د ستاينې مستحق دی، هغه پر هر څه ځواک لري، او هغه څه چې الله تعالى له ورکړې او يا منع کولو څخه مقدر کړي وي، منع کوونکی يې نشته، او د هغه په وړاندې د مالدار مالداري ګټه نه لري، بلکې يوازې نيک عمل ورته ګټه رسوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له لمونځونو څخه وروسته دا ذکر مستحب دی ځکه چې د توحيد او ستاينې الفاظ پکې راغلي دي.
٢. د سنتو په عملي کولو او خپرولو کې بيړه کول.

(65102)

(176) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَبَّحَ اللهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَحَمِدَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَكَبَّرَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، فَتْلِكَ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ، وَقَالَ: تَمَامَ الْمِائَةِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**ابوهريره رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي:** **«څوک چې د هر لمانځه په پای کې درې دېرش ځلې سبحان الله، درې دېرش ځلې الحمد لله او درې دېرش ځلې الله اکبر ووايي نو دا نهه نوي شول، او د سلو د پوره کولو لپاره يې: "لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ" ووايي نو د هغه ګناهونه به وبخښل شي، که څه هم د سمندر د زګ په څېر وي».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا چې له فرض لمانځه وروسته:

درې ديرش ځلې" سبحان الله "وويل چې دا له نيمګړتياوو څخه د الله جل جلاله د پاکۍ بيانول دي.

او درې ديرش ځلې يې" الحمد لله "وويل چې دا له محبت او تعظيم سره د کمال په صفتونو د الله تعالى يادول دي.

او درې ديرش ځلې" الله أكبر "ويل چې (معنا يې) له هر شي څخه د الله جل جلاله لويي بيانول دي.

او سل عدد د دې ذکر په ويلو سره پوره کيږي: **«لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، وله الحمد، وهو على كل شيء قدير»** چې معنا يې ده: له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه يو دی شريک نه لري، او هغه پاک ذات لره يوازې بشپړه واکمني ده، هغه له نورو پرته د محبت او تعظيم سره د ثنا او ستاينې وړ دی، او دا چې هغه قادر دی او هيڅ شی يې نه شي عاجز کولای.

نو چا چې دا (ذِکر) ووايه ګناهونه يې پاک شول او وبخښل شول، که څه هم د هغه سپين ځګ په څېر ډېر وي چې د سمندر د اوبو په سر د څپو او هيجان پر مهال راپورته کيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له فرض لمانځه وروسته دا ذکر مستحب دی.

٢. دا ذکر د ګناهونو د بخښلو سبب ګرځي.

٣. د الله تعالى لوی فضل، رحمت او بخښنه.

٤. دا ذکر د ګناهونو د بخښلو لامل دی او هدف ورڅخه: د کوچنيو ګناهونو کفاره ده، خو لوی ګناهونه له توبې پرته نه بخښل کيږي.

(10948)

(177) – عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ إِلَّا أَنْ يَمُوتَ». **[صحيح] - [رواه النسائي في الكبرى]**

**له ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:**
**«څوک چې د هر فرض لمانځه پسې آيت الکرسي ووايي، نو هېڅ شی به هغه جنت ته له ننوتلو منع نه کړي، تر څو چې مړ شي».** [صحيح حديث دی] - [نسائي په سنن کبری کې روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر راکوي چې څوک د فرض لمانځه پسې آيت الکرسي ولولي نو له مرګ پرته به يې بل هېڅ شی جنت ته له ننوتلو منع نه کړي؛ او دا آيت په سورة البقره کې د الله تعالی دا وينا ده: {اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ}.

الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب، خاص همده لره دي هغه څه چې په آسمانونو کې دي، او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوک دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي مګر د ده په اجازت سره؟ هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې د دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هېڅ شی هم نشي راګېرولی، مګر هغه څه چې هغه (الله) يې وغواړي، د هغه کرسی د اسمانونو او د ځمکې څخه پراخه ده او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي، او هم هغه ډېر اوچت دی، ډېر لوی دی .[البقرة: 255].

## د حديث له فايدو څخه:

١. (پدې آيت کې د الله تعالی) د نيکو نومونو او عالي صفتونو د شتون له امله د دې عظيم آيت فضيلت.
٢. د هر فرض لمانځه پسې د دې عظيم آيت لوستل مستحب دي.
٣. نيک عمل جنت ته د داخلېدو سبب ګرځي.

(10950)

(178) – عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: حَفِظْتُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ رَكَعَاتٍ: رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ المَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ العِشَاءِ فِي بَيْتِهِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الصُّبْحِ، وَكَانَتْ سَاعَةً لاَ يُدْخَلُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا، حَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَذَّنَ المُؤَذِّنُ وَطَلَعَ الفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، وَفِي لَفْظٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ. [صحيح] - [متفق عليه بجميع رواياته]

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې وايي: له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې لس رکعتونه ياد کړي دي: دوه رکعتونه د ماسپښين له لمانځه څخه مخکې، او دوه ترې وروسته، او دوه رکعته له ماښام نه وروسته په کور کې، او دوه رکعتونه د ماخوستن نه وروسته په کور کې، او دوه رکعتونه د سهار له لمانځه څخه مخکې. او دا هغه وخت و چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم کور ته به نه ننوت، حفصې راته ووېل: کله به چې مؤذن اذان وکړ او سهار به راوخوت، نو دوه رکعته لمونځ به يې وکړ، او په يو بل لفظ کې راځي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به له جمعې څخه وروسته دوه رکعته لمونځ کاوه. [صحيح حديث دی] -[په ټولو روايتونو سره متفق عليه دی]

## تشريح:

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما بيانوي چې: هغه نفلي لمونځونه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يې زده کړي دي لس رکعتونه دي چې راتبه سنتونه ورته ويل کيږي. دوه رکعتونه له ماسپښين څخه مخکې او دوه ترې وروسته، او دوه رکعتونه له ماښام نه وروسته په خپل کور کې، او دوه رکعتونه د ماخوستن څخه وروسته په خپل کور کې، او دوه رکعتونه د سهار له لمانځه څخه مخکې، نو لس رکعتونه پوره شول. او د جمعې لمونځ چې دی، نو وروسته ترې بايد دوه رکعته لمونځ وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د دې راتبه سنتونو کول مستحب دي، او بايد چې ټينګار پرې وشي،
٢. په کور کې د سنت ادا کولو مشروعيت.

(3062)

**(179) – عن عائشةَ أُمِّ المُؤْمِنينَ رضي الله عنها: أن النبي صلى الله عليه وسلم كان لا يَدع أربعا قَبل الظهر وركعتين قبل الغَدَاة. [صحيح] - [رواه البخاري]**

**له أم المؤمنين عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به هېڅکله څلور ركعته لمونځ د ماسپښين له لمانځه نه مخکې او دوه ركعته د سهار د لمانځه نه مخکې نه پرېښودل.** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

عايشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هغې په کور تل نفلي لمونځونه کول او هېڅکله به يې نه پرېښودل: څلور رکعتونه په دوو سلامونو سره د ماسپښين له لمانځه نه مخکې او دوه رکعتونه د سهار د لمانځه نه مخکې.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ماسپښين له لمانځه نه مخکې څلور رکعته او د سهار د لمانځه نه مخکې دوه رکعته ادا کول مستحب دي.
٢. غوره دا ده چې سنت لمونځونه په کور کې وشي، له دې امله عايشې رضي الله عنها يې په اړه خبر ورکړ.

(11249)

**(180) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ، بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ» ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ: «لِمَنْ شَاءَ». [صحيح] - [متفق عليه]**

**د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «د هرو دوو اذانونو (اذان او اقامت) په منځ کې لمونځ دی، د هرو دوه وو اذانونو (اذان او اقامت) په منځ کې لمونځ دی». بيا يې په دريم ځل وفرمايل: «د هغه چا لپاره چې وغواړي».**

[صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې د هر اذان او اقامت تر منځه نفلي لمونځ دی، دا خبره يې درې ځلې تکرار کړه او په درېم ځل يې وويل چې دا کار د هغه چا لپاره مستحب دی چې لمونځ کول وغواړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اذان او اقامت تر منځه لمونځ کول مستحب دي.
٢. د وينا په تکرارولو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم لارښوونه، تر څو يې خلک واوري او دا کار د وينا په ارزښت ټينګار دی.
٣. په دوو اذانونو سره مراد: اذان او اقامت دی، او لدې امله ورته دوه اذانونه ويل کېږي چې غالبا يې ورته خلک وايي، لکه (لمر او سپوږمۍ) ته چې قمرين او (أبوبکر او عمر) ته عمرين ويل کېږي.
٤. اذان د وخت د داخلېدو او اقامت د لمانځه د ادا کولو د وخت د رارسېدو خبرتيا ده.

(65479)

(181) - عَنْ أَبِي قَتَادَةَ السَّلَمِيِّ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:** «کله چې ستاسو څخه يو څوک جومات ته ننوځي، نو مخکې لدې چې کېني دوه رکعته لمونځ دې وکړي».

[صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ټينګار کوي چې څوک يو جومات ته لاړ شي او په هر وخت کې د هر غرض لپاره ورننوځي نو بايد چې له کيناستو څخه مخکې دوه رکعته لمونځ وکړي، چې دې دوه رکعتونو ته تحية المسجد وايي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. جومات ته د ننوتو پرمهال له کېناستو څخه مخکې دوه رکعته تحية المسجد لمونځ کول مستحب دي.

٢. دا (حکم) د هغه چا لپاره دی چې غواړي کيني، نو که څوک جومات ته ننوت او له کېناستلو مخکې بېرته راووت دا حکم د هغه لپاره ندی.

٣. کله چې لمونځ کوونکی جومات ته پداسې حال کې ننوت چې خلک په لمانځه ولاړ وو او د هغوی سره په لمانځه کې داخل شو، نو دوه رکعته لمونځ پرې نشته.

(65091)

(182) – عن أبِي هُرَيرَةَ رضي الله عنه أنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلمَ قال: «إذا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ: أَنْصِتْ، يومَ الجمعةِ، والْإِمامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:**

«که خپل ملګري ته دې د جمعې په ورځ وويل چې: چپ شه، په داسې حال کې چې امام خطبه وايي، نو تا د جمعې فضيلت له لاسه ورکړ». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د جمعې په خطبه کې د ګډون کوونکو لپاره له فرضي آدابو څخه: د خطبې اورېدل دي؛ تر څو په نصيحتونو کې غور وکړي، او دا چې چا خبرې وکړې - که څه هم لږې وي - پداسې حال کې چې امام خطبه وايي، او بل چا ته ووايي چې: "چپ شه" او يا" غوږ شه "نو د جمعې د لمانځه فضيلت يې له لاسه ورکړ.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د خطبې اورېدلو پر مهال د خبرو حراموالی، که څه هم له منکر څخه منع کول، سلام ته ځواب ويل او يا هم پرنجې کوونکي ته ځواب ورکول وي.

٢. لدې هغه څوک مستثنا دی چې امام سره خبرې وکړي او يا امام ورسره خبرې وکړي.

٣. د ضرورت پر مهال د دو خطبو تر منځ خبرې کول روا دي.

٤. كله چې امام خطبه وايي او د نبی علیه السلام د نوم يادونه وشي نو په پټه به پرې درود وايې، او همدا رنګه د دعا پر مهال امين ويل.

(3107)

(183) – عن عمران بن حصين رضي الله عنه قال: كَانَتْ بِي بَوَاسِيرُ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ، فَقَالَ: «صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ». [صحيح] - [رواه البخاري]

له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما بواسير درلودل، نو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې د لمانځه په اړه پوښتنه وکړه، نو ويې ويل: «په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولای نو په ناسته يې وکړه، او که دې نشو کولای نو په څنګ يې وکړه». [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګندوه کړه چې په لمانځه کې اصل ودرېدل دي، مګر دا چې ودرېدلی نشي نو بيا به په ناسته لمونځ کوي، او که په ناسته يې نشو کولای نو کولی شي چې په څنګ لمونځ وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. تر څو چې عقل پر ځای وي لمونځ نه ساقطيږي، نو د وسې سره سم به له يو حالت څخه بل ته انتقاليږي.

٢. د اسلام لحاظ او اسانتيا چې بنده د خپلې وسې مطابق عبادت کوي.

(10951)

(184) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «زما پدې جومات کې يو لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو څخه غوره دی پرته له مسجد الحرام (بيت الله) څخه».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل جومات کې د لمانځه فضيلت بيان کړی او ويلي يې دي چې پدې جومات کې لمونځ د ځمکې په سر په نورو جوماتونو کې د زرو لمونځونو څخه ډېر ثواب لري، پرته له مسجد الحرام څخه چې په مکه مکرمه کې دی، ځکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د جومات په پرتله هلته لمونځ کول غوره دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په مسجد الحرام او مسجد النبوي کې د لمانځه د ثواب څو چنده والی.

٢. په مسجد الحرام کې لمونځ د نورو جوماتونو په پرتله له سلو زرو لمونځونو څخه غوره دی.

(65090)

(185) – عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ رضي الله عنه: أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ أَرَادَ بِنَاءَ الْمَسْجِدِ فَكَرِهَ النَّاسُ ذَلِكَ، وَأَحَبُّوا أَنْ يَدَعَهُ عَلَى هَيْئَتِهِ، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلهِ بَنَى اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ مِثْلَهُ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له محمود بن لبيد رضی الله عنه څخه روايت دی چې: عثمان بن عفان رضي الله عنه غوښتل چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم جومات جوړ کړي، نو خلکو بده وګڼله، او دا يې خوښ وګڼل چې په خپل حال يې پريږدي، نو ويې ويل چې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «چا چې د الله جل جلاله لپاره جومات آباد کړ، نو الله تعالی به ورته د هغه په څېر کور په جنت کې آباد کړي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

عثمان بن عفان رضي الله عنه غوښتل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مسجد د لومړۍ ودانۍ په پرتله په ښه بڼه جوړ کړي، خو خلکو دا کار بد وګاڼه، ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې د مسجد له ودانۍ څخه يې بڼې بدلون مونده، نو مسجد له ښختو څخه جوړ و او چت يې د خرما له پانو څخه، خو عثمان رضي الله عنه غوښتل چې په ډبرو او ګچ سره يې جوړ کړي، نو عثمان رضي الله عنه هغو ته وويل چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: څوک چې د الله تعالى د رضا لپاره جومات جوړ کړي، پرته لدې چې ځان ښودنه او شهرت يې موخه وي، نو الله تعالى به هغه ته د هغه د کار له جنس څخه غوره بدله ورکړي، چې هغه بدله هغه ته د الله تعالى لخوا په جنت کې د کور جوړول دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د جومات په جوړولو ټينګار او فضيلت يې.
٢. د جومات پراخه کول او نوى کول د ودانولو په فضيلت کې داخل دي.
٣. په ټولو عملونو کې الله ته د اخلاص اهميت.

(65089)

(186) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا فِضَّةٍ، لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا، إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ، صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ، فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ، فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ، كُلَّمَا بَرَدَتْ أُعِيدَتْ لَهُ، فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ، فَيَرَى سَبِيلَهُ، إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِمَّا إِلَى النَّارِ»

قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَالْإِبِلُ؟ قَالَ: «وَلَا صَاحِبُ إِبِلٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا، وَمِنْ حَقِّهَا حَلَبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا، إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ، بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ، أَوْفَرَ مَا كَانَتْ، لَا يَفْقِدُ مِنْهَا فَصِيلًا وَاحِدًا، تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَعَضُّهُ بِأَفْوَاهِهَا، كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا، فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ، فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِمَّا إِلَى النَّارِ»

قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ؟ قَالَ: «وَلَا صَاحِبُ بَقَرٍ، وَلَا غَنَمٍ، لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا،

إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ، لَا يَفْقِدُ مِنْهَا شَيْئًا، لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ، وَلَا جَلْحَاءُ، وَلَا عَضْبَاءُ تَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا وَتَطَؤُهُ بِأَظْلَافِهَا، كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا، فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ، فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِمَّا إِلَى النَّارِ»

قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَالْخَيْلُ؟ قَالَ: «الْخَيْلُ ثَلَاثَةٌ: هِيَ لِرَجُلٍ وِزْرٌ، وَهِيَ لِرَجُلٍ سِتْرٌ، وَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ، فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ وِزْرٌ، فَرَجُلٌ رَبَطَهَا رِيَاءً وَفَخْرًا وَنِوَاءً عَلَى أَهْلِ الْإِسْلَامِ، فَهِيَ لَهُ وِزْرٌ، وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ، فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ، ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللهِ فِي ظُهُورِهَا وَلَا رِقَابِهَا، فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ أَجْرٌ، فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ، فِي مَرْجٍ وَرَوْضَةٍ، فَمَا أَكَلَتْ مِنْ ذَلِكَ الْمَرْجِ، أَوِ الرَّوْضَةِ مِنْ شَيْءٍ، إِلَّا كُتِبَ لَهُ، عَدَدَ مَا أَكَلَتْ حَسَنَاتٌ، وَكُتِبَ لَهُ، عَدَدَ أَرْوَاثِهَا وَأَبْوَالِهَا، حَسَنَاتٌ، وَلَا تَقْطَعُ طِوَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا، أَوْ شَرَفَيْنِ، إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ عَدَدَ آثَارِهَا وَأَرْوَاثِهَا حَسَنَاتٍ، وَلَا مَرَّ بِهَا صَاحِبُهَا عَلَى نَهْرٍ، فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلَا يُرِيدُ أَنْ يَسْقِيَهَا، إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ، عَدَدَ مَا شَرِبَتْ، حَسَنَاتٍ»

قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَالْحُمُرُ؟ قَالَ: «مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِي الْحُمُرِ شَيْءٌ، إِلَّا هَذِهِ الْآيَةَ الْفَاذَّةُ الْجَامِعَةُ»: {فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ، وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ} [الزلزلة: ٨].

**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هریره- رضي الله عنه -څخه روایت دی وایي چې رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمایلي دي:** «د سرو او سپینو زرو هېڅ مالک نشته چې حق یې ترې نه ادا کوي مګر دا چې د قیامت په ورځ به ورته د اور تختې جوړې شي، او د جهنم په اور به سکروټې کړای شي او د دوی اړخونه، تندي او شاګانې به پرې په داسې ورځ کې داغل کېږي چې اوږدوالی یې د پنځوس زره کالو په اندازه دی، هر کله چې دا (د اوسپنې تختې) سړې شي بیا به ورته ګرمې کړای شي، تر دې چې د بندګانو تر منځ پرېکړه وشي، نو بیا به خپله لار یا جنت لوري ته وومومي او یا دوزخ لور ته».

**وویل شو: اې د الله رسوله، او د اوښانو په اړه څه؟ هغه وویل:** «او د اوښ هېڅ خاوند نشته چې دی یې ترې حق (زکات) نه ورکوي -او حق یې دا دی چې د اوب خور په ورځ اړمنو خلکو ته ولوشل شي- مګر دا چې په یوه لویه اواره ځمکه کې به ورته څملول شي چې ډېره پراخه به

وي، او هيڅ يو بچی به يې کم نه وي، ټول به حاضر وي او خپل خاوند به د پښو لاندې کوي او خولې به پرې لګوي، هر کله چې پرې لومړی اوښه تېره شي وروستی به ورپسې بيا راشي، دا کار به په هغه ورځ په دوامداره توګه جريان ولري چې اوږدوالی يې د پنځوس زره کالو په اندازه دی، تر دې چې د بندګانو تر منځه د جنت او يا دوزخ لور ته پرېکړه وشي»

وويل شو: اې د الله رسوله! او د غواګانو او مېږو په اړه څه؟ هغه وفرمايل: «او هېڅ د غواګانو او مېږو خاوند نشته چې دی يې ترې حق نه ورکوي مګر دا چې کله د قيامت ورځ شي، نو دی به ورته په يوه پراخه ځمکه کې څملول شي، او هېڅ يو مال به کم نه وي ټول به حاضر وي، هېڅ يو مال به پکې د تاوو ښکرونو والا نه وي، او نه به پکې بې ښکره وي او نه به پکې د مات ښکر والا وي ( بلکې د ټولو ښکرونو نېغ او سالم وي) نو په ښکرونو به يې وهي او په پښو به پرې ګرځي، هر کله چې پرې لومړی مال تېر شي وروستی به پرې بيا راوګرځي، دا کار به په ټوله هغه ورځ کې جريان ولري چې اوږدوالی يې د پنځوس زره کالو په اندازه وي، تر دې چې د بندګانو تر منځ د جنت او يا دوزخ لوري ته پرېکړه وشي».

وويل شو: اې د الله رسوله! د اسونو په اړه څه؟ هغه وفرمايل: «آسونه درې ډوله دي: يو ډول يې د سړي لپاره پيټی او ګناه ده، يو ډول يې پرده او يو ډول يې د انسان لپاره اجر او ثواب دی، نو کوم چې پيټی او ګناه ده، دا هغه اس دی چې د ځان ښودنې، وياړ او پر مسلمانانو د مغلوبېدو په موخه کارول کيږي، نو دا يې پر خاوند پيټی او ګناه ده، او کوم چې د هغه لپاره پرده ده، نو دا هغه آس دی چې د الله په لاره کې ترړل شوی وي، بيا يې د هغوی په څټونو او شاګانو کې د الله حق نه وي هېر کړی، نو دا يې د خاوند لپاره پرده ده، او کوم چې د ده لپاره اجر او ثواب دی، نو دا هغه اس دی چې خاوند يې د مسلمانانو لپاره د الله په لارکې په درو او باغچو کې ترلی وي، نو هر څومره چې په دې شنو باغچو او درو کې څرېږي او هر څه چې خوري د ده لپاره ليکل کيږي، څومره يې چې خوراک کړی وي همغومره نيکی ورته ليکل کيږي او د خرشنو او متيازو په اندازه يې ورته نيکی ليکل کيږي، او په هېڅ لوړه نه تېرېږي چې يوه او يا دوه لوړې تېرې کړي مګر دا چې الله تعالی به ورته د هغې د پښو د نښانو او خرشنو په اندازه نيکی وليکي، او په هېڅ نهر يې خاوند نه تېروي چې دی له هغې څخه اوبه وڅښي په داسې حال کې چې نه يې غوښتل اوبه ترې ورکړي، مګر دا چې الله تعالی به ورته د هر ګوټ په اندازه نيکی وليکي».

وويل شو: اې د الله رسوله! د خرو په اړه څه؟ هغه وفرمايل: «ما ته د خرو په باره کې لدې

بې ساری او جامع آیت پرته بل څه نه دي نازل شوي: {فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ، وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ} [الزلزلة: 8]. "نو څوک چې د ذرې په اندازه نیکي وکړي هغه به وګوري او څوک چې د ذرې په اندازه بدي وکړي هغه به يې وګوري". [صحيح حديث دی] - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د قيامت په ورځ د هغه چا د سزاګانو ډولونه بيان کړل چې د بېلابېلو مالونو زکات نه ادا کوي لکه:

لومړی: سره او سپين زر او داسې نور د تجارت مالونه چې زکات ورکول يې واجب وي خو زکات يې نه وي ورکول شوی، نو د قيامت په ورځ به ويلي کړای شي او د تختو په څېر به واړول شي او د دوزخ په اور به داغ کړای شي او خاوند ته به يې پرې عذاب ورکړی شي، نو اړخ، تندی او ملا به يې پرې وداغل شي، هر کله چې دا تختې سړې شي، بېرته به ګرمې کړای شي، او دا عذاب به د قيامت د ورځې په اوږدو کې په دوامداره توګه وي؛ هغه ورځ چې اوږدوالی يې د پنځوس زره کالو په اندازه دی، تر دې چې الله تعالی دخپلو بندګانو تر منځ فيصله وکړي، نو بيا به يا جنتي شي او يا دوزخي.

دويم: د هغو اوښانو خاوند چې حق او فرض زکات يې نه ورکوي او مسکينانو ته يې نه لوشي، نو دا به ورته په څو برابره لوي او څربې اوښې بدله شي او په شمېر کې به يې هم څو چنده زياتې شي، نو خاوند به يې ورته د قيامت په ورځ په يوه لويه اواره ځمکه څملول شي او په لغتو به يې وهي او خولې به پرې لګوي، هر کله چې پرې وروستۍ اوښه تېره شي لومړۍ به يې بېرته راوګرځي، دا حالات به د قيامت د ټولې ورځې په اوږدو کې جريان ولري؛ هغه ورځ چې اوږوالی يې د پنځوس زره کالو په اندازه دی، تر دې چې الله د خپلو بندګانو تر منځ پرېکړه وکړي، نو بيا به جنتي او يا دوزخي شي.

دريم: د غواګانو او مېږو خاوند -لکه پسونه او وزې- چې فرض زکات يې نه ورکوي، نو له دې شمېر څخه به زياتې ورکړل شي، په داسې حال کې چې هېڅ يوه به يې کمه نه وي، نو د قيامت په ورځ به ورته دی په يوه لويه اواره او برابره ځمکه څملول شي، په داسې حال کې چې د تاوو ښکرونو، بې ښکرو او ماتو ښکرونو والا حيوان به په کې نه وي، بلکې په ټولو صفتونو به برابر وي، نو په ښکرونو او لغتو به يې وهي، هر کله چې پرې وروستۍ يوه تېره شي لومړۍ به يې پرې بيرته پيل وکړي. او په همدې حال به د قيامت د ورځې په اوږدو کې وي؛ هغه ورځ چې اوږدوالی يې د پنځوس زره کلونو په اندازه دی، تر دې چې الله د خپلو مخلوقاتو تر منځ پرېکړه وکړي، نو بيا به يا جنتي شي او يا دوزخي.

څلورم: د آسونو ساتونکی، او آسونه درې ډوله دي:

لومړی: دا به د هغه لپاره درووند بار وي، او دا هغه څوک دی چې د ځان ښودنې، تکبر او د مسلمانانو پر وړاندې د جنګ لپاره یې ساتلي وي.

دویم: هغه دي چې د ده لپاره به پرده وي، او دا هغه څوک دې چې د الله په لار کې یې د جهاد لپاره ساتلي وي، بیا یې ورسره ښېګڼه کړې وي، داسې چې ښه واخه یې ورکړې وي او ټولې اړتیاوې یې ورته پوره کړې وي، او د ښځینه آسونو د تېرولو په مقابل کې یې پرې پیسې نه وي اخیستې.

دریم: هغه چې د ده لپاره به ثواب وي، دا هغه څوک دی چې د الله په لار کې یې د مسلمانانو په خدمت کې د جهاد لپاره ساتلې وي، په داسې حال کې چې په شنو دښتو او درو کې یې د څرېدلو لپاره پرېښې وي، نو د خوراک په اندازه به ورته الله نیکۍ ورکړي، او د دوی د خرشنو او بولو د شمېر په اندازه به نیکۍ ورکړي، او هر څومره د ځان پسې پرې راکاږي او په لوړو ګرندی منډه وهي، نو الله به د پښو د نښو او خرشنو په اندازه نیکۍ ورکوي، او هر کله یې چې خاوند په یوې ویالې ورولي او ترې څروبه کیږي؛ په داسې حال کې چې هغه نه غوښتل اوبه ورکړي، مګر دا چې الله به ورته د هر ګوټ په اندازه نیکۍ ورکړي.

بیا له هغه صلی الله علیه وسلم څخه د خرو په اړه پوښتنه وشوه چې: آیا دوی د آسونو په څېر دي؟

نو هغه وفرمایل چې: په دې اړه پرې له دې نادر آیت پرته هیڅ کوم ځانګړی قانون نه دی نازل شوی، چې ټولو پیروېو او نافرمانیو ته شامل وي او هغه د الله تعالی دا وینا ده: {فمن يعمل مثقال ذرة خيرًا يره، ومن يعمل مثقال ذرة شرًا يره} .[الزلزلة: 8]، یعنې او څوک چې د یوې ذرې په اندازه نیکي وکړي، وبه یې ګوري. او څوک چې د یوې ذرې په اندازه بدي وکړي وبه یې ګوري. یعنې چا چې خرونه د ثواب په نیت وساتل؛ ثواب به یې ووینې او چا چې د نافرمانیو په نیت وساتل سزا به یې ووینې، او دا (آیت) ټولو عملونو ته شامل دی.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د زکات د ادا کولو مکلفیت، او د مخنیوي پر وړاندې یې سخت ګواښ.

٢. هغه څوک چې د سستۍ له امله زکات نه ورکوي کافر نه دی، بلکې په سخت خطر کې دی.

٣. انسان ته د هغه جزئیاتو اجر ورکول کیږي چې د اطاعت په عمل کې واقع کیږي، کله یې چې د اصل اراده کړې وي، که څه هم د هغو تفصیلاتو اراده ونه لري.

٤. په مال کې له زکات پرته حق هم شته.

٥. په اوښانو کې صدقه دا ده چې د اوبه خور پرمهال حاضرو غریبانو ته ولوشل شي؛ دا به هم د غریبانو لپاره له دې اسانه وي چې کورونو ته د سوال لپاره لاړ شي او هم به د مېرږو لپاره ښه وي، ابن بطال ويلي چې: په مال کې دوه حقونه دي: عيني فرض او داسې نور. او د اوښې لوشل له هغو حقونو څخه دي چې غوره اخلاق بلل کېږي.

٦. په اوښانو، غواګانو او پسونو کې واجب حق دا هم دی چې د مالونو په تېرولو يې پېسې وانه خيستل شي.

٧. د خرو او هر هغه څه حکم چې په اړه يې حکم نه وي راغلی، دا د الله تعالی په دې وينا کې داخل دي چې فرمايي: (فمن يعمل مِثقال ذرة خيرًا يَره، ومن يعمل مِثقال ذرة شرًا يره). (نو چا چې د ذرې په اندازه نېکي وکړه ثواب به يې وګوري، او چا چې د ذرې په اندازه بدي وکړه سزا به يې وګوري).

٨. په دې آيت کې نيکۍ کولو ته هڅول دي که څه هم لږه وي او له بدۍ وېرول دي که څه هم ډېره سپکه وي.

(6611)

**(187) – عن أبي هريرة رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ، وَمَا زَادَ اللَّهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللَّهُ».**

**[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «صدقه مال نه کموي، او الله تعالی په بخښنې سره بنده ته نه زياتوي مګر عزت، او هېڅوک د الله تعالی په وړاندې تواضع نه کوي مګر دا چې الله تعالی يې لوړوي».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې: صدقه مال نه کموي، بلکې له هغې څخه آفتونه لرې کوي او الله تعالی يې خاوند ته په بدل کې لوی خير ورکوي، نو دا زياتوالی شو، نه کموالی.

او د غچ اخستلو او يا رانيولو د توان سره سره بخښنه کول د انسان قوت او عزت زياتوي.

او هېڅوک د الله جل جلاله لپاره عاجزي او خاکساري نه کوي؛ نه د چا له وېرې، نه د جوړ جارۍ په خاطر او نه د هغه څخه د ګټې په لټه کې، مګر دا چې د هغه اجر به د مرتبې او شرف لوړېدل وي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. خیر او کامیابي د شریعت په پیروی او د نیکو عملونو په کړنو کې ده، که څه هم ځیني خلک بل ډول فکر کوي.

(5512)

( 188) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «قَالَ اللَّهُ: أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:**

«الله جل جلاله فرمایلي: اې د آدم زویه! (د الله جل جلاله) په لاره کې لګښت (انفاق) وکړه، چې زه پر تا انفاق وکړم، (یعنې پراخي دربانديې راولم)». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله فرمایلي دي: اې د آدم زویه! کومې نفقې چې دربانديې واجب دي او یا دې په حق کې مستحبې دي - نو ورېې کړه؛ زه به پر تا پراخي راولم او په بدل کې به یې عوض درکړم او برکت به درته پکې واچوم.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د الله جل جلاله په لار کې په لګښت او صدقې ورکولو ټینګار.

٢. په خیریه کارونو کې لګښت د رزق د زیاتوالي او خو چنده کېدلو له سترو اسبابو څخه دي، او دا چې الله تعالی بنده ته د هغه څه عوض ورکوي چې لګولي یې دي.

٣. دا حدیث د هغو احادیثو له جملې څخه دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له خپل رب څخه روایتوي او دې ته قدسي یا الهي حدیث ویل کیږي، دا هغه ډول حدیث دی چې الفاظ او معنا دواړه یې د الله جل جلاله له لوري دي، خو توپیر یې دا دی چې قدسي حدیث د قرآن کریم ځانګړتیاوې نه لري، څکه د قرآن په لوستلو سره عبادت کیږي، او طهارت ورته کیږي،

په هغه سره ننګول شوي دي، او دا چې هغه یو اعجازي کلام دی او داسې نور.

(5805)

**(189) – عن أبي مسعود رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ». [صحيح] - [متفق عليه]**

له ابو مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «کله چې يو سړی د ثواب په نيت په خپل اهل او عيال باندې نفقه کوي، نو دا د هغه لپاره صدقه ده».
[صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې کله يو سړی په خپلې کورنۍ لګښت کوي چې نفقه يې پرې واجب ده، لکه ميرمن يې، مور او پلار يې، اولادونه يې او داسې نورو او پدې سره يې نيت الله تعالى ته نږديوالی او له هغه څخه د اجر غوښتل وي نو د نوموړي انسان لپاره دا صدقه ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په کورنۍ باندې په مصرف کولو سره د ثواب ترلاسه کول.
٢. مؤمن په خپل عمل سره د الله جل جلاله خوښي او له هغه څخه اجر او ثواب غواړي.
٣. هر کار بايد په ښه نيت سره وشي، چې لدې څخه په کورنۍ باندې د لګښت کولو پر مهال نيت هم دی.

(6460)

**(190) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ». [صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:**
**«کله چې انسان مړ شي نو عمل يې قطع کيږي پرته له درېو څيزونو څخه: جاريه صدقه، علم چې ګټه ترې اخيستل کيږي، او صالح اولاد چې دعا ورته وکړي».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د مړي عمل د هغه په مرګ سره پرې کېږي نو له مرګ وروسته ورته نيکي نه رسيږي مګر په دې درېو څيزونو: ځکه چې دی د همدې درې واړو لامل و:

لومړی: صدقه چې ثواب يې دوامداره وي او نه پرې کېږي لکه وقف، جومات جوړول، د څاګانو کېندل او داسې نور.

دوهم: هغه علم چې خلکو ته يې ګټه رسيږي لکه: د علمي کتابونو تاليف، يا دا چې يو چاته يې علم ښوده، نو هغه شخص يې له مرګ وروسته علم نشروي.

دريم: مؤمن او صالح اولاد، چې خپل مور او پلار ته دعا کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. علماوو په دې خبره اجماع کړې چې انسان ته د هغه له مرګ نه وروسته د ځينو کارونو ثواب رسيږي لکه: جاريه صدقه، هغه علم چې نور ترې ګټه اخلي، دعا او په نورو حديثونو کې د: حج يادونه هم شوې ده.

٢. پدې حديث کې يې دا درې په ځانګړې توګه ياد کړي دي؛ ځکه چې دا د ښېګڼو بنسټونه دي، او د خير د خاوندانو موخه هم همدا وي چې له مرګ نه وروسته يې پاتې شي.

٣. هر هغه علم چې ګټه ترې اخيستل کيږي هغه ته يې ثواب رسيږي، خو د ټولو په سر کې شرعي علم او مرستندويه علوم دي.

٤. علم د دې درې واړو څيزونو فايدور يو دی؛ ځکه چې په علم سره هغه چاته ګټه رسيږي چې زده کوي يې، په علم کې د شريعت ساتنه ده، پدې سره خلکو ته عامه ګټه رسيږي، او دا تر ټولو زيات عام او شامل دی، ځکه چې هغه ستا له شته علم څخه ستا په ژوند او ستا له مرګ نه وروسته زده کړه کوي.

٥. د صالحه اولادونو په روزنه ټينګار؛ ځکه همدوی دي چې په اخرت کې مور او پلار ته ګټه رسوي، او له فايدو څخه يې دا ده چې له مرګ نه وروسته ورته دعا کوي.

٦. له مرګ نه وروسته د مور او پلار سره په نيکی کولو ټينګار، او دا هغه نيکي ده چې اولاد ترې ګټه اخلي.

٧. دعا مړي ته ګټه رسوي، اګر که له اولاد پرته د بل چا لخوا وي، خو اولاد ځکه په ځانګړې توګه ياد شوی چې هغه تر مرګه پورې په دوامداره توګه دعا کوي.

(65566)

(191) – عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ أَنَّهُ قَالَ: أَقْبَلْتُ أَقُولُ مَنْ يَصْطَرِفُ الدَّرَاهِمَ؟ فَقَالَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ وَهُوَ عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنهما: أَرِنَا ذَهَبَكَ، ثُمَّ ائْتِنَا، إِذَا جَاءَ خَادِمُنَا، نُعْطِكَ وَرِقَكَ، فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: كَلَّا، وَاللهِ لَتُعْطِيَنَّهُ وَرِقَهُ، أَوْ لَتَرُدَّنَّ إِلَيْهِ ذَهَبَهُ، فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ».

**[صحيح] - [متفق عليه]**

**د مالک بن اوس بن الحدثان نه روایت دی وایي چې: ما وویل چې څوک درهم بدلوي؟ نو طلحه بن عبید الله د عمر بن الخطاب سره و، هغه وویل: موږ ته دې خپل زر راوښایه، کله چې زموږ خادم راشي، موږ به تاته د سپینو زرو روپۍ درکړو - نو عمر بن الخطاب وویل: نه! په الله قسم چې همدا اوس به یې د سپینو زرو روپۍ ورکوې او یا به یې زر بېرته ورکوې، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «سپین زر په سرو زرو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او غنم په غنمو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او وربشې په وربشو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او خرما په خرما بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي».**

[صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

یو تابعي چې مالک بن اوس دی وایې چې له هغه سره د سرو زرو دینارونه وو او غوښتل یې چې د سپینو زرو په درهمو یې بدل کړي، نو طلحة بن عبید الله رضي الله عنه ورته وویل: خپل دینارونه دې موږ ته راکړه چې وېې ګورم! بیا یې چې کله د اخیستلو اراده وکړه نو ورته یې وویل: کله چې زموږ خادم راغی بیا راشه چې د سپینو زرو دینارونه درکړم، دا په داسې حال کې چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه په مجلس کې حاضر و، نو دا ډول راکړه ورکړه یې بده وګڼله، او طلحه ته یې قسم ورکړ چې سپین زر همدا اوس ورکړي او یا یې بېرته خپل هغه سره زر ورکړي چې تړې اخیستي یې وو، او د دې لامل یې داسې بیان کړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د سرو زرو په بدل کې د سپینو زرو خرڅول او یا برعکس راکړه ورکړه باید لاس په لاس وشي، او دا ورکړه باېد سود او باطله بیعه وي، نو سره زر په سپینو زرو او سپین زر په سرو زرو خرڅول روا نه دي مګر دا چې لاس په لاس وي او له یو بل څخه یې سملاسي تر لاسه کړي، همدا رنګه اوړه په اوړو، غنم په غنمو، وربشې

په وربشو، خرما په خرما نه خرڅېږي مګر دا چې سره په وزن او پیمانه کې برابر وي، او دا راکړه ورکړه باید لاس په لاس تر سره شي، له دې شیانو څخه هېڅ شی داسې نه خرڅېږي چې یو یې حاضر او بل یې په نېټه وي، همدارنګه مخکې له دې به سره پلورونکی او پېرونکی نه جلا کېږي چې جنس یې تر لاسه کړی نه وي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. په دې حدیث کې پنځه ډوله شیان ذکر شوي دي: سره زر، سپین زر، غنم، وربشې او خرما، نو که چېرته یو جنس په خپلو کې سره خرڅ راخرڅ شي نو باید دوه شرطه پکې وي: تقابض یعنې په هغه مجلس کې چې بیعه پکې تر سره کېږي باید پېرونکی جنس او پلورونکی قیمت تر لاسه کړي. او بل په وزن کې یو شی والی لکه: سره زر په سرو زرو، او که داسې ونه شي نو د زیاتوالي سود په کې راځي، او که چېرته جنسونه سره مختلف وو لکه: غنم په سپینو زرو نو بیا د عقد د صحت لپاره یو شرط لازم دی چې هغه د عقد په مجلس کې قبضول دي، که نه نو د نیټې سود پکې راځي.

٢. د عقد له مجلس څخه مراد: د راکړې ورکړې ځای دی، برابره خبره ده که پلورونکی اوپېرونکی ناست وي، روان وي او یا سپاره وي، او له جلا کېدو څخه موخه هغه جلا کېدل دي چې خلک یې په دودیز ډول جلا کېدل بولي.

٣. په حدیث کې ممانعت د سرو زرو ټولو ډولونو ته شامل دی؛ هغه که وهل شوي سکه وي (لکه دینار) او یا بل ډول، همدا رنګه د سپینو زرو ټول ډولونه؛ که وهل شوي (لکه درهم) او ناوهل شوي.

٤. نن سبا په نغدي اسعارو کې هم هغه څه واجب دي چې د سرو او سپینو زرو په راکړې ورکړې کې واجب و، یعنې که چېرته دې غوښتل چې یوه کرنسي (بانکنوټونه) پر بله تبادله کړې لکه ریال په درهم، نو د دواړو خواوو د موافقې سره سم په زیادت باندې تبادله روا ده. خو د خرڅلاو په مجلس کې باید هر یو خپلې پیسې قبض کړي، کنه معامله باطلېږي او په حرامه سودي معامله اوړي.

٥. سودي معاملې روا نه دي او عقد یې باطل دی، که څه هم دواړه طرفه پرې راضي وي؛ ځکه چې اسلام د انسان او ټولنې دواړو د حق ساتنه کوي، اګر که دی ترې تېر هم شي.

٦. هغه څوک به د منکر مخنیوی کوي چې په وس یې پوره وي.

٧. له بدى د منع کولو پر مهال د دلیل ذکر کول، لکه څنګه چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه ذکر کړ.

(5889)

(192) – عَنْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ رضي الله عنه قَالَ: لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ انْجَفَلَ النَّاسُ قِبَلَهُ، وَقِيلَ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ، قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ، ثَلَاثًا، فَجِئْتُ فِي النَّاسِ لِأَنْظُرَ، فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهُ، عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ، فَكَانَ أَوَّلُ شَيْءٍ سَمِعْتُهُ تَكَلَّمَ بِهِ أَنْ قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصِلُوا الْأَرْحَامَ، وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ». **[صحيح]**

**- [رواه الترمذي وابن ماجه وأحمد]**

له عبدالله بن سلام رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته راغی نو خلک یې مخې ته ورتول شول او داسې ویل کېدل چې: د الله رسول صلی الله علیه وسلم راغلی! د الله رسول صلی الله علیه وسلم راغلی! د الله رسول صلی الله علیه وسلم راغلی! درې ځلې. نو زه په خلکو کې ورغلم چې ویې ګورم، کله چې ما د هغه مخ ولید نو پوه شوم چې د درواغجن سړي مخ نه دی، نو لومړی شی چې ما له هغه څخه واورېد دا و چې ویې ویل: «اې خلکو، سلام خپور کړئ، خواړه ورکړئ، خپلولي وپالئ او د شپې په داسې حال کې لمونځ کوئ چې خلک ویده وي، نو جنت ته به په سلامتی سره داخل شئ». [صحیح حدیث دی] - [ترمذي ابن ماجه او احمد روایت کړی]

## تشريح:

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته راغی او خلکو ولید، نو خواته یې ورچابک شول، له دوی څخه یو تن عبد الله بن سلام یهودی هم و، نو کله یې چې ولید، پوه شو چې مخ یې د درواغجن سړي نه دی، ځکه چې رڼا، ښکلا، وقار او رېښتینولي یې له ورایه برېښېده. نو لومړی هغه څه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې واورېدل دا و چې خلک یې داسې کارونو ته هڅول چې جنت ته د داخلېدو لامل ګرځي لکه:

لومړی: د سلام ډالۍ خپرول، دا صفت په ډاګه کول او د هر چا پر وړاندې يې زيات کارول که هغه پېژني او يا نه.

دويم: په صدقې، ډاليو او ميلمه پالنې سره خواږه ورکول.

دريم: له هغه چا سره اړيکې پالل چې د مور او يا پلار له اړخه دې خپلوان وي.

څلورم: د شپې لمونځ په داسې حال کې چې خلک ويده وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دمسلمانانو په منځ کې د سلام اچولو ډالۍ خپرول، او له مسلمانانو پرته چې نور خلک دي نو لومړی ورته سلام نه اچول کيږي او که چېرته يې درته وويل چې السلام عليکم، نو يوازې په وعليکم سره بايد جواب ورکړل شي.

(5520)

(193) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، فَقَالَ: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} [المؤمنون: ٥١] وَقَالَ: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: ١٧٢] ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ: يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**

«اې خلکو! الله پاک دی او له پاکۍ پرته بل څه نه قبلوي، او الله تعالی مومنانو ته د هغه څه امر کړی چې رسولانو ته يې امر کړی و، نو فرمايلي يې دي: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} يعنې: (اې رسولانو! تاسو له پاکيزه څيزونو خورئ او نيک عملونه کوئ، بېشکه زه په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ، ښه عالم يم. [المؤمنون: 51] او فرمايلي يې دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: 172] يعنې: (اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له هغو پاکو حلالو څيزونو څخه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي. بيا

يې د داسې يو سړي يادونه وکړه چې اوږد سفر يې کړی وي، سر يې ببر وي او په ګردونو ککړ وي، د اسمان لور ته لاسونه پورته کړي او ووايي چې اې ربه! اې ربه! په داسې حال کې چې خوراک يې حرام وي، څښاک يې حرام وي، لباس يې حرام وي او په حرامو تغذيه شوی وي، نو څنګه به يې دعا قبوله شي؟». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله پاک، ستايل شوی او له هر ډول نېمګړتياوو او عيبونو څخه پاک او په کمالاتو سره ياد شوی دی، او الله جل جلاله له عملونو، ويناوو او عقايدو څخه يوازې هغه قبلوي چې پاک وي، کوم چې خاص د هغه لپاره وي، د هغه د پيغمبر د لارښوونو سره برابر وي، او نه ښايي چې له هغه پرته الله تعالی ته پر بل څه سره څوک نږدې شي، او تر ټولو ستر لامل چې په هغه سره د مؤمن عملونه پاکيزه کيږي، هغه پاک او حلال خواړه دي، چې په دې سره يې عمل پاکيږي. له دې امله الله تعالی مومنانو ته پر هغه څه امر کړی چې پېغمبرانو ته يې پرې کړی و، چې هغه حلال خواړه او نېک عملونه دي، الله تعالی فرمايلي يې دي: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} **(اې رسولانو! تاسو له پاکيزه څيزونو خورئ او نېک عملونه کوئ. بېشکه زه په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ، ښه عالم يم)**. او فرمايلي يې دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ}. يعني: **(اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له هغو پاکو حلالو څيزونو څخه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي)**.

بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د حرامو خوړلو په اړه خبرداری ورکړ، کوم چې عمل فاسدوي او د قبلېدو مخه يې نيسي، که څه هم د قبلېدو لپاره يې څومره ظاهري اسباب وکاروي لکه:

لومړی: د طاعت په مقصد د سفر اوږدول لکه حج، جهاد، کورنۍ اړيکې پالل او داسې نور.

دوهم: ګډوډ وېښتان چې ګمنځ شوي نه وي، د ځان او کالیو رنګ يې خړپړ کېدل او په خاورو ککړېدل، هغه څه چې د ده پر اړمنتيا دلالت کوي.

دريم: د اسمان لور ته په دعا سره لاسونه پورته کوي.

څلورم: الله تعالی ته د هغه نومونه وسيله کوي او زيات ټينګار کوي لکه چې وايي: اې ربه! اې ربه!

سره له دې ټولو اسبابو يې بيا هم دعا نه اورېدل کيږي؛ ځکه چې خوراک، څښاک او لباس يې حرام دی او په حرامو سره خوراک ورکول شوی دی، نو لرې ده چې د دا ډول صفت لرونکو دعا قبوله شي، او څنګه به يې دعا قبوله شي؟!

## د حديث له فايدو څخه:

١. په ذات، صفتونو، افعالو او احکامو کې د الله جل جلاله کمال او بشپړتیا.
٢. الله جل جلاله ته د عمل پر اخلاص او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په پیروي امر.
٣. د هغه څه کارول چې عمل ته يې هڅول کېږي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایلي: "الله تعالی مومنانو ته پر هغه څه امر کړی چې پېغمبرانو ته يې پرې کړی دی"، نو کله چې مؤمن پوه شي چې په دې کار پېغمبرانو ته امر شوی، نو هغه په دې سره پیاوړی کېږي او اطاعت ته هڅول کېږي.
٤. حرام خوړل د دعا د قبلېدو له موانعو څخه یو دی.
٥. د دعا د قبلېدلو له اسبابو څخه پنځه اسباب: یو يې: د سفر اوږدوالی؛ په کوم سره چې په انسان کې عاجزي پیدا کېږي او عاجزي د قبلېدو له سترو لاملونو څخه یو دی، دویم: د اړتیا حالت (اضطرار)، دریم: د آسمان لور ته لاسونه پورته کول، څلورم: پر الله جل جلاله د هغه د ربوبیت په یادولو سره ټینګار کول چې دعا قبوله کړي او دا هم یو له هغو سترو اسبابو څخه یو دی چې د دعا قبلېدل پرې غوښتل کېږي، پنځم: پاکیزه خوراک او څښاک.
٦. د حلال او پاکیزه خوراک خوړل د نیکو عملونو په کولو کې مرسته کوي.
٧. قاضي ویلي: پاک د پلیت او ناپاک ضد دی، نو کله چې پرې الله تعالی خوک یاد کړي موخه ترې دا وي چې هغه ذات له هر ډول نیمګړتیاوو او آفتونو څخه پاک دی، او کله چې پرې بنده په مطلق ډول یاد شي نو موخه ترې دا وي چې له ناوړه اخلاقو او عملونو څخه پاک دی او پر ضد يې موصوف دی او کله چې پرې مال یاد شي نو موخه ترې حلال او غوره مال وي.

(4316)

(194) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا، أَوْ وَضَعَ لَهُ، أَظَلَّهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ». **[صحيح]** - **[رواه الترمذي وأحمد]**

**له ابو هریره- رضي الله عنه -څخه روایت دی وایي چې رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمایلي دي:** «خوک چې ناداره کس (قرضدار) ته مهلت ورکړي او یا ورته له یو څه قرض څخه تېر شي نو الله تعالی به يې د قیامت په ورځ د خپل عرش تر سیورې لاندې راولي چې په هغه ورځ د هغه له سیورې پرته بل سیوری نه شته». [صحیح حدیث دی] - [ترمذي او احمد روایت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک قرضدار ته مهلت ورکړي او يا ورته له يو څه قرض څخه تېر شي، نو بدله يې دا ده چې الله تعالی به يې د قيامت په ورځ د خپل عرش تر سيورې لاندې راولي، په هغې ورځ چې لمر به پکې د بندګانو سرونو ته رانږدې شي او تودوخه به يې پرې زياته شي. نو هېڅوک به سيورى نه مومي مګر هغه څوک چې الله تعالى په سيوري کړى وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله تعالی پر بندګانو د اسانتيا راوستلو فضيلت او دا چې دا - کار - د قيامت د ورځې له وحشتونو څخه د خلاصون يوه وسيله ده.
٢. بدله د عمل له جنس څخه وي (يعني چا چې څه وکړل، هغه به ويني).

(4186)

(195) – عن جابر رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ، وَإِذَا اشْتَرَى، وَإِذَا اقْتَضَى». [صحيح] - [رواه البخاري]

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «الله تعالى دې په هغه انسان رحم وکړي چې د پلورلو، اخيستلو او قرض غوښتلو په وخت کې اساني کوي».
[صحيح حديث دى] - [بخاري روايت کړى]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه چا لپاره د رحمت غوښتنه کړې ده څوک چې په پلور کې اساني او سخاوت کوي. هغه په پېرودونکي باندې په قيمت کې سختي نه کوي او د هغه سره ښه چلند کوي. اساني کوونکى، عزتمند او سخاوتمند؛ کله چې اخيستل کوي؛ چې نه وهي تر څو د توکي بيه راټيټه کړي. اساني کوونکى، عزتمند او سخي؛ کله چې د خپلو پورونو د ادا کولو غوښتنه کوي؛ په بې وزلو او مسکينانو باندې فشار نه راوړي، بلکې په نرمى او مهربانى سره ترې غوښتنه کوي، او بې وزله خلکو ته مهلت ورکوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د شريعت له مقاصدو څخه د هغه څه ساتل دي چې د خلکو تر منځ د اړيکو سمون رامنځته کوي.
٢. په اخيستلو خرڅولو او داسې نورو معاملو کې د خلکو تر منځه د لوړو اخلاقو کارولو ته هڅول.

(3716)

(196) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «كان رجلٌ يُدَايِنُ الناسَ، فكان يقول لفتاه: إذا أتيتَ مُعسِرًا فتجاوز عنه، لعل اللّهَ يَتجاوزُ عنا، فلقي اللّهَ فتجاوز عنه». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «يو سړی و چې خلکو ته به يې پور ورکاوه، نو خپل غلام ته به يې ويل: کله چې داسې سړي ته ورغلې چې په تنګسيتا کې و نو ورته ترې تېر شه، ښايي الله مونږ ته زمونږ - له ګناهونو - څخه تېر شي، نو د الله تعالی سره پداسې حال کې مخ شو چې له ګناهونو يې ورته تېر شو». [صحيح حديث دی – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه سړي په اړه خبر ورکوي چې له خلکو سره به يې په قرض معامله کوله او يا به يې په نيټه خرڅول کول، او خپل هغه غلام ته به يې ويل چې له خلکو يې د قرضونو غوښتنه کوله: کله چې قرضدار ته ورغلې او هغه څه نه درلودل چې شته قرض پرې د ناتوانی له امله ادا کړي، نو" ورڅخه تېر شه"؛ دا چې يا ورته وخت ورکړې او په غوښتنه کې پرې سختي ونه کړې، او يا دا چې څه ورسره وي هماغه ورسره ومنې اګر که کم هم وي، پدې تمه چې الله تعالی ورته له ګناهونو څخه تېر شي او بخښنه ورته وکړي، نو کله چې مړ شو الله ورته بخښنه وکړه، او له ګناهونو يې ورته تېر شو.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له خلکو سره په چلند کې نرمي، هغوی ته بخښنه کول او تنګ لاسي ته تېرېدل د قيامت په ورځ د بنده لپاره د خلاصون له سترو اسبابو څخه دي.

٢. له مخلوق سره نيکي او له الله سره اخلاص کول د هغه د رحمت په هيله د ګناهونو د بخښنې له لاملونو څخه دي.

(3753)

(197) – عن خَولة الأنصاريةِ رضي الله عنها قالت: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: «إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ، فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له خَولة الأنصارية رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: «ځينې خلک د الله په مال کې په ناحقه؛ ناوړه لګښت کوي، نو د قيامت په ورځ د دوی لپاره اور (دوزخ) دی».** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو خلکو په اړه خبر ورکوي چې د مسلمانانو په مالونو کې ناوړه تصرف کوي او په ناحقه يې اخلي، دا (تصرف) هر ډول مال ته شامل دی چې راټولېږي او يا په ناروا توګه تر لاسه کيږي او بې ځايه په ناحقه ځايونو کې لګول کيږي، پدې کې د يتيمانو مالونه، وقف، په امانت منکرېدل او له حق پرته له عامه مالونو څخه اخيستل شامل دي.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د قيامت په ورځ د دوی جزا دوزخ دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. کوم مال چې د خلکو په لاس کې دی هغه د الله مال دی، د هغوی په واک کې يې ورکړی دی تر څو يې په روا لارو کې مصرف کړي، او په ناحقه يې له مصرف څخه ډډه وکړي، دا (حکم) د واليانو او نورو خلکو لپاره عام دی.

٢. په عامه مال کې د شريعت سختي او دا چې چا ته له دې څخه کوم څه وسپارل شول نو د قيامت په ورځ به د هغې د راټولولو او مصرف کولو حساب ورسره کيږي.

٣. په دې خبرتيا کې هغه کسان شامل دي چې په ناروا توګه په مال کې لاس وهنه کوي، برابره خبره ده که دا مال يې خپل وي يا د بل چا.

(5331)

(198) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قَالَ اللَّهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ، إِلَّا الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ، وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَصْخَبْ، فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ المِسْكِ، لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا: إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ، وَإِذَا لَقِيَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**
«الله تعالی فرمايي: د بني آدم هر عمل د هغه لپاره دی پرته له روژې څخه چې هغه زما لپاره ده او زه پرې اجر ورکوم او روژه ډال دی او کله چې په تاسو کې د يو چا د روژې ورځ وي نو پوچې خبرې او په لوړ اواز دې بد رد نه وايي، که چېرته ورته چا کنځلې وکړې او يا يې ورسره شخړه کوله، نو ودې وايي چې زه روژه دار سړی يم، او قسم په هغه ذات چې د محمد صلى الله عليه وسلم نفس د هغه په لاس کې دی چې د روژه دار انسان د خولې بوی د الله تعالی په نزد د مشکو له بوی څخه پاکيزه دی، د روژه دار لپاره دوه خوښۍ دي چې خوشحاله کوي يې: کله چې روژه ماته کړي نو خوشحاله شي او کله چې د خپل رب سره مخ شي نو په خپله روژه خوشحاله شي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې الله جل جلاله په قدسي حديث کې فرمايلي دي:
د بنی آدم د هر عمل نيکۍ يو په لسه تر اووه سوه چنده پورې زياتېږي، پرته له روژې څخه، چې هغه زما لپاره ده او ځان شودنه پکې نه کيږي، نو زه پرې بدله ورکوم او زه پوازې د هغه د نيک عمل د ثواب په اندازه پوهېږم چې څو چنده يې کړم او نيکۍ يې ورته څومره زياتې کړم.
بيا يې وفرمايل: (او روژه ډال دی) او د دوزخ له اور څخه د ساتنې، پوښ او قوي کلا ده؛ ځکه چې له خواهشاتو څخه ځان ساتل او ګناه کول دي او دوزخ په خواهشاتو پوښل شوی دی.

(فإذا كان يوم صوم أحدكم فلا يرفث) نو ناوړه خبرې دې نه کوي لکه د کوروالي او مستی په اړه او نه مطلق پوچه وينا دې نه کوي.

(ولا يَصخب) او د جنګ جګړې پر مهال دې چغې نه وهي.

(فإنْ سابّه أحد أو قاتله) نو که ورته (په روژه کې) ښکنځل وکړه او یا يې ورسره شخړه وکړه؛ نو ودې وايې چې: زه روژه دار يم؛ کېدی شي ترې منع شي، خو که هغه خامخا په رښتيا سره شخړه کوله نو تر ټولو (په لږ زور کارولو سره دې) منع کړي، لکه تېری کوونکی چې څنګه منع کيږي.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم ياد کړ او د هغه ذات په نوم يې لوړه وکړه چې نفس يې د هغه په واک کې دی چې د روژې له امله د روژه لرونکي خوله بدبويه کېدل به د الله تعالی په نېز د قيامت په ورځ د مشکو له بوی څخه ډېره خوشبو وي، او د هغو مشکو له کارولو څخه به ډېر ثواب ولري چې د جمعې په لمانځه او د ذکر په مجلسونو کې يې کارول سنت دي.

روژه دار لره دوه خوشحالۍ دي چې پرې به خوښ شي: کله چې روژه ماته کړي نو د لوږې او تندې په ختمېدو سره خوشحاليږي، او پدې چې د روژې د ماتولو اجازه ورکړل شوه، همدارنګه د روژې په بشپړولو او د عبادت په پای ته رسولو او دا چې رب يې پرې اساني راوسته او په راتلونکي کې د روژې نيولو توان ورکړي.

(وإذا لقي ربه فرح بصومه) او کله چې د خپل رب سره مخ شي نو د خپلې روژې په بدله او ثواب به خوشحاله شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د روژې فضيلت او دا چې روژه خپل خاوند په دنيا کې د شهوتونو او په اخرت کې د اور له عذاب څخه ساتي.

٢. د روژې له آدابو څخه يو دا دی چې له فحشا او بې ځايه خبرو ډډه وشي او د خلکو په ضرر صبر وشي او د هغوی د سپکاوي په مقابل کې په صبر او مهربانۍ سره ځواب ورکړل شي.

٣. که روژه دار يا عبادت کوونکی د خپلو عبادتونو په بشپړېدو او پای ته رسولو خوشحاله شي، دا يې په اخرت کې له اجر څخه څه نه کموي.

٤. پوره خوښي د الله جل جلاله سره په ملاقات کې ده، هغه مهال؛ کله چې صبر کوونکو او روژه لرونکو ته بې حسابه اجر ورکول کيږي.

٥. د ضرورت او مصلحت لپاره خلکو ته د خپل عبادت په اړه خبر ورکول ریا نه ده لکه چې فرمايي: (إني صائم)، زه روژه یم.

٦. بشپړ روژه لرونکی هغه څوک دی چې (د بدن) غړو یې له ګناهونو، ژبې یې له دروغو، پوچو ویناوو، او داسې دروغ جوړولو چې خلک پرې دوکه کړي، او ګېډه یې له خوراک او څښاک څخه روژه وي.

٧. د روژې پر مهال د شور، جنجال او چغو وهلو پر ممانعت ټینګار، کنه نو له روژه دار پرته لدې کارونو هم خلک منع شوي دي، خو د روژې پر مهال پرې زیات ټینګار شوی دی.

٨. دا حدیث هغه ډول حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له خپل رب څخه روایتوي او قدسي یا الهي حدیث ورته ویل کیږي؛ دا هغه حدیث دی چې الفاظ او معنا دواړه یې د الله جل جلاله له خوا دي، خو د قرآن کریم ځانګړتیاوې نه لري چې له نورو کتابونو سره یې پرې توپیر کیږي، لکه دا چې په تلاوت کولو سره یې عبادت، د را اخستلو لپاره یې طهارت کیږي او خلک پرې ننګول شوي دي.

(3546)

**(199) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» [صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هریره- رضي الله عنه -څخه روایت دی وایې چې رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمایلي دي: «چا چې د رمضان روژه - په الله تعالی - د ایمان په وجه د ثواب په نیت ونیوله؛ نو مخکني ټول ګناهونه یې وبخښل شي».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې چا د رمضان میاشتې روژه په الله تعالی د ایمان او روژې د فرضیت له مخې ونیوله - او هغه څه چې الله تعالی د روژه نیوونکو لپاره له ستر ثواب څخه چمتو کړي دي - او موخه یې یوازې د الله رضا وي؛ نه ځان ښودنه او شهرت، نو تېر ګناهونه به یې وبخښل شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اخلاص فضيلت او په روژې او نورو نيكو اعمالو كې يې اهميت.

(4196)

(200) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ. [صحيح] - [رواه مسلم]

**له عائشې أم المؤمنين رضي الله عنها څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د (روژې د مياشتې) په وروستيو لسو شپو كې د نورو شپو په پرتله زيات زيار ويسته.** [صحيح حديث دى] [مسلم روايت كړى].

## تشريح:

كله به چې د روژې وروستى لسيزه راورسېده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به په عبادت او اطاعت كې ډېر زيار ويسته او د شپکې د اعمالو په ډولونو كې به يې د نورو نيكو عملونو په پرتله له حده زياته مبالغه كوله، دا د دې شپو د عظمت او فضيلت او د ليلة القدر د لاندې كولو پسې هڅې له امله.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د روژې په مباركه مياشت كې په عمومي توګه او په وروستيو لسو ورځو كې په ځانګړې توګه زياتې نيكى او اطاعت ته د خلكو هڅول.
٢. د رمضان د مياشتې وروستى لسيزه له پوويشتمې شپې څخه د مياشتې تر پاى پورې وي.
٣. د طاعت لپاره د غوره وختونو څخه ګټه پورته كول مستحب دي.

(3755)

**(201) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَوْصَانِي خَلِيلِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلاَثٍ: صِيَامِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَرَكْعَتَيِ الضُّحَى، وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ. [صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى وايي: زما دوست او ملګري صلى الله عليه وسلم وسلم راته په دريو كارونو وصيت كړى دى: له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيول، د څاښت دوه ركعته لمونځ كول او دا چې له ويده كېدو وړاندې وتر وكړم.** [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت كړى].

## تشريح:

ابوهريرة رضي الله عنه خبر وركوي چې دوست يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د دريو خويونو په درلودلو وصيت كړى دى:

لومړى: له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيول.

دويم: هره ورځ د څاښت دوه ركعته لمونځ كول.

دريم: له ويده كېدو وړاندې وتر كول، د هغه چا لپاره چې وېره لري د شپې په وروستۍ برخه كې نه شي راويښېدلى.

## د حديث له فايدو څخه:

١. صحابه كرامو ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم بېلابيل ډول سپارښتنې د خپلو ملګرو د حالاتو په اړه د هغه د پوهې پر بنسټ وې، او دا چې كوم كار د هر يو لپاره مناسب و لكه د پياوړي انسان لپاره جهاد، د عابد لپاره عبادت او د عالم لپاره علم او داسې نور.

٢. ابن حجر العسقلاني د دې وينا په اړه وېلي: (صوم ثلاثة أيام من كل شهر) يعني: په هره مياشت كې درې ورځې روژه نيول، چې مراد ترې ايام البيض دي؛ هغه ورځې چې شپه يې رڼا وي او هغه د هجري مياشتو: ديارلسمې، څوارلسمې او پنځلسمې ورځې دي.

٣. ابن حجر العسقلانى ويلي: له دې څخه دا حكم اخيستل كيږي چې له خوبه مخكې وتر كول مستحب دي د هغه چا لپاره چې له راويښېدو څخه ډاډه نه وي.

٤. د دې دريو عملونو ارزښت؛ ځكه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې خپلو ګڼو ملګرو ته وصيت كړى دى.

٥. ابن دقيق العيد د دې وينا په اړه فرمايلي: (وركعتي الضحى) يعني او د څاښت دوه ركعتونه، چې کېدی شي لږ عدد يې د دې لپاره ذکر کړی وي چې لږ تر لږه دوه بايد وشي، او پدې کې په دې خبره دليل دی چې د څاښت لمونځ مستحب دی او لږ يې دوه رکعته دی.

٦. د څاښت د لمانځه وخت: د لمر له راختو څخه نږدې يو پاو وروسته، او وخت يې د ماسپښين د لمانځه څخه تر لس دقيقو مخکې وخت پورې غځيږي، او د رکعتونو شمېر يې: لږتر لږه دوه رکعته دی او په ډېرو کې اختلاف دی، ويل شوي چې اته رکعتونه دي او داسې هم ويل شوي چې ډېر يې حد نه لري.

٧. د وتر وخت: د ماخوستن له لمانځه څخه د سهار تر ختلو پورې، او لږ يې يو رکعت او ډېر يې يوولس رکعته دي.

(4538)

(202) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو هريره -رضي الله عنه -څخه روايت دی وايي چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم -فرمايلي دي: «څوک چې د قدر شپه پر هغې د ايمان لرلو او ثواب په نيت - په عبادت - کې تيره کړي، د هغه تير ګناهونه به وبخښل شي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په عبادت سره د قدر د شپې تېرولو له فضيلت څخه خبر ورکوي؛ کومه چې د رمضان د مياشتې په وروستيو لسو شپو کې ده، او دا چې چا پکې - په لمونځ کولو، دعاء، قرآن کريم لوستلو او ذکر کولو سره - ژيار وويست، پداسې حال کې چې - د قدر په شپې او هغه څه يې چې په فضيلت کې راغلي دي - ايمان ولري، او په عمل سره يې د الله څخه د اجر لاسته راوړلو هيله وي؛ نه ځان ښودنه او شهرت، نو يقينا چې هغه انسان ته به د هغه ټول مخکني ګناهونه وبخښل شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د قدر د شپې فضيلت او په عبادت سره يې په تېرولو ټينګار.
٢. نېک عملونه يوازې د نيت له اخلاص سره منل کيږي.
٣. د الله تعالی فضل او رحمت، څکه چا چې د قدر شپه له ايمان او د ثواب په نيت په عبادت کې تېره کړه، د هغه مخکني ګناهونه به وبخښل شي.

(4202)

(203) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: «مَنْ حَجَّ لِلهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابوهريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی فرمايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «څوک چې د الله لپاره حج وکړي، فحشا او بد اخلاقي و نه کړي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زيږولی و».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا چې د الله لپاره حج وکړ او له رفث څخه يې ځان وساته، چې رفث کورولي او د کوروالي مقدماتو ته وايي لکه مچې اخيستل او يا لوبې کول، رفث بدې وينا ته هم ويل کيږي، او د ګناهونو او بديو په کولو سره فسق يې ونکړ، او له فسق څخه په احرام کې د منع شوو کارونو کول هم دي، نو له حج څخه به بخښل شوی راوګرځي، لکه څرنګه چې يو ماشوم له ګناه څخه پاک زيږيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله تعالی نافرماني که څه هم په هر حال کې ناروا ده، خو په حج کې يې د حج مناسکو ته د درناوي په خاطر په حرمت لا زيات ټينګار شوی دی.
٢. انسان له ګناه څخه پاک زيږول کيږي، نو هغه د بل چا ګناه پر غاړه نه اخلي.

(2758)

(204) – عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ما مِنْ أيَّامٍ العمَلُ الصَّالِحُ فيها أحبُّ إلى اللهِ مِن هذه الأيام» يعني أيامَ العشر، قالوا: يا رسُولَ الله، ولا الجهادُ في سبيلِ الله؟ قال: «ولا الجهادُ في سبيلِ الله، إلا رجلٌ خَرَجَ بنفسِه ومالِه فلم يَرْجِعْ من ذلك بشيءٍ». [صحيح] - [رواه البخاري وأبو داود، واللفظ له]

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «هېڅ داسې ورځې نشته چې نیک عمل پکې الله جل جلاله ته لدې ورځو څخه زيات محبوب وي». يعني (د ذی الحجې) لس ورځې، هغوی وويل: اې د الله جل جلاله رسوله! او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم نه؟ هغه وفرمايل: «او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم نه، مګر هغه سړی چې له خپل ځان او مال سره وتلی وي او له هغې څخه هېڅ شی بيرته رانه وړي». [صحيح حديث دی] - [بخاري او ابو داود روايت کړی، او لفظ د ابو داود دی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځو کې نيک اعمال د کال له نورو ټولو ورځو څخه غوره دي.

صحابه کرامو رضی الله عنهم له رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې لسو ورځو پرته په نورو ورځو کې د جهاد په اړه پوښتنه وکړه، چې آيا جهاد غوره دی که نه؛ پدې لسو ورځو کې نور نيک عملونه غوره دي؟ ځکه هغوی باوري وو چې جهاد تر ټولو غوره عمل دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: پدې ورځو کې نيک عمل په نورو وختونو کې له جهاد څخه غوره دی، پرته له هغه مجاهد څخه چې ځان او مال د الله جل جلاله په لاره کې په خطر کې واچوي، نو مال له لاسه ورکړي او ساه يې هم د الله جل جلاله په لاره کې وخيږي. نو دا هغه څه دي چې پدې مبارکو ورځو کې له نيک عمل څخه غوره دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ذي الحجې په (لومړی) لسيزه کې د نيک عمل فضيلت؛ مسلمان ته په کار دي چې دا ورځې د عبادت لپاره غنميت وګڼي، لکه د الله جل جلاله ذکر، د قرآن کريم تلاوت، تکبير (الله اکبر) ويل، تهليل (لا اله الا الله) ويل، لمونځ، صدقه، روژه، او ټول د نيکی کارونه کول.

(205) – عن أنس رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «جَاهِدُوا المشركين بأموالكم وأنفسكم وألسنتكم». [صحيح] - [رواه أبو داود والنسائي وأحمد]

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «د مشرکانو سره په خپلو مالونو، خپلو ځانونو او خپلو ژبو سره جهاد وکړئ». [صحيح حديث دی] - [ابو داود، نسائي او احمد روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د کفارو پر ضد د جهاد او له هرې ممکنې لارې د هغوی د مقابلې لپاره پر هلو ځلو امر کړی، تر څو د الله کلمه لوړه شي، او لدې څخه:

لومړی: د هغوی پر وړاندې په جهاد پيسې لګول؛ لکه د وسلو پېرل، پر مجاهدينو لګښت او داسې نور.

دويم: په روح، نفس او بدن د هغوی سره مخ کېدل او هغوی په شا کول.

دريم: په ژبه يې دين ته رابلل او حجت پرې قايمول، د هغوی رټل او رد پرې کول.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مشرکانو پر ضد په خپل نفس، مال او ژبې جهاد ته هڅول؛ هر يو د خپلې وسې سره سم، او دا جهاد يوازې په نفس د جګړې کولو پورې محدود نه دی.

٢. په جهاد امر د وجوب لپاره دی، کله عيني او کله کفايي واجب ګرځي.

٣. الله جل جلاله جهاد د ځينو چارو له امله تاکلی لکه؛ لومړی: د شرک او مشرکانو په وړاندې مقاومت؛ ځکه چې الله تعالى هېڅکله شرک نه مني، دويم: الله تعالى ته د بلنې په لار کې د خنډونو لرې کول. دريم: له هر هغه څه نه د عقيدې ساتنه چې ضد يې دی. څلورم: د مسلمانانو؛ د هغوی د هېوادونو، ناموسونو او مالونو څخه ددفاع کولو په موخه.

(64597)

(206) – عَنْ أَبِي الحَوْرَاءِ السَّعْدِيِّ قَالَ: قُلْتُ لِلْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رضي الله عنهما: مَا حَفِظْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لاَ يَرِيبُكَ، فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ، وَإِنَّ الكَذِبَ رِيبَةٌ». **[صحيح] - [رواه الترمذي والنسائي وأحمد]**

**له ابو الحوراء السعدي څخه روايت دی وايي چې: ما حسن بن علي رضی الله عنهما ته وويل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دې څه زده کړي دي؟ هغه وويل: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا زده کړي دي چې: «هغه څه پرېږده چې تا شکمنوي، او هغه وکړه چې تا نه شکمنوي، ځکه چې رښتيا ډاډ او دروغ شک دی».** [صحيح حديث دی] - [ترمذي، نسائي او احمد روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو ویناوو او عملونو په پرېښودلو امر کړی چې تا په شک کې اچوي چې آيا له دې څخه به منع شوي وي که نه، آيا حرام به وي که حلال، نو هغه څه ته ترې واوړه چې تا په شک کې نه اچوي او ته يې له ښه والي او حلالوالي څخه ډاډه يې، داسې څه چې زړه ورته ډاډ او سکون پيدا کوي او په څه کې چې شک وي نو انسان پکې زړه نازړه او د اضطراب په حالت کې وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. مسلمان بايد خپل کارونه په يقين سره وکړي او شک پرېږدي او په دين کې بايد بصيرت ولري.
٢. په شکونو کې له واقع کېدلو څخه ممانعت.
٣. که ډاډ او سکون غواړې نو شکمن کارونه پرېږده او څنډې ته يې کړه.
٤. پر بندګانو د الله تعالی رحمت چې امر يې ورته کړی تر څو هغه څه وکړي چې د نفس او فکر سکون پکې وي، او له هغه څه نه يې منع کړي دي چې تشويش او ګډوډي ولري.

(4564)

(207) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا، مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَتَكَلَّمْ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:** «يقينا چې الله جل جلاله زما امت ته له هغه څه تېر شوی چې دوی ته يې نفسونه وسوسې وراچوي، تر هغه پورې چې يا پرې عمل وکړي او يا يې ووايي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې مسلمان په هغه څه نه نيول کيږي چې په زړه کې يې کومه د شر خبره تېره شي مخکې لدې چې عمل پرې وکړي او يا يې په ژبه ووايي، ځکه چې الله جل جلاله مشقت پورته کړی او بخښلی يې دی، او د محمد صلی الله علیه وسلم امت په هغه څه نه نيسي چې په ذهن کې يې تېرېږي او په زړه کې يې اوړي را اوړي، خو پدې شرط چې باور پرې ونه کړي او زړه ته يې کښېنباسي؛ خو که چېرته يې په زړه کې ځای ورکړ لکه کبر، غرور، منافقت او يا يې په اندامونو عمل وکړ او يا يې په ژبه وويل، نو بيا پرې نيول کيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. الله تعالی له هغو افکارو او وسوسو څخه چې په زړه کې تېرېږي، تېر شوی او معاف کړي يې دي، هغه فکرونه او وسوسې چې د انسان په زړه کې تېرېږي او په ذهن کې يې اوړي را اوړي.
٢. که د طلاق په اړه يو انسان فکر وکړي او په زړه کې يې تېر شي، خو تلفظ يې پرې نه وي کړی او نه يې ليکلی وي، نو هغه طلاق نه بلل کيږي.
٣. کومې خبرې چې د انسان په زړه کې تېرېږي که څومره لويه هم وي انسان پرې تر هغه پورې نه نيول کيږي چې يا پرې عمل وکړي او يا يې ووايي.
٤. د محمد صلی الله علیه وسلم د امت خورا لوی ارزښت چې دا ځانګړتيا يې ورکړې، چې په هغو خبرو نه نيول کيږي چې په زړه کې تېرېږي، البته دا د پخوانيو امتونو پر خلاف ځانګړتيا ده.

(58144)

(208) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «الله تعالى ستاسو شکلونو او مالونو ته نه ګوري، بلکې هغه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې الله تعالى د خپلو بندګانو شکلونو او جسدونو ته نه ګوري چې آيا ښکلي دي که بدرنګه؟ ايا هغه لوی دي که کوچني؟ يا هغه روغ دي که ناروغه؟ او نه د هغوی مالونو ته ګوري چې ډير دي او که لږ؟ الله جل جلاله خپل بندګان پدې نه نيسي او نه ورسره پدې شيانو حساب کوي چې دوی پکې يو له بل سره توپير لري، مګر هغه د دوی زړونو ته ګوري او هغه څه چې د دوی په زړونو کې له تقوا، يقين، صداقت، او اخلاص څخه دي او يا له ځان ښودنې او شهرت څخه او هغه د دوی عملونو ته د سمون او فساد له نظره ګوري؛ نو ثواب او يا جزا پرې ورکوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د زړه اصلاح ته پاملرنه او له هره ناوړه صفت څخه يې پاکوالی.
٢. د زړه اصلاح په اخلاص سره کيږي او د عمل اصلاح د رسول الله صلى الله عليه وسلم په پيروی سره کيږي، او همدا دواړه - معيارونه - د الله تعالى په نيز د اعتبار وړ دي.
٣. انسان بايد په مال، ښايست، بدن او يا د دې نړۍ په هره ډول ښکلا مغرور نه شي.
٤. په ظاهري اصلاح له تکيه کولو څخه ځان ساتل پرته لدې چې باطن اصلاح کړي.

(4555)

(209) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قال: قال رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ اللهَ يَغَارُ، وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَغَارُ، وَغَيْرَةُ اللهِ أَنْ يَأْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ عَلَيْهِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:** «بېشکه چې الله جل جلاله غيرت کوي، او مؤمن غيرت کوي، او د الله- جل جلاله -غيرت دا دى چې يو څوک هغه څه وکړي چې الله تعالى پرې حرام کړي وي». [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله غيرت کوي، غصه کيږي او بد ګڼي، لکه څرنګه چې مؤمن انسان غيرت کوي، غصه کيږي او يو څه بد ګڼي، او دا چې د الله جل جلاله د غيرت لامل دا دى چې مؤمن انسان له ناوړه کارونو څخه هغه څه وکړي چې الله جل جلاله پرې حرام کړي وي لکه: زنا، لواطت، غلا، شراب څښل او داسې نور بد کارونه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله جل جلاله له غضب او عذاب څخه ځان ساتل کله چې د هغه له محرماتو څخه سرغړونه وشي.

(3354)

(210) – عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا هُنَّ؟ قَالَ: «الشِّرْكُ بِاللهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:** «له اوو بربادوونکو ګناهونو څخه ځان وساتئ» **هغوى وويل: اې د الله رسوله، هغه کوم دي؟ وېي فرمايل:** «په الله - تعالى - شرک کول، سحر، د هغه نفس وژل چې الله يې په ناحقه وژل حرام کړي دي، سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جنګ په ورځ له ميدان څخه تېښته کول، او په ساده، پاک لمنو مؤمنو ښځو د - زنا - تور پورې کول». [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت ته له اوو جرمونو او تباه کوونکو ګناهونو څخه په ځان ژغورلو امر کوي، او کله چې ترې پوښتنه وشوه چې هغه کوم دي؟ نو هغه یې په ګوته کوي چې:

لومړی: له الله تعالی سره شرک کول، داسې چې له هغه پاک ذات سره مثل ونیول شي، په هره بڼه چې وي، او یا له عبادتونو څخه د هر ډول عبادت له الله تعالی پرته بل چا ته وشي، او په شرک یې پیل ځکه وکړ چې تر ټولو لویه ګناه ده.

دویم: جادو دی - چې هغه له غوټو، دمونو، درملو او لوګیو څخه عبارت دی - چې د جادو کړی شوي انسان په بدن کې د هغه په وژلو او یا ناروغولو اغېزه کوي او یا د ښځې او خاوند تر منځه جلاوالی راولي، او دا یو شیطاني عمل دی، او ډیری یې داسې دي چې پایلې ته نه رسیږي مګر په الله تعالی باندې په شرک کولو او یا پلیتو ارواحو ته په هغه څه سره په نږدې کېدولو چې هغوی یې خوښوي.

دریم: د هغه نفس وژل چې الله تعالی یې وژل حرام کړي دي پرته له دې چې د حاکم له خوا په مشروع جواز سره پلې شي.

څلورم: د سود خوړل او یا د نورو وسیلو په استعمالولو سره له سود څخه ګټه اخیستل.

پنځم: د هغه نابالغ په مال کې خیانت کول چې پلار یې بلوغ ته له رسېدو مخکې مړ شوی وي.

شپږم: د کافرانو سره له جګړې څخه تېښته.

اووم: په آزادو او پاکو ښځو باندې د زنا تور لګول او همدارنګه د نارینه و تورنول.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. لوی ګناهونه په اوو پورې محدود نه دي او د دې اوو ګناهونو تخصیص د دوی د لویوالي او خطر له امله دي.

٢. د نفس وژلو جواز کله چې په حقه وي، لکه قصاص، مرتد کېدل، او له واده نه وروسته زنا کول، او دا چې شرعي واکمن به یې تطبیقوي.

(3331)

(211) – عن أبي بكرة رضي الله عنه قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟» ثَلَاثًا، قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «الْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ» وَجَلَسَ وَكَانَ مُتَّكِئًا، فَقَالَ: «أَلَا وَقَوْلُ الزُّورِ»، قَالَ: فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا: لَيْتَهُ سَكَتَ. **[صحيح - [متفق عليه]**

**له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «آیا زه تاسو ته د تر ټولو لویو ګناهونو څخه خبر درنکړم»؟ درې ځلې (یې دا خبره تکرار کړه) هغوی وویل: هو (یعني خبر راکړه) اې د الله جل جلاله رسوله! ویې فرمایل: «د الله سره شرک کول او د مور او پلار نافرماني» او کیناست، پداسې حال کې چې تکیه یې وهلې وه، نو ویې فرمایل: «خبردار اوسئ د دروغو د ګواهۍ په اړه» (یعني ځان ترې وساتئ)، وایي: تر هغه پورې یې دا خبره تکراروله تر دې چې مونږ وویل: کاش چې چپ شوی وای.** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته د لویو ګناهونو په اړه خبر ورکوي، نو له دې دریو ګناهونو یادونه یې وکړه:

1. له الله جل جلاله سره شرک کول: او شرک له الله جل جلاله پرته بل چاته د هر ډول عبادت کول او د غیر الله سره په الوهیت، ربوبیت، اسماء او صفاتو کې د الله جل جلاله برابرولو ته وایي.

2. د مور او پلار نا فرماني: دا د مور او پلار هر ډول ازارول دي، هغه که په وینا سره وي یا په کړنه، او د هغوی سره نیکي پرېښودل دي.

3. دروغ وینا، چې له جملې څخه یې د دروغو ګواهي ده، او د دروغو ګواهي له هغه دروغ وینا څخه عبارت ده چې موخه ترې د بل چا حق د پښو لاندې کول دي؛ چې یا یې مال واخیستل شي او یا یې په عزت، ناموس او داسې نورو تیری وشي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په تکراري ډول له دروغ وینا څخه وېرول کړي تر څو یې بدوالي او په ټولنه کې ناوړه پایلو ته د خلکو پام راواړوي، تر دې چې د زیات تکرار له امله صحابه کرامو وویل چې کاش چپ شوی وای؛ پر هغه د ترحم له امله او د هغه کار د بدوالي له امله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زوروي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د الله جل جلاله سره شرک کول تر ټولو ستره ګناه ده؛ لدې امله یې لویه او د ګناهونو په سر کې راوستله، د الله جل جلاله دا وینا د همدې خبرې تایید کوي چې فرمایي: {إن الله لا يَغْفِرُ أن يشرَكَ به وَيَغْفِرُ مَا دونَ ذلِكَ لِمَنْ يشَاء}. «**بېشکه الله نه بخښي چې له هغه سره دې (څوک) شریک کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي**».

٢. د مور او پلار د حقوقو عظمت، ځکه چې د دوی دواړو حق یې د خپل حق سره یو ځای ذکر کړی.

٣. ګناهونه په لویو او وړو وېشل کیږي، لویه (کبیره) ګناه: هغه ده چې دنیوي سزا پرې (ټاکل شوې) وي لکه: حدود، لعنت، او یا پرې په اخرت کې ګواښ شوی وي لکه: اور ته په ننوېستلو ګواښ، او دا چې لوی ګناهونه ښکته او پورته لري، نو ځینې یې له ځینو نورو څخه په حراموالي کې سخت وي، او له لویو ګناهونو پرته نور واړه دي.

(2941)

**(212) – عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «الْكَبَائِرُ: الْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَالْيَمِينُ الْغَمُوسُ».**

**[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «لوی ګناهونه: له الله سره شرک کول، د مور او پلار نا فرماني، د نفس وژنه او په دروغو قسم خوړل دي».** [صحیح حدیث دی] - [بخاري روایت کړی]

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د لویو ګناهونو په اړه وضاحت ورکوي، د کومو مرتکب چې په دنیا او آخرت کې په سختې (سزا) سره ګواښل شوی دی.

لومړی یې «**له الله جل جلاله سره شرک کول**» دي: او شرک له الله پرته بل چا ته د هر ډول عبادت کول دي، او له الله تعالی سره د هغه د الوهیت، ربوبیت، اسماء او صفاتو په ځانګړتیاوو کې د نورو برابرول دي.

او دویمه یې" د مور او پلار نافرماني ده": او (نافرماني) له هرې هغې وینا او کړنې څخه عبارت دی چې د مور او پلار د ازار او اذیت لامل ګرځي، او له هغوی سره د نیکۍ پرېښودل دي.

او دریم یې له حق پرته" د نفس وژل "دي: لکه په ظلم او تیرې سره قتل کول.

او څلورم یې " غموس قسم دی": او دا هغه قسم دی چې په قصدي توګه په دورغو خوړل کیږي، دا نوم ځکه ورکړل شوی چې خاوند یې د دې له امله په ګناه او یا اور کې منډل کیږي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. په درواغو د قسم خوړلو لپاره کفاره نشته؛ ځکه چې خطر یې زیات او جرم یې لوی دی، خو توبه ترې وېستل کیږي.

٢. په حدیث کې له دغو څلورو لویو ګناهونو څخه یادونه د هغوی د ګناه د لویوالي له امله شوې ده نه د محدودیت له امله.

٣. ګناهونه په لویو او ورو وېشل کیږي، لویه (کبیره) ګناه : هغه ده چې دنیوي سزا پرې (ټاکل شوې) وي لکه: حدود، لعنت، او یا پرې په اخرت کې ګواښ شوی وي لکه: اور ته په ننوېستلو ګواښ، او دا چې لوی ګناهونه ښکته او پورته لري، نو ځینې یې له ځینو نورو څخه په حراموالي کې سخت وي، او له لویو ګناهونو پرته نور واړه دي.

(3044)

(213) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:** «د قیامت په ورځ به د خلکو تر منځه لومړی د وینو په اړه پرېکړې کیږي». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم یادونه کړې ده چې لومړی هغه څه چې د خلکو تر منځه به یې فیصله کیږي هغه د خلکو تر منځه په وینو تویلو سره یو پر بل ظلم کول دي لکه: وژل او ټپي کول.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د وينو تويولو د مسألې عظمت، ځکه خو پيل په تر ټولو مهم څيز کيږي.

٢. ګناهونه هغه فساد ته په ليدو لوييږي چې پرې مرتبيږي او د بې ګناه خلکو ژوند اخيستل تر ټولو لوی فساد دی چې له کفر او په الله تعالی له شرک پرته بل لوی فساد ترې نشته.

(2962)

(214) – عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا». [صحيح] - [رواه البخاري]

**له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:** «چا چې معاهد وواژه نو د جنت بوی به حس نه کړي، پداسې حال کې چې بوی يې د څلويښتو کالو واټن په اندازه لرې حس کيږي». [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه چا لپاره د سخت ګواښ بيان کړی دی چې معاهد ووژني -او معاهد هغه چاته ويل کيږي چې د کفري هيواد څخه اسلامي هيواد ته د امن د ژمنې ورکولو پر اساس داخل شوی وي - چې دغه کس ته به د جنت بوی نه رسيږي، حال دا چې بوی يې د څلويښتو کالو په واټن کې موندل کيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له کفارو څخه د معاهد، مستامن او ذمي د وژولو ممانعت او دا چې وژل يې له کبيره ګناهونو څخه يوه لويه ګناه ده.

٢. معاهد: له کفارو څخه هغه چاته ويل کيږي چې ژمنه وکړي په خپل هيواد کې به د مسلمانانو سره نه جنګيږي او نه به دوی ورسره جنګيږي، او ذمي: هغه چاته ويل کيږي چې د مسلمانانو په هېواد کې اوسيږي او جزيه يې ورکړې وي، او مستامن: هغه چاته ويل کيږي: چې د مسلمانانو هيواد ته يې د موقت وخت لپاره پناه راوړې وي او د ساتلو ژمنه ورکړل شوې وي.

٣. له غير مسلمانو سره په تړونونو کې د خيانت په اړه خبرداری.

(64637)

(215) – عن جُبَير بن مُطْعِم رضي الله عنه أنه سمع النبي صلى الله عليه وسلم يقول: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له جبير به مطعم رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرماييل يې:** «خپلوي پرې کوونکی به جنت ته داخل نه شي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې څوک د خپلوانو سره پرېکون کوي او د هغوی واجب حقونه نه ادا کوي، يا يې ازار کړي او بد چلند ورسره وکړي، نو هغه د دې مستحق دی چې جنت ته داخل نه شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. خپلوي پرې کول له کبيره ګناهونو څخه يوه ګناه ده.
٢. خپلوي پالل له دود سره سم کيږي، څکه چې ځايونو، وختونو او خلکو ته په ليدو سره توپير لري.
٣. خپلوي پالل په تګ او راتګ، صدقې، نيکی کولو، د ناروغ پوښتنې کولو، هغوی ته په نيکی امر کولو او له بديو څخه په منع کولو او داسې نورو کارونو تر سره کيږي.
٤. خپلوي پرې کول چې څومره له نږدې خپلوانو سره وي همغومره يې ګناه سخته ده.

(5367)

(216) – عن أنس بن مالك رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:** «څوک چې دا غواړي چې روزي يې پراخه شي او عمر يې اوږد شي، نو خپلوي دې وپالي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله علیه وسلم د خپلوانو لیدلو ته په ورتللو، ځاني، مالي او نور ډول درناویو سره په خپلوی پالنې ټینګار کوي، او دا چې (خپلوي پالل) د رزق د پراختیا او عمر د اوږدوالي لامل ګرځي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. (رحم) د مور او پلار له طرفه خپلوان دي، او څومره چې نږدې وي په هماغه اندازه د خپلوۍ پاللو زیات مستحق دی.
٢. بدله د عمل له جنس څخه وي، نو څوک چې خپلوي د نیکۍ او مهربانۍ له مخې وپالي، نو الله تعالی به د هغه په عمر او رزق کې برکت واچوي.
٣. خپلوي پالل (صله رحمي) د رزق د زیاتوالي، پراختیا او د عمر د اوږدوالي لامل ګرځي، او که چېرته اجل او روزي ټاکل شوي وي نو بیا شونې ده چې مراد ورڅخه په روزۍ او عمر کې برکت اچول وي، داسې چې په خپل (ټاکلي) عمر کې به (د بل چا په پرتله) ډېر او فابدور کارونه وکړي، او داسې هم ویل شي چې په روزۍ او عمر کې له زیاتوالي څخه حقیقي زیاتوالی مراد دی. نو الله جل جلاله ښه پوهیږي.

(5372)

(217) – عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ، وَلَكِنِ الْوَاصِلُ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا». [صحيح] - [رواه البخاري]

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هغه څوک خپلوي پالونکی ندی چې بدل خلاصوي، مګر هغه څوک خپلوي پالونکی دی چې خلک یې ورسره پرې کوي او هغه یې بیرته وصلوي (پالي)». [صحيح حديث دی] - [بخاري روایت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې: له خپلوانو سره په خپلوۍ پاللو او نیکۍ کولو کې پوره انسان هغه څوک نه دی چې د نیکۍ مقابل کې نیکي کوي، په صله رحمۍ کې حقیقي او بشپړ پالونکی انسان هغه څوک دی چې کله ورسره خلک خپلوي پرې کړي نو دی یې ورسره بېرته وصلوي (پالي) اګر که بد یې ورسره هم کړي وي، خو هغه یې په مقابل کې ورسره نیکي کوي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. له شرعي لحاظه د خپلوۍ معتبره اړیکه دا ده چې ته له هغو کسانو سره اړیکي وپالې چې هغوی درسره پرې کړي وي، هغه چا ته بښنه وکړې چې پر تا یې ظلم کړی وي، او هغه چا ته یې ورکړې چې له تاسې یې ورکړه منع کړې وي، او خپلوي پالل دا ندي چې د نیکي مقابل کې وشي او یا په بدل تر سره شي.

٢. د خپلوۍ پالل د مال، دعاء، په نیکۍ امر او له بدیو منع کول او داسې نورو لارو کیږي، او د امکان تر حده ورڅخه د شر مخنیوی دی.

(3854)

(218) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ؟»، قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ»، قِيلَ: أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ؟ قَالَ: «إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: «آیا تاسو پوهېږئ چې غیبت څه ته وایي؟ هغو وویل: الله جل جلاله او رسول یې ښه پوهیږي، ویې فرمایل: «په هغه څه سره دې د (مسلمان) ورور یادول چې هغه یې نه خوښوي». وویل شو: پدې اړه خبر راکړه چې: که چېرته زما په (مسلمان) ورور کې هغه څه وي چې زه وایم؟ ویې فرمایل: «که چېرته هغه څه پکې وي چې ته یې وایې نو غیبت دې وکړ او که چېرته پکې نه وي نو تور (تهمت) دې پرې پورې کړ». [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د حرام غيبت حقيقت بيانوي، چې هغه پسې شا د مسلمان يادول دي په هغه څه سره چې هغه يې نه خوښوي، برابره خبره ده كه ځاني صفتونه وي او يا اخلاقي لكه: وروند، دوكه باز، دروغجن او داسې نور ناوړه صفتونه، اګر كه دا صفت پكې موجود هم وي.

او كه چېرته پكې هغه صفت نه و، نو دا له غيبت نه هم سخته (ګناه) ده چې هغه تور پورې كول دي، يعنې په يو چا د يو كار دروغ ويل چې په هغه كې نه وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښوونې ښايسته ميتود چې مسئلې د پوښتنې په بڼه وړاندې كوي.
٢. له پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره د صحابه كرامو ښايسته ادب؛ كله چې هغوى وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي.
٣. د ناپوهۍ پر مهال د پوښتل شوي دا وينا چې: الله ښه پوهيږي.
٤. د حقونو په ساتلو او وروركلوۍ سره شريعت لره د تولنې ساتنه.
٥. غيبت حرام دى مګر د مصلحت لپاره په ځينو حالاتو كې لكه: د ظلم مخنيوى، چې مظلوم يو پياوړي انسان ته د ظلم په اړه يادونه وكړي چې حق ورته ترې واخلي، نو ورته ووايي: فلاني راسره ظلم كړى، ياپې راسره داسې وكړل، او يا: د واده، شراكت او ګاونډيتوب په اړه د يو چا سره سلا مشوره كول او داسې نور.

(5326)

(219) – عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «كل مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وكل مُسْكِرٍ حرام، ومن شرِب الخمر في الدنيا فمات وهو يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ، لَمْ يَشْرَبْهَا في الآخرة». [صحيح] - [رواه مسلم وأخرج البخاري الجملة الأخيرة منه]

**له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**
**«هر نشه كوونكى شى شراب دي او هر نشه كوونكى شى حرام دى، څوك چې په دنيا كې شراب وڅښي او معتاد پرې مړ شي او توبه ونه كړي، نو په آخرت كې به شراب و نه څښي».** [صحيح حديث دى] - [مسلم روايت كړى او اخرنى جمله يې بخاري روايت كړې]

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګنده کړې ده چې هر هغه څه چې عقل غیبوي او له منځه یې وړي نو هغه نشه کوونکي شراب دي، برابره خبره ده که هغه څښاک وي یا خوراک، تنفس وي او یا بل څه، او دا چې هر هغه څه چې انسان نشه کوي او عقل یې له منځه وړي نو الله تعالی هغه حرام کړی او منع یې ترې فرمایلې ده، هغه که لږ وي او یا ډېر. او دا چې چا هر ډول نشه یې توکي وڅښل او په دوامداره توګه یې څښل او تر مرګه یې ترې توبه ونه وېسته نو هغه د الله تعالی د عذاب مستحق دی چې په جنت کې به یې له شرابو محروم کړي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د شرابو د حراموالي لامل نشه ده، نو هر هغه شی چې انسان نشه کوي، هغه که هر ډول وي حرام دی.
٢. الله تعالی شراب حرام کړي، ځکه چې لوی زیانونه او بدی پکې شتون لري.
٣. په جنت کې د شرابو څښل د بشپړې خوښۍ او بشپړ نعمت نښه ده.
٤. څوک چې په دنیا کې د شرابو له څښلو ډډه ونه کړي، الله تعالی به یې په جنت کې د شرابو له څښلو څخه محروم کړي، ځکه د عمل جزا یې له جنسه ده.
٥. له مرګ نه مخکې د ګناهونو څخه توبې وېستلو ته هڅول.

(58259)

(220) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ فِي الْحُكْمِ. [صحيح] - [رواه الترمذي وأحمد]

**له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم په رشوت ورکوونکي او رشوت اخیستونکي لعنت ویلی دی.** [صحیح حدیث دی] - [ترمذي او احمد روایت کړی]

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم رشوت ورکوونکي، رشوت اخیستونکي او رشوت قبض کوونکي ته د الله له رحمت څخه په لرې کېدلو او شړلو سره ښېرا کړې ده.

لدې څخه هغه رشوت هم دی چې قاضیانو ته ورکول کیږي تر څو په ظلم سره پرېکړه وکړي او له لارې يې رشوت ورکوونکی خپل مراد ته په ناحقه ورسيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د رشوت ورکول، اخيستل، پکې منځګړيتوب او مرسته کول حرام دي؛ ځکه چې دا په باطل کې مرسته کول دي.

٢. رشوت ورکول لويه ګناه ده؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اخيستونکي او ورکوونکي لعنت ويلی دی.

٣. په قضا او قضاوت کې رشوت تر ټولو لوی جرم اوستره ګناه ده؛ د ظلم او په هغه څه د پرېکړې له امله چې الله تعالی ندی نازل کړی.

(64689)

(221) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ؛ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ، وَلَا تَحَسَّسُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «له ګمان څخه ځان وساتئ؛ ځکه چې ګمان تر ټولو دروغجنه وینا ده، او د خلکو عورتونو پسې مه ګرځئ، او جاسوسي مه کوئ، او له يوبل سره کينه مه کوئ، او يو بل ته شاه مه اړوئ، او يو پر بل مه غصه کيږئ، او ټول د الله جل جلاله بندګان شئ ورونه ورونه». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم له ځينو هغو کارونو څخه منع فرمايلې ده چې د مسلمانانو تر منځه تفرقه او دښمني رامنځته کوي، له هغو څخه:

(الظن) له دليل پرته په زړه کې تور پورې کول، او دا يې بيان کړ چې ګمان تر ټولو دروغجنه وينا ده.

"تحسس" د سترګو يا غوږونو په واسطه د خلکو د پټو عيبونو پلټنه کول.

او (جاسوسي): چې د پټو معاملو په لټه کې وي، او اکثرا دا د بدی په اړه ویل کیږي.

او له حسد څخه: چې هغه د نورو لپاره د نعمت بد ګڼل دي.

او له یو بل څخه مخ اړول، نو نه سلام اچوي او نه د خپل مسلمان ورور لیدنې ته ورځي،

او له یو بل څخه کرکه کول، بد ګڼل او نفرت کول، لکه د نورو ازارول، او هغه چې تندی یې تروش نیولی وي او هغه چې په بد انداز سره خلکو سره مخ کیږي.

بیا یې یوه جامعه وینا وکړه چې د مسلمانانو خپلمنځي وضعیت پرې ښه کیږي: (او د الله جل جلاله بندګان شئ ورونه ورونه) نو دیني وروړګلوي هغه اړیکه ده چې د خلکو تر منځه پرې اړیکې پیاوړې کیږي، او تر منځه یې مینه او محبت زیاتیږي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. په هغه چا بد ګماني ضرر نه لري چې نښې یې پرې ښکاره شي، او مؤمن باید ځیرک او هوښیار اوسي او په بدو او فاسقو خلکو دوکه نه شي.

٢. له تهمت څخه هغه یو مراد دی چې په زړه کې ځای نیسي او تینګار پرې وشي، خو کوم یو چې په زړه کې راځي او ځای نه نیسي انسان پرې نه نیول کیږي.

٣. د اسلامي ټولنې د غړو تر منځ د بې اتفاقۍ او د اړیکو پرې کولو د لاملونو ممانعت، لکه جاسوسي، حسد او داسې نور.

٤. له مسلمان سره په نصیحت او محبت کې د ورور په شان چلند کول.

(5332)

(222) – عن حذيفة رضي الله عنه قال: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له حذیفة رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې : ما له رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې:** «چغلګر - انسان - جنت ته نه داخلیږي». [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله - صلى الله عليه وسلم - خبرداری ورکوي چې هغه چغلګر انسان چې د خلکو تر منځه د فساد په موخه خبرې ورې راوړي د عذاب مستحق دی؛ داسې چې جنت ته به نه داخليږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. چغلګري له لويو ګناهونه څخه ده.

٢. له چغلګرۍ څخه ممانعت؛ د هغه فساد او ضرر له امله چې د افرادو او ټولنې تر منځه يې رامنځته کوي.

(5368)

(223) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا المُجَاهِرِينَ، وَإِنَّ مِنَ المُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا، ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ، فَيَقُولَ: يَا فُلَانُ، عَمِلْتُ البَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا، وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ، وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابوهريره- رضي الله عنه -څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله- صلى الله عليه وسلم - څخه اوريدلي دي چې ويل يې:** «زما ټول امتيان بخښل شوي دي پرته له هغو څخه چې د - ګناه - ښکاره کوونکي وي، او- ګناه -ښکاره کوونکي خلک هغه دي چې: يو سړی د شپې يو کار (ګناه) وکړي، بيا په داسې حال کې سهار کړي چې الله د هغه ستر او پرده کړې وي، بيا ووايي: اې فلانيه! ما تيره شپه داسې او داسې وکړل، او حال دا چې هغه به په داسې حال کې شپه تيره کړې وي چې الله تعالی د هغه ستر او پرده کړې وي، خو دی به سبا د هغه څه څخه پرده پورته کړي چې الله پرې پرده اچولې وه». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګندوي چې ګناه کار مسلمان ته د الله تعالی د بخښنې تمه شته، مګر هغه څوک چې په وياړ او سرکښۍ سره خپله ګناه اعلانوي نو هغه د بخښنې وړ نه دی. ځکه چې هغه کله د شپې ګناه وکړي نو سبا پرې د الله جل جلاله اچولې پرده له ځانه لرې کوي، او

نورو سره په خبرو کې وايې چې پرون مې فلانی ګناه کړې ده، پداسې حال کې چې الله تعالی د شپې پرې پرده اچولې وه، نو کله چې سهار کړي د الله تعالی پرده له ځانه لرې کړي.

## د حدیث له فايدو څخه:

١. په ډاګه د ګناه کولو بدوالی، وروسته له دې چې الله پاک پرې پرده اچولې وه.
٢. د ګناه په ډاګه کولو سره د مؤمنانو تر منځه بد کاري خپرېږي.
٣. الله تعالی چې د چا پرده په دنیا کې وکړي په اخرت کې يې هم کوي، دا پر بندګانو د الله تعالی د لوی رحمت ښودنه کوي.
٤. څوک چې په کومه ګناه اخته شوی وي باید پر ځان پرده واچوي او الله تعالی ته توبه وباسي.
٥. د هغه چا د ګناه لوی والی چې په ښکاره ګناه کوي او ځان له بخښلو څخه بې برخې کوي.

(3756)

(224) – عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ، فَقَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَتَعَاظُمَهَا بِآبَائِهَا، فَالنَّاسُ رَجُلَانِ: بَرٌّ تَقِيٌّ كَرِيمٌ عَلَى اللهِ، وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ هَيِّنٌ عَلَى اللهِ، وَالنَّاسُ بَنُو آدَمَ، وَخَلَقَ اللهُ آدَمَ مِنْ تُرَابٍ، قَالَ اللهُ: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: ١٣]».

**[صحيح] - [رواه الترمذي وابن حبان]**

**له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته خطبه ورکړه نو ويې ويل:** «اې خلکو، یقینا چې الله جل جلاله ستاسو څخه د جاهلیت غرور او په پلرونو وياړ لرې کړی دی، خلک دوه ډوله دي، نیک، پرهيزګاره او د الله تعالی په وړاندې عزتمن، او بې لارې بدبخته، او د خلکو په وړاندې سپک، او خلک د آدم اولاده دي، او الله تعالی آدم له خاورې پیدا کړی دی، الله تعالی فرمايلي: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: 13]. (اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پیدا کړي يئ او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولې يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په

**نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی».**
[صحيح حديث دی] - [ترمذي او ابن  حبان روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته په خطاب کې وفرمايل: اې خلکو، الله تعالی ستاسو څخه د جاهليت کبر، وياړ، ننګ او په پلرونو وياړ پورته او لرې کړ او يقينا چې خلک دوه ډوله دي:

يا خو مؤمن، صالح، پرهېزګار، فرمانبردار او د الله سبحانه وتعالی عبادت کوونکی وي، نو دا سړی د الله تعالی په وړاندې عزتمن دی، که څه هم د خلکو په اند د اصل او نسب خاوند څخه وي.

او يا کافر، بې لارې او بدبخته چې دا د الله تعالی په وړاندې سپک دی، او هېڅ ارزښت نه لري، که څه هم د اصل له اړخه د غوره مرتبې، وقار او واک خاوند وي.

او خلک ټول د آدم اولادونه دي، او الله تعالی آدم له خاورې څخه پيدا کړی دی، نو هغه څوک چې اصل يې له خاورې څخه وي ورته نه ښايي چې کبر وکړي او ځانته مغروره شي، د الله تعالی دا وينا د دې خبرې تصديق کوي چې فرمايي: {يا أيها الناس إنا خلقناكم من ذكر وأنثى وجعلناكم شعوبا وقبائل لتعارفوا إن أكرمكم عند الله أتقاكم إن الله عليم خبير} [الحجرات: 13]. (اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي يئ او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولې يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی).

## د حديث له فايدو څخه:

١. په اصل او نسب له وياړ کولو څخه ممانعت.

(65074)

(225) – عن عائشة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايي: «د الله تعالی په وړاندې تر ټولو مبغوض انسان هغه دی چې تل سخت جګړه مار وي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله - جل جلاله - له هغو خلکو څخه کرکه کوي چې سخت جګړه مار او زیات جګړه کوونکی وي؛ هغه چې حق ته غاړه نه ږدي او هڅه کوي چې حق په خپلو دلایلو سره په شا وتمبوي، یا دا چې په حقه جګړه کوي خو په شخړه کې د اعتدال له حد نه اوړي، او له علم پرته شخړه کوي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. کله چې د قانوني استیناف له لارې مظلوم د خپل حق غوښتنه کوي نو دا د غندنې وړ شخړو په کټګورۍ کې نه راځي.
٢. جنګ او جګړه د ژبې له هغو آفتونو څخه دي چې د مسلمانانو تر منځه د تفرقې او له یو بل څخه د مخ اړولو لامل ګرځي.
٣. استدلال هغه مهال د ستاینې وړ دی چې په حقه وي او طرز یې ښه وي او هغه مهال بد دی کله چې له حق څخه د انکار او د باطل رامنځته کولو لپاره وي یا پرته له دلیل او ثبوت څخه وي.

(5474)

**(226) – عن أبي بَكرة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ»، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا الْقَاتِلُ، فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ؟ قَالَ: «إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ». [صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي دي چې فرمایل یې: «کله چې دوه مسلمانان توره په لاس یو له بل سره وجنګېږي نو قاتل او مقتول دواړه په اور کې دي». ما وویل: اې د الله رسوله! دا خو قاتل دی چې - اور ته به ځي - نو د مقتول څه ګناه ده؟ هغه وفرمایل: «هغه د خپل ملګري د وژلو لېوالتیا درلوده».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې که دوه مسلمانان په خپلو تورو سره له یو بل سره مخ شي، او هر یو یې د بل د تباه کولو (وژلو) اراده ولري؛ نو قاتل د خپل ملګري د مستقیم

وژلو له امله په دوزخ کې دی. د مقتول په اړه صحابه په ستونزه کې ولوېدل: چې څنګه به هغه په جهنم کې وي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې هغه هم د خپل ملګري وژلو ته د لېوالتیا له امله په دوزخ کې دی او د قاتل له وژلو نه هېڅ شي منع نه کړ پرته لدې چې قاتل پرې چالاکي وکړه او ترې مخکې شو.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. هغه څوک د جزا مستحق ګرځېدل چې په زړه کې یې د ګناه اراده وکړه او د هغې اسباب یې تر سره کړل.
٢. له مسلمانانو سره د جګړې په اړه سخت اخطار او په اور سره یې ګواښل.
٣. دمسلمانانو ترمنځ په حقه جګړه کول دظالمانو او فاسقانو سره دجګړې په شان په خطر کې نه راځي.
٤. د کبیره ګناه په محض ترسره کولو باندې انسان نه کافر کیږي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه جنګیالان مسلمانان یاد کړل.
٥. کله چې دوه مسلمانان یو له بل سره پداسې حال کې مخ شي چې یوه وژونکې وسله یې په لاس وي او یو یې بل ووژني، نو قاتل او مقتول په اور کې دي، او په حدیث کې له تورې څخه د مثال په توګه یادونه شوې ده.

(4304)

**(227) – عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا». [صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو موسی الاشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «څوک چې زموږ پر وړاندې وسله پورته کړي، له موږ څخه نه دی».** [صحیح حدیث دی - [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د وېرولو یا لوټلو په موخه د دوی په وړاندې د وسلو پورته کولو په اړه خبرداری ورکړی، چې څوک د دې لپاره دا کار وکړي چې مسلمانان ووېروي

او يا يې لوټ کړي، نو يقينا چې د لوي جرم او له ګناهونو څخه د لويې ګناه مرتکب شوي، او د دې لوي ګواښ مستحق وګرځېده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. مسلمان ته د خپلو مسلمانانو ورونو په وړاندې د جنګېدو په اړه سخت خبرداری.
٢. د ځمکې پر مخ يو له سترو بديو او لويو فسادونو څخه د مسلمانانو په وړاندې د وسلو پورته کول او د قتل له لارې فساد جوړول دي.
٣. ياد شوی اخطار د حقې مبارزې په اړه نه دی، لکه د نافرمانو او فاسدو خلکو په وړاندې مبارزه او داسې نور.
٤. په وسلو او يا بل څه سره د مسلمانانو د وېرولو حراموالی، که څه هم په ټوکه وي.

(2997)

(228) – عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال النبي صلى الله عليه وسلم: «لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ، فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:**
**«مړو ته ښکنځل مه کوئ، ځکه چې هغوی هغه څه ته ورغلي دي چې مخکې يې له ځان څخه لېږلي دي».** [صحيح دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم مړو ته د سپکاوي او د هغوی ابرو پسې د خبرو کولو حراموالی بيانوي او وايي چې دا له ناوړه اخلاقو څخه دي، ځکه چې هغوی هغه څه ته رسيدلي دي چې له نېکو او بدو عملونو څخه يې وړاندې کړي دي، نو لکه څرنګه چې دا ښکنځلې هغوی ته نه رسيږي، بلکه يوازې ژوندي ازاروي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دغه حديث مړو ته د سپکو سپورو ويلو په حراموالي دليل دی.
٢. د ژونديو د مصلحت لپاره مړو ته د سپکو سپورو نه ويل او د ټولنې امنيت د جنجال او نفرت څخه ساتل.

٣. دوى ته د سپکو سپورو له ویلو څخه د ممانعت حکمت دا دى چې هغوى هغه څه ته ورغلي دي چې وړاندې يې کړي دي، نو دوى ته کنځلي کول کومه ګټه نه لري، بلکه پدې سره د هغوى ژوندي خپلوان ازارېږي.

٤. دا چې انسان ته داسې څه وېل په کار ندي چې خير پکې نه وي.

(5364)

**(229) – عن أبي أيوب الأنصاري رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:** **«لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، يَلْتَقِيَانِ، فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا، وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ».** **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو ایوب انصاري رضي الله عنه څخه روایت دی وايې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «د یوه سړي لپاره روا ندي چې خپل ورور له دریو شپو څخه زيات پرېږدي، کله چې يو له بل سره مخ کيږي نو دا ترې مخ اړوي او هغه هم ترې مخ اړوي، او د دوى تر منځه غوره هغه څوک دى چې په سلام سره پيل وکړي».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې څخه منع فرمايلې ده چې يو مسلمان خپل مسلمان ورور له دریو شپو څخه زيات پرېږدي ( اړيکه ورسره پرې کړي ) پداسې حال کې چې کله هر يو له بل سره مخ کيږي نو سلام پرې نه اچوي او نه ورسره خبرې کوي.

د دغو دوو جګړه مارو تر منځه غوره هغه څوک دی چې د پرېکون له منځه وړلو هڅه کوي، او په سلام پيل کوي، او دلته له پرېکون څخه موخه د ځان په خاطر پرېښودل دي، او د الله تعالى لپاره (د يو چا) پرېښودل؛ لکه د ګناهکارانو، بدعتيانو او بدو ملګرو پرېښودل نو د دې لپاره نېټه نه ټاکل کيږي، بلکه دا پرېکون به د مصلحت پورې تړلې وي، او د مصلحت په له منځه تللو سره به له منځه ځي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د انساني فطرت په نظر کې نيولو سره د دريو او يا له دريو ورځو څخه د لږ وخت لپاره د پرېکون روا والی، نو درې ورځې پرېکون معاف دی، تر څو رامنځته شوې پديده له منځه لاړه شي.

٢. د سلام فضیلت، او دا چې سلام هغه څه (کینه او حسد) چې په نفس کې دي له منځه وړي، او دا د مینې نخښه ده.

٣. اسلام د خپلو پیروانو تر منځه په وروړکلوی او نږدېوالي ټینګار کوي.

(5365)

(230) – عن سهل بن سعد رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له سهل بن سعد رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل:**
«څوک چې ماته د هغه څه ضمانت راکړي چې د دواړو ژامو په منځ کې ده (ژبه) او د هغه څه چې د دواړو پښو تر منځه دي (عورت) نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم». [صحیح دی] - [بخاري روایت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله علیه وسلم د دوو شیانو په اړه خبر ورکوي، که چېرته پرې مسلمان ټینګ پاتې شي نو جنت ته به داخل شي.

لومړی: له هغو خبرو څخه د ژبې ساتل چې الله تعالی پرې غصه کیږي،

دوهم: له فحاشۍ څخه د شرمګاه ساتنه.

ځکه چې په دې دوو غړو سره زیاته ګناه تر سره کیږي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د ژبې او شرمګاه ساتل جنت ته د داخلېدو لامل ګرځي.

٢. ژبه او شرمګاه لدې امله په ځانګړې توګه یاد شول، ځکه چې دا دواړه د انسان لپاره په دنیا او آخرت کې د امتحان لویه سرچینه ده.

(3475)

(231) – عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -وَكَانَ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ غَزْوَةً- قَالَ: سَمِعْتُ أَرْبَعًا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَعْجَبْنَنِي، قَالَ: «لاَ تُسَافِرِ المَرْأَةُ مَسِيرَةَ يَوْمَيْنِ إِلَّا وَمَعَهَا زَوْجُهَا أَوْ ذُو مَحْرَمٍ، وَلاَ صَوْمَ فِي يَوْمَيْنِ: الفِطْرِ وَالأَضْحَى، وَلاَ صَلاَةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَلاَ بَعْدَ العَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ، وَلاَ تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلاَثَةِ مَسَاجِدَ: مَسْجِدِ الحَرَامِ، وَمَسْجِدِ الأَقْصَى، وَمَسْجِدِي هَذَا». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې په دولس غزاګانو کې ګډون کړی دی، فرمايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه څلور (خبرې) اورېدلي دي چې زما خوښې شوي دي هغه فرمايلي دي: «ښځه دې د دوو ورځو په اندازه سفر نه کوي، پرته له دې چې خاوند يا محرم ورسره وي، بل يې دوه روژې منع کړې دي چې يوه يې د کوچني او بله د لوی اختر په ورځو کې روژه نيول دي او دا چې د سهار د لمانځه څخه وروسته لمونځ نشته تر دې چې لمر راوخيژي او د مازديګر له لمانځه څخه وروسته تر دې چې لمر ولوېږي، او دا چې له درېيو جوماتونو پرته په سفر مه ځئ چې هغه: مسجد الحرام، بيت المقدس او زما دغه جومات دی». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم له څلورو کارونو منعه کړې ده:

لومړی: د ښځې له خاوند او محرم پرته د دوو ورځو له سفر څخه ممانعت. او محرم يې هغه خپلوان دي چې دا پرې د تل لپاره حرامه شوې ده، لکه زوی، پلار، وراره، خوره ئې، تره، ماما او داسې نور.

دويم: د کوچني او لوی اختر په ورځ د روژې نيولو ممانعت، برابره ده که مسلمان يې د نذر، نفل او يا کفارې له مخې روژه ونيسي.

دريم: د مازديګر له لمانځه وروسته تر لمر پرېوتو پورې د نفلي لمانځه څخه ممانعت، همدا رنګه د سهار له راختلو (له لمانځه) وروسته تر دې چې لمر راوخيژي.

څلورم: کوم ځای ته سفر کول او د هغه ځای د حرمت عقيده ساتل، يا دا چې نيکی پکې څو برابره کيږي حرام دي پرته لدې دريو جوماتو نو څخه، نو لدې پرته نورو ځايونو ته د لمانځه لپاره د

سفر په موخه کېږي نه ترل کيږي، ځکه لدې دريو جوماتونو پرته په نورو ځايونو کې ثواب نه څو چنده کيږي؛ هغه درې جوماتونه مسجد الحرام، نبوي مسجد او د الأقصی جومات دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ښځې لپاره له محرم پرته سفر کول روا نه دي.

٢. ښځه په سفر کې دښځې لپاره محرم نه ده؛ ځکه هغه فرمايلي: "ميړه يا محرم يې".

٣. هر هغه څه ته چې سفر ويل کيږي د ښځې لپاره له خاوند او محرم پرته حرام دی. او دا حديث د پوښتونکي حالت ته او ځای ته په ليدو بيان شوی و.

٤. د ښځې محرم د هغې ميړه يا هغه څوک دی چې له هغه سره د دايمي اړيکې له امله واده کول حرام وي، لکه: پلار، زوی، تره، ماما، يا د رضاعت له امله لکه: رضاعي پلار، رضاعي تره، يا د خسر کېدو له امله لکه: د خاوند پلار. او بايد چې (محرم) مسلمان، بالغ، عاقل د باور وړ او امانتدار وي، ځکه له محرم څخه مقصد د ښځې ملاتړ، ساتنه او د چارو سمبالول دي.

٥. د ښځې ملاتړ او ساتنې ته د اسلامي شريعت پاملرنه.

٦. د سهار او مازديګر له لمونځونو وروسته مطلق نفلي لمونځ صحيح نه دی، لدې د فرضي لمونځونو راګرځول او سببي لمونځونه مستثنا دي لکه: تحية المسجد او داسې نور.

٧. د لمر له راختلو سمدستي وروسته لمونځ کول حرام دي، بلکې بايد د نېزې په اندازه لمر راپورته شي چې نږدې له لسو دقيقو څخه تر يو پاو پورې کيږي.

٨. د مازديګر وخت تر لمر پرېوتو پورې غځيږي.

٩. (د دې حديث له مخې) دريو جوماتونو ته تګ روا دی.

١٠. د دريو جوماتونو فضيلت او په نورو يې غوره والی.

١١. د قبرونو د زيارت په موخه سفر کول روا نه دي که څه هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم قبر وي، البته د هغه چا لپاره يې زيارت کول روا دي چې په مدينه کې وي او يا دا چې د کوم شرعي او يا روا غرض لپاره ورغلی وي.

(10603)

(232) – عن أسامة بن زيد رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له اسامه بن زيد رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:**
«ما له ما څخه وروسته د ښځو په څېر بله داسې فتنه نه ده پرېښې چې هغه دې نارینه و ته ډېره زیانمنه وي (یعني د نارینه و لپاره د ښځو له فتنې څخه بله زیانمنه فتنه نشته)». [صحیح حدیث دی – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې له هغه وروسته یې داسې فتنه او امتحان ندی پرېښی چې د سړیو لپاره زیان رسوونکې وي لکه خومره چې ښځې دي، که چېرته یې له کورنی څخه وي، نو له شریعت څخه د سرغړونو له امله به د ده لپاره امتحان وي، او که ترې پردی وي نو د اختلاط او خلوت او هغه فسادونو له امله چې لدې دواړو څخه رامنځته کېږي د ده لپاره فتنه او امتحان وي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. یو مسلمان باید د ښځو له فتنې څخه ځان وساتي او هره هغه لار باید بنده کړي چې د فتنې لامل کرځي.
٢. مؤمن باید په الله جل جلاله ملا وتړي، او له فتنو څخه د خوندي کېدو په هیله هغه ته پناه یوسي.

(5830)

(233) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «مَنِ اسْتَطَاعَ البَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ، فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو، نو ویې فرمایل:** «ځوک چې (د کوروالي) وړتیا ولري نو واده دې وکړي، ځکه چې دا

**(کار) د سترګو د حفاظت او شرمګاه د ساتلو لپاره غوره دی، او څوک چې توان نه لري، نو روژه دې ونیسي، ځکه دا ورته (شهوت پرې کوونکې) ده».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کسان واده کولو ته هڅولي چې د جماع کولو توان ولري او د واده لګښتونه پرې کړای شي؛ ځکه پدې سره یې سترګې له حرامو ساتل کیږي او عفت یې هم ساتل کیږي، او په بد کاریو له اخته کېدو څخه یې مخنیوی کوي. او څوک چې د واده کولو له بار څخه نه شي وتلی او د کوروالي ورتیا ولري نو روژه دې ونیسي، ځکه روژه د شرمګاه شهوت او د منیو شر پرې کوي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د عفت اسبابو ته د اسلام لیوالتیا او له بې حیایۍ څخه یې پر خوندیتوب ټېنګار.
٢. پر هغه چا د روژې نیولو ټېنګار چې د واده له بار څخه نه شي وتلی، ځکه چې روژه نیول شهوت کمزوری کوي.
٣. د روژې په نیولو سره د خصي کېدلو د تشبیه لامل دا دی چې څوک خصي شي نو شهوت یې پرې کیږي او روژه هم د کوروالي لپاره شهوت کمزوری کوي.

(5863)

(234) – عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، وَإِنَّ اللهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا، فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ، فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**ابو سعید الخدري رضي الله عنه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي يې دي:** **«په حقیقت کې دنیا خوږه او شنه ده، او الله تعالی یې تاسو مېشتوي، تر څو وګوري چې څه کوئ، نو له دنیا څخه ویره وکړئ او له ښځو څخه ویره وکړئ، ځکه چې د بني اسرائیلو لومړی فتنه په ښځو کې وه».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چې دنيا په خوند کې خوږه او په نظر کې شنه ده، نو انسان پرې دوکه کيږي او پکې ور ډوبيږي او هغه يې خپل لوی غم ګرځولې ده. او الله جل جلاله له موږ څخه ځينې په دې دنيوي ژوند کې داسې ګرځولي دي چې يو د بل ځای ناستې کيږي، تر څو وګوري چې څه کوو، آيا طاعت يې کوو که نافرماني يې کوو؟ بيا يې وفرمايل: پام کوئ چې دنيا مو په لذتونو او زينتونو دوکه نه کړي، ځکه هغه کارونه به دربانديې وکړي چې الله تعالی يې درته د پرېښودلو امر کړی او په هغه څه به مو اخته کړي چې ترې يې منع کړي ياست. او د دنيا له سترو فتنو څخه چې ځان ترې بايد وساتل شي د ښځو فتنه ده، او دا لومړی فتنه وه چې بنی اسرائيل پکې ښکيل شول.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په پرهيزګارۍ ټينګار او د دنيا په ظاهري شيانو او ښکلا نه بوختېدل.
٢. په ښځو له دوکه کېدلو څخه ځان ساتل، دا چې هغوی ته وکتل شي، يا ورسره د بيګانه سړيو اختلاط عادي وګڼل شي او داسې نور.
٣. د ښځو فتنه په دنيا کې له سترو فتنو څخه ده.
٤. د تېرو امتونو څخه عبرت اخيستل، هغه څه چې بني اسرائيلو ته پېښ شوي ممکن له نورو سره هم وشي.
٥. د ښځو فتنه دا ده چې؛ که مېرمن وي نو خاوند به له توان څخه پورته لګښت کولو ته اړباسي، نو د ديني چارو څخه به يې مشغولوي او دې ته به يې اړ باسي چې د دنيا ګټلو پسې ځان برباد کړي، او که چېرته بيګانه وي نو فتنه يې د سړيو دوکه کول او له حق څخه اړول دي کله چې دا ښځې له کوره ووځي او سړيو سره اختلاط وکړي، په ځانګړې توګه کله چې بربنډې او بې پردې وي، او کېدای شي له دې امله په بېلا بېلو درجو سره په زنا اخته شي، نو مؤمن بايد الله جل جلاله ته پناه يوسي، تر څو يې د دوی له فتنې څخه وساتي.

(3053)

(235) – عَنْ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟، قَالَ: «أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ، أَوِ اكْتَسَبْتَ، وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلَا تُقَبِّحْ، وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ» **[حسن] - [رواه أبو داود وابن ماجه وأحمد].**

**د معاويه القشيري رضي الله عنه څخه روایت دی فرمایي چې: ما وویل: اې د الله رسوله! زموږ څخه پر یو یې د ښځې څه حق دی؟ هغه وفرمایل:** **«باید ډوډی ورکړې کله چې ته خپله خوراک کوې، جامې ورکړې کله چې ته خپله جامې اخلې او یا یې ترلاسه کوې، مخ مه وهه او مه یې بدرنګوه او ځای دې ترې مه جلا کوه مګر په خپل کور کې».** [حدیث حسن دی] - [ابو داود، ابن ماجه او احمد روایت کړی].

## تشریح:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه وشوه چې ښځه پر خاوند څه حق لري؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځینو کارونو یادونه وکړه لکه:

لومړی: له هغې پرته خپل ځان په خوړو سره مه ځانګړی کوه؛ بلکې هغې ته خواړه ورکوه کله چې ته خوراک کوې.

دویم: خپل ځان په جامو کولو سره مه ځانګړی کوه، بلکې کله چې جامې اخلې هغې ته یې هم اخله، (یعني کله دې چې جامې تر لاسه کولې او وس دې و نو هغې ته یې هم واخله).

دریم: له سبب او اړتیا پرته باید ونه وهل شي، که چېرته یې د تأدیب په موخه وهلو او یا د ځینو فرایضو د پرېښودلو له امله وهلو ته اړتیا پیدا شوه نو باید داسې ونه وهل شي چې اثر پرېږدي، مخ نه وهل کېږي؛ ځکه چې مخ د بدن په غړو کې لوی (حیثیت) لري او د نورو په پرتله ډېر ښکاره دی، او د درناوي وړ او تنکي غړي پکې دي.

څلورم: کنځلې مه کوه او داسې مه وایه چې: الله دې مخ بدرنګه کړه؛ نو بدن څخه یې هېڅ شی بدرنګوالي ته مه پرېږده چې له ښایسته یې وباسي؛ ځکه چې الله تعالی د انسان مخ او بدن ته شکل ورکړی، او هر شی یې ښایسته پیدا کړی، او د پېدایښت بدرنګوالی نعوذ بالله د پیدا کوونکي په مذمت دلالت کوي.

پنځم: یوازې په خوب ځای کې ترې ځای جلا کوه او بل لور ته ترې مه اوړه او بل کور ته یې تللو ته مه اړ باسه؛ دا کېدی شي د هغه څه په اړه وي چې د ښځې او خاوند تر منځه عادتا خفګان او پرېکون رامنځته کېږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. صحابه كرام د هغو حقونو پېژندلو ته لېواله وو چې د دوی په نورو وو او يا د نورو پر دوی وو.

٢. د ښځې نفقه، جامې او د اوسېدلو ځای برابرول پر خاوند واجب دي.

٣. د معنوي او حسي بدرنګوالي ممانعت.

٤. معنوي بدرنګوالی دا دی چې ووايي: ته له بدرنګې قبيلې څخه يې، يا دې کورنی بده ده او داسې نور.

(58093)

(236) – عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَضْحَى أَوْ فِطْرٍ إِلَى المُصَلَّى، فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ، تَصَدَّقْنَ، فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ العَشِيرَ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ»، قُلْنَ: وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «أَلَيْسَ شَهَادَةُ المَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ» قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: «فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا، أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ» قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: «فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په لوی او يا کوچني اختر کې عيدګاه ته راووت، نو د ښځو تر څنګ تېر شو او وېې ويل: «اې د ښځو ټولېه! صدقه ورکړئ ځکه چې د دوزخ زياتره خاوندان ماته تاسو راوښودل شوئ» هغوی وويل: اې د الله رسوله، د کوم کار له امله؟ وېې ويېل: «تاسو ډېر لعنت وايئ، او د خپلو خاوندانو ناشکري کوئ، ما هېڅکله ستاسو په څېر بل څوک د عقل او دين له اړخه نېمګړې نه دي لېدلي چې يو هوښيار سړی له عقل نه خلاص کړي». هغوی وويل: اې د الله رسوله! پدې کې زمونږ د دين او عقل څه نېمګړتيا ده؟ هغه وويل: «ايا د يوې ښځې شاهدي د نارينه د نيمايي شاهدی سره برابره نه ده؟» هغوی وويل: ولې نه، وېې فرمايل: «دا يې د عقل نيمګړتيا ده. آيا داسې نه ده چې کله پرې حيض راشي نو نه لمونځ کوي او نه روژه نيسي؟» هغوی وويل: ولې نه، وېې فرمايل: «دا يې د دين له نيمګړتيا څخه ده». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اختر په ورځ عیدګاه ته راووت، په داسې حال کې چې د ښځینه وو سره یې ژمنه کړې وه چې یوازې به دوی ته خطبه ورکوي، نو ژمنه یې په دې ورځ پوره کړه او ویې ویل: اې د ښځو ډلې صدقه ورکړئ او ډېر استغفار وایئ؛ دا دواړه د ګناهونو د له منځه وړلو له سترو اسبابو څخه دي، ځکه چې د اِسرا په شپې ما تاسو د دوزخیانو اکثریت ولیدئ.

نو له دوی څخه یوې عقلمندې، د نظر خاوندې او هوښیارې ښځې وویل: اې د الله رسوله! ولې د دوزخیانو اکثریت موږ یو؟

هغه وفرمایل: د ځو کارونو له امله: دا چې زیات لعنت او سپکې سپورې وایئ او د خاوند حق نه منئ. بیا یې د هغوی ځینې ځانګړتیاوې په دې وینا سره بیان کړې چې: ما ستاسو په څېر د عقل او دین له اړخه نیمګړې نه دي لیدلې چې د یو عاقل سړي عقل، حزم او اراده ترې واخلئ او بې واکه یې کړئ.

هغې وویل: اې د الله رسوله! د عقل او دین نیمګړتیا څه ده؟

هغه وفرمایل: د عقل نیمګړتیا دا ده چې د دوو ښځو شاهدي د یو سړي له شاهدۍ سره برابره ده؛ نو دا د عقل نقصان شو، او د دین نیمګړتیا یې نیمګړي نیک عملونه دي چې د حیض له امله په شپو او ورځو بې لمانځه تېروي، او د حیض له امله په رمضان کې روژې خوري، نو دا یې د دین نیمګړتیا ده، خو پدې نیمګړتیاوو سره هغوی نه ملامتېږي او نه پرې نیول کېږي؛ ځکه چې دوی همداسې پیدا شوي دي، لکه څنګه انسان په فطري توګه داسې پیدا شوی چې د مال سره مینه لري او په چارو کې بېړه کوي او ناپوهه دی... او داسې نور، نو خلک یې دې ته متوجه کړل چې څوک پرې ونه غولېږي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. عیدګاه ته د ښځو وتل، او په ځانګړې توګه هغوي ته وعظ کول مستحب دي.
٢. د خاوند ناشکري او زیات لعنت ویل له کبیره ګناهونو څخه دي؛ ځکه په اور سره ګواښ د کبیره ګناه نښه ده.
٣. حدیث په دې لالت کوي چې ایمان زیاتېږي او کمېږي، نو د چا عبادت چې زیات شو ایمان او دین یې زیاتېږي، او د چا عبادت چې لږ شو دین یې نېمګړی کېږي.
٤. نووي فرمایلي: عقل زیاتېدل او کمېدل مني، همدا رنګه ایمان هم دی، پدې حدیث کې د ښځو

له نېمګړتیا ښځه موخه دا نده چې په دې سره هغوی ملامتې وګڼل شي؛ ځکه چې دا د هغوی اصل خلقت دی، خو دې ته پام را اړول پدې موخه دي چې خلک پرې دوکه نه شي، لدې امله په عذاب سره ګواښ د دوی د ناشکرۍ او لعنت ویلو له امله شوی، نه د خلقتي نېمګړتیا له امله، د دین نقصان یوازې په هغه څه پورې محدود نه دی چې د ګناه لامل ګرځي، بلکې له دې څخه ډېر عام دی.

۵. حدیث پدې دلیل دی چې کله څوک پر یو څه پوه نه شي نو زده کوونکی او هغه چې پیرو وي باید د پوهېدو لپاره (ښوونکي ته) بېرته مراجعه وکړي.

٦. په دې کې په دې دلیل دی چې د یوې ښځې شاهدي د نارینه وو نیمايي ده، ځکه چې کنټرول یې لږ دی.

٧. ابن حجر د دې وینا په اړه وايي: "ما رأيت من ناقصات... إلخ": ماته داسې ښکاري چې دا یو لامل دی چې ولې دوی د دوزخ ډېری اوسیدونکي دي؛ ځکه چې کله دوی د یو هوښیار سړي د عقل د زوال لامل وګرځي او بیا داسې یو څه وکړي یا ووايي چې نه ښايي، نو پدې سره یې په ګناه کې شریکې دي او نوره اضافي ګناه یې هم کېږي.

٨. د حیض پر مهال د ښځې لپاره لمونځ او روژه حرام دي، همدارنګه د (نفاس) د زېږون د وینې پر مهال، چې بیا کله پاکه شي نو یوازې قضايي روژې به نیسي.

٩. د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوره اخلاق چې د ښځو پوښتنې یې له تاوتریخوالي او ملامتی پرته ځواب کړې.

١٠. ابن حجر وايي: صدقه د عذاب مخه نیسي او کله د مخلوقاتو د ګناهونو کفاره هم ګرځي.

١١. نووي فرمايي: په ښځو کې د دین نقصان د حیض پرمهال د لمانځه او روژې د پرېښودو له امله وي؛ او یقینا چې د چا چې عبادت زیات شي د هغه ایمان او دین هم زیاتېږي او د چا چې عبادت کم شي د هغه په دین کې هم کموالی راځي، بیا کېدی شي د دین نقصان داسې وي چې له امله یې انسان ګناهکار شي لکه څوک چې لمونځ، روژه او داسې نور واجب عبادتونه له عذر پرته پرېږدي، او کېدی شي نقصان داسې وي چې انسان پرې نه ګناهکارېږي لکه څوک چې جمعې لمونځ، جګړه (جهاد) او داسې کارونه چې پرې فرض نه وي پرېږدي، او کېدی شي داسې وي چې هغه پرې مکلف وي لکه د حائضې مېرمنې لپاره د لمونځ او روژې پرېښودل.

(10011)

**(237) – عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ» فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَرَأَيْتَ الحَمْوَ؟ قَالَ: «الحَمْوُ المَوْتُ». [صحيح] - [متفق عليه]**

**له عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «بېګانه ښځو ته له ورتللو ډېره وکړئ» نو يوه انصاري وويل: اې د الله رسوله! د خاوند د خپلوانو په اړه خبر راکړه، هغه وويل: «د خاوند خپلوان مرګ دی».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم له پرديو ښځو سره له اختلاط نه منع کړې او فرمايلي يې دي: پر ځانونو ووېرېږئ کله چې تاسو پرديو ښځو ته ورننوځئ او يا پردی ښځې ستاسو کورونو ته درننوځي.

نو يو انصاري وويل: د خاوند د خپلوانو په اړه خبر راکړه؟ لکه د مېړه ورور، وراره، تره، د تره زوی، د خور زوی او داسې نور، چې د ښځې نکاح ورسره کېږي که چېرته يې نکاح نه وای شوې؟

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: له هغه څخه داسې ووېرېږئ لکه څنګه چې له مرګ نه وېرېږئ! ځکه چې له خسر خپلو سره يوازېتوب په دين کې د فتنې او هلاکت سبب ګرځي، نو د مېړه له پلار او زامنو پرته نور بېګانه خپلوان خو په طريقه اولی سره منع دي؛ ځکه چې د خاوند له خپلوانو سره يوازېتوب د بل چا په پرتله ډېر پېښېږي، او د نورو په پرتله ترې د بدی تمه ډېره کېږي او په فتنه کې د ښکېل کېدلو احتمال ډېر دی، ځکه چې په اسانی سره ورتللی شي او کولی شي له کوم اعتراض پرته ورسره يوازيتوب ولري، او دا چې چاره ترې نشته او مخنيوی يې ناشونی دی، ځکه چې د دود له مخې خلک پدې اړه سختي نه کوي، نو يو سړی د خپلې ورېندار سره ګوښه کيني، چې دا د فساد له اړخه د مرګ سره ورته والی لري، د بېګانه سړي برعکس چې له هغه نه خو بېخي ډېره کول په کار دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په بدکارۍ کې د ښکېل کېدو د مخنيوي په موخه بېګانه ښځو ته له ورتللو او هغوی سره له ګوښه مجلس کولو څخه ممانعت.

٢. دا د غير محرم لپاره عمومي دی، لکه د مېړه ورور او خپلوان چې د ښځې محرم نه دي، او دا باید په پام کې ونیول شي چې مراد ترې هغه ورتګ دی چې ګوښه والی په کې کېږي.

٣. له هغو ځایونو ډېره کول چې پېښه پکې خویږي، له دې وېرې چې له شر سره مخ نه شي.

٤. نووي رحمه الله وايي: د ژبې پوهانو په دې خبره اتفاق کړی چې د (الأحماء) څخه مراد د ښځې د مېړه خپلوان دي لکه د هغه پلار، تره، ورور، وراره، د تره زوی او داسې نور او دا چې (الأَختان) د ښځې خپلوانو ته ویل کیږي او (الأصهار) د ښځې او خاوند دواړو خپلوانو ته ویل کېږی.

٥. د مېړه خپلوان يې له مرګ سره تشبیه کړل، پدې اړه ابن حجر رحمه الله فرمايي: عرب چې له څه شي کرکه لري نو مرګ يې بولي، د تشبيه لامل يې دا دی چې پدې کې د دين مړينه ده که چېرته ګناه واقع شوه او د ګوښه کېدونکی مرګ دی پکې، ځکه چې ګناه واقع شوه نو رجم کيږي، او همدارنګه د ښځې لپاره بربادي ده چې خاوند يې د غيرت له امله طلاقوي او له خپل خاوند څخه جلا کېږی.

(5888)

**(238) – عن أبي موسى رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لا نِكَاحَ إِلّا بِوَلِيٍّ». [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]**

**له ابو موسی رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «له سرپرست پرته نکاح نشته».** [صحيح حديث دی] - [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د ښځې نکاح تر هغه وخته پورې نه صحيح کيږي چې سرپرست يې د نکاح تړون ترسره کړی نه وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د نکاح د صحت لپاره سرپرست شرط دی، نو که چېرته له سرپرست پرته ترسره شي او يا ښځه ځان په نکاح کې ورکړي، نو نکاح صحيح نده.

٢. سرپرست ښځې ته تر ټولو نږدې سړی وي، نو لرې سرپرست نه شي کولی چې د نږدې سرپرست په شتون کې ښځه چاته په نکاح ورکړي.

٣. ولي یا سرپرست باید پدې شرطونو برابر وي چې: مکلف وي، نر وي، دومره هوښیار وي چې د نکاح په فایدو وپوهېږي د ولي او د چا سرپرستي چې کوي باید دواړه په یو دین وي، نو په چا کې چې دا صفتونه نه وي هغه د دې وړ نه دی چې د نکاح په تړون کې سرپرستي وکړي.

(58066)

(239) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِي اللهُ عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهَا، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ -ثَلَاثَ مَرَّاتٍ- فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَالْمَهْرُ لَهَا بِمَا أَصَابَ مِنْهَا، فَإِنْ تَشَاجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ». **[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]**

**له ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:** **«کومه ښځه چې د خپل سرپرست له اجازې پرته نکاح وکړي، د هغې نکاح باطله ده - درې ځلې یې دا خبره تکرار کړه- که چېرته ورسره یو ځای شو د هغې لپاره د هغه څه مهر دی چې کار یې ترې اخیستلی دی، که چېرته یې سره شخړه راغله نو پادشاه د هغه چا سرپرست دی چې سرپرست نه لري».** [صحیح حدیث دی] - [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې ښځې په اړه خبرداری ورکړی چې د سرپرستانو له اجازې پرته چاته ځان واده کړي، او دا چې نکاح یې باطله ده، هغه دا خبره درې ځلې تکرار کړه، لکه بیخي چې شوې نه وي.

نو که چېرته یې خاوند ورسره د سرپرست له اجازې پرته یو ځای شوی و، نو دا چې د شرمګاه له لارې یې ورسره کوروالی کړی دی، پوره مهر به ورکوي.

بیا که چېرته سرپرستانو د سرپرستی د عقد په اړه سره خپلو کې شخړه کول - چې ټول ورته یو برابر نږدې وو- نو عقد د هغه چا دی چې له دوی څخه لومړی ورمخکې شوی وي او د ښځې مصلحت پکې وي، او که چیرته یې سرپرست له ودولو انکار کاوه، نو دا داسې ده لکه سرپرست چې نه لري؛ پدې حالت کې به یې پادشاه یا قاضي او داسې نور سرپرستان وي، که نه نو د سرپرست په شتون کې پادشاه د سرپرستی حق نه لري.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د نکاح د صحت لپاره د سرپرست شتون شرط دی، او پدې اړه له ابن المنذر څخه روایت دی چې هېڅ یو صحابي پدې کې مخالفت نه دی کړی.

٢. په باطله نکاح کې ښځه د پوره مهر مستحق ده، د هغه کورواليٌ له امله چې سړي ورسره کړی دی.

٣. پادشاه د هغې ښځې سرپرست دی چې سرپرست نه لري، برابره خبره ده چې که اصلا سرپرست نه لري او یا یې لري خو واده ته یې نه پرېږدي.

٤. پادشاه د هغې ښځې سرپرست ګڼل کېږي چې سرپرست نه لري، دا چې سرپرست یې ورک وي او یا ورته لاس رسی نه کېږي، نو قاضي یې پر ځای سرپرست دی؛ ځکه چې هغه یې په داسې مسائلو کې ځای ناستی دی.

٥. د ښځې په ودولو کې د سرپرست شتون دا معنا نه لري چې هغه حق نه لري، بلکې حق لري او سرپرست ته یې روا نده چې د هغې له خوښې پرته یې چاته واده کړي.

٦. د معتبرې نکاح شرطونه: لومړی: د ښځې او خاوند دواړو ټاکل؛ هغه که په اشاره وي، یا په نوم اخیستلو او یا ځانګړو بیانولو او داسې نورو سره. دویم: د ښځې او خاوند یو پر بل رضایت. دریم: د ښځې ترون باید د هغې سرپرست وکړي، څلورم: د نکاح پر ترون شاهدي.

٧. د هغه سرپرست شرطونه چې نکاح تړي: لومړی: عاقل وي، دویم: نر وي، دریم: بالغ وي؛ چې پنځلس کلنی ته رسېدلی وي او یا بالغ شوی وي، څلورم: دین یې سره یو وي، ځکه چې کافر نه شي کولی د مسلمان یا مسلمانې سرپرستي وکړي، همدا رنګه مسلمان د کافر سړي او کافرې ښځې سر پرستي نه شي کولی، پنځم: عادل وي او فاسق نه وي، د دې لپاره بسنه کوي وپوښتل شي چې د ښځې د سرپرستی لپاره چاته صلاحیت ورکوي، شپږم: هوښیار وي او کم عقله نه وي؛ پدې پوه شي چې څوک د نکاح وړ دی او د دې نکاح په ښېګنو پوه شي.

٨. په نکاح کې د ښځې سرپرستي د فقهاوو له نظره ترتیب لري، له نږدې سرپرست پرته بل ته اوختل روا نه دي مګر دا چې نږدې سرپرست نه وي او یا په شرطونو برابر نه وي، د ښځې سرپرست د هغې پلار دی، بیا هغه څوک چې په اړه یې ورته وصیت شوی وي، بیا یې د پلار له خوا نیکه او همداسې پورته، بیا یې زوی، بیا یې لمسي او همداسې لاندې، بیا یې سکنی ورور، بیا یې ناسکه ورور، بیا د دوی دواړو زامن، بیا یې سکه تره، بیا یې ناسکه تره، بیا د دوی دواړو ځامن، بیا ورته په نسب کې یو د بل پسې نږدې عصبه خپلوان چې میراث وړي، او مسلمان حاکم او د هغه ځای ناستی لکه قاضي د هغه چا سرپرست دی چې سرپرست نه لري.

(58067)

(240) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَلْعُون مَنْ أَتَى امرأَتَه فِي دُبُرِهَا». [حسن] - [رواه أبو داود والنسائي في الكبرى وأحمد]

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «پر هغه چا لعنت ويل شوی چې خپلې مېرمنې ته د شا له خوا (په دبر کې) ورځي».** [حديث حسن دی] - [ابو داود، نسائي په سنن کبری کې او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم مېړه ته د خپلې مېرمنې سره د شا لخوا د يو ځای کېدو په اړه خبرداری ورکړی؛ چې لعنت پرې ويل شوی او د الله له رحمت څخه شړل شوی دی، او دا له کبيره ګناهونو څخه يوه ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د شاه لخوا (په دبر کې) ښځو ته د نږدې کېدو حراموالی.
٢. له دبر پرته د ښځې له نور ټول بدن څخه خوند اخيستل جايز دي.
٣. مسلمان ښځې ته د مخې لخوا ورځي، لکه څنګه چې الله تعالی ورته امر کړی دی؛ او د شا لخوا په ورتګ سره فطرت افساد، او نسل ضايع کيږي، او پدې کې د سالم فطرت مخالفت دی او ښځې او خاوند ته ستر ضررونه رامنځته کيږي.

(58090)

(241) – عن عقبة بن عامر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «أَحَقُّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «په شرطونو کې تر ټولو حقدار شرط چې بايد وفا پرې وشي هغه دی په کوم سره چې تاسو د ځان لپاره شرمګاوې (ښځې) حلالې ګرځولې دي (نکاح)».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې په شرطونو کې تر ټولو زيات حقدار هغه دي چې بايد وفا پرې وشي، په کوم سره چې له ښځې څخه استمتاع (خوند اخيستل) روا شوي دي، او دا هغه روا شرطونه دي چې د نکاح د تړون پر مهال يې ښځه غوښتنه کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د هغو شرطونو پوره کول واجب دي چې (د نکاح د تړون پر مهال) يې ښځه او خاوند يو پر بل ږدي، مګر هغه شرطونه چې حلال حرام، او حرام حلال وګرځوي.
٢. د واده د شرطونو په پوره کولو د نورو په پرتله زيات ټينګار شوی، ځکه چې دا د شرمګاوو د روا کېدو په بدل کې دي.
٣. په اسلام کې د نکاح د حيثيت عظمت، ځکه چې د شرطونو په پوره کولو يې ډېر ټينګار کړی دی.

(6021)

(242) – عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «الدُّنْيَا مَتاعٌ، وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «دنيا د خوند اخيستلو څيز دی، او د دنيا تر ټولو غوره شی چې خوند ورڅخه اخيستل کيږي: نېک صالحه مېرمن ده».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې دنيا او څه چې په دنيا کې دي هغه څه دي چې د يو څه وخت لپاره ترې خوند اخيستل کيږي بيا له منځه ځي او دا چې تر ټولو غوره متاع يې صالحه مېرمن ده، کله چې ورته وګوري خوشحاليږي، او کله چې ورته امر وکړي اطاعت يې کوي، او کله چې ترې لرې وي نو په خپل ځان او د هغه په مال کې ترې ساتنه کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د دې دنيا له پاکيزه څيزونو څخه د خوند اخيستلو جواز؛ هغه چې الله جل جلاله ترې خوند اخيستل روا کړي وي پرته له اسراف او تکبر څخه.

٢. د صالحې ميرمنې غوره کولو ته هڅونه؛ ځکه چې د خاوند لپاره مرستندويه ده چې د خپل رب اطاعت وکړي.

٣. د دنيا تر ټولو ښه متاع هغه ده چې د الله جل جلاله اطاعت پکې وي او يا د الله جل جلاله د اطاعت لپاره مرستندويه وي.

(5794)

(243) – عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عنه قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ فَأَمَرَنِي أَنْ أَصْرِفَ بَصَرِي. [صحيح] - [رواه مسلم]

**له جرير بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د ناڅاپه ليدو په اړه وپوښتل، نو هغه راته امر وکړ چې سترګې واړوم.** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

جرير بن عبد الله رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې يو سړی په ناڅاپه ډول پرته له نيته يوې پردی ښځې ته ګوري؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته امر وکړ چې ژر ترژره خپل بصر يا نظر ترې واړوي، او خپل مخ او سترګې ترې اړولې ترڅو ګناه پرې نشته.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د نظر ښکته اچولو ته هڅوونه.

٢. په دوامداره توګه هغه څه ته د کتلو په اړه خبرداری چې لیدل ورته حرام وي، کله چې پرې په ناڅاپي توګه له قصد پرته سترګې ولږيږي.

٣. په دې کې د دې خبرې ثبوت دی چې د صحابه کرامو په مینځ کې بیګانه ښځو ته لیدل حرام و، لکه څنګه چې له جرير رضي الله عنه څخه ثابته ده چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې کله يې له قصد پرته په ناڅاپي توګه په يوې بيګانه ښځې سترګې

ولړېږي، نو آيا دا د قصدي ليدلو په توګه دي؟

٤. دا په ډاګه کوي چې شريعت د خپلو خلکو فايدو ته پاملرنه کوي، لدې امله يې پرې بيګانه ښځو ته ليدل حرام کړي دي، ځکه چې دنيوي او اخروي مفاسد ترې ولاړېږي.

٥. صحابه کرامو رضی الله عنهم به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته رجوع کوله او د هغه څه په اړه به يې ترې پوښتنه کوله چې پرې به نه پوهېدل، او عامو خلکو ته هم همداسې په کار دي چې خپلو علماوو ته رجوع وکړي او د هغه څه په اړه ترې پوښتنه وکړي چې پرې نه پوهيږي.

(8902)

**(244) – عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عنهُ قَالَ: ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا. [صحيح] - [متفق عليه]**

**له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه برګ ښکرور پسونه قرباني کړل، په خپل لاس يې حلال کړل، بسم الله او الله اکبر يې پرې وويل، او خپله پښه يې د هغوی دواړو په ورمېږونو کېښودله.** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د لوی اختر په ورځ په خپل لاس دوه نر ښکرور برګ پسونه قرباني کړل، هغه چې رنګ يې تور او سپين سره ګډ وي او ويې ويل: بسم الله و الله اکبر، او خپله پښه يې د هغوی په ورمېږونو کېښوده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د قربانۍ مشروعيت او پدې کې د مسلمانانو اجماع ده.

٢. د قربانۍ لپاره غوره هغه ډول وي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کړې ده؛ د هغې د ښکلا، ښايسته غوښې او وازګې له امله.

٣. نووي وايي: پدې کې په دې خبره دليل دی چې يو سړی کولی شي خپله قرباني په خپله وکړي او له عذر پرته يې په بل چا ونه کړي او که يې (د عذر له امله) په بل چا کوله نو د حلالې پر مهال بايد خپله حاضر وي، او که پر ځای يې بل مسلمان ورته حلاله وکړه نو پرته له اختلافه چې روا ده.

٤. ابن حجر وايي: په دې کې په دې خبره دليل دى چې د ذبحې پر مهال د بسم الله او الله اکبر ويل مستحب دي او دا هم مستحب دي چې د حلالې پر مهال د قربانی د ورمېږ په ښي اړخ پښه کېښودل شي او پدې يې هم سره سلا کړې چې قرباني بايد په چپ اړخ څملول شي او خپله پښه دې د ورمېږ په ښي طرف کېښودل شي، تر څو حلالوونکي ته اسانه شي چې چاړه په ښي لاس او د قربانی سر په چپ لاس ونيسي.

٥. د ښکرور څاروي قرباني کول مستحب دي او په نورو هم قرباني جايز ده.

(2971)

(245) – عَن عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى أَنَّهُمْ كَانُوا عِنْدَ حُذَيْفَةَ، فَاسْتَسْقَى فَسَقَاهُ مَجُوسِيٌّ، فَلَمَّا وَضَعَ الْقَدَحَ فِي يَدِهِ رَمَاهُ بِهِ، وَقَالَ: لَوْلاَ أَنِّي نَهَيْتُهُ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلاَ مَرَّتَيْنِ –كَأَنَّهُ يَقُولُ: لَمْ أَفْعَلْ هَذَا–، وَلَكِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لاَ تَلْبَسُوا الحَرِيرَ وَلاَ الدِّيبَاجَ، وَلاَ تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَلاَ تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا، فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَنَا فِي الآخِرَةِ». [صحيح] - [متفق عليه]

له عبدالرحمن بن ابي ليلى څخه روايت دى چې دوي له حذيفه سره وو، هغه اوبه وغوښتې، نو يو مجوسي اوبه ورکړې، کله يې چې لوښى په لاس کې ورکړ ببرته يې پرې وويشت او ويې ويل: که چېرته مې هغه يو يا دوه ځلې منع کړى نه و - لکه چې غوښتل يې داسې ووايي چې: داسې کار به مې نه و کړى- خو ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايلي يې دي: «نرم او سخت ورېښمين کالي مه اغوندئ، او د سپينو او سرو زرو په پيالو کې څښاک مه کوئ، او مه يې په لوښو کې خوراک کوئ، ځکه دا د هغوى (کافرو) لپاره په دنيا او زموږ لپاره په آخرت کې دي». [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم نارينه د هر ډول ورېښمو له اغوستلو منع کړي دي. او نارينه او ښځې يې د سرو او سپينو زرو په لوښو کې له خوراک او څښاک څخه منع کړي دي. او ويلي يې دي چې دا د قيامت په ورځ خاص د مومنانو لپاره دي؛ ځکه چې دوي په دنيا کې د الله تعالى د اطاعت

له امله ترې ډېره کړې وه. او د کافرانو لپاره په آخرت کې ندي؛ ځکه هغوی په دنيوي ژوند کې د خپلو ښېګڼو په لاسته راوړلو کې بيړه کړې چې دا څيزونه يې کارولي، او د الله له امر څخه يې سرغړونه کړې ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د نارينه وو لپاره د غليظو او نرمو ورېښمو د اغوستلو حراموالی او د هغه چا لپاره سخت ګواښ چې اغوستلي يې دي.
٢. د ښځينه وو لپاره د ورېښمو اغوستل روا دي.
٣. د نارينه او ښځو لپاره د سرو او سپينو زرو په پيالو او کاسو کې د خوړلو او څښلو ممانعت.
٤. په منع کولو کې د حذيفه رضي الله عنه سختوالی، او لامل يې داسې بيان کړ چې هغه څو ځلې د سرو زرو او سپينو زرو د لوښو له کارولو څخه منعه کړې و، خو هغه ترې منع شوی نه و.

(2985)

(246) – عن علي رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «رُفِعَ الْقَلَمُ عن ثلاثة: عن النائم حتى يَسْتَيْقِظَ، وعن الصبي حتى يَحْتَلِمَ، وعن المجنون حتى يَعْقِلَ». **[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي في الكبرى وابن ماجه وأحمد]**

**له علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «له درې ډوله خلکو څخه قلم پورته شوی دی: له ويده څخه تر هغه پورې چې راويښ شي، له کوچني څخه تر هغه پورې چې زلمی (بالغ) شي او له ليوني څخه تر هغه پورې چې په هوش راشي».** [صحيح حديث دی] - [ابو داود، ترمذي، نسائي په سنن کبری کې، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې له دغو درې ډوله خلکو پرته نور ټول بني آدم مکلف دي:

يو کوچنی ماشوم تر هغه وخته پورې چې لوی شي او بالغ شي. او له ليوني څخه؛ هغه چې عقل يې له لاسه ورکړی وي، تر دې چې عقل يې بېرته ورته راوګرځي. او له ويده څخه تر دې چې راويښ شي. نو دوی مکلف نه دي، او ګناه ورته نه ليکل کيږي، خو د کوچني لپاره يې ښېګڼه ليکل کيږي،

نه د لیوني یا ویده سړي لپاره؛ ځکه چې دوی د هغه چا په څېر نه دي چې د عبادت کولو جوګه وي، ځکه چې (پدې حالت کې) دوی شعور نه لري.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. انسان خو یا په خوب سره اهلیت له لاسه ورکوي، چې خوب یې د راویښېدو مانع ګرځي تر څو خپل مکلفیت ادا کړي او یا ماشومتوب او کوچنیوالی چې په دې حالت کې دی اهلیت نه لري، او یا د لیونتوب له امله، چې رواني چارې ورسره ګډوډیږي، او یا د ده په څېر نور (حالات) لکه: نشه، نو چا چې تمیز له لاسه ورکړ او سم تصور یې نه شو کولای، د دې دریو اسبابو له امله ترې مکلفیت لرې کیږي؛ نو الله تعالی ترې په خپل عدل، بردباری او سخاوت سره مکلفیت پورته کړی او په عمل یې نه نیسي که چېرته تېری وکړي او یا د الله تعالی په حق کې نیمګړتیا وکړي.

٢. د دوی د ګناهونو نه لیکل کېدل، د دوی نه ځیني دنیوي حکمونه نه نفی کوي؛ لکه: لیونی که چېرته قتل وکړي، نو قصاص او کفاره پرې نشته، خو کورنی به یې دیت ورکوي.

٣. زلمیتوب (بلوغ) درې نښې لري: د منیو وتل، که په خوب کې وي یا بل ډول، د شرمګاه شاوخوا وېښتان راشنه کېدل او یا د پنځلس کلنی عمر پوره کول او د ښځې خلورمه اضافي نښه حیض دی.

٤. سبکي فرمایلي: صبي: ماشوم ته ویل کیږي، او نورو ویلي: انسان چې کله د مور په ګېډه کې وي نو جنین ورته ویل کیږي، کله چې وزیږیږي بیا ورته ماشوم ویل کیږي، کله چې د تي نه بیل شي نو تر اووه کلنی پورې هلکی وي تر دې چې لس کلنی ته ورسیږي او پنځلس کلنی ته په رسېدو تندرست شي، او سیوطي وایي چې صحي خبر داده چې په دې ټولو پړاوونو کې ورته صبي یعنی کوچنی ویل کیږي.

(58148)

(247) – عن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْقَزَعِ. [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم له قزع څخه منع فرمایلي ده.** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم لدي منع فرمايلې چې ځينې ويښتان وخرييل شي او ځينې پرېښودل شي.

نهي تولو نارينه و ته شامله ده؛ کوچنيان وي او که لويان، او د ښځې لپاره د سر خرييل نشته.

## د حديث له فايدو څخه:

١. اسلامي شريعت د انسان ظاهر ته ارزښت ورکوي.

(8914)

**(248) – عن ابن عمر رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «أَحْفُوا الشَّوَارِبَ وأَعْفُوا اللِّحَى». [صحيح] - [متفق عليه]**

**ابن عمر - رضي الله عنهما -له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي:** «برېتونه لنډ کړئ او ږيرې اوږدې کړئ». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم امر کوي چې برېتونه دې واخيستل شي، او بايد پرې نښودل شي بلکې لنډې کړای شي او په دې کې دې مبالغه وشي.

او د دې په مقابل کې د ږيرې په پرېښودلو امر کوي، چې زياته پرېښودل شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ږيرې د خريلو حراموالی.

(3279)

(249) – عَن أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ، وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:** «سړی به د سړي شرمګاه ته نه ګوري، او ښځه به د ښځې شرمګاه ته نه ګوري او نه دې يو سړی له بل سړي سره په يوه جامه کې ځان پټوي او نه دې يوه ښځه له بلې ښځې سره په يوه جامه کې ځان پټوي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې منع فرمايلې ده چې يو سړی د بل سړي شرمګاه ته وګوري، يا دا چې يوه ښځه د بلې ښځې شرمګاه ته وګوري.

عورت: هر هغه څه ته وايي چې د ښکاره کېدو پر مهال يې د شرم احساس کيږي او د سړي عورت د هغه د نوم او زنګنونو تر منځ دی، او ښځه د پرديو سړيو لپاره ټوله عورت ده او ښځو او نورو محارمو ته هغه ځايونه ښکارولی شي چې د عادت له مخې يې په کور کې ښکاره کوي.

او رسول الله صلی الله عليه وسلم لدې منع فرمايلې ده چې يو سړی له بل سړي سره په يو لباس او يا د يوې برستنې لاندې بربنډ ننوځي او لدې چې يوه ښځه له بلې ښځې سره په يو څادر کې بربنډه ننوځي، ځکه دا د دې لامل ګرځي چې يو د بل عورت لمس کړي، پداسې حال کې چې له لمس کولو څخه يې منع راغلې ده، لکه څرنګه چې ورته له ليدلو څخه راغلې ده، بلکې لمس کول يې لاپسې په تينګار سره منع شوي، او ځکه چې لدې څخه لوی فساد رامنځته کيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. شرمګاوو ته د کتلو ممانعت پرته له ښځې او خاوند څخه چې هغوی يو بل ته کتلی شي.
٢. اسلام د ټولنې پاکوالي ته ليواله دی او هغه لارې بندوي چې د بې حيايۍ لور ته ځي.
٣. د ضرورت په صورت کې د شرمګاه کتل روا دي، لکه درملنه او داسې نور، په دې شرط چې شهوت په کې نه وي.
٤. مسلمان ته امر شوی چې خپل شرمګاه پټه کړي او د نورو له شرمګاه څخه سترګې پټې کړي.

٥. سرې له سړيو او ښځې له ښځو سره د دې لپاره په ځانګړې توګه ياد شوي چې پدې حالاتو کې عورت لوڅيږي او د يو بل عورت ته په اسانۍ سره کتل کيږي.

(8904)

(250) – عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما قال: لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا، وَكَانَ يَقُولُ: «إِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم نه فاحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت ګرځېدلی وي ) او نه متفحش و ( هغه څوک چې فحاشي يې عادت نه وي خو په عمدي توګه يې کوي) او فرمايل به يې: «يقينا چې په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې ښه اخلاق ولري».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

پوچه وينا او پوچې کړنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اخلاقو څخه نه وو، نه يې د دې کار اراده درلوده او نه يې په قصدي توګه کاوه، ځکه چې هغه صلی الله علیه وسلم د لويو اخلاقو خاوند و.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم به ويل: د الله جل جلاله په نزد په تاسو کې تر ټولو غوره هغه څوک دی چې اخلاق يې په ښو کړنو کولو - ورين مخ، له خلکو څخه په ضرر لرې کولو او يا ورڅخه سختی پورته کولو، او له خلکو سره په مهربانۍ چلند کولو سره ښايسته وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. مؤمن بايد له بدو خبرو او بدو کارونو څخه ځان وساتي.

٢. د رسول الله صلی الله علیه وسلم بشپړ اخلاق، چې له هغه څخه له نيک عمل او پاکيزه وينا پرته بل څه نه صادريږي.

٣. ښه اخلاق د سيالۍ ميدان دی، نو څوک چې مخکې شو هغه د غوره مؤمنانو له جملې او په ايمان کې تر ټولو کامل شخص دی.

(5803)

(251) – عن عائشة رضي الله عنها قالت: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «إِنَّ المُؤْمِنَ لَيُدرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ القَائِمِ». [صحيح بشواهده] - [رواه أبو داود وأحمد]

**له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «بېشکه مؤمن په ښو اخلاقو سره د روژه نيوونکي او اعتکاف کوونکي درجې ته رسيږي».** [د شواهدو په اعتبار صحيح دی] – [ابو داود او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګندونه کړې چې: ښه اخلاق يې خاوند د هغه چا درجې ته رسوي چې په دوامداره توګه د ورځې روژې نيسي او د شپې تهجد کوي او ښه اخلاق په: نيکی کولو، ښايسته خبرو، ورين مخ، له نورو څخه په ضرر لرې کولو او له ځان څخه د نورو په ضرر لرې کولو کې رانغاړل شوي دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اسلام عظمت او لويي چې د اخلاقو بشپړتيا او تکامل ته پاملرنه کوي.
٢. د ښو اخلاقو فضيلت، تر دې چې بنده د پرلپسې روژه نيوونکي او هغه تهجد کوونکي درجې ته رسوي چې نه ستړی کيږي.
٣. د ورځې روژه او د شپې تهجد کول هغه دوه ستر عملونه دي چې تر سره کول يې په نفس سخت تماميږي، نو د ښو اخلاقو خاوند دې درجې ته ځکه رسېدلی چې د خپل ځان په وړاندې په غوره اخلاقو سره مبارزه کوي .

(5799)

(252) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَخَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِنِسَائِهِمْ». [حسن] - [رواه أبو داود والترمذي وأحمد]

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «په مؤمنانو کې تر ټولو د کامل ايمان لرونکي هغه دي چې ښه اخلاق ولري او په تاسو کې غوره هغه**

ځوک دی چې له خپلو مېرمنو سره ښه وي». [حدیث حسن دی] - [ابو داود، ترمذي او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د ایمان په لحاظ تر ټولو کامل انسان هغه دی چې ښه اخلاق ولري او دا کار په ورین تندي، نیکی کولو، ښو خبرو او له نورو څخه په ضرر لرې کولو سره کیږي.

او تر ټولو غوره مؤمن هغه دی چې د خپلو مېرمنو لپاره غوره وي، لکه د هغه مېرمن، لوڼې، خویندې او خپلوانې. ځکه چې هغوی د نورو په پرتله زیات حق لري چې ښه سلوک ورسره وشي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د ښو اخلاقو فضیلت او دا چې ښه اخلاق له ایمان څخه دي.
٢. عمل له ایمان څخه دی او ایمان زیاتیږي او کمیږي.
٣. په اسلام کې د ښځو درناوی او له هغوی سره مهرباني کولو ته هڅول.

(5792)

(253) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ، فَقَالَ: «تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ» وَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ فَقَالَ: «الْفَمُ وَالْفَرْجُ». [حسن صحيح] - [رواه الترمذي وابن ماجه وأحمد]

**له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل شول چې تر ټولو زیات شی (کوم دی) چې خلک جنت ته داخلوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «له الله جل جلاله څخه وېره او ښه اخلاق» او ورڅخه وپوښتل شو چې تر ټولو زیات شی (کوم چې) خلک اور ته داخلوي، نو هغه وفرمایل: «خوله او شرمګاه».**

[حدیث حسن او صحیح دی] - [ترمذي، ابن ماجه او احمد روایت کړی]

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې جنت ته د ننوتلو لوی لاملونه دوه دي چې هغه عبارت دي له :

له الله جل جلاله څخه وېره او ښه اخلاق.

نو له الله جل جلاله څخه وېره دې ته وايي چې د الله تعالی د اوامرو په ترسره کولو او د هغه له ممانعتونو څخه د ځان ساتلو لپاره ستاسو او د الله تعالی د عذاب تر منځه وقايه وګرځوي.

او ښه اخلاق: چې په ورين تندي، احسان کولو او له ضرر څخه ځان ساتلو باندې کېږي.

او دا چې اور ته د ننوتلو ستر لاملونه دوه لاملونه دي چې عبارت دي له:

ژبې او شرمګاه څخه.

نو د ژبې له ګناهونو څخه: دروغ ويل، غيبت، چغلګري او داسې نور دي.

او د شرمګاه له ګناهونو څخه: زنا، لواطت او داسې نور دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. جنت ته د ننوتلو اسباب د الله تعالی سره تړاو لري، چې له هغې جملې څخه: له هغه څخه وېرېدل، او ځينې نور سببونه يې د خلکو سره تړاو لري چې له جملې څخه يې: ښه اخلاق دي.

٢. د ژبې خطر د خپل خاوند لپاره، او دا چې اور ته د ننوتلو يو لامل دی.

٣. انسان ته د شهوت او بې حيايی خطر او دا چې دوزخ ته د ننوتلو تر ټولو زيات لاملونه- همدا - دي.

(5476)

**(254) – عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا. [صحيح] - [متفق عليه]**

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم تر ټولو خلکو د غوره اخلاقو لرونکی و.** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم په اخلاقو کې تر ټولو کامل انسان و، او هغه په ټولو اخلاقو او فضيلتونو کې مخکښ و، لکه په نرمی خبرې کول، ښېګنه کول، ورين او خوشحاله مخ، له نورو څخه ضرر دفع کول او لرې کول.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو بشپړوالی.
٢. رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښو اخلاقو غوره نمونه ده.
٣. په ښو اخلاقو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاره تلل.

(6180)

**(255) – قال سعد بن هشام بن عامر –عندما دخل على عائشة رضي الله عنها-: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، أَنْبِئِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ قُلْتُ: بَلَى، قَالَتْ: فَإِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنَ. [صحيح] - [رواه مسلم في جملة حديثٍ طويلٍ]**

**سعد بن هشام بن عامر - چې کله د عايشې رضي الله عنها کور ته ورغی نو وېې ويل: اې د مؤمنانو مورې، ماته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه خبر راکړه، هغې وفرمايل: آيا ته قرآن نه لولې؟ ما وويل: ولې نه، وېې فرمايل: د الله جل جلاله د نبي صلى الله عليه وسلم اخلاق قرآن و.** [صحيح حديث دی] - [مسلم په اوږد حديث کې روايت کړی].

## تشريح:

د مؤمنانو له مور عايشې رضي الله عنها څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه پوښتنه وشوه، نو هغې جامع ځواب ورکړ، او پوښتونکي ته يې په قرآن کريم حواله ورکړه؛ هغه کتاب چې د کمال ټول صفتونه پکې دي، نو وېې فرمايل چې: د هغه اخلاق قرآن و، په هغه څه چې قرآن امر کړی هغه يې عملي کړي، او له هغه څه چې قرآن منع فرمايلي، ډډه يې ترې کړې ده، نو په قرآن عمل کول، د هغه له حدودو سره ودرېدل، په ادابو يې ځان سنګارول، له کيسو او مثالونو څخه يې عبرت اخيستل د هغه اخلاق و.

## د حديث له فايدو څخه:

١. رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې پدې کې اقتدا کول چې قرآن کريم يې اخلاق و.
٢. د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو ستاينه او دا چې دا د وحې سرچينه ده.

٣. قرآن کریم د ټولو ښو اخلاقو سرچينه ده.

٤. په اسلام کې اخلاق ټول دين ته شامليږي؛ د اوامرو پر ځای کولو او له منهياتو څخه ډډه کولو سره.

(8265)

**(256) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤمنِينَ رضي الله عنها قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ، فِي تَنَعُّلِهِ، وَتَرَجُّلِهِ، وَطُهُورِهِ، وَفِي شَأْنِهِ كُلِّهِ. [صحيح] - [متفق عليه]**

**له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم به خوښول چې په بوټانو (پېزار) پښو کولو، سر ګمنځولو، پاکوالي او خپلو ټولو چارو کې په ښي (غړي يا اړخ) پيل وکړي.** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم به خوښ او غوره ګڼل چې په عزتمندو چارو کې په ښي (غړي يا اړخ) پيل وکړي لکه: په پېزار پښو کولو کې به ښی پښه پيل وکړي، د سر او ږيرې په ګمځولو، صافولو او غوړولو کې له ښي اړخ څخه پيل وکړي او په اودس کې د لاسونو او پښو په وينځلو کې ښی غړی په چپ غړي مخکې کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. نووي -رحمه الله -فرمايي: دا په شريعت کې دوامداره قاعده ده چې هغه څه چې عزت او شرافت بلل کيږي، لکه کميس او پرتوګ اغوستل (جامې) اغوستل، پېزار پښو کول، جومات ته ننوتل، مسواک وهل، رانجه کول، نوکان پرې کول، بريتونه کمول، د صافولو په موخه وېښتان ګمنځول، د بغلونو وېښتان وېستل، سر خرييل، په لمانځه کې سلام اړول او د پاکوالي پر مهال د اندامونو وينځل، له تشناب څخه راوتل، خوراک او څښاک، په لاس روغبړ کول، د حجر الأسود لمسول او دا ډول نورې کړنې، نو پدې ټولو کې په ښي (غړي يا اړخ) پيل کول مستحب دي، او د دې خلاف لکه تشناب ته ننوتل، له جومات څخه راوتل، لاړې او بلغم تو کول، استنجا کول، کميس، پرتوګ او پېزار ويستل او داسې نور.. نو مستحب دي چې پيل په چپ (غړي يا اړخ) سره وشي او دا ټول د (ښي غړي او يا طرف) د عزت او وقار له امله ترسره کيږي.

٢. "په ښي (اړخ یا غړي پیلول به یې) خوښول "چې پدي کې: په ښي لاس، ښۍ پښې او ښي اړخ سره د چارو پیلول او په ښي لاس سره د یو څه ورکول شامل دي.

٣. نووي - رحمه الله - فرمایي: پوه شه چې په اودس کې ځینې غړي دي چې په ښي (لاس یا اړخ) پیلول یې مستحب نه دي لکه: دواړه غوږونه، دواړه ورغوي او اننګي، بلکې دواړه په یو ځل وینځل کیږي، که په یو ځل یې وینځل ناشوني وو لکه د هغه چا لپاره چې لاسونه یې پرې وي او داسې نور نو بیا دې په ښي اړخ پیل وکړي.

(3018)

**(257) – عن شداد بن أوس رضي الله عنه قال: ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ، فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ، وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ، فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ». [صحيح] - [رواه مسلم]**

**له شداد بن اوس - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایي چې: دوه خبرې مې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زده کړي دي، وایي: «په حقیقت کې الله تعالی په هر څه کې مهرباني فرض کړې ده، نو کله چې تاسو وژنی، په مهربانی سره وژل وکړئ، او کله چې تاسو حلاله کوئ، نو په مهربانی سره حلاله وکړئ، او که ستاسو څخه یو څوک حلاله کوي نو خپله چاړه دې تېره کړي، او ځاروی دې راحت کړي».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې الله تعالی په ټولو شیانو کې نیکي کول فرض کړي دي، او احسان (نیکي) : په دوامداره توګه د الله تعالی په عبادت، خلکو ته په خبر رسولو او له مخلوقاتو څخه په ضرر لرې کولو کې د الله تعالی څار دی، لدې جملې څخه په وژلو او حلالولو کې له مهربانی څخه کار اخیستل دي.

په قصاص اخیستلو کې د وژلو پر مهال نیکي کول: داسې چې د مقتول لپاره تر ټولو اسانه، سپکه او چټکه لاره غوره شي.

او په ذبح کې د حلالې پر مهال نیکي کول دا دي چې: د چاړې په تېره کولو سره په ځاروي شفقت وشي او د ځاروي له مخې چاقو تېره نه شي چې هغه ورته ګوري، او دا چې د نورو ځاروو د سترګو وړاندې حلال نه شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په مخلوقاتو باندې د الله تعالى رحمت او مهربانى.
٢. په وړلو او حلاله کې نيکي دا ده چې په مشروعه بڼه وشي.
٣. د شريعت کمال او هرې ښېګڼې لره يې شاملېدل، چې له جملې څخه يې پر څاروي شفقت او مهرباني ده.
٤. د يو چا تر وژلو وروسته د هغه (مُثله) ټوټه کول حرام دي.
٥. د هر هغه کار ممانعت چې په هغه کې د څاروي تعذيب کول وي.

(4319)

(258) – عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ، عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ عَزَّ وَجَلَّ، وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ، الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا». [صحيح] - [رواه مسلم]

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «بېشکه چې عدل کوونکي به د الله - جل جلاله - په وړاندې د رڼا په منبرونو د رحمن ذات ښي طرف ته وي؛ او د هغه (ذات) دواړه (بلا کيفه) لاسونه ښي دي، هغه څوک چې په خپل قضاوت، خپلو کورنيو او هغه څه کې عدل کوي چې سرپرستي يې ور ترغاړې ده». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هغه کسان چې د دوی تر امر او قضاوت لاندې د خلکو او د دوی د کورنيو تر منځه په انصاف او رښتينولۍ سره قضاوت کوي نو هغوی به د درناوي په موخه په داسې لوړو او دنګو څوکيو ناست وي چې هغه به له نور څخه پيدا شوي وي. او دا منبرونه (څوکۍ) به د رحمان ذات ښي اړخ ته وي، او د هغه پاک ذات دواړه (بلا کيفه) لاسونه ښي دي.

## د حديث له فایدو څخه:

١. د عدالت فضیلت او پرې ټینګار.
٢. عدالت عمومي دی چې ټولو سرپرستیو او د خلکو تر منځه پرېکړو کولو ته شامل دی، تر دې چې د مېرمنو، اولادونو او داسې نورو تر منځه عدالت کولو ته هم شامل دی.
٣. د قیامت په ورځ د عدالت کوونکو د مرتبې بیان.
٤. د قیامت په ورځ عمل ته په کتو سره د مومنانو په مرتبو کې توپیر.
٥. د هڅونې طریقه د بلنې (دعوت) له هغو لارو چارو څخه ده چې بلنه ورکړل شوی پیروی ته هڅوي.

(4935)

(259) – عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ، مَنْ ضَارَّ ضَرَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ شَاقَّ شَقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ». **[صحيح بشواهده] - [رواه الدارقطني]**

**له ابو سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:** «نه ضرر رامنځته کول شته او نه بل چاته ضرر رسول، چا چې - بل ته - ضرر ورساوه نو الله تعالی به هغه ته ضرر ورسوي، او چا چې په نورو سختي وکړه الله تعالی به پرې سختي راولي». [د شواهدو په اعتبار صحیح دی] - [دارقطني روایت کړی دی]

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې له ځان او نورو څخه د هر ډول ضرر او ضررې پدیدې دفع کول واجب دي، نو د هیچا لپاره دا جواز نه لري چې خپل ځان او یا نورو ته زیان ورسوي.
او ورته روا ندي چې د ضرر په مقابل کې په ضرر لاس پورې کړي، ځکه چې یو ضرر په بل ضرر سره له منځه نه وړل کیږي مګر دا چې قصاص وي، هغه هم له تیرې پرته.
بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو کسانو لپاره د ضرر ګواښونه تشریح کړل چې خلکو ته زیان رسوي او د هغه چا لپاره سختي چې په خلکو باندې سختي کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ضرر په اندازه له جزا ورکولو څخه د زياتوالي ممانعت.

٢. الله تعالى خپلو بندګانو ته د داسې څه امر نه دی کړی چې دوی ته زيان ورسوي.

٣. د ضرر د رامنځته کولو او بل ته په وينا، فعل او يا پرېښودلو سره د ضرر رسولو حراموالی.

٤. سزا د عمل له جنس څخه وي نو څوک چې ضرر رسوي، الله به هغه ته ضرر ورسوي او څوک چې - په چا - سختي کوي، الله به له هغه سره سختي وکړي.

٥. د شريعت له قواعدو څخه يو دا دی چې" ضرر به لرې کيږي"، نو شريعت زيان نه مني، او ضرر ردوي.

(4711)

(260) – عَنْ أَبِي مُوسَى رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّمَا مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالْجَلِيسِ السَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ، فَحَامِلُ الْمِسْكِ: إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً، وَنَافِخُ الْكِيرِ: إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**ابو موسى رضي الله عنه له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايي:** «د ښه ملګري او بد ملګري مثال د مشکو والا او د پخ (آهنګر دی)، نو کوم چې د مشکو والا دی: يا خو به درته مشک ډالی کړي، يا به يې ترې واخلې او يا خو به ترې ښايسته بوی درشي، او پخ چې دی؛ نو يا خو به دې کالي وسوځي، او يا به ترې بد بوی درشي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوه ډوله خلکو مثال بيان کړ:

لومړی ډول: نيک او صالح ملګری چې د الله لورې او هغه څه ته دې لارښوونه کوي چې هغه پرې خوشحاليږي، او په اطاعت کې دې مرسته کوي. نو د ده مثال لکه د مشکو پلورونکي دی چې يا خو به يې درکړي، يا به يې ترې واخلې او يا به ترې ښايسته بوی درشي.

او دويم ډول: بد ملګری؛ چې د الله له لارې دې منع کوي او د ګناهونو په کولو کې دې مرسته

كوي او بد کارونه به ترې وينې او د هغه په څېر خلکو د ملګرتيا او ناستې پاستې له امله به د خلکو مخ در اوړي. نو د ده مثال د هغه پخ (آهنګر) په څېر دی چې اور پوکوي؛ نو يا خو به د اور سپرغی دروالوځوي او کالي به دې وسوځوي، او يا خو به ورته د نږدې والي له امله بد بوی وممي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. اورېدونکي ته د معنی نږدې کولو لپاره د متلونو کارول جواز لري.

٢. د فرمانبرداره او صالحه خلکو ناستې ته هڅول او پر ملګرتيا يې ټينګار، او د مفسدو او بد اخلاقه خلکو څخه ډډه کول.

(3127)

(261) – عن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْصِنِي، قَالَ: «لَا تَغْضَبْ» فَرَدَّدَ مِرَارًا قَالَ: «لَا تَغْضَبْ». [صحيح] - [رواه البخاري]

**له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې: يو سړي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل چې وصيت راته وکړه، هغه وفرمايل: «مه غوسه کېږه». هغه څو ځله تکرار کړه، ويې فرمايل: «مه غوسه کېږه».** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

يو صحابي - رضی الله عنه - له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وغوښتل چې هغه ته د داسې يو څه لارښوونه وکړي چې ګټه ورته ورسوي، نو هغه ته يې امر وکړ چې غصه مه کوه، يعنې له هغو اسبابو څخه ځان وساته چې د غصې لامل ګرځي، او دا چې د غوصې پر مهال ځان کنټرول کړې، او په وژلو، وهلو، سپکاوي او داسې نورو سره دې خپل قهر ته دوام نه ورکوي.

سړي په تکراري ډول د وصيت غوښتنه وکړه، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته په وصيت کې له «غصه مه کوه» څخه څه اضافه نه کړل.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د غصې او لاملونو په اړه يې خبرداری، ځکه چې دا د بديو ټولګه ده، او ورڅخه ډډه کول د نيکيو ټولګه ده.

٢. د الله لپاره غصه کول ستايل شوي غصه ده لکه د الله تعالی د موانعو تر پښو لاندي کولو له امله غصه کول.
٣. د اړتيا پر مهال د خبرې تکرار تر دې چې اورېدونکی پرې پوه شي او په اهميت يې پوه شي.
٤. له عالم څخه د وصيت غوښتلو فضيلت.

(4709)

(262) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**
«پیاوړی کس - په غېږ نیولو کې - چپه کوونکی ندی، بلکې پیاوړی هغه دی چې د غصې پر مهال خپل ځان کنټرول کړي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې اصلي ځواک د بدن ځواکمني نده او نه هغه ځواکمن دی چې نور قوي کسان راچپه کړي، بلکې غښتلی او پیاوړی - انسان - هغه څوک دی چې د خپل نفس په وړاندې مبارزه وکړي او د سختې غصې په وخت کې يې کنټرول کړي، ځکه چې دا د دې په خپل ځان د پوره ځواک او په شيطان د غالبېدو دليل دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د غصې په وخت کې د زغم او پر نفس د کنټرول فضيلت، او دا يو له هغو نيکو کارونو څخه دی چې اسلام پرې ټينګار کړی دی.
٢. د غصې پر مهال د نفس په وړاندې مبارزه د دښمن پر وړاندې له مبارزې کولو سخته ده.
٣. اسلام د جاهليت د ځواکمنۍ مفهوم ته په ښو اخلاقو بدلون ورکړی دی، نو تر ټولو ځواکمن انسان هغه دی چې خپل ځان کنټرول کړي.
٤. له غوصې څخه ځان ساتل، ځکه چې زيان يې افرادو او ټولنې ته رسيږي.

(5351)

(263) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما قال: قال رَسولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَلَّةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَلَّةٌ مِنْ نِفَاقٍ حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ».
**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «په چا کې چې څلور خصلتونه وي هغه سوچه منافق دی او په چا کې چې له دغو څخه یو خوی هم وي په هغه کې د نفاق یو خوی دی تر دې چې پرې یې ږدي: کله چې خبرې کوي درواغ وايي او کله چې تړون وکړي ماتوي یې، کله چې وعده وکړي وعده خلافي کوي او کله چې شخړه وکړي کنځلې کوي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د څلورو ځانګړتیاوو په اړه خبرداری ورکړی چې که په یو مسلمان کې سره یو ځای شي نو د دې ځانګړنو له امله به له منافق سره ورته والی ولري او دا په هغو کسانو تطبیقیږي چې دا ځانګړتیاوې پرې غالبه وي، او په چا کې چې په نادره توګه وي هغه پکې شامل نه دي، هغه ځانګړتیاوې دا دي:

لومړی: کله چې په قصدي توګه درواغ وايي او په خپلو خبرو کې رښتینی نه وي.

دویمه: کله چې تړون وکړي عمل پرې نه کوي او د مقابل لوری سره خیانت کوي.

دریمه: کله چې ژمنه وکړي وفا پرې نه کوي، بلکې وعده خلافي کوي.

څلورمه: کله چې چا سره شخړه کوي نو شخړه یې ډېره سخته وي او له حق څخه انحراف کوي او ورڅخه د منکرېدو لپاره یې چل کوي، او تل باطل او دروغ وايي.

نفاق د یو څه ښکاره کولو ته وايي چې خلاف یې پټوي او دا معنی په هغه شخص کې شتون لري چې دا ځانګړتیاوې لري، او منافقت یې د هغه چا په حق کې دی چې خبري یې ورسره کړي، وعده یې ورسره کړې، امانتدار یې ګرځولی، شخړه یې ورسره کړې او یا یې ورسره کوم تړون کړی دی، نه دا چې په اسلام کې منافق دی؛ چې اسلام ښکاره کوي په داسې حال کې چې په پټه کافر وي، نو په چا کې چې لدې ځانګړتیاوو څخه یوه وي، د منافق له خویونو څخه به پکې یو خوی وي تر دې چې پرې یې ږدي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د منافق د ځينو نښو بيانول او په هغو کې د ښکېل کېدو څخه وېرول.

٢. له حديث څخه مقصد دا دی چې: دا د منافق خويونه دي، او د دې خويونو لرونکی پدې خصلتونو کې د منافق سره ورته والی لري او د هغوی ناوړه اخلاق پکې دي، نه دا چې دی هغه منافق دی چې اسلام ښکاره کوي او کفر پټوي، او ويل شوي چې دا حديث د هغه چا په حق کې دی چې دا خويونه پرې غالب وي او په اړه يې بې پروايي کوي، نو که داسې وي د دې انسان ډېری عقيده فاسده شوې ده.

٣. غزالي فرمايلي: د دين اصل په دريو شيانو کې منحصر دی: وينا، عمل او نيت، نو د وينا فاسدېدلو ته يې په دروغو او د عمل فاسدېدلو ته په بې خيانت او د نيت فاسدېدلو ته يې په وعده خلافۍ اشاره وکړه، ځکه وعده خلافي تر هغه پورې نه تر سره کيږي تر دې چې د وعده خلافۍ اراده ورسره شتون ونه لري، خو که داسې وي چې اراده يې کړې وي او بيا يو کار پيدا شو چې د وعده خلافۍ پر وړاندې خنډ وګرځېد، يا بل فکر ورغی نو پدې صورت کې ترې د منافق خوی نه دی څرګند شوی.

٤. نفاق په دوه ډوله دی: اعتقادي نفاق چې خاوند يې د ايمان له دايرې څخه وځي او هغه د اسلام پټولو او د کفر ښکاره کولو ته وايي، او بل ډول يې عملي نفاق دی چې خاوند يې په خويونو کې د منافقانو سره ورته والی لري، دا ډول نفاق يې خاوند د ايمان له دايرې څخه نه باسي، خو دا له کبيره ګناهونو څخه يوه ګناه ده.

٥. ابن حجر فرمايلي: علماوو کرامو په دې اتفاق کړی چې څوک چې په زړه او په ژبه ايمان ولري او په دې صفتونو عمل وکړي پر هغه د کفر حکم نه کيږي او نه هغه منافق دی چې تل به په جهنم کې پاتې وي.

٦. نووي فرمايلي: د علماوو يوې ډلې ويلي دي چې: مراد ترې هغه منافقان دي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې وو چې په ايمان يې اقرار کاوه خو دروغ يې ويل او په دين کې امانتدار وګرځول شول خو خيانت يې وکړ او په ديني چارو او د دين د بريا لپاره يې ژمنه وکړه خو پر ځای يې نه کړه، او په شخړو کې کنځلې او بدرد ويل.

(65124)

(264) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلاَ اللَّعَّانِ وَلاَ الفَاحِشِ وَلاَ البَذِيءِ». [صحيح] - [رواه الترمذي]

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «مومن پېغور ورکوونکی، لعنت ويونکی، فُحش ويونکی، او بد ژبی نه وي». [صحيح حديث دی – [ترمذی روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې پوره ايمان لرونکي مؤمن لره نه ښايي چې د خلکو په نسب کې عيبونه ولټوي او نه دا چې ډېر کنځلې کوونکی او لعنت ويونکی وي او يا بد کاره او يا د پوچې وينا ويونکی وي چې حيا ونه لري.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په شرعي نصوصو کې د ايمان نفي يوازې په حرامه کړنه او يا د واجب په ترک کېږي.
٢. د اندامونو حفاظت او له بديو څخه يې ساتنه، په ځانګړې توګه ژبه.
٣. سندي رحمه الله فرمايي: په: (الطعّان، واللعّان) کې د مبالغې په صيغه کې يدې دلالت دی چې څوک د طعن او لعنت مستحق وي نو په لږه توګه يې د نسب پورې بد ويل او يا پرې لعنت ويل باک نه لري او دا کار د مؤمنانو ايمان ته زيان نه رسوي.

(65869)

(265) – عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما قال: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ، فَقَالَ: «الْحَيَاءُ مِنَ الْإِيمَانِ». [صحيح] - [متفق عليه]

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ، فَقَالَ: «رسول الله صلی الله عليه وسلم له يو سړي څخه واورېدل چې خپل يو ورور ته يې د حيا په اړه نصيحت کاوه، نو ورته يې وفرمايل: «حيا له ايمان څخه ده».

[صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم له یو سړي څخه واورېدل چې خپل ورور ته يې نصيحت کاوه تر څو له (زياتې حيا) يعنې شرم کولو څخه ډډه وکړي! نو - رسول الله صلی الله علیه وسلم - ورته څرګنده کړه چې حيا له ايمان څخه ده، او دا چې پايله يې يوازې خير دی.

او حيا داسې يو صفت دی چې - انسان - ښو کارونو ته اړباسي او له بدو څخه يې منع کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. هغه څه چې تا د خير له کارونو څخه منع کوي حيا نه بلل کيږي، بلکې هغې ته خجالت، بې وزلي، بې زړه توب او بزدلي وايي.

٢. له الله جل جلاله څخه حياء د اوامرو په عملي کولو او د حرامو په پرېښودلو سره کيږي.

٣. او له خلکو څخه حياء د هغوی په درناوي او ورته په درنه سترګه کتلو سره کيږي، او له هغه څه څخه په ډډې کولو چې معمولا بد وي.

(5478)

(266) – عن المِقدام بن معدي كرب رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «إِذَا أَحَبَّ الرَّجُلُ أَخَاهُ فَلْيُخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ». **[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي في السنن الكبرى وأحمد]**

**مقدام بن معديكرب - رضي الله عنه - له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روايت کوي فرمايي: «کله چې يو سړی له خپل ورور سره مينه لري، نو هغه ته دې ووايي چې مينه ورسره لري».** [صحيح حديث دی] - [ابو داود، ترمذي، نسائي په سنن کبری کې او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مؤمنانو ترمنځ د اړيکو د ټينګښت او د هغوی تر منځ د مينې د پراخولو يو لامل بيان کړی، هغه دا چې که څوک له خپل ورور سره مينه لري، نو هغه دې خبر کړي چې له هغه سره مينه لري.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله تعالی لپاره د پاکې مينې فضيلت، نه د دنياوي ګټې لپاره.
٢. دا غوره ده چې محبوب ته له هغه سره د مينې په اړه ووايا ست، ترڅو مينه او محبت زيات شي.
٣. د مومنانو تر منځ د مينې خپرول ايماني ورورولي پياوړې کوي او ټولنه له تفرقې او بې اتفاقۍ څخه ساتي.

(3017)

(267) – عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ». [صحيح] - [رواه البخاري من حديث جابر، ورواه مسلم من حديث حذيفة]

له جابر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «هره نيکي صدقه ده». [صحيح حديث دی] - [بخاري د جابر رضي الله عنه څخه، او مسلم د حذيفه رضي الله عنه څخه روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې هره نيکي او نورو ته په وينا او عمل سره ګټه رسول صدقه ده، او پدې کې اجر او ثواب دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. صدقه يوازې هغه څه پورې محدوده نه ده چې يو څوک يې له خپل مال څخه وباسي، بلکې هره هغه نيکي پکې شامله ده چې يو څوک يې کوي يا يې وايي او نورو ته يې رسوي.
٢. پدې کې ښېګڼې کولو او هر هغه څه ته هڅول دي چې د نورو په ګټه وي.
٣. له نيکۍ څخه څه شی سپک نه ګڼل، اګر که لږ هم وي.

(5346)

(26) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ، كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ يَعْدِلُ بَيْنَ الِاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ، وَيُعِينُ الرَّجُلَ عَلَى دَابَّتِهِ فَيَحْمِلُ عَلَيْهَا أَوْ يَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ، وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ

خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا إِلَى الصَّلاَةِ صَدَقَةٌ، وَيُمِيطُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**

«د انسان د غړو په هر بند صدقه ده، هره ورځ چې لمر پکې راخیژي او د دوو مخالفو کسانو تر منځه روغه جوړه کوي صدقه ده، او یو چا سره د هغه په سپرلۍ کې مرسته کول صدقه ده چې د هغه په سپرولو کې ورسره مرسته وکړي او یا ورسره د سپرلۍ په بارولو کې مرسته وکړي، او نېکه وینا صدقه ده او هر قدم چې د لمانځه په لور یې پورته کوي صدقه ده او له لارې ضررناک شیان لرې کول هم صدقه ده». [صحیح حدیث دی] - [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې هر مسلمان هره ورځ مکلف دی چې د خپلو هډوکو د بندونو د شمېر په اندازه صدقه ورکړي چې شکر یې ادا کړي او دا چې روغ یې پیدا کړی او هډوکي یې ورته داسې پیدا کړی چې هر یو بند یې بندولی او خلاصولی شي، دا صدقه د ټولو نېکو کارونو په ترسره کولو سره ادا کیږي او د مال ورکولو سره تړاو نه لري لکه: د دوو شخړه کوونکو تر منځ روغه او جوړه کول صدقه ده، او دا چې د یو کمزوري سره په سپرلۍ سپرېدلو کې مرسته وکړي او یا یې ورسره بار کړي، نو دا ستا لپاره صدقه ده، او نېکه وینا صدقه ده لکه: ذکر، دعا، سلام او داسې نور، او هر قدم چې د لمانځه په لور یې اخلي صدقه ده، او د لارې څخه د ضرري څیز لرې کول صدقه ده.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د انسان د هډوکو جوړښت او سالمیت د الله تعالی له سترو نعمتونو څخه دی، نو هر هډوکی ځانګړې صدقې ته اړتیا لري تر څو د دغه نعمت شکر ادا شي.

٢. د دې نعمتونو د دوام لپاره هره ورځ د شکر نوي کولو ته هڅونه.

٣. نفلونو او خیراتونو ته هڅوونه چې په دوامداره توګه دا کارونه وکړي.

٤. د خلکو تر منځه د جوړ جاړي فضیلت.

٥. دې ته هڅول چې یو سړی د خپل (مسلمان) ورور سره مرسته وکړي، ځکه د هغه سره مرسته کول صدقه ده.

٦. په جماعت سره لمانځه کې حاضرېدل او جوماتونو ته د پلي تګ فضيلت او پدې سره د جوماتونو ابادول.

٧. د مسلمانانو لارو ته درناوی ساتل چې هغه څه ترې بايد لرې شي چې هغوی ته ضرر رسوي.

(4568)

(269) – عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ القِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ، وَعَنْ عِلْمِهِ فِيمَ فَعَلَ، وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ، وَعَنْ جِسْمِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ». **[صحيح] - [رواه الترمذي]**

**له ابو برزة الأسلمي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «د قيامت په ورځ به د بنده دواړه قدمونه له خپله ځايه پورته نه شي تر څو ترې د هغه د عمر په اړه پوښتنه وشي چې په څه کې يې تېر کړی، او د علم په اړه چې څه عمل يې پرې کړی، او د مال په اړه چې له کومې لارې يې تر لاسه کړی او په کومه لاره کې يې لګولی، او د بدن په اړه چې په څه کې يې زوړ کړی دی».** [صحيح حديث دی] – [ترمذي روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې هېڅوک به د قيامت په ورځ د حساب له ځای څخه جنت يا دوزخ ته تېر نه شي تر دې چې د څلورو کارونو په اړه ترې پوښتنه وشي.

لومړی: ژوند يې چې په څه کې يې تېر کړی؟

دويم: علم يې؛ چې آيا د الله لپاره يې زده کړی؟ او ايا عمل يې پرې کړی؟ او يا مستحق کس ته يې رسولی؟

دريم: د مال په اړه چې له کومه يې کړی، له حلالو دی که له حرامو؟ او په څه کې يې لګولی؛ په هغه څه کې يې لګولی چې الله راضي کوي کنه په هغه څه کې چې الله ناراضه کوي؟

څلورم: د جسم، روغتيا او ځوانی په اړه يې چې په څه کې يې تېره کړې او کارولې ده؟

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ژوند څخه په داسې طريقه د ګټې اخستلو ټينګار چې الله جل جلاله راضي کوي.

٢. د الله جل جلاله نعمتونه پر بندګانو ډير دي او خامخا به ترې د هغو نعمتونو په اړه پوښتنه وکړي چې دوی پکې وو، نو بايد د الله جل جلاله نعمتونه په هغه څه کې وکاروي چې الله جل جلاله راضي کوي.

(4950)

(270) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «السَّاعِي عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالمِسْكِينِ، كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، أَوِ القَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «د کونډې او مسکينانو پالنه کوونکی د هغه چا په څېر دی چې د الله په لاره کې جهاد کوي، او يا د هغه چا په څېر دی چې د شپې ولاړ وي (تهجد کوي) او د ورځې روژه نيسي».** [صحيح حديث دی – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې هغې ښځې ته پاملرنه وکړي چې خاوند يې مړ شوی وي او څوک يې نه وي چې د چارو سرپرستي يې وکړي، همدا رنګه اړمن مسکين ته او د الله جل جلاله د ثواب په تمه په دوی مصرف کوي؛ نو دی په اجر او ثواب کې د هغه چا په څېر دی چې د الله جل جلاله په لاره کې جهاد کوي، يا د هغه تهجد کوونکي په څېر چې نه ستړی کيږي، او هغه روژه نيونکی چې پرلپسې روژه وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. همکاری، پيوستون، يو د بل کفالت کول او د کمزورو اړتياوو پوره کولو ته هڅول.
٢. عبادت هر نيک عمل ته شامليږي، او د کونډو او مسکينانو پالنه هم له عبادت څخه دی.
٣. ابن هبيره رضي الله عنه فرمايي: مطلب دا دی چې الله جل جلاله ورته د روژه دار، لمونځ کوونکي او مجاهد اجر يو ځای کوي. ځکه چې هغه د کونډې لپاره د هغې د مېړه پر ځای ودرېد او د هغه مسکين د چارو پالنه يې وکړه چې د خپل ځان لپاره يې څه نشو کولی، نو خپله اضافي غله يې (د الله جل جلاله په لار کې) مصرف کړه او له هغه څه نه يې لګښت وکړ چې په خوارۍ يې ګټلي وو، نو ګټه يې د روژه دار، تهجد کوونکي او مجاهد د اجر سره برابره شوه.

(3135)

(271) – عن أبي هريرة رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، نو هغه دې يا د خير وينا وکړي او يا دې چوپ پاتې شي، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، نو هغه دې د خپل ګاونډي درناوی وکړي، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري نو هغه دې د خپل ميلمه پالنه وکړي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: هغه بنده چې په الله او د آخرت پر هغې ورځې ايمان لري چې هغې ته به ورګرځي او په هغې کې به د عملونو بدله ورکړل کيږي، نو هغه لره به يې ايمان دې خويونو ته هڅوي:

لومړی: ښه وينا: د الله تعالی له حمد او ثنا ويلو څخه، په نيکی امر کول، له بديو څخه منع کول او د خلکو تر منځ روغه کول، که چېرته يې داسې ونه کړل؛ نو غلی دې پاتې شي، له اذيته دې لاس واخلي او د خپلې ژبې ساتنه دې وکړي.

دويم: د ګاونډي عزت کول: له هغه سره ښه کول او ضرر ورته نه رسول.

دريم: ستا د ليدو لپاره د راغلو ميلمنو عزت کول: په ښايسته خبرو، خوړو ورکولو او داسې نورو - کارونو - سره.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په الله تعالی او د آخرت په ورځ ايمان د ټولو نيکيو ريښه ده، او - انسان - ښو کارونو ته اړباسي.
٢. د ژبې د آفتونو په اړه خبرداری.
٣. د اسلام دين د الفت او عزت دين دی.
٤. دا خويونه د ايمان له څانګو څخه دي او د ستاينې وړ اخلاق دي.

٥. زياتي خبرې كول د هغه څه لامل كېدى شي چې ناخوښه او يا منع وي او خونديتوب په دې كې دى چې له نېكۍ وينا پرته نورې خبرې ونه كړي.

(5437)

(272) – عن أبي ذر رضي الله عنه قال: قال لي النبي صلى الله عليه وسلم: «لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له أبو ذر رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وفرمايل: «له ښېګڼې څخه څه شى سپک مه ګڼه، اګر که د خپل ورور سره په ورين تندي مخامخ شې». [صحيح حديث دى] [مسلم روايت كړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم په نيكى كولو ټينګار كړى، او دا چې (څوک) يې سپکه ونه ګڼي که څه هم لږه وي، لکه له يو چا سره په موسکا کې په ورين تندي مخ كېدل، نو مسلمان ته په كار دي چې پاملرنه ورته وكړي؛ ځكه چې پدې كې د يو مسلمان ورور ته سكون وركول او خوشحالول دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مومنانو تر منځ د مينې فضيلت، او په موسكا او ورين تندي سره مخ كېدل.
٢. د دې شريعت بشپړتيا او ټول شمولوالي او دا چې دې شريعت په هر هغه څه سره راټګ كړى دى چې د مسلمانانو سمونتيا او يووالى پكې وي.
٣. په نيكى كولو ټينګار كه څه هم لږه وي.
٤. د مسلمانانو خوشحالول؛ ځكه چې پدې سره د دوى تر منځ نږدېوالى رامنځته كيږي.

(5348)

(273) – عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ مَسعُودٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ، فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقًا، وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ، فَإِنَّ

الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا». [صحيح] - [متفق عليه]

**له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:** «رښتيا وايئ؛ ځکه رښتيا ويل نېکيو ته لارښونه کوي او يقينا چې نېکي جنت ته لارښونه کوي، او يو سړی رښتيا وايي او د رښتياوو پسې ګرځي تر دې چې د الله پر وړاندې رېښتينی وليکل شي، او له دروغو ځان وساتئ، ځکه چې درواغ مو په ګناهونو کې ډوبېدو ته بلي او په ګناهونو کې ډوبېدل انسان دوزخ ته رسوي او يو سړی همېشه درواغ وايي او د دروغو پسې ګرځي تر دې چې د الله تعالی پر وړاندې دروغجن وليکل شي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم په رښتيا ويلو امر کړی او ويلي يې دي چې په دوامداره توګه پرې عمل کول د تلپاتې نيک عمل سبب ګرځي، او په نيک عمل ټينګار کول يې خاوند جنت ته رسوي، او تر هغه پورې په دوامداره توګه په پټه او ښکاره رښتيا وايي چې د رښتوني د لقب مستحق وګرځي؛ کوم چې په رښتيا ويلو کې په مبالغه دلالت کوي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د دروغو او باطلې وينا په اړه خبرداری ورکړ؛ ځکه چې دا خلک له استقامت څخه اوړېدو، بديو، فساد او ګناهونو کولو ته اړباسي او بيا يې دوزخ ته رسوي، او تر هغه پورې همداسې ډېر درواغ وايې چې د الله جل جلاله په وړاندې دروغجن وليکل شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. رېښتينولي هغه سپېڅلی صفت دی چې د هڅو او کوښښ پر مټ تر لاسه کېږي، ځکه يو سړی تر هغه پورې رښتيا وايي او د رښتياوو پسې ګرځي، تر څو يې چې خوی او خصلت وګرځي او د الله جل جلاله پر وړاندې د رېښتينو او صالحانو په توګه ثبت شي.

٢. درواغ ويل داسې يو بد صفت دی چې دروغجن يې د زياتو تمرينولو له لارې تر لاسه کوي او په وينا او عمل کې ورپسې ګرځي، تر دې چې په خوی او خصلت يې واوړي او بيا د الله تعالی پر وړاندې له دروغجنو څخه وليکل شي.

٣. ریښتینولي په ژبه رښتیا ویلو ته وايي، چې د دروغو ضد عمل دی، او په نیت کې ریښتینولي چې اخلاص، په اراده کې د یوې ښېګڼې نیت او په کړنو کې ریښتینولی ته ویل کیږي او تر ټولو ټېټه اندازه يې دا ده چې د انسان پټ او ښکاره دواړه سره برابر شي، همدارنګه په مقامونو کې ریښتینولي لکه: په وېره او هیله مندی کې او داسې نور، نو څوک چې دا ټولې ځانګړتیاوې ولري هغه ریښتونی دی او که څینې پکې وي نو ریښتیا ویونکی دی.

(5504)

**(274) – عن جرير بن عبد الله رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:**

**«مَنْ لَا يَرْحَمِ النَّاسَ لَا يَرْحَمْهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ». [صحيح] - [متفق عليه]**

**له جرير بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:**

**«څوک چې پر خلکو رحم نه کوي، الله تعالی به پر هغه رحم ونه کړي».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: هغه څوک چې پر خلکو رحم نه کوي، د الله تعالی له لوري پر هغه رحم نه کېږي، نو په مخلوق باندې د بنده رحم د الله تعالی د رحمت د تر لاسه کولو له سترو لاملونو څخه دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. رحمت د ټولو مخلوقاتو لپاره اړین دی، مګر خلک د پاملرنې له امله په ځانګړې توګه یاد شوي دي.

٢. الله تعالی ډېر مهربان ذات دی او په خپلو مهربانو بندګانو رحم کوي، نو د کار بدله د هغه له جنس څخه وي.

٣. په خلکو ترحم؛ هغوی ته خیر رسولو، له هغوی څخه د بدی مخنیوي او له هغوی سره ښه چلند کولو ته شاملیږي.

(5439)

(275) – عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهمُ الرَّحمنُ، ارحَمُوا أهلَ الأرضِ يَرْحَمْكُم مَن في السَّماء». [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وأحمد]

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «په رحم کوونکو باندې الله رحم کوي، تاسو د ځمکې پر خلکو رحم وکړئ هغه ذات چې په اسمانونو کې دی پر تاسو به رحم وکړي». [صحيح حديث دی] - [ابو داود، ترمذي، او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې؛ هغه خلک چې په نورو رحم کوي، نو رحمان ذات پر هغوی رحم کوي چې رحم يې له هر څه پراخه دی، بدله د عمل سره برابره.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځمکې په ټولو مخلوقاتو د رحم کولو امر وکړ؛ که هغه انسان، يا حيوان، يا الوتونکی مرغه او يا نور داسې ډول ډول مخلوقات وي، او د دې بدله دا ده چې الله تعالی به په تاسو باندې د اسمانونو له پاسه رحم وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اسلام دين د رحم دين دی، او هغه ټول د الله تعالی په اطاعت او مخلوقاتو سره په نيکی کولو ولاړ دی.
٢. الله تعالی په رحمت سره ياد شوی دی، او هغه پاک ذات رحمان او رحيم دی، بندګانو ته د خپل رحمت رسوونکی دی.
٣. بدله د عمل له جنس څخه وي، نو رحم کوونکو باندې الله رحم کوي.

(8289)

(276) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ». [صحيح] - [متفق عليه]

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امان کې

وي او مهاجر هغه څوک دی چې هغه څه پرېږدي چې الله پاک ورڅخه منعه کړې وي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړې].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د کامل اسلام خاوند هغه څوک دی چې د هغه له ژبې څخه مسلمانان په امن کې وي، نه ورته کنځلې کوي، نه پرې لعنت وايي، نه يې غيبت کوي او نه يې تر منځه يو بل ته د هېڅ ډول ضرر رسولو هڅه کوي. او د لاس څخه يې په امن کې وي، نو تېری پرې نه کوي، له حق پرته يې مالونه نه اخلي او داسې نور. او مهاجر هغه دی چې هر هغه څه پرېږدي چې الله تعالی ترې منع کړې دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اسلام بشپړتيا يوازې په دې سره ترلاسه کېدی شي چې نورو ته زيان ونه رسوي، هغه که مادي وي او يا معنوي.
٢. له ژبې او لاس څخه په ځانګړې توګه يادونه لدې امله وشوه چې ډېری بدی او ضررونه له دوی څخه دي او تر ټول لوی شرونه له همدې دواړو صادرېږي.
٣. ګناهونو پرېښودلو ته هڅول او پر هغه څه ټينګ عمل کول چې الله تعالی پرې امر کړی.
٤. غوره مسلمان هغه دی چې د الله تعالی او د مسلمانانو حقوق ادا کړي.
٥. تيری، کېدی شي چې په وينا او يا کړنې سره وي.
٦. بشپړ هجرت د هغو کارونو پرېښودل دي چې الله جل جلاله حرام کړي دي.

(10101)

(277) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: رَدُّ السَّلَامِ، وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ، وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ، وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابوهريره- رضي الله عنه -څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله- صلى الله عليه وسلم - څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «د يو مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه دي: سلام ته يې ځواب**

**وييل، د ناروغ پوښتنه کول، د جنازې پسې تلل، بلنه منل، او د پرنجي پر مهال ورته (يرحمک الله) وييل».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو مسلمان په خپل مسلمان ورور باندې ځينې حقونه بيان کړي دي. له دغو حقونو څخه يې لومړی دا دی چې سلام ور وګرځوي چا ته چې سلام درته واچوي.

دويم حق: د مريض پوښتنه کول او زيارت ته يې ورتلل.

دريم حق: جنازې پسې يې له کوره تر هديرې پورې تلل تر دې چې دفن شي.

څلورم حق: د بلنې منل کله چې بلنه ورکړي لکه د واده وليمې او يا داسې نورو ته.

پنځم حق: پرنجي کوونکي ته ځواب وييل: داسې چې هغه کله د پرنجي پر مهال الحمد لله ووايي نو ورته ووايي چې: **يرحمک الله** (الله دې پر تا رحم وکړي) بيا به پرنجی کوونکی ووايي: **يهديکم الله و يصلح بالکم** (الله تعالی دې تاسو ته هدايت وکړي او ستاسو حال دې سم کړي).

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اسلام عظمت؛ د مسلمانانو تر منځ د حقوقو په تامين او د دوی تر منځ د ورورګلوی او محبت په ټينګولو کې.

(3706)

**(278) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ».** [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو هريره- رضي الله عنه -څخه روايت دی وايې چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم -فرمايلي دي: «تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو چې ايمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمنان نه شئ تر څو چې له يو بل سره مينه ونه لرئ، آيا زه تاسې ته د داسې يو څه لارښوونه ونه کړم چې که چېرته مو وکړ نو مينه به مو سره پيدا شي؟ په خپلو منځونو کې سلام خپور کړئ».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ښرګنده کړه چې جنت ته به يوازې مؤمنان داخليږي، او ايمان نه بشپړيږي او د اسلامي ټولنې حالت تر هغې نه سمېږي تر څو په خپلو کې له يو بل سره مينه ولري. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم غوره کارونو ته لارښوونه وکړه چې له لارې يې مينه عامېږي، هغه د مسلمانانو ترمنځ د سلام اچولو خپرول دي، چې الله جل جلاله د خپلو بندګانو لپاره ستړي مه شي ګرځولې ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. جنت ته ننوتل يوازې د ايمان له لارې کيدی شي.
٢. د ايمان له بشپړوالي څخه دا دي چې مسلمان بايد د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي کوم چې د ځان لپاره خوښوي.
٣. سلام خپرول او مسلمانانو ته يې وړاندې کول مستحب دی، ځکه چې په سلام سره د خلکو ترمنځ مينه او خونديتوب خپريږي.
٤. سلام يوازې پر مسلمان اچول کيږي؛ دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده چې فرمايي" بينکم". يعني په خپلو منځونو کې.
٥. په سلام اچولو سره پريکون، د خپلمنځې اړيکو پرې کول او جنګونه له منځه ځي.
٦. د مسلمانانو تر منځ د مينې او محبت ارزښت او دا د ايمان له بشپړتيا څخه دي.
٧. په يو بل حديث کې راځي چې د سلام بشپړ الفاظ داسې دي: "السلام عليكم ورحمة الله وبركاته"، او دا بسنه کوي چې ووايي: "السلام عليكم".

(3361)

(279) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الإِسْلَامِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ».

**[صحيح] - [متفق عليه]**

**له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل: په اسلام کې کوم خوی ډېر غوره دی؟ هغه وفرمايل: «دا چې چاته خوراک ورکړې او په اشنا او نا اشنا سلام واچوې».** [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه: په اسلام کې کوم صفت ډیر غوره دی؟

هغه دوه ځانګړني يادې کړې:

لومړی: مسکینانو ته ډیره ډوډی ورکول لکه: صدقه، تحفه، مېلمستیا او ولیمه او د خوراک ورکولو فضیلت قحطی او قیمتی پر مهال لاپسې زیاتیږي.

او دویمه: هر مسلمان ته سلام اچول، برابره خبره ده که يې پېژني یا يې نه پېژني.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. صحابه کرامو د هغو خویونو پېژندلو ته ډیره لېوالتیا درلوده چې په دنیا او اخرت کې فایدور دي.

٢. سلام اچول او ډوډی ورکول په اسلام کې له غوره عملونو څخه دي؛ ځکه فضیلت لري او خلک ورته په هر وخت کې اړتیا لري.

٣. پدې دوو خویونو سره، احسان په قول او عمل کې یوځای کیږي، او دا ترټولو بشپړ احسان دی.

٤. دا خویونه د مسلمانانو تر منځه خپلمنځي خویونه دي، او ځیني نور خویونه شته چې د بنده د خپل رب سره د چلن په اړه دي.

٥. په سلام سره پیل کول په ځانګړې توګه د مسلمانانو تر منځه دي، لدې امله کافر ته په سلام پیل نه کیږي.

(5808)

(280) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟» قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ، وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ، فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «آیا زه تاسو ته هغه څه ونه ښایم چې په دې سره الله تعالی ګناهونه له منځه وړي او درجې لوړوي؟»**

**هغوی وویل: هو، اې د الله رسوله: هغه وفرمایل:** **«په سختیو کې اودس بشپړول او جوماتونو ته زیات قدمونه اخیستل او له یو لمانځه وروسته بل لمانځه ته انتظار کول، نو همدا د الله په لار کې وتل دي».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو اصحابو څخه وپوښتل چې آیا دوی غواړي د داسې اعمالو لارښوونه ورته وکړي چې د ګناهونو د بخښنې لامل ګرځي، او د ملايکو له کتابونو څخه پاکيږي او په جنت کې د مرتبو د لوړېدو لامل ګرځي.

صحابه کرامو وویل: هو، موږ همدا غواړو. هغه وفرمایل:

لومړی: په سختۍ سره اودس کول او بشپړول. لکه سړه هوا، د اوبو کموالی، د بدن درد، او ګرمي اوبه.

دويم: ډېر قدمونه وهل – د دوو پښو تر منځه واټن – له کور څخه لرې جوماتونو ته تلل، او دا کار ډېر تکرارول.

دریم: د لمانځه د وخت انتظار کول، له هغه سره زړه تړل، لمانځه ته تیاری نیول او په جومات کې د جماعت د ادا کولو انتظار کول، نو کله چې لمونځ ادا کړي، د لمانځه په ځای کې بل لمانځه ته انتظار باسي.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډاګه کړه چې دا درې کارونه په حقیقت همدا د الله په لار کې وتل دي؛ ځکه چې دا په نفس د شیطان لارې بندوي، خواهشات ماتوي او د وسوسو مخه نیسي، نو په دې توګه د الله ډله د شیطان لښکرو ته ماته ورکړي او همدا تر ټولو لوی جهاد دی، او دا دښمن ته په پولو د ودرېدلو په څېر دي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. په جومات کې د جماعت د لمانځه د اداء کولو اهمیت، او لمانځه ته پاملرنه کول او پر وړاندې یې بې پروايي نه کول.

٢. په ښې طریقې سره رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو ملګرو ته معلومات وړاندې کړل چې د پوښتنې کولو په توګه یې ورته د لوی ثواب په ښودنه پیل وکړ، او دا د زده کړې یو مېتود دی.

٣. د سوال او ځواب په توګه د مسئلې د پېش کولو ګټه دا ده چې: وينا د ابهام او وضاحت له اړخه له نفس سره سمون لري.

٤. نووي رحمه الله فرمايي: نو همدا د الله په لار کې رباط دی، يعني: هغه رباط چې يو (مسلمان) ورته هڅول کېږي. او رباط په اصل کې د يو څه بندول دي، لکه دې انسان چې ځان د عبادت په خاطر (په يو ځای کې) بندي کړی وي، او ويل کېږي چې: دا تر ټولو غوره رباط دی، لکه څنګه چې ويل شوي: جهاد د نفس جهاد دی، او کېدی شي دا هغه رباط وي چې شونی او آسان دی، يعني دا يو ډول رباط دی.

٥. د" رباط "کلمه تکرار شوې او په (ال) معرفه ګرځولې شوې چې دا د دې اعمالو په عظمت دليل دی.

(3574)

(281) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ، خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ، احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ، وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ، فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ (لَوْ) تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

**له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**

«پياوړی مؤمن الله ته له کمزوري مؤمن څخه خوښ او غوره دی او په دواړو کې خير دی، په هغه څه ټينګار وکړه چې ګټه درته رسوي او د الله تعالی نه مرسته وغواړه، او مه کمزوری کېږه، که چيرته درته څه - زيان - ورسيده نو داسې مه وايه: که چېرته مې داسې کړي وای، نو داسې او داسې به شوي وو، خو ووايه: د الله تقدير دی او هغه چې څه غوښتل هغه يې وکړل؛ ځکه د (که چيرته) کلمه د شيطان کړنې پرانيزي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې: مؤمن ټول خير دی، خو هغه مؤمن چې په خپل ايمان، اراده، مال او د خير په نورو برخو کې پياوړی وي، د الله تعالی په نزد له کمزوي مؤمن څخه غوره او ورته محبوب دی. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم مؤمن ته سپارښتنه کوي چې د دنيا او

آخرت په چارو کې د ګټې اخیستنې لپاره اسباب وکاروي، په داسې حال کې چې په الله جل جلاله اعتماد وکړي، له هغه مرسته وغواړي او توکل پرې وکړي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو کارونو په وړاندې چې په دنیا او اخرت کې ګټه رسوي له کمزورۍ، سستۍ او غفلت څخه منع فرمایلې ده. نو کله چې مؤمن په عمل کې زیار وباسي، اسباب وکاروي، له الله جل جلاله نه مرسته وغواړي او د خیر غوښتنه ترې وکړي، بیا دې نو خپل ټول کارونه الله ته وسپاري او په دې دې پوه شي چې د الله تعالی ټاکنه کې خیر دی. نو که له هغې نه وروسته ورته کوم مصیبت ورسیږي، داسې دې نه وایي چې: "لو أني فعلتُ كان كذا وكذا": "که داسې مې کړي وای نو داسې او داسې به شوي وو" . "ځکه د (که) کلمه په تقدیر د نیوکې لپاره د شیطان کړنو ته لار پرانیزي" او په هغه څه پښېمانتیا رامنځته کوي چې له لاسه ورکړل شوی دی، خو د الله تعالی تقدیر ته په تسلیمېدو سره دې ووایي" د الله پریکړه ده او هغه چې څه وغواړي هغه کوي". څه چې وشول د الله جل جلاله د خوښې او ارادې سره سم وشول، بېشکه الله جل جلاله هغه ذات دی چې څه وغواړي هغه کوي، د هغه پریکړې لره منع کوونکی او د حکم لره یې تعقیبوونکی نشته.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. په ایمان کې د خلکو توپیرونه.
٢. مستحب دي چې د عمل لپاره انسان ځواکمن وي؛ ځکه په ځواک سره چې کومې ګټې ترلاسه کیږي په کمزورۍ کې نه تر لاسه کیږي.
٣. انسان باید د هغه څه په لټه کې شي چې ګټه ورته رسوي او هغه څه پریږدي چې ګټه نه لري.
٤. مومن باید په خپلو ټولو چارو کې د الله مرسته وغواړي، او په ځان تکیه ونه کړي.
٥. د قضا او قدر ( د الله جل جلاله د پریکړې او تقدیر ) ثبوت، او دا چې تقدیر د اسبابو له کارولو او د ښېګنو پسې له پلټنې کولو سره په ټکر کې عمل ندی.
٦. د مصیبت پر مهال د ناخوښۍ له امله د (که) له ویلو څخه ممانعت او د الله جل جلاله په قضا او قدر د نیوکې حراموالی.

(5493)

(282) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قَارِبُوا وَسَدِّدُوا، وَاعْلَمُوا أَنَّهُ لَنْ يَنْجُوَ أَحَدٌ مِنْكُمْ بِعَمَلِهِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَلَا أَنْتَ؟ قَالَ: «وَلَا أَنَا، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللهُ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:** «عمل له افراط او تفريط پرته بشپړوالي ته ورنږدې کړئ او يا يې بشپړ ادا کړئ، او پوه شئ چې هېڅوک به ستاسو څخه په عمل ونه ژغورل شي». **هغوی وويل: ته هم اي د الله رسوله؟ هغه وفرمايل:** «زه هم نه، مګر دا چې الله مې په خپل رحمت او مهربانی کې پټ کړي». [صحيح حديث دی – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام عمل کولو ته هڅوي او دا چې له الله څخه تر خپلې وسې پورې ووېرېږي، پرته له دې چې (په عمل کې) افراط او تفريط وکړي، او د دې لپاره چې عمل يې قبول شي او له امله يې پرې د الله جل جلاله خوا رحمت نازل شي نو په خپل سم عمل سره دې نيت الله جل جلاله ته خالص کړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پيروی سره سم دې تر سره کړي.

بيا يې خبر ورکړ چې ستاسو څخه به هېڅوک يوازې په خپل عمل سره ونه ژغورل شي؛ بلکې د الله جل جلاله رحمت اړين دی.

هغوی وويل: ته هم اي د الله رسوله، آيا ستا عمل د دې ستر ارزښت سره سره هم تا نه شي ژغورلی؟

ويې ويل: زه هم، پرته له دې چې الله مې په خپل رحمت وپوښي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. نووي رحمه الله وايي: (سددوا وقاربوا): د عمل سمونتيا وغواړئ او عمل پرې وکړئ، او که ترې عاجزه شوئ، نو ورنږدې يې کړئ؛ او د سداد معنا: سمونتيا او د عمل صحت دی، دا د زياتوالي او نېمګړتيا تر منځ حالت دی، نو مه افراط کوئ او مه نيمګړی عمل کوئ.

٢. ابن باز ويلي: نېک عملونه جنت ته د داخلېدو اسباب دي، لکه څه رنګه چې پليت عملونه اور

ته د داخلېدو اسباب دي، او حديث دا بيانوي چې جنت ته ننوتل يوازې په عمل سره نه کېږي، بلکې د الله تعالی له بښنې او رحمت پرته چاره نشته، نو دوی د خپلو عملونو په سبب ورننوتي دي، خو دا کار د الله په رحمت، عفوه او بښنې سره شوی دی.

٣. بنده که هر څومره زيات عمل وکړي بايد خپل عمل ته مغروره نه شي؛ ځکه چې د الله حق د ده له عمل څخه لوی دی، نو بنده بايد له ځان سره د الله تعالی وېره او هغه ته هيله مندي دواړه وساتي.

٤. پر بندګانو د الله تعالی فضل او رحمت د هغوی له عملونو څخه ډېر لوی دی.

٥. نيک عملونه جنت ته د داخلېدو لامل دي، او ګټل يې يوازې د الله په فضل او رحمت سره کېږي.

٦. کرماني وايي: کله چې ټول خلک د الله له رحمت پرته جنت ته نه داخلېږي او بيا په ځانګړې توګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم يادونه له دې امله شوې ده چې د هغه تګ جنت ته حتمي دی، نو کله چې هغه هم د الله په رحمت ننوځي نو له هغه پرته نور خلک خو په طريقه اولی سره د الله رحمت ته اړتيا لري.

٧. نووي د الله تعالی د دې وينا د معنا په اړه فرمايلي دي: ﴿ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ النحل سورت ٣٢ آيت، (تاسو، جنت ته داخل شئ، په سبب د هغو (نېکو) عملونو چې تاسو به کول). ﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ [الزخرف: 72]، او دا هغه جنت دی چې تاسې ته په ميراث درکړی شو، په هغو عملونو سره چې تاسې به کول. او داسې نور آيتونه پدې دليل دی چې جنت ته ننوتل په عمل سره کيږي، نو لدې احاديثو سره په تعارض کې نه دي، بلکې د آيتونو معنا دا ده چې جنت ته ننوتل په عملونو سره کېږي، بيا د عمل توفيق، هدايت او په عمل کې اخلاص او قبلېدل د الله تعالی په فضل او رحمت کېږي، نو معنا دا شوه چې يوازې په عمل سره نه داخلېږي، او له حديث څخه مقصد هم همدا دی، او دا هم صحيح ده چې په عمل سره جنت ته ننوځي، يعني په سبب د عملونو چې هغه رحمت دی.

٨. ابن الجوزي وايي: لدې څخه څلور ځوابونه تر لاسه کېږي؛ لومړی: د عمل لپاره توفيق ورکول د الله رحمت دی، او که چېرته د الله مخکنی رحمت نه وی نو نه به ايمان و او نه هغه طاعت چې نجات پرې مومي، دويم: د مرايي ګټې يې د بادار دي، نو عمل يې د بادار لپاره دی، نو هر څومره لورينه چې پرې کوي هغه يې مهرباني ده، دريم: په ځينو حديثونو کې راغلي چې خپله

جنت ته د اخلېدل د الله په رحمت کېږي او د مرتبو وېش په عملونو کېږي، څلورم: د طاعتونو عملونه لږ وخت نيسي، او ثواب نه ختمېږي، نو هغه انعام چې د هغه څه په بدلې کې نه ختمېږي چې په فضل سره ختمېږي نه د عمل په مقابل کې.

٩. رافعي ويلي: عمل کوونکي ته نه ښايي چې د خلاصون او مرتبو د لاسته راوړلو په موخه پر عمل تکيه وکړي؛ ځکه چې هغه د الله په توفيق عمل وکړ، او د الله په ساتنې يې ګناه پرېښوده، نو دا ټول د هغه په فضل او رحمت کېږي.

(3469)

(283) – عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَا زَالَ يُوصِينِي جِبْرِيلُ بِالْجَارِ، حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:** «جبريل -عليه السلام -راته همېشه په ګاونډي سره وصيت کاوه تر دې چې ما ګمان وکړ د ميراث مستحق به يې وګرځوي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې جبرائيل عليه السلام ورته په تکرار سره د ګاونډي په حق ټينګار وکړ - او ګاونډي هغه څوک دی چې کور ته دې نږدې وي؛ خواه که هغه مسلمان وي يا کافر، خپلوان وي او که نه وي - چې حق يې وساتل شي او ازار نه شي، نيکي ورسره وشي او په آزار يې صبر وشي، (ټينګار تر دې حده و چې) رسول الله صلى الله عليه وسلم ګمان وکړ چې د ګاونډي لوی حق او د جبرائيل عليه السلام ټينګار کيدی شي د دې لامل وګرځي چې وحي پرې نازله شي او ګاونډي ته له مرګ نه وروسته په پاتې مال کې برخه ورکړل شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ګاونډي د حق عظمت او د مراعتولو وجوب.

٢. د ګاونډي په حق کې پر وصيت ټينګار؛ هغه ته د درناوي، ورسره محبت ساتلو او نيکی کولو غوښتنه کوي، او (تر څنګ يې) له هغه څخه د ضرر دفع کولو، د ناروغتيا پر مهال پوښتنې کولو، د خوښۍ پر مهال مبارکۍ ويلو او د غم پر مهال تعزيت ويلو غوښتنه کوي.

٣. څومره چې د ګاونډي دروازه نږدې وي، هغومره يې حق زيات دی.
٤. د شريعت بشپړتيا؛ چې هر هغه څه ته شامل دی چې د ټولنې اصلاح، له ګاونډيانو سره نيکي کول او ورڅخه ضرر لرې کولو ته شامل دي.

(4965)

(284) – عن أبي الدرداء رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ رَدَّ اللهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». [صحيح] - [رواه الترمذي وأحمد]

**له ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې د خپل ورور له عزت څخه دفاع وکړي، نو الله تعالی به د قيامت په ورځ د هغه له مخ څخه اور وګرځوي».** [صحيح حديث دی] - [ترمذي او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې په غياب کې د خپل مسلمان ورور له عزت څخه دفاع وکړي او (پرې نږدې چې) د هغه سپکاوی وشي او يا ورسره ناوړه چلند وشي، نو الله تعالی به د قيامت په ورځ له هغه څخه عذاب وګرځوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مسلمانانو په شرف (عزت) کې له خبرو څخه ډډه کول.
٢. جزا د عمل له جنس څخه ده، نو چا چې د خپل (مسلمان) ورور له شرف څخه دفاع وکړه؛ الله تعالی به ترې د قيامت په ورځ اور وګرځوي. (سوځولو ته به يې پرې نږدي).
٣. اسلام د خپلو پيروانو ترمنځه د وروړګلوی او ملاتړ دين دی.

(5514)

(285) – عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قالَ: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:** «په تاسو کې هيڅوک مومن کيدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې هېڅ مسلمان تر هغه پورې د بشپړ ایمان خاوند کېدلی نه شي تر څو چې خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي هغه که: طاعتونه او یا هر ډول دیني او دنیوي ښېګڼې وي او دا چې څه د ځان لپاره بد ګڼي د هغه لپاره یې هم بد وګڼي، نو که چېرته يې په خپل ورور کې ديني نیمګړتیا ولیده، په اصلاح کې یې زیار باسي او که کومه ښېګڼه یې پکې ولیده نو ملاتړ یې کوي او د دین او دنیا په اړه یې ورته نصیحت کوي.

## د حديث له فایدو څخه:

١. پر انسان واجب دي چې خپل ورور ته هغه څه خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي؛ ځکه له هغه چا څخه د ایمان نفي کول چې مسلمان ورور ته هغه څه نه خوښوي چې ځانته يې خوښوي پدي دلالت کوي چې دا کار واجب دی.

٢. د الله لپاره ورورولي له نسبي ورورولی څخه پورته ده، نو واجب دي چې حق يې ادا شي.

٣. د هر هغه کلام او عمل ممانعت چې له دې مینې سره په ټکر کې وي، لکه خيانت، غيبت، حسد او د مسلمان په نفس، مال او عزت تیری کول.

٤. ځینې کلمې وکاروئ چې عمل کولو ته هڅوونکې وي، لکه څنګه يې چې فرمایلي: لأخيه يعني"خپل ورور ته".

٥. کرماني رحمه الله فرمایلي دي: دا هم د ایمان نښه ده چې د خپل ورور لپاره هغه شر خوښ نه کړي چې د ځان لپاره يې نه خوښوي، خو د هغه شي يادونه يې ونه کړه؛ ځکه د يو څه سره مينه کول د هغه له مخالف څخه نفرت کولو ته اړتيا لري، نو دليل يې پرېږي را نه وړ ځکه چې بسنه کوي.

(286) – عن عائشة رضي الله عنها زوج النبي صلى الله عليه وسلم عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ، وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ». [صحيح] - [رواه مسلم]

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مېرمن عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مهرباني او نرمي په هېڅ شي کې نه وي، مګر دا چې هغه ته وزن (عزت) ورکوي، او له هېڅ شي څخه نه لرې کيږي مګر دا چې هغه شی بدرنګوي». [صحيح حديث دی [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په وينا او عمل کې مهرباني، نرمي، او مهلت ورکول، چارې ښايسته کوي، بشپړتيا او ښکلا وربخښي، او نردې ده چې خاوند يې خپله اړتيا پوره کړي.

د مهربانۍ نشتوالی شيان عيبجنوي او بدرنګوي يې، او خاوند يې لدې منع کوي چې خپل حاجت پوره کړي، او که چېرته يې پوره هم کړي نو په ډېرې سختی سره به وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په ځان کې د نرمۍ صفت پيدا کولو ته هڅول.
٢. نرمي انسان ښايسته کوي، او په ديني او دنيوي چارو کې د خير سبب دی.

(5796)

(287) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ، وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ، فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا، وَأَبْشِرُوا، وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ». [صحيح] - [رواه البخاري]

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «بېشکه دين اسان دی او هيڅوک دا دين نه سختوي مګر دا چې دين به پرې برلاسی شي، نو منځلاري اوسئ (له افراط او تفريط نه ځان وساتئ) او که عمل مو پوره نه شو ادا کولی نو پوره

والي ته يې ورنږدې کړئ، او (خلکو ته) زيرى ورکړئ، او په سهار او ماسپښين او د شپې په يوې برخې سره مرسته وغواړئ (پدې دريو وختونو کې عبادت وکړئ)». [صحيح دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې د اسلام دين په ټولو چارو کې د آسانتيا او سهولت پر بنسټ ولاړ دی او د ناتوانی او اړتيا پر مهال پکې پر آسانی ډېر تاکيد کېږي، او ځکه چې په ديني چارو کې د ژور تللو او له مهربانی څخه د کار نه اخېستلو سزا ناتواني او د نوموړي عمل مکمله او يا يوه برخه پرېښودل دي. .. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم له مبالغې پرته پر منځمهالتوب ټينګار وکړ؛ نو بنده به په هغه څه کې نېمګړتيا نه کوي چې امر ورته پرې شوی دی او هغه کار به نه کوي چې وس يې نه لري، که چېرته لدې عاجز و چې ټول عمل په بشپړه توګه تر سره کړي؛ نو بشپړتيا ته دې ورنږدې کړي.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم د بشپړ عمل څخه د ناتوانه انسان لپاره پر دوامداره عمل که څه هم لږ وي د ډير ثواب زيرى ورکړی دی؛ ځکه چې ناتواني د هغه کړنه نده، نو ځکه يې له امله اجر نه کميږي.

او څرنګه چې دا نړی په حقيقت کې د سفر او اخروي ژوند ته د ليږد ځای دی، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم امر وکړ چې د دوامداره عبادت لپاره دې پدې دريو وختونو هڅه وشي چې د عبادت لپاره ډېر فعال وختونه دي.

لومړی: سهار: د ورځې په پيل کې په مزل کولو سره؛ د سهار د لمانځه او لمر راختلو تر منځ.

دويم: الروحة: له غرمې وروسته په وخت تېرولو سره.

دريم: الدُّلْجة: د شپې د يوې برخې او يا ټولې شپې په تېرولو سره، او ځکه چې د شپې کار کول د ورځې له کار څخه سخت وي، نو د کار په يوې برخې يې امر وکړ او وېې فرمايل چې: الدلجه: يعني د شپې يوه برخه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د اسلامي شريعت آسانتيا او زغم او د افراط او تفريط تر منځ يې منځمهالي.

٢. بنده بايد د خپلې وسې سره سم اوامر پر ځای کړي، پرته له بې پروايی او يا سختی څخه.

٣. بنده بايد د عبادت لپاره غوره وختونه وټاکي چې دی پکې ښه انرژي ولري، او دا درې وختونه د نورو په پرتله غوره دي چې بدن پکې عبادت کولو ته ښه چمتو وي.

٤. ابن حجر عسقلاني رحمه الله فرمايلي: لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې يو ټاکلي ځای ته سفر کوونکي ته خطاب کوي چې دا درې وختونه د مسافر لپاره تر ټولو فعال وختونه دي، نو د هغه پاملرنه يې داسې وختونو ته راواړوله چې دی پکې ښه فعال وي؛ او ځکه چې مسافر کله ټوله شپه او ورځ سفر وکړي نو بې وسه کيږي او له حرکت نه لوېږي، خو که دا فعال وختونه يې د سفر لپاره وټاکل، له سختی پرته به د دوامداره سفر کولو وړتيا به ومومي.

٥. ابن حجر وايي: په دې حديث کې د شرعي رخصت کارونې ته اشاره ده، ځکه د رخصت پر مهال له رخصت څخه ګټه نه اخېستل يو ډول افراط دی، لکه څوک چې د اوبو د نه شتون پر مهال تيمم کول پرېږدي او د اوبو کارول يې په ضرر تمام شي.

٦. ابن المنير وايي: پدې حديث کې د نبوت له نښو څخه يوه نښه ده، ځکه موږ او زموږ څخه وړاندې خلکو ليدلي چې چا په دين کې افراط کړی، وروسته يې عمل پرېښی دی، خو د دې مطلب دا نه دی چې د بشپړ عمل کولو لپاره هڅه پرېښودل شي، ځکه دا ستايل شوی کار دی چې عمل په بشپړه توګه ادا شي، بلکې له هغه افراط څخه منع راغلې ده چې سړی ستړی کوي، يا دا چې په نفلي عملونو کې دومره مبالغه وشي چې له امله يې غوره عمل پاتې شي، يا د فرضو وخت ترې تېر شي، د بېلګې په توګه لکه يو سړی چې ټوله شپه تهجد وکړي او بيا په جماعت سره د سهار لمونځ ترې لاړ شي، يا دا چې لمر پرې راوخيژي، نو د فرضو وخت ترې لاړ شي.

(5795)

(288) – عن أنس بن مالك رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا، وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا». [صحيح] - [متفق عليه]

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:**

«(پر خلکو) اسانتيا راولئ او سختي مه کوئ، زيری ورکړئ او خلک مه زړه توري کوئ». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کوي چې په ټولو هغو ديني او دنيوي چارو کې چې الله جل جلاله روا کړي وي د خلکو سره له اسانتيا کار واخلئ او ورته يې مه سختوئ.
او ټينګار کوي چې خلکو ته په خير سره زيرى ورکړئ او مه يې زړه توري کوئ.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د مؤمن دنده دا ده چې د الله جل جلاله سره د خلکو مينه پيدا کړي او د خير کارونو ته يې وهڅوي.
٢. د الله جل جلاله لورې ته بلونکی بايد په هوښيارۍ سره وګوري چې څنګه د اسلام دعوت خلکو ته ورسوي.
٣. زيرى ورکول د بلونکي سره خوشحالي، اقدام کول او د هغه څه په اړه ډاډ زيږوي چې دی يې خلکو ته وړاندې کوي.
٤. سختي کول د مبلغ د خبرو په اړه کرکه، شاتګ او شکونه راپاروي.
٥. پر بندګانو د الله تعالی د رحمت پراخوالی او دا چې هغه د دوی لپاره د زغم او اسانی دين غوره کړی دی.
٦. کومه اساني چې امر پرې شوی: هغه ده چې شريعت راوړې ده.

(5866)

**(289) – عن أنس رضي الله عنه قال: كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ فَقَالَ: «نُهِينَا عَنِ التَّكَلُّفِ». [صحيح] - [رواه البخاري]**

**له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: مونږ د عمر رضی الله عنه سره وو، هغه وويل: موږ له تکلف څخه منع شوي يو.** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی د هغه څه له راکړې ورکړې څخه منع کړي دي چې له اړتيا پرته د تکليف سبب ګرځي، هغه که وينا وي او يا عمل.

## د حديث له فايدو څخه:

١. له هغه تکلف څخه چې حرام دی: ډېرې پوښتنې کول او یا دا چې هغه څه پسې تکلیف ويستل چې په اړه يې ورته پوهه نه وي او یا دا چې په داسې يو کار کې سختي وکړي چې الله جل جلاله اسانه کړې وي.

٢. مسلمان ته په کار دي چې په خبرو او عمل کې له بخښنې او سختی نه کولو سره ځان عادت کړي: په خوراک، څښاک، خبرو او ټولو حالاتو کې.

٣. اسلام د آسانی دين دی.

(8945)

(290) – عن ابن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ، وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: «کله چې ستاسو څخه يو څوک خوراک کوي، نو په ښي لاس دې وخوري، او کله چې څښاک کوي، نو په ښي لاس دې وڅښي، ځکه چې شيطان په چپ لاس خوراک کوي او په چپ لاس څښاک کوي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم امر کوي چې مسلمان بايد په ښي لاس خوراک او څښاک وکړي او په چپ لاس له خوراک او څښاک څخه منع کوي، دا ځکه چې شيطان پرې خوراک او څښاک کوي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په چپ لاس خوراک او څښاک سره د شيطان له مشابهت څخه ممانعت.

(58122)

(291) – عن عُمر بن أبي سلمة رضي الله عنه قال: كُنْتُ غُلَامًا فِي حَجْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا غُلَامُ، سَمِّ اللهَ، وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ» فَمَا زَالَتْ تِلْكَ طِعْمَتِي بَعْدُ. [صحيح] - [متفق عليه]

له عمر بن أبي سلمة رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې: زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سرپرستي کې کوچنی ماشوم وم، (د ډوډۍ خوړلو پر مهال به مې) لاس په کاسه کې آخوا او دېخوا کېده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمایل: «اې هلکه، بسم الله ووايه، په ښي لاس خوراک کوه او له خپلې مخې څخه خوراک کوه» نو له هغه وروسته مې همدا د ډوډۍ خوړلو طريقه شوه. [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشریح:

عمر بن ابي سلمة رضي الله عنهما چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د میرمنې زوی (پرکټی) او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د روزنې او سرپرستی لاندې و، وايې چې د خوراک پر مهال به يې لاس په کاسه کې يو ځای او بل ځای واهه تر څو له بېلابېلو ځایونو څخه مړی را واخلي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د ډوډۍ خوړلو درې ادبونه ور وښودل:

لومړی يې : د ډوډۍ په پيل کې" بسم الله "ويل.

دويم يې: په ښي لاس خوراک کول.

دريم يې: له خپلې مخې څخه خوراک کول.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د خوراک او څښاک په پيل کې بسم الله ويل د ډوډۍ خوړلو له آدابو څخه دي.

٢. کوچنيانو ته د آدابو ور ښودل، په ځانګړې توګه هغه کوچنيان چې د چا د سرپرستی لاندې وي.

٣. د ځوانانو په ښوونه او روزنه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مهرباني او لوړه حوصله.

٤. د ډوډۍ خوړلو له ادابو څخه له خپلې مخې نه خوراک کول دي، مګر پداسې حالاتو کې چې خواړه بېلابېل ډول وي، نو بيا کولای شي چې له بېلابېلو ځايونو څخه يې راواخلي.

٥. هغه څه ته د صحابه کرامو ژمنتیا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ښودلي وو، دا خبره د عمر بن أبی سلمة رضی الله عنه لدې وینا څخه استنباطیږي چې فرمایي: له هغه وروسته مې همدا د ډوډی خوړلو طریقه شوه.

(58120)

(292) – عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ اللهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا، أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا».

**[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «یقینا چې الله جل جلاله له بنده څخه هغه مهال راضي کیږي کله چې هغه یوه مړی وخوري او بیا پرې د هغه ستاینه وکړي (الحمد لله ووایي) او یا یو ګوټ اوبه وڅښي او د هغه ستاینه پرې وکړي».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګندوي چې د الله په فضل او نعمتونو بنده لره د خپل رب ستاینه له هغو کارونو څخه دي چې د الله جل جلاله خوښی پرې تر لاسه کیږي، نو خواړه خوري او وایي: الحمد لله، او څښاک څښي او وایي: الحمد لله.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د الله جل جلاله سخاوت، چې روزي یې لورولې او په ستاینه راضي کیږي.
٢. د الله جل جلاله خوښي په ماموليې (آسان) سبب تر لاسه کیږي، لکه له خوراک او څښاک څخه وروسته په الحمد لله ویلو.
٣. د خوراک او څښاک له آدابو څخه: له خوړلو او څښلو وروسته د الله تعالی ثنا ویل دي.

(5798)

(293) – عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلًا أَكَلَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِمَالِهِ، فَقَالَ: «كُلْ بِيَمِينِكَ»، قَالَ: لَا أَسْتَطِيعُ، قَالَ: «لَا اسْتَطَعْتَ»، مَا مَنَعَهُ إِلَّا الْكِبْرُ، قَالَ: فَمَا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ. [صحيح] - [رواه مسلم]

**له سلمه بن الأكوع رضي الله عنه څخه روايت دی چې: یو سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې په چپ لاس خوراک کاوه، نو وېې فرمايل: «په ښي لاس وخوره» هغه وويل: نه شم کولای: هغه وفرمايل: «وېې نه کړای شې (يعني لاسونه دې شل شه)» هغه - له دې څخه کبر منع کړ چې په ښي لاس خوراک وکړي -وايې: وېې نه کړای شول چې خپل لاس خولې ته پورته کړي.** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سړی ولیده چې په چپ لاس یې خوراک کاوه، نو امر یې ورته وکړ چې په ښي لاس خوراک وکړي، سړي په کبر او دروغو سره ځواب ورکړ چې نه شي کولای! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ښېرا وکړه چې په ښي لاس له خوراک کولو څخه محروم شي، نو الله تعالی - د هغه سړي په حق کې - د خپل پیغمبر بد دعايي قبوله کړه او د هغه سړي ښی لاس شل شو چې له هغه وروسته یې بیا د خوراک او څښاک لپاره پورته نه کړ.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په ښي لاس خوراک کول واجب او په چپ لاس حرام دي.
٢. د شرعي احکامو له پلي کولو څخه چې څوک سرغړونه او لويي کوي د سزا مستحق دی.
٣. الله جل جلاله پدې کار سره د خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم درناوی وکړ چې دعا يې ورته قبوله کړه.
٤. په هر حالت کې امر بالمعروف او نهی عن المنکر روا دی، آن تر دې چې دا کار د ډوډۍ خوړلو پر مهال هم وشي.

(3372)

(294) – عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضي الله عنهما أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا، فَلْيَعْتَزِلْنَا -أَوْ قَالَ: فَلْيَعْتَزِلْ- مَسْجِدَنَا، وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ»، وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِقِدْرٍ فِيهِ خَضِرَاتٌ مِنْ بُقُولٍ، فَوَجَدَ لَهَا رِيحًا، فَسَأَلَ فَأُخْبِرَ بِمَا فِيهَا مِنَ البُقُولِ، فَقَالَ قَرِّبُوهَا إِلَى بَعْضِ أَصْحَابِهِ كَانَ مَعَهُ، فَلَمَّا رَآهُ كَرِهَ أَكْلَهَا، قَالَ: «كُلْ فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لاَ تُنَاجِي».

ولِمُسْلِمٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ، الثُّومِ – وقَالَ مَرَّةً: مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ وَالثُّومَ وَالْكُرَّاثَ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له جابر بن عبدالله رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:** «څوک چې هوږه يا پياز وخوري نو ځان دې له موږ څخه جلا کړي – يا يې وفرمايل چې: زموږ له مسجد څخه دې ځان ګوښه کړي او په کور کې دې پاتې شي». او پيغمبر صلی الله علیه وسلم ته يو لوښی راوړل شو چې په هغه کې پياز يا بل ډول شنه سبزيجات و، نو هغه يې بوی حس کړ، نو پوښتنه يې وکړه او ورته وويل شو چې شنه بوی لرونکي سبزيجات پکې دي، نو ويې فرمايل چې د هغه ځينو ملګرو ته يې وړاندې کړئ چې له هغه سره (په سفر کې) وو، نو کله يې چې وليدل له خوړلو يې کرکه وکړه او ويې ويل: «وخورئ، ځکه زه له هغه چا سره مناجات کوم چې ته يې نه کوې». او د مسلم روايت دی له جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «څوک چې له دې هوګې څخه خوراک وکړي، - او يو ځل يې وفرمايل: څوک چې پياز، هوږه او يا ګندنه وخوري، نو زموږ جومات ته دې نه رانږدې کيږي، ځکه چې ملائکې د هغه څه له امله تکلفيږي چې بني آدم ترې تکليفيږي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم هر هغه څوک چې هوږه او يا پياز وخوري جومات ته له تلو څخه منع کړی دی، تر څو خپل هغه ورونه په بدبويۍ سره ونه ازاروي چې جومات ته د جماعت لپاره راغلي دي، جومات د تللو په اړه دا ممانعت تنزيهي دی، نه دا چې دا خواړه ناروا دي، ځکه چې

دا مباح خوراکونه دي او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه کټوی راوړل شوه چې سبزيجات پکې وو، نو کله يې چې بوی کړل او د هغه څه په اړه خبر ورکړ شو چې په کټوی کې دي نو له خوړلو يې انکار وکړ او خپلو نورو ملګرو ته يې د خوړلو لپاره وړاندې کړل، نو هغه هم د ده پسې د اقتدا له مخې له خوړلو کرکه وکړه، نو کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ولېده وې فرمايل: وخوره؛ ځکه چې زه له ملايکو سره په وحې ملاقات کوم.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې ملايکې د بد بوی له امله داسې ازارېږي لکه څنګه چې بنی آدم ازارېږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. جومات ته د هغه چا د راتګ ممانعت چې هوږه، پياز او يا ګندنه يې خوړلي وي.

٢. هر هغه شی په حکم کې دي ته ورته دی چې بد بوی لري او لمونځ کوونکي پرې ازارېږي، لکه د سګرټ لوږی، تمباکو او داسې نور.

٣. د ممانعت علت بوی دی، نو کله چې په زيات پخلي او يا بل څه سره له منځه ولاړه شي؛ کراهت يې له منځه ځي.

٤. د هغو کسانو لپاره چې په جومات کې لمونځ کوي د دې شيانو خوړل مکروه دي؛ تر څو جومات ته د جماعت لپاره لاړ نه شي، پرته له دې چې د ځان لپاره يې بهانه وګرځوي چې جومات ته لاړ نه شي، که داسې يې وکړل نو دا کار حرام دی.

٥. د هوږې او داسې نورو ځيزونو څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ممانعت له دې امله نه و چې دا ځيزونه حرام دي، بلکې له دې امله و چې هغه له جبريل عليه السلام سره ملاقات (مناجات) درلود.

٦. د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښايسته لارښوونه، چې د حکم سره يې د هغه سبب بياناوه؛ تر څو مخاطب پر حکمت د پوهېدلو له امله ډاډمن شي.

٧. قاضي وايي: علماوو پدې له جومات پرته هغه ځايونه هم قياس کړي دي چې په جماعت سره پکې لمونځونه کيږي لکه: عيدګاه، د جنازو لمونځ ځای او داسې نور د عبادت لپاره د راټوليدو ځايونه، همدا رنګه د علم، ذکر، ودونو او داسې نور مجلسونه، بازارونه او داسې نور ځايونه دا حکم نه لري.

٨. علماوو ويلي: پدې حديث کې د هوړې او داسې نورو شيانو د خوړونکي لپاره جومات ته له ننوتلو ممانعت راغلی دی- که څه هم جومات خالي وي -ځکه چې د ملايکو ځای دی، او د حديث عموميت پدې دلالت کوي.

(4850)

(295) – عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَكَلَ طَعَامًا فَقَالَ: الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلاَ قُوَّةٍ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ». **[حسن] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]**

**له سهل بن معاذ بن انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې خواړه وخوري او ووايي: (الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلاَ قُوَّةٍ). (هغه الله لره ستاينه ده چې ماته يې دا خواړه راکړل پرته له دې چې کوم حرکت، حيله او يا ځواک ولرم، نو تېول مخکني ګناهونه به يې وبخښل شي)».** [حديث حسن دی] - [ابو داود، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ټينګار کوي چې څوک کوم خواړه وخوري نو د الله شکر دې ادا کړي، ځکه چې زه د الله تعالى له مرستې پرته د دوډی راوړلو يا خوړلو توان نه لرم. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم زيری ورکړ چې چا دا (دعا) وويله نو هغه د الله تعالى د بخښنې وړ دی، چې ټول مخکني واړه ګناهونه ورته وبخښي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د خوړو په پای کې د الله تعالى ستاينه کول مستحب دي.
٢. پر بنده ګانو د الله تعالى د لوی فضل او کرم بيان چې هغوی ته يې روزي ورکړه او د رزق اسباب يې ورته برابر کړل او د بدو اعمالو لپاره يې ورته کفاره وګرځول.
٣. د بندګانو ټولې چارې د الله پاک له لوري دي، نه د هغوی په زور او قوت، او بنده ته امر شوی چې اسباب وکاروي.

(5431)

(296) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: كان رسولُ الله صلى الله عليه وسلم إذا عَطَس وضَعَ يَدَه -أو ثوبَهُ- على فيهِ، وخَفَضَ -أو غضَّ- بها صوتَهُ. **[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وأحمد]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرنجی کاوه، نو خپل لاس به يې په خوله کېښود او يا به يې خپلې جامې په خوله کېښودې او خپل غږ به يې ښکته کړ (يعني د پرنجې پر مهال به يې خپل غږ کنټرول کړ).** [صحيح حديث دی] - [ابو داود، ترمذي، او احمد روايت کړی].

## تشريح:

کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرنجی کاوه نو:

لومړی به يې په خپل لاس يا جامه په خولې کېښوده؛ تر څو يې له خولې يا پزې داسې څه را ونه وځي چې له امله يې ناست ملګري ازار شي.

دويم: غږ به يې ټيټاوه او نه به يې پورته کاوه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د پرنجې پر مهال د رسول الله صلى الله عليه وسلم لارښوونه او پدې کې د هغه پيروي کول.

٢. د پرنجې پر مهال په خوله او پوزه جامه او يا بل څه نيول مستحب دي، تر څو ترې داسې څه راونه وځي چې ناست کس ته زيان ورسيږي.

٣. د پرنجې پر مهال د غږ ټيټول مطلوب دي، او دا کار بشپړ ادب او له غوره اخلاقو څخه دی.

(3317)

(297) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى رُخَصُهُ، كَمَا يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى عَزَائِمُهُ». **[صحيح] - [رواه ابن حبان]**

**له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «الله جل جلاله خوښ ګڼي چې له رخصتونو څخه يې ګټه واخيستل شي، لکه څرنګه چې له عزيمتونو څخه يې ګټه اخيستل کيږي».** [صحيح حديث دی] -[ابن حبان روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: الله جل جلاله خوښوي چي له هغو رخصتونو څخه يې ګټه واخستل شي چي روا کړي يې دي لکه په احکامو او عباداتو کې تخفيف او د عذر پر مهال په مکلف باندې اسانتيا راوستل - لکه د لمانځه قصر او يا په سفر کې - د لمونځونو - جمع کول. لکه څرنګه چې خوښ ګڼي عزيمت يې پر ځاى شي لکه واجب کارونه، ځکه په رخصت او عزيمت دواړو کې د الله تعالى حکم يو دى.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د الله تعالى رحمت پر خپلو بنده ګانو او دا چې هغه پاک ذات خوښ ګڼي له هغو رخصتونو يې ګټه واخستل شي چي روا کړي يې دي.
٢. د دې شريعت بشپړتيا، او له مسلمان څخه يې د سختى لرې کول.

(65017)

(298) – عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ». [صحيح] - [رواه البخاري]

**له ابو هريره -رضي الله عنه -څخه روايت دى واېي چي رسول الله- صلى الله عليه وسلم -فرمايلي دي: «د چا لپاره چې الله تعالى د خير اراده وکړي، نو هغه -په مصيبتونو سره – امتحانوي».** [صحيح حديث دى] - [بخاري روايت کړى]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چي کله الله تعالى خپل يو مومن بنده ته د خير اراده وکړي نو هغه په خپل ځان، مال او کورنى کې په مصيبت وررسولو سره امتحانوي، ځکه چې پدې سره مؤمن الله تعالى ته په دعا کولو سره رجوع کوي، ګناهونه يې بخښل کيږي او درجې يې لوړيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. مومن د ډول ډول آفتونو سره مخ کيږي.

٢. مصيبت کله د بنده سره د الله تعالی د مينې او محبت نخښه وي، تر دې چې درجې يې لوړې کړي او ګناهونه يې وبخښي.
٣. د مصيبت پر مهال د صبر غوښتنه او له فرياد څخه ډډه کول.

(4204)

(299) – عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ». [صحيح] - [متفق عليه]

ابو سعيد الخدري او ابوهريرة رضي الله عنهما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايتوي چې فرمايلي يې دي: «هېڅ مسلمان ته ستوماني او رنځ، هېڅ غم او خفګان، هېڅ ضرر او غم نه رسيږي آن تر دې چې يو اغزی چې کله يې په پښه کې لاړ شي، مګر دا چې الله جل جلاله به يې ورته د ځينې ګناهونو کفاره وګرځوي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې مسلمان ته چې کومې ناروغۍ، غمونه، خفګانونه، کړاوونه، مصيبتونه، سختۍ، وېره او لوږه رسيږي، تر دې چې که يو اغزی يې په پښو کې لاړ شي او وېې دردوي، نو دا ټول به يې د ګناهونو لپاره کفاره شي او ګناهونه به ترې توی شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. پر مومنو بندګانو باندې د الله جل جلاله د فضل او رحمت بيانول چې په يو کوچني ضرر سره چې هغوی ته رسيږي؛ ګناهونه يې ورته بښل کيږي.
٢. مسلمان ته په کار دي چې هر څه ورته رسيږي اجر يې له الله جل جلاله څخه وغواړي، او په هره وړه او غټه صبر وکړي، تر څو يې د درجو د لوړېدلو او د ګناهونو د کفارې لامل شي.

(3701)

(300) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ». **[حسن] - [رواه الترمذي وأحمد]**

**له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:** «نارينه مومن او ښځينه مومنه تر هغه پورې په خپل نفس، اولاد او مال کې امتحانيږي، تر څو چې له الله سره مخ شي او هېڅ ګناه پرې نه وي». [حديث حسن دی] - [ترمذي او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: د مؤمن سړي او مؤمنې ښځې - په روغتيا، بدن، اولاد، ناروغی، مرګ، د اولاد نافرمانی او نورو حالاتو کې - مصيبت او امتحان هېڅکله نه جلاکېږي، او د هغه په مال کې غريبي او د تجارت له منځه تلل، مال يې غلا کېدل، معيشت په تېپه درېدل د رزق تنګوالی او داسې نور، تر دې چې په دې مصيبتونو سره الله تعالی د هغه ټول ګناهونه او تېروتنې وبخښي او کله چې د الله سره مخ کيږي، نو دی به له ټولو هغو ګناهونو پاک شوی وي چې پخوا يې کړي وو.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په مؤمنو بندګانو د الله تعالی مهرباني چې د دنيوي مصيبتونو او آفتونو له امله ورته ګناهونه بخښي.
٢. مصيبت په خپله د ګناهونو لپاره کفاره ده پدې شرط چې ايمان ورسره وي، نو کله چې بنده صبر وکړي او فرياد ونه کړي هغه ته اجر ورکول کيږي.
٣. په ټولو چارو کې صبر ته هڅوونه؛ په هغه څه کې چې خوښوي او يا يې نه خوښوي، تر هغه به صبر کوي چې هغه څه ترسره کړي چې الله پرې واجب کړي، او تر هغه وخته به صبر کوي چې له هغه څه ډډه وکړي چې الله پرې حرام کړي، د الله تعالی د ثواب په هيله او د هغه د عذاب له ويرې.
٤. د هغه دا وينا "په مؤمن نارينه او مؤمنې ښځې" په دې کې د ښځې لپاره د "مومنة" کلمې اضافه کول په ښځو باندې د ډېر ټينګار دليل دی؛ ځکه که يې ويلي وای چې: «**په مؤمن**» نو ښځه پکې هم شامليده، ځکه چې دا کلمه د نارينه وو لپاره ځانګړې نه ده، نو کله چې په ښځه کوم

مصيبت راشي، هغه هم د ګناهونو او تېروتنو د بخښنې په ژمنه کې راځي.

٥. هغه څه چې د بنده درد یو د بل پسې وخت په وخت آسانه کوي، هغه فضیلت دی چې په آفتونو مرتبیږي.

(3159)

(301) – عَنْ صُهَيْبٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ، إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ، وَلَيْسَ ذَاكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ، إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ، فَكَانَ خَيْرًا لَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ، فَكَانَ خَيْرًا لَهُ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له صهیب رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «د مؤمن چارې ته حیرانتیا ده، یقینا چې هره چاره یې په خیر ده، او دا (ځانګړتیا) له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته، که خوشحالي ورته ورسیږي نو شکر وباسي او دا د ده لپاره خیر دی، او که مصیبت ورته ورسیږي صبر کوي او دا د ده لپاره خیر دی».** [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مؤمن چارې او ښو حالاتو ته حیرانتیا کوي، دا ځکه چې هره چاره یې په ګټه ده او دا ځانګړتیا له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته. که خوښي ور ورسیږي نو د الله شکر ادا کوي چې د شکر په پایله کې ورته اجر رسیږي. او که مصیبت ور ورسیږي نو صبر کوي او اجر یې له الله څخه غواړي، نو د صبر په پایله کې ورته اجر رسیږي، یعني دا چې په هر حال کې اجر ورکول کیږي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. پر خوښۍ د شکر وېستلو او پر مصیبت د صبر کولو فضیلت، نو چا چې دا وکړل د دنیا او اخرت خیر به تر لاسه کړي، او چا چې پر نعمت شکر ادا نه کړ، او پر مصیبت یې صبر ونه کړ، نو له ثواب څخه به محروم شي، او ګناهکار به شي.

٢. د ایمان فضیلت او دا چې په هر حالت کې ثواب یوازې د مؤمنانو لپاره دی.

٣. د خوښۍ پر مهال شکر او په سختۍ صبر کول د مؤمن له ځانګړنو څخه دي.

٤. د الله جل جلاله په پرېکړو او تقدیر ایمان په ټولو شرایطو کې مؤمن بشپړ راضي کوي، د

نورو برعکس چې د مصيبت پر مهال په دوامداره توګه ناراضه وي او کله چې ورته د الله تعالی کوم نعمت ورسيږي، نو د الله له اطاعت څخه پرې مشغول شي، دا خو لا پرېږده چې د هغه په نافرمانۍ کې يې مصرف کړي.

(3298)

(302) – عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له ابو موسى الأشعري - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «کله چې بنده ناروغ يا مسافر شي، نو د هغه لپاره د هغه عمل سره برابر ثواب ليکل کيږي چې د اقامت او روغتيا په حالت کې يې کاوه».** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د الله تعالی د فضل او رحمت په اړه فرمايي: چې يو مسلمان کله د روغتيا او اقامت پر مهال نېک عمل تر سره کوي او بيا ورته عذر پيدا شي او ناروغ شي نو بيا يې نشي کولای يا دا چې په سفر او يا کوم بل عذر ورڅخه مشغول شي، نو هغه ته پوره اجر ليکل کيږي، هومره چې د روغتيا او اقامت په حالت کې يې کاوه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. پر بنده ګانو باندې د الله تعالی لوی فضل.
٢. په عباداتو کې زيار ويستل او د روغتيا او وزګارتيا پر مهال له وخت څخه ګټه پورته کول.

(3553)

(303) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، أَوْ يُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «په نيکو عملونو کې بيړه وکړئ - مخکې له دې چې - لکه د تورې شپې د يوې برخې په څېر فتنې مو**

لاندې کړي- چې يو سړی به سهار مهال مؤمن او ماښام کافر وي، او يا به ماښام مهال مؤمن او سهار کافر وي، هغه به خپل دين د دنيا د ګټې په بدل کې پلوري». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم مؤمن هڅوي چې په نېکو کارونو کې بيړه وکړي، مخکې له دې چې ناشوني شي او د فتنو او شبهو په راتګ سره ترې بوخت شي؛ چې هغه يې د نېکو عملونو څخه منع کوي، دا فتنې به د شپې د تپې تيارې په څېر وي؛ چې حق به پکې له باطل سره ګډ شوی وي، د خلکو لپاره به د دوی ترمنځه توپير ستونزمن وي، نو ځکه يې د شدت له امله انسان بد حواسه کيږي، تر دې چې يو سړی به ماښام مومن وي
او بيګا کافر، او بيګا به مؤمن وي او سهار کافر، خپل دين به د دنيا د له منځه تلونکي خوند لپاره پرېږدي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. پر دين منګولې لګول او په نېکو عملونو بيړه کول مخکې لدې چې پر وړاندې يې خنډونه پيدا شي.
٢. په آخره زمانه کې د ګمراه کوونکو فتنو پرله پسې راتلو ته اشاره، او دا چې کله يوه فتنه له منځه لاړه شي، بله فتنه ورپسې راځي.
٣. کله چې د يو چا دين کمزوری شي او د دنيوي معاملاتو لکه پيسو او نورو شيانو په بدل کې ترې تېر شي، نو دا د ده د انحراف، دين پرېښودلو او فتنو سره د ملتيا لامل کېږي.
٤. په حديث کې دليل دی چې نيک عملونه له فتنو څخه د خلاصون سبب ګرځي.
٥. فتنې دوه ډوله دي: د شبهو فتنې چې علاج يې زده کړه ده، او د شهوتونو فتنې چې علاج يې ايمان او صبر دی.
٦. په حديث کې دې ته اشاره ده چې د چا عمل لږ وي نو فتنه ورته زر رسيږي او د چا عمل چې ډېر وي نو خپل عمل ته دې نه مغروره کيږي بلکې نور دې هم زيات کړي.

(3138)

(304) – عن معاوية رضي الله عنه قال: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: «مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ، وَاللهُ يُعْطِي، وَلَنْ تَزَالَ هَذِهِ الْأُمَّةُ قَائِمَةً عَلَى أَمْرِ اللهِ، لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ، حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

**له معاوية - رضی الله عنه - څخه روایت دی وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې ویل یې: «د چا لپاره چې الله جل جلاله د خیر اراده وکړي نو هغه ته په دین کې پوهه ورکړي، او یقینا چې زه ویشونکی یم او الله جل جلاله ورکوونکی دی، او دا امت به د الله جل جلاله پر دین تل تر تله ثابت وي - هېڅ مخالف به یې ورته ضرر نه شي رسولای - تر څو چې قیامت قائم شي».** [صحیح حدیث دی] – [بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله چې د چا لپاره د خیر اراده وکړي، نو هغه ته په دین کې پوهه ورکوي او دا چې هغه (صلی الله علیه وسلم) د رزق، علم او نورو شیانو -چې الله تعالی هغه ته ورکړي - تقسیموونکی دی؛ او ورکوونکی په حقیقت کې الله دی او له ده پرته نور ټول اسباب دي چې د الله جل جلاله له اجازې پرته ګټه نه رسوي او دا امت به تر هغه وخته پورې د الله پر دین ثابت پاتې شي- څوک چې د دوی مخالفت کوي دوی ته به زیان ونه رسوي -تر هغه وخته پورې چې قیامت راشي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د شرعي علومو عظمت، فضیلت، زده کړه او پر زده کولو یې ټینګار.
٢. پدې امت کې به خامخا داسې یوه ډله وي چې په حق ثابته پاتې شي، کله چې یوه ډله ترې لاس واخلي بله به پرې ودرېږي.
٣. په دین کې پوهه د بنده لپاره د الله تعالی د خیر له ارادې څخه ده.
٤. رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی په امر او خوښه یوازې ورکول کوي، او دا چې هغه په خپله د هېڅ شي مالک ندی.

(5518)

(305) – عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضي الله عنهما أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ لِتُبَاهُوا بِهِ الْعُلَمَاءَ، وَلَا لِتُمَارُوا بِهِ السُّفَهَاءَ، وَلَا تَخَيَّرُوا بِهِ الْمَجَالِسَ، فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ، فَالنَّارُ النَّارُ». [صحيح] - [رواه ابن ماجه]

له جابر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «علم د دې لپاره مه زده کوئ چې د علماوو په وړاندې پرې فخر وکړئ او نه د دې لپاره چې ناپوهانو ته پرې ځان وښايئ او نه د دې لپاره چې په مجالسو کې پرې د ځان لپاره ځای ناستی غوره کړئ، نو که چا داسې وکړل، نو - د هغه لپاره - اور دی اور». [صحيح حديث دی] - [ابن ماجه روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې موخه د علم له زده کړې څخه خبرداری ورکړی، چې د علماوو په وړاندې پرې فخر وکړي او ځان پرې وښايي، او دا ورته وښايي چې زه هم ستاسو په څېر عالم يم، او يا د دې لپاره چې ساده او کم عقله خلک پرې مخاطب وګرځوي، او يا زده کړه د دې لپاره وکړي چې په مجلس کې پرې مشري تر لاسه کړي او نورو ته پرې لومړيتوب ورکړل شي. نو چاچې داسې وکړل، هغه د ځان ښودنې (ريا) او د الله لپاره په زده کړه کې د اخلاص د نشتوالي له امله د اور مستحق دی.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د هغه چا لپاره په اور ګواښ چې علم يې د فخر کولو لپاره زده کړې وي، او يا پرې جګړه وکړي او يا پرې په مجلس کې د ځان لپاره غوره ځای خپل کړي او داسې نور.

٢. د هغو کسانو لپاره په نيت کې د اخلاص ارزښت چې علم زده کوي او نورو ته يې ښايي.

٣. نيت د عملونو اساس دی او په همدې به جزا ورکول کيږي.

(65047)

(306) – عن عثمان رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ». [صحيح] - [رواه البخاري]

**عثمان رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي، چې هغه وفرمايل:**
**«په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې قرآن زده کړي او نورو ته يې وښايي».** [صحيح حديث دی] - [بخاري روايت کړی]

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې په مسلمانانو کې تر ټولو غوره او د الله جل جلاله په نزد هغه څوک تر ټولو د لوړې مرتبې خاوند دی چې قرآن کريم په تلاوت کولو، حفظولو، ترتيل، پوهېدلو او تفسير سره زده کړي او نورو ته هغه څه ورونښايي چې لده سره له قرآني علومو څخه دي او عمل پرې وکړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د قرآن کريم د عزت بيان او دا چې غوره کلام دی؛ ځکه چې د الله جل جلاله کلام دی.
٢. تر ټولو ښه زده کونکی هغه دی چې (د زده کړې تر څنګ يې) نورو ته هم وښايي، نه هغه چې يوازې په خپله زده کړه بسنه وکړي.
٣. د قرآن کريم زده کړه او نورو ته ښوول؛ تلاوت، معنا او احکامو ته شاملېږي.

(5913)

(307) – عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِي رحمه الله قَالَ: حَدَّثَنَا مَنْ كَانَ يُقْرِئُنَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ كَانُوا يَقْتَرِئُونَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ آيَاتٍ، فَلَا يَأْخُذُونَ فِي الْعَشْرِ الْأُخْرَى حَتَّى يَعْلَمُوا مَا فِي هَذِهِ مِنَ الْعِلْمِ وَالْعَمَلِ، قَالُوا: فَعَلِمْنَا الْعِلْمَ وَالْعَمَلَ. [حسن] - [رواه أحمد]

**له ابو عبدالرحمن السلمي رحمه الله څخه روايت دی چې فرمايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه صحابه کرامو چې مونږ ته به يې قرآن رازده کاوه ويل يې چې دوی به له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه لس آيتونه زده کړل، نو تر هغه پورې به يې لس نور آيتونه ترې نه اخيستل**

**تر څو به يې چې په هغوی علم او عمل نه و زده کړی، نو فرمايي: چې علم او عمل دواړه مو زده کړل.** [حديث حسن دی] [احمد راوايت کړی].

## تشريح:

صحابه کرامو رضی الله عنهم به له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د قرآنکريم لس آيتونه زده کول او تر هغه به يې نور آيتونه ترې نه اخيستل تر څو به يې چې په هغوی کې تول علم نه و زده کړی او عمل به يې پرې نه و کړی، نو علم او عمل دواړه يې سره يو ځای زده کړل.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د صحابه کرامو - رضي الله عنهم - فضيلت، او د قرآن کريم زده کړې ته يې لېوالتيا.
٢. د قرآن زده کړه په علم او عمل دواړو سره کيږي، نه يوازې په لوستلو او حفظولو سره.
٣. علم له وينا او عمل څخه وړاندې کيږي.

(65058)

**(308) – عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ {الم} حَرْفٌ، وَلَكِنْ {أَلِفٌ} حَرْفٌ، وَ{لَامٌ} حَرْفٌ، وَ{مِيمٌ} حَرْفٌ». [حسن] - [رواه الترمذي]**

**له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې د الله جل جلاله له کتاب څخه يو حرف ولولي نو د هغه لپاره د هغه په خبر لس چنده نيکي ده، زه نه وايم چې (الم) يو حرف دی، بلکې (الف) حرف دی، (لام) حرف دی او (ميم) حرف دی».** [حسن حديث دی] - [ترمذی روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هر مسلمان چې د الله جل جلاله له کتاب څخه يو حرف لولي نو هغه ته پرې نيکي ده، او ثواب يې ورته تر لس چنده پورې زياتيږي.
بيا يې دا وينا په دې خبره روښانه کړه: چې (زه دا نه وايم چې الم (يو) حرف دی، بلکې الف حرف دی، لام حرف دی او ميم حرف دی) نو درې توري کيږي او ديرش نيکی پرې دي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د قرانکریم په ډېر تلاوت باندې ټينګار.
٢. لوستونکي ته د هرې کلمې د هر حرف په بدل کې نيکي ده چې په لس چنده ورته شمېرل کيږي.
٣. د الله جل جلاله پراخه رحمت او سخاوت، چې بندګانو ته يې د خپل فضل او سخاوت له مخې اجر څو چنده کړی دی.
٤. په نورو وېناوو د قرآن کريم فضيلت او دا چې تلاوت کول يې عبادت دی؛ ځکه چې دا د الله جل جلاله کلام دی.

(6275)

(309) – عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «يقالُ لصاحبِ القرآن: اقرَأ وارتَقِ، ورتِّل كما كُنْتَ ترتِّل في الدُنيا، فإن منزِلَكَ عندَ آخرِ آية تقرؤها». [حسن] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي في الكبرى وأحمد]

**له عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «د قرآن څښتن - حافظ، لوستونکي او پرې عمل کوونکي - ته به وويل شي: لوله، او پورته خېژه، يقينا چې ستا مقام د وروستني آيت سره دی چې ته به يې لولې».** [حديث حسن دی] - [ابو داود، ترمذي، نسائی په سنن کبری کې او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې کله د قرآن لوستونکی -قاري؛ چې په قرآن يې عمل کړی وي، په تلاوت او حفظ سره يې د قرآن ملګرتيا کړې وي - جنت ته داخل شي نو ورته به وويل شي چې: قرآن لوله او په لوستلو يې د جنت په درجو کې پورته خېژه، او داسې په غور او ډاډ سره يې لوله لکه څنګه دې چې په دنيا کې په غور او ډاډ سره لوسته، يقينا چې ستاسو مقام او ځای وروستني آيت سره دی چې ته يې لولې.

## د حديث له فايدو څخه:

١. بدله د عمل د مقدار او کيفيت له مخې ده.
٢. د قرآن کريم په تلاوت کولو ټينګار، په هغه کې مهارت، حفظ يې، پکې غور کول او پرې عمل کول.

۳. جنت زیاتې درجې او منزلونه لري، چې په هغو کې به د قرآن خاوندان (حافظان او لوستونکي) تر ټولو لوړو درجو ته رسیږي.

(65054)

(310) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ أَنْ يَجِدَ فِيهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ؟» قُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ: «فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له ابو هریره -رضي الله عنه -څخه روایت دی وایې چې رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمایلي دي:** «آیا ستاسو څخه یو څوک دا خوښوي چې کله خپل کور ته راستون شي نو په هغه کې درې لویې اوښې چې ښې څربې وي ومومي؟» **مونږ وویل: هو. ویې فرمایل:** «نو په تاسو کې چې یو څوک په لمانځه کې درې آیتونه ولولي د هغه لپاره له درېو لویو څربو اوښانو څخه غوره دي». [صحیح حدیث دی] [مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیانوي چې په لمانځه کې د درېو آیتونو لوستلو ثواب لدې څخه غوره دی چې یو څوک په خپل کور کې درې لوېې، څربې او بلاربې اوښانې ومومي.

## د حدیث له فایدو څخه:

۱. په لمانځه کې د قرآن لوستلو د فضیلت بیان.

۲. نیک عملونه د دنیا له فاني لذتونو څخه غوره او تلپاتې دي.

۳. دا فضیلت یوازې د درېو آیتونو لوستلو پورې محدود نه دی؛ بلکې څومره چې لمونځ کوونکی په خپل لمانځه کې ډېر آیتونه لولي، د هغه لپاره د همغومره شمېر اوښانو څخه یې ثواب ډېر دی.

(65053)

(311) – عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «تَعَاهَدُوا هَذَا الْقُرْآنَ، فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَلُّتًا مِنَ الْإِبِلِ فِي عُقُلِهَا». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو موسى الاشعري رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «دا قرآن (په سينو کې د ساتلو په موخه) وخت په وخت ولولئ، ځکه په هغه ذات قسم دى چې د محمد - صلى الله عليه وسلم - روح د هغه په لاس کې دى چې دا (له انسان څخه) په تيښته کې له هغه اوښ څخه ډېر تېز دى چې په ګونده کې ولکه شوى وي». [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د قرآن سره په ژمن پاتې کېدلو امر کوي چې بايد وخت په وخت تلاوت کړاى شي تر څو يې په سينه کې له ساتلو وروسته هېر نه کړي، پدې خبره رسول الله صلى الله عليه وسلم د قسم په يادولو سره ټينګار وکړ چې قرآن کريم له انسان څخه په تللو او له سينو څخه په وتلو کې له هغه اوښ څخه ډېر تېز دى چې په ګونده کې ولکه شوى وي؛ نو که يو سړى يې وخت په وخت احوال واخلي (تلاوت يې کړي) په واک کې به يې پاتې شي او که يې پرېښود نو ترې ځي او بيا ورکيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. که د قرآن کريم حافظ وخت په وخت تلاوت وکړي، نو دا به يې په زړه کې وساتل شي، که نه نو له هغه څخه ځي او ترې هيريږي.

٢. وخت په وخت د قرآن کريم د تلاوت له فايدو څخه: د قيامت په ورځ اجر او د مرتبې لوړوالى دى.

(5907)

(312) – عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ، إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِي تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «له خپلو کورونو څخه هديرې مه جوړوئ، يقينا چې شيطان له هغه کور څخه تښتي چې د بقرې سورت پکې لوستل کيږي». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمايلی چې کورونه له لمانځه څخه خالي شي، ځکه (بې لمانځه کورونه) هديرو ته ورته وي چې لمونځ پکې نه کيږي.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې شيطان له هغه کور نه تښتي چې د بقرې سورت پکې لوستل کيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په کورونو کې ډېر عبادت او نفلي لمونځونه کول مستحب دي.
٢. په هديرو کې له جنازې پرته لمونځ کول ناروا دي؛ ځکه دا د شرک لپاره يوه وسيله او د مړو په حق کې غلو يعني له حد نه اوړېدل دي.
٣. د قبرونو تر څنګ لمونځ کول د صحابه کرامو په تاييد سره منع شوی دی، لدې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمايلې ده چې کورونه لکه د هديرو په څېر وګرځول شي چې لمونځ پکې نه کيږي.

(6208)

(313) – عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا الْمُنْذِرِ، أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ؟» قَالَ: قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: «يَا أَبَا الْمُنْذِرِ، أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ؟» قَالَ: قُلْتُ: {اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} [البقرة: ٢٥٥]. قَالَ: فَضَرَبَ فِي صَدْرِي، وَقَالَ: «وَاللهِ لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ، أَبَا الْمُنْذِرِ». [صحيح] - [رواه مسلم].

له ابي بن كعب رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «اې ابو المنذره، آيا ته پوهيږې چې د الله په كتاب كې تا سره كوم آيت تر ټولو لوی دی؟» هغه وويل: ما وويل چې : الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. هغه وفرمايل: « اې ابو المنذره، ته پوهيږې چې د الله په كتاب كې تاسره كوم آيت تر ټولو لوی دی؟» وايي: ما وويل: {اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} [البقرة: 255]. (الله (چې دی) نشته هيڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټولې نړۍ انتظام كوونكی دی) وايي: نو زه يې په سينه كې ووهلم او ويې ويل: «په الله قسم، چې علم دې درته مبارک شي (علم دې درته اسان شي) اې ابو المنذره». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت كړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم له أبی بن كعب رضي الله عنه څخه د الله په كتاب كې د تر ټولو لوی آيت په اړه پوښتنه وكړه، نو هغه په ځواب كې زړه نازړه شو، بيا يې وويل: آيت الكرسي دی {الله لا إله إلا هو الحي القيوم}: يعني (الله (چې دی) نشته هيڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټولې نړۍ انتظام كوونكی دی) نو رسول الله صلی الله عليه وسلم يې تاييد وكړ، او رسول الله - صلی الله عليه وسلم - په سينه كې وواهه، معنا يې دا وه چې سينه يې له علم او حكمت څخه ډكه ده، او دعا يې ورته وكړه چې پدې علم دې نېكمرغه شي او ورته دې آسان شي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د ابی بن كعب رضي الله عنه لوی فضيلت.
٢. آيت الكرسي د الله تعالی په كتاب كې تر ټولو لوی آيت دی، نو بايد حفظ شي، په معنا كې يې غور وشي او عمل پرې وشي.

(65059)

(314) – عن أبي مسعود رضي الله عنه قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: «مَنْ قَرَأَ بِالْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابو مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې په شپه كې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه ولولي، د هغه لپاره بسنه كوي». [صحيح حديث دی] – [بخاري او مسلم روايت كړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: څوک چې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه د شپې پر مهال ولولي نو الله تعالى د هغه لپاره بسنه کوي چې له هرې بدۍ او مصيبت څخه يې وساتي. او داسې هم ويل شوي چې (معنا يې دا ده چې) دا آيتونه ورته د شپې له تهجدو څخه بسنه کوي، او ويل شوي چې له نورو ټولو اذکارو څخه ورته بسنه کوي، او ويل شوي چې دا تر ټولو کم هغه څه دي چې بايد د شپې په تهجدو کې ولوستل شي او داسې نورې ويناوې هم شوي دي، او کېداى شي ټول هغه څه چې پدې اړه وويل شول سم وي ځکه چې دا الفاظ ورته شامليږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د سورت البقرې د وروستی برخې فضيلت، چې د الله تعالى لدې وينا څخه پيليږي (آمن الرسول د سورت تر پای پورې.

٢. د البقرې سورت وروستي آيتونه چې کله د شپې مهال ولوستل شي نو له لوستونکي څخه هره بدي، شر او شيطان دفع کوي.

٣. شپه د لمر په ډوبېدو سره پيليږي او د سهار په راختلو سره پای ته رسيږي.

(6274)

(315) – عن النعمان بن بَشِير رضي الله عنه قال: سمعت النبيَّ صلى الله عليه وسلم يقول: «الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ»، ثُمَّ قَرَأَ: «{وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ} [غافر: ٦٠]». **[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وأحمد]**

**له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اورېدلي دي چې فرمايل يې: «دعا عبادت دی» بيا يې - دا آيت - ولوست: «{وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ} [غافر: 60]. «او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم، بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي».** [صحيح حديث دی] - [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول لله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې دعا عبادت دی، نو واجب دي چې ټوله يوازې د الله تعالى لپاره وي، برابره خبره ده که هغه دعا وي او يا غوښتنه، چې د الله تعالی څخه هغه څه وغواړي چې ګټه ورته رسوي، او له هغه څه نه يې وساتي چې په دنيا او آخرت کې ورته زيان رسوي، او يا دا چې د عبادت دعا وي، چې هغه له هر هغه څه نه عبارت ده چې الله تعالى يې له ويناوو، ښکاره او پټو کړنو، قلبي، بدني او مالي عبادتونو څخه خوښوي.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې خبره ثبوت وړاندې کړ، ويې ويل چې الله تعالى فرمايلي دي: {ادعوني أستجب لكم إن الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين}. {ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم، بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي}.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دعا د عبادت اصل او اساس دی، نو له الله پرته يې بل چاته صرفول روا ندي.

٢. په دعا کې د بندګۍ حقيقت، د څښتن تعالى بډايتوب او د هغه په قدرت اعتراف دی او دا چې بنده هغه ته محتاج دی.

٣. د الله تعالى له عبادت څخه د لويي کولو او د هغه د رابللو په پرېښودلو باندې لوی ګواښ، او دا چې هر څوک د هغه له رابللو څخه تکبر کوي نو دوزخ ته به ذليل او سپک ننوځي.

(5496)

(316) – عن عائشة رضي الله عنها قالت: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ. [صحيح] - [رواه مسلم]

**له عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به په هر حالت کې الله جل جلاله ياداوه.** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

د مؤمنانو مور عايشه رضي الله عنها خبر ورکوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى ذکر ته ډېر ليواله و او په هر وخت، ځای او حالت کې به يې د الله تعالى ذکر کاوه.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د الله جل جلاله د ذکر لپاره له وېرې او غمې بې اودسی څخه پاکوالی شرط ندی.
٢. رسول الله صلى الله عليه وسلم په دوامداره توګه الله جل جلاله یاداوه.
٣. د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې د اقتدا له مخې په هر حالت کې د الله جل جلاله په ذکر ټینګار کول، پرته له هغو حالتونو چې ذکر کول پکې منع دي لکه د حاجت رفع کول.

(8402)

(317) – عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللهِ تَعَالَى مِنَ الدُّعَاءِ». [حسن] - [رواه الترمذي وابن ماجه وأحمد]

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «هیڅ شی د الله تعالی په نیز له دعا څخه زیات عزتمن ندی».** [صحیح حسن دی] - [ترمذي، ابن ماجه او احمد روایت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چې په عبادت کې هیڅ شی د الله تعالی په نزد له دعا څخه غوره ندی. ځکه چې پدې کې د الله تعالی په بډایتوب، په عاجزی او هغه ته په محتاجی اقرار کول دي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د دعا فضیلت او دا چې څوک الله جل جلاله رابلي نو دی هغه لره تعظیم کوونکی او پدې اقرار کوونکی دی چې هغه پاک ذات بډایه دی نو فقیر نه رابلل کیږي، او دا چې هغه اورېدونکی دی نو کوڼ نه رابلل کیږي، او دا چې هغه سخي دی نو بخیل نه رابلل کیږي، او دا چې هغه مهربانه دی نو سخت نه رابلل کیږي، او دا چې هغه قادر دی نو بې وسه نه رابلل کیږي، او دا چې هغه نږدې دی نو لرې اورېدل نه کوي، او داسې نور د الله پاک د جلال او جمال صفتونه.

(5509)

(318) – عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ: «يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، آمَنَّا بِكَ وَبِمَا جِئْتَ بِهِ فَهَلْ تَخَافُ عَلَيْنَا؟ قَالَ: «نَعَمْ، إِنَّ القُلُوبَ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَاءُ».

**[صحيح] - [رواه الترمذي وأحمد]**

**له انس رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به اکثره دا ویل چې: «يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»، «اې د زړونو اړوونکیه ذاته! زما زړه په خپل دین ثابت کړه»، نو ما وویل: اې د الله رسوله! موږ پر تا ایمان راوړی او پر هغه څه چې ته پرې راغلی یې نو آیا ته پر موږ وېرېږې؟ هغه وویل: «هو، یقینا چې زړونه د الله تعالی له ګوتو څخه په دوو ګوتو کې دي، هر ډول یې چې وغواړي همغسې یې اړوي».** [صحیح حدیث دی] - [ترمذي او احمد روایت کړی].

## تشريح:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیاتره دعاګانې له الله تعالی څخه په دین او اطاعت د استقامت او له انحراف او ګمراهۍ څخه د ځان ساتلو غوښتنه وه. نو انس بن مالك رضي الله عنه په دې خبره حیران شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولې دا دعا دومره زیاته کوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې زړونه د الله تعالی له ګوتو څخه دوو ګوتو تر منځه دي، او هر ډول چې وغواړي هغسې یې اړوي، نو زړه چې دی د ایمان او کفر ځای دی او زړه د زیاتو تغیراتو له امله قلب بلل شوی دی؛ ځکه چې دا په اوریدلو راوریدلو کې له کټوۍ (دیګ) نه هم زیات سخت دی کله چې په خوټېدلو راشي، نو چاته چې الله وغواړي زړه یې په هدایت سره ټینګ او په دین سره ثابت کړي، او چاته چې الله وغواړي نو زړه یې له هدایت څخه بې لاریتوب او ګمراهۍ ته واړوي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. خپل رب ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم غاړه ایښودل او عاجزي، او امت ته لارښوونه چې په دې اړه (له الله څخه) سوال وکړي.
٢. په دین د استقامت او ثابت قدمۍ اهمیت او دا چې اعتبار خاتمې (پای) ته ورکول کیږي.
٣. بنده د الله تعالی له مرستې پرته د سترګو د رپ په اندازه هم ثابت قدم نه شي پاتې کېدلی.
٤. د رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې د پیروۍ له مخې د دې دعا زیات لوستلو ته هڅول.

٥. په اسلام ټينګ پاتې کېدل لوی نعمت دی چې بنده ورپسې بايد زيار وباسي او د خپل بادار شکر پرې وباسي.

(3142)

(319) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «اللهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي، وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي، وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به ويل: «اللهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي، وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي، وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ». «يا الله! دين مې راته اصلاح کړه؛ هغه چې زما د چارو ساتنه پکې ده، دنيا مې راته اصلاح کړه؛ هغه چې زما ژوند پکې دی، آخرت مې راته اصلاح کړه؛ چېرته چې زما ورګرځېدل دي، او ژوند راته د هرې ښېګڼې د زياتوالي سبب وګرځوه، او مرګ راته له هر شر څخه د خلاصي سبب وګرځوه». [صحيح حديث دی مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې يوه دعا غوښتلې ده چې د ښو اخلاقو هغه اصول پکې راغونډ شوي چې هغه يې د بشپړولو لپاره رالېږل شوی، چې هغه د دين، دنيا او اخرت اصلاح ده، نو په لنډو الفاظو کې يې د درېو تولنو د سمونتيا غوښتنه وکړه، پيل يې د دين له سمونتيا څخه وکړ؛ ځکه چې په سمونتيا سره يې پاتې دواړه په خپله سمېږي نو ويې فرمايل:

(اللهم أصلح لي ديني) يا الله ماته زما دين اصلاح کړه: توان راکړه چې آداب يې په بشپړه توګه مراعت کړم.

(الذي هو عصمة أمري) هغه چې زما د ټولو چارو ساتونکې دی، ځکه که دين مې فاسد شو، ټولې چارې مې فاسدې شوې، نا اميده او برباد شوم، او ځکه چې دين تر هغه پورې نه اصلاح کېږي تر څو چې دنيا نه وي اصلاح شوې، نو ويې فرمايل: (وأصلح لي دنياي) (او زما لپاره زما دنيا سمه کړه) ما ته سالم بدن، امنيت، روزي، ښه ښځه، ښه اولاد او هر هغه څه راکړه چې زه ورته اړتيا لرم،

او دا چې دا هر څه حلال وي او ستا په اطاعت کې راسره مرسته وکړي، بیا يې په سوال کې هغه عذر یاد کړ چې د اصلاح غوښتنه يې وکړه نو ويې فرمايل: (التي فيها معاشي) هغه چې زما د اوسېدو ځای او ژوند پکې دی. (وأصلح لي آخرتي التي فيها معادي) (او زما آخرت زما لپاره ښه کړه، کوم ته چې زما ورګرځيدل دي) هغه ځای چې تاسره د ملاقات لپاره ورګرځم، نو د دې لپاره د اعمالو د اصلاح توفيق راکړه، او بنده ته د الله تعالى توفيق ورکول هغه ته د عبادت، اخلاص او نېکې خاتمې نصيب کول دي.

هغه صلی الله علیه وسلم له دنیا وروسته آخرت ترتيب کړ، ځکه چې لومړی د دويم د اصلاح وسيله ده، چاته چې په دنيا کې استقامت نصيب شو او ژوند يې د الله تعالى د خوښې مطابق وګرځېد آخرت يې په خپله سميږي چې دی پکې خوشحاله وي.

(واجعل الحياة) او اوږد عمر راته په هره ښېګڼه کې د زياتوالي سبب وګرځوه چې نيک عملونه پکې زيات کړم، او ژر مرينه زما لپاره له هر شر، فتنې،امتحان، مصيبتونو، نافرمانيو، غفلت او د دنيا له سختيو او کړاوونو څخه د خلاصون او راحت سبب وګرځوه.

## د حديث له فايدو څخه:

١. دين تر ټولو مهم څيز دی؛ له دې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه په دعا پيل وکړ.
٢. دين د انسان لپاره ساتونکی دی چې له هر شر څخه يې منع کوي.
٣. د دنيوي چارو د اصلاح لپاره دعا د دين او اخرت د اصلاح لپاره ده.
٤. په دين کې د فتنې له وېرې د مرګ هيله کول، يا له الله څخه د شهادت غوښتنه مکروه نه ده.

(5482)

(320) – عَنِ ابنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَعُ هَؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ، حِينَ يُمْسِي وَحِينَ يُصْبِحُ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَتِي -أَو: عَوْرَاتِي- وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي». [صحيح] - [رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه وأحمد]

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا دعاګانې سبا او بیګا نه پرېښودلې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَتِي- أَو: عَوْرَاتِي -وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي». «یا الله! زه له تانه په دنیا او آخرت کې د سلامتیا سوال کوم، یا الله! زه له تانه په خپل دین، دنیا، کورنۍ او مال کې د بخښنې او سلامتیا سوال کوم، یا الله! زما شرمګاه - او یا شرمګاوې په پرده کې وساته، او زما وېره په امن بدله کړه، یا الله زما د مخې، زما د شا، زما د ښي اړخ، زما د چپ اړخ، زما د پاسه او د لاندې له خوا زما ساتنه وکړه، او ستا په لویۍ پناه نیسم له دې چې د لاندې له خوا ترور شم». [صحیح حدیث دی] - [ابو داود، نسائي، ابن ماجه او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به سبا او بیګا مهال دا دعاګانې نه پرېښودلې: (اللهم إني أسألُكَ العافيةَ) (یا الله! زه له تا څخه عافیت غواړم) له ناروغیو، مصیبتونو، دنیاوي سختیو او له دیني خواهشاتو او فتنو څخه په (دنیا او آخرت) کې، هغه فتنې چې اوس شتون لري او هغه چې په راتلونکې کې به پېښېږي.

(یا الله! زه له تا څخه بخښنه) او د ګناهونو له منځه وړل او له هغو تېرېدل غواړم، او له تا څخه له هر ډول نیمګړتیاوو څخه (زما په دین) کې لکه: له شرک، بدعت او ګناهونو څخه، (او زما په دنیا کې) له مصیبتونو، ضررونو او شرونو څخه سلامتیا غواړم، او زما په (کورنۍ کې) چې زما ښځې، اولادونه او خپلوان دي، او (زما په مال) او عمل کې درڅخه د عافیت سوال کوم.

(اللهم استرْ عَوراتي) یا الله! زما د عورتونو پرده وکړه، او هغه عیبونه او نیمګړتیاوې چې په ما کې دي، او زما ګناهونه پاک کړه، (او ما له وېرې په امن کې کړه) خوف او وېره راڅخه لرې کړه.

(اللهم احفظْني) یا الله! زما ساتنه وکړه، او ما له ضرر او مصیبت څخه وساته؛ هغه ضررونه چې (زما په وړاندې، زما د شا له خوا، زما له ښي اړخ څخه، زما له کیڼ اړخ څخه او زما له پورته خوا) ماته متوجه دي. نو (رسول الله صلی الله علیه وسلم) د الله تعالی څخه سوال وکړ چې له ټولو خواوو یې ساتنه وکړي؛ ځکه چې مصیبتونه او آفتونه انسان ته یوازې له همدې لارو رسیږي.

(وأعوذُ بعظمتك أن أُغْتَال) او ستا په لویۍ پناه نیسم چې د لاندې له خوا ونیول شم او یا هلاک شم؛ داسې چې ځمکه مې کش کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې د پيروی له مخې د دې کلماتو په ويلو پابندي.

٢. لکه څنګه چې انسان ته امر شوی چې له الله تعالی څخه په دين کې خير وغواړي همداسې ورته امر شوی چې په دنيا کې هم د عافيت سوال وکړي.

٣. طيبي رحمه الله فرمايلي: شپږ خواوې يې په عامه توګه يادې کړې، ځکه چې انسان ته آفتونه له همدې خواوو رسيږي، او د لاندې له خوا مصيبت څخه يې په پنا غوښتلو کې مبالغه ځکه وکړه چې ډېر بد وي.

٤. د سهار مهال اذکارو ويلو لپاره غوره ده چې د سهار له راختو څخه تر لمر راختلو پورې وويل شي چې د ورځې پيل وي، او بېګا مهال د مازديګر د لمانځه نه وروسته تر لمر لوېدو ته نږدې وخت پورې، خو که له دې وروسته يې وويل يعنې: چې سهار مهال يې د څاښت راختلو وروسته وويل هم ترې منل کيږي، او که له ماسپښين نه وروسته يې وويل هم صحيح ده، او که له ماښام وروسته يې وويل هم صحيح ده، ځکه دا هم د ذکر لپاره وخت دی.

٥. په يو خاص وخت کې چې د يو ذکر لپاره دليل وي لکه د سورت البقرې اخرې دوه ايتونه نو دا به د لمر پريوتو څخه وروسته د شپې لخوا ويل کيږي.

(5485)

(321) – عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهَا هَذَا الدُّعَاءَ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ بِهِ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ، وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهُ لِي خَيْرًا». [صحيح] - [رواه ابن ماجه وأحمد]

له ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته دا دعا ورزده کړه: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ الْخَيْرِ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ الشَّرِّ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا

سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ بِهِ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ، وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهُ لِي خَيْرًا». «يا الله! زه له تا څخه د ټول ببړني او راتلونکي خير غوښتنه کوم، هغه چې زه پرې خبر يم او هغه چې زه ترې ناخبره يم، او تا ته پناه دروړم له هر بيړني او راتلونکي شر څخه، هغه چې زه پرې خبر يم او هغه چې زه ترې نا خبره يم، يا الله! زه له تا څخه د هغه خير غوښتنه کوم چې له تا څخه ستا بنده او پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم غوښتی و، او تا ته له هغه شر څخه پناه دروړم له کوم څخه چې ستا بنده او پيغمبر پناه غوښتې وه، يا الله! زه له تا څخه جنت او هغه وينا او عمل غواړم چې جنت ته پرې نږدې کېدل کېږي، او له اور او هغې وينا او عمل څخه پناه غواړم چې په هغې سره اور ته نږدې کېدل کېږي، او له تا څخه غواړم چې هره فيصله (پرېکړه) چې زما په اړه کوې، هغه ماته خير وګرځوې». [صحيح حديث دی] - [ابن ماجه او احمد روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم عايشې رضي الله عنها ته څلور جامعه دعاګانې ورښودلې دي:

لومړی: عامه دعا ده چې هرې ښېګڼې ته شامله ده، (يا الله! زه له تا څخه د ټول خير غوښتنه کوم) (عاجله) هغه چې وخت يې نږدې دی، (و آجله) او هغه چې لرې دی، (ما علمت منه) هغه چې تا يې په اړه پوهه راکړې ده (و ما لم أعلم) او هغه چې تا يې پوهه نه ده راکړې او ستا په علم کې شته. پدې دعا کې الله تعالی ته د چارو سپارل دي؛ هغه ذات چې پوه، خبر او مهربان دی، نو هغه پاک ذات د مسلمان لپاره غوره او ښايسته برخليک ټاکي، (و أعوذ) او پناه نيسم پر تا باندې له هر ډول بيړني او وروسته راتلونکي شر څخه؛ هغه چې زه پرې پوه يم او هغه چې په اړه يې راته علم نشته.

دويمه دعا: دا ده چې مسلمان په دعا کې تجاوز و نه کړي (اللهم انی اسألک) يا الله زه له تانه سوال کوم، او د هغه خير غوښتنه درنه کوم چې ستا بنده او پيغمبر صلی الله عليه وسلم يې غوښتنه کړې ده، (و أعوذ) او زه پنا نيسم پر تا له هغه شر څخه چې ستا بنده او پيغمبر صلی الله عليه وسلم ترې پنا غوښتې ده، او دا دعا او له الله تعالی څخه غوښتنه ده چې بلونکي (داعي) ته هغه څه ورکړي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې د ځان لپاره غوښتنه کړې ده، پرته له دې چې ډولونه يې وشميري.

دريمه دعا: جنت ته د ننوتلو غوښتنه او له اور څخه ژغورل کېدل، او دا د هر مسلمان مقصد او له عمل څخه يې همدا موخه او هدف دی: (اللهم إني أسألك الجنة) يا الله زه له تانه د جنت

سوال کوم، چې رانصيب يې کړې، (وما قرب إليها من قول أو عمل) او د هغې کړنې او نيک عمل چې ته پرې خوشحاله کيږې، (و أعوذ بک من النار) او پر تا له اور څخه پنا غواړم (وما قرب اليها من قول او عمل) او له هغې وينا او کړنې څخه چې ګناه وي او تا غصه کوي.

ثلورمه دعا: د الله تعالى په قضا او قدر باندې د خوښې غوښتلو دعا ( و أسألک أن تجعل کل قضاء قضيته لي خيرا ) او له تانه سوال کوم چې هره پرېکړه دې چې زما په حق کې کړې وي، هغه خير وګرځوه، او دا د الله تعالى په پرېکړه او فيصلې د رضايت غوښتلو دعا ده.

## د حديث له فايدو څخه:

١. سړى بايد خپلې کورنى ته هغه څه ورزده کړي چې په ديني او دنياوي چارو کې ورته ګټه رسوي، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم عايشې رضي الله عنها ته ورزده کول.

٢. د مسلمان لپاره غوره ده هغه دعاګانې زده کړي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابتې دي، ځکه چې هغه جامعه دعاګانې دي.

٣. علماوو د دې حديث په اړه فرمايلي دي چې: له الله تعالى څخه د خير غوښتلو او له شر څخه د پناه غوښتلو لپاره دا تر ټولو جامع حديث دى، او دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم له جامعه ويناوو څخه يوه ده چې هغه ته ورکړې شوي دي.

٤. نيک عملونه او ويناوې د الله تعالى له رحمت نه وروسته جنت ته د تللو لاملونه دي.

(5487)

(322) – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْإِيمَانَ لَيَخْلَقُ فِي جَوْفِ أَحَدِكُمْ كَمَا يَخْلَقُ الثَّوْبُ الْخَلِقُ، فَاسْأَلُوا اللَّهَ أَنْ يُجَدِّدَ الْإِيمَانَ فِي قُلُوبِكُمْ». [صحيح] - [رواه الحاكم والطبراني]

**له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «ستاسو څخه د يو چا په زړه کې ايمان داسې کمزورى کيږي لکه څرنګه چې جامې - په اغوستلو سره - زړيږي، نو له الله تعالى څخه وغواړئ چې ايمان مو په زړونو کې تازه کړي».** [صحيح حديث دى] - [حاکم او طبراني روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې ایمان د مسلمان په زړه کې داسې زړیږي او کمزورى کيږي، لکه څرنګه چې نوي جامې په زياتو کارولو سره له منځه ځي؛ دا په عباداتو کې د نقصان، يا ګناهونو له امله او يا هم په شهوتونو کې د ښکيلتيا له امله. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته لارښوونه وکړه چې له الله تعالی څخه وغواړو چې ایمانونه مو د فرائضو په ادا کولو، زيات ذکر او زيات استغفار ويلو سره تازه کړي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په زړه کې د استقامت او باور نوي کولو لپاره له الله څخه غوښتنه کول.
٢. ایمان؛ قول، عمل او باور دی، په طاعت سره زياتيږي او په ګناه کولو سره کميږي.

(65020)

(323) – عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رضي الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا».

**[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې:** «د ايمان خوند هغه چا څکلی دی چې په دې راضي وي چې الله تعالی يې رب، اسلام يې دين او محمد صلی الله علیه وسلم يې رسول دی». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې هغه مؤمن چې په خپل ايمان کې ريښتيني وي او زړه يې پرې ډاډمن وي نو خامخا به په خپل زړه کې داډ، پراخوالی، خوښي، خوږوالی او الله تعالی ته د نږدې کيدو لذت وموږي که چېرته په دريو شيانو راضي شو:

لومړی: له الله تعالی څخه د څښتن په توګه داسې راضي وي چې زړه يې په هغه څه آرام وي چې د الله تعالی له خوا ورته د هغه د ربوبيت په توګه ورکړل شوي لکه: د روزۍ او بيلابيلو حالاتو وېش، نو په زړه کې پرې هېڅ اعتراض نه لري او له الله پرته د بل رب پلټنه هم نه کوي.

دويم: په اسلام د دين په حيث داسې راضي وي چې اسلامي دندو او وجايبو ته يې سينه خلاصه وي او له اسلام پرته د بلې لارې په لټه کې نه وي.

دريم: پر محمد صلى الله عليه وسلم د رسول په توګه داسې راضي وي چې سينه ورته پراخه وي او پر ټولو هغو څه له شک پرته خوښ وي چې هغه ورته راوړي دي او يوازې هغه څه تعقيبوي چې د هغه د لارښوونې سره سم وي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. ايمان داسې خوږوالى او خوند لري چې په زړونو څکل کيږي، لکه څنګه چې د خوراک او څښاک خوږوالى په خوله څکل کيږي.

٢. بدن د خوراک او څښاک خوږوالى هغه مهال حس کولاى شي چې روغ وي، همدا رنګه زړه هم دى چې کله د نفسي غوښتنو له ناروغۍ او حرامو خواهشاتو څخه وژغورل شي د ايمان، خوږوالى حس کوي او کله چې ناروغ شي د ايمان خوږوالى نه حس کوي، بلکه کېدى شي هغه خواهشات او ګناهونه ځانته حلال وګڼي چې هلاکت يې پکې وي.

٣. انسان چې کله په يو کار خوښ وي او ښه يې وګڼي ورته اسانيږي او هيڅ شى يې پرې نه سختيږي او په هر هغه څه خوشحاليږي چې ورته راځي، او د تندي پراخوالى يې د زړه له خوښۍ سره ورګډ شي، نو همدا رنګه مؤمن هم دى چې کله يې ايمان زړه ته ننوځي، نو د الله اطاعت ورته اسان شي او زړه يې پرې خوږوالى مومي، او په سختوالي يې نه پوهيږي.

٤. ابن القيم رحمه الله فرمايلي: په دې حديث کې د خپل رب په ربوبيت او الوهيت د خوښۍ اظهار دى، او همدا رنګه يې په رسول د خوښۍ اظهار او هغه ته غاړه ايښودل دي او په دين رضايت او هغه ته تسلمېدل دي.

(65116)

(324) – عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِهِ، وَقَالَ: «يَا مُعَاذُ، وَاللَّهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ»، فَقَالَ: «أُوصِيكَ يَا مُعَاذُ لَا تَدَعَنَّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ تَقُولُ: اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ». [صحيح] - [رواه أبو داود والنسائي وأحمد]

**له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه له لاس څخه ونيوه او ويې ويل: «اې معاذه! قسم په الله چې زه درسره مينه لرم». نو ويې ويل: «زه**

تاته سپارښتنه کوم چې د هر لمانځه په پای کې مه پرېږده چې ووایې: (اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ) اې الله! ستا په یادولو، ستا په شکر ادا کولو او ستا په ښه عبادت کولو کې راسره مرسته وکړې». [صحیح حدیث دی] - [ابو داود، نسائي او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د معاذ بن جبل رضي الله عنه لاس ونیوه او ورته یې وویل: قسم په الله چې زه درسره مینه لرم، او اې معاذه! زه درته سپارښتنه کوم چې د هر لمانځه په پای کې پرې نه ږدې چې ووایې: (اللهم أَعِنِّي على ذكرك) اې الله زما سره ستا په یادولو کې مرسته وکړې، په هرې وینا او عمل کې چې ستا پیروی ته مې نږدې کوي. (وشُكْرِكِ) او ستا په شکر ادا کولو، چې نعمتونه تر لاسه کړم او له نعمتونو څخه د بې برخې کېدلو پر وړاندې مانع وګرځي. (وحُسْن عبادتك) او ستا په ښایسته عبادت، چې الله تعالی ته پکې اخلاص وي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه برابر وي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د یو چا د خبرولو مشروعیت، کله چې ورسره د الله تعالی لپاره مینه لري.
٢. د هر فرض او نفلي لمانځه وروسته دا دعا کول مستحب دي.
٣. په دې څو کلمو سره د دنیا او آخرت اړتیاوې غوښتل کیږي.
٤. د الله تعالی لپاره د محبت کولو له فایدو څخه یو بل ته په حق وصیت، نصیحت او د نیکی او تقوا په کارونو کې د یو بل ملاتړ دی.
٥. طیبي فرمایلي: د الله تعالی یادول د سینې د پراخېدو پیلامه، او د شکر ویستل یې د نعمتونو د تر لاسه کولو وسیله، او د ښایسته عبادت لپاره د هر هغه څه څخه ځان بې کاره کول دي چې د الله تعالی له یاد څخه یې مشغولوي.

(3518)

(325) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ». [صحيح] - [رواه مسلم]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «بنده د سجدې پر مهال خپل رب ته تر ټولو ډېر نږدې وي، نو ډېره دعا وکړئ». [صحيح حديث دی [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې بنده خپل رب ته تر ټولو نږدې هغه مهال وي کله چې دی سجده کوي، ځکه چې بنده د سجدې کولو پر مهال کې د خپل بدن تر ټولو غوره او عزتمن غړي - په تواضع، عاجزي او خاکسارۍ سره - الله تعالی ته په ځمکه ږدي.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم په سجده کې په ډېرې دعا کولو باندې امر کړی دی، (ځکه) پدې سره الله تعالی ته په وينا او عمل دواړو سره يو ځای عاجزي ترسره کيږي.

## د حديث له فايدو څخه:

١. اطاعت بنده الله ته ډېر نږدې کوي.

٢. په سجده کې د ډېرو دعاګانو مستحب والی؛ ځکه چې (سجده) د دعا د قبليدو له ځايونو څخه يو دی.

(5382)

(326) – عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». [صحيح] - [متفق عليه]

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر ټولو زياته دعا به دا وه: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». "اې الله زموږ ربه، موږ ته په دنيا او اخرت کې خير راکړه، او د اور له عذابه مو وساته". [صحيح حديث دی - [بخاري او مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به ډيرى وخت جامعه دعاګاني کولې چې له هغو څخه يوه دا ده: "اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنة، وفي الآخرة حسنة، وقنا عذاب النار"، دا دعا د دنيا ښېګڼو ته شامله ده، لکه خوندور، پراخه او حلال رزق، صالحه مېرمن، داسې اولادونه چې سترګې پرې يخيږي، هوساينه، فايډور علم، نيک عمل او داسې نورې مطلوبې او روا غوښتنې او د آخرت خير لکه: د قبر او آخرت سختو حالاتو او د جهنم له عذابونو څخه په امن کې پاتې کېدل، د الله جل جلاله خوښي او ابدي نعمتونو تر لاسه کول او ډېر مهربان رب ته نږدې کېدل.

## د حديث له فايډو څخه:

١. دا غوره ده چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې د پيروى له مخې جامعه دعاګانې وغوښتل شي.

٢. ښه ده چې انسان په خپله دعا کې د دنيا او آخرت خيرونه سره يوځاى کړي.

(5502)

(327) – عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ، وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالوَرِقِ، وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ؟» قَالُوا: بَلَى. قَالَ: «ذِكْرُ اللهِ تَعَالَى». **[صحيح] - [رواه الترمذي وابن ماجه وأحمد]**

**له ابو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:**

«آيا زه تاسو ته ستاسو د غوره عملونو په اړه خبر درنکړم چې ستاسو د واکمن پر وړاندې ترټولو پاکيزه او ستاسو مرتبو لره لوړوونکي وي او ستاسو لپاره د سرو زرو او سپينو زرو له خيراتولو غوره وي، او لدې درته غوره وي چې د خپل دښمن سره مخ شئ ؟ نو تاسو د هغوى څټونه ووهئ او هغوى ستاسو څټونه ووهي؟» هغوى وويل: ولې نه (يعني خبر راکړه)، هغه وفرمايل: د الله تعالى ذِکر (يادول)». [صحيح حديث دى] - [ترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپلو اصحابو څخه وپوښتل: - آيا غواړئ چې ستاسو د واكمن ذات پر وړاندې ستاسو د تر ټولو غوره، باعزته، تر ټولو ښه وده كوونكو، پاكيزه او سوچه اعمالو په اړه خبر دركړم چې ؟ او دا چې په جنت كې ستاسو مرتبو لره پورته كوونكي وي؟

او ستاسو لپاره د سرو او سپينو زرو له صدقه كولو څخه غوره وي؟

او ستا لپاره لدې غوره وي چې له كفارو سره وجنګيږئ؛ تاسو د هغوى سرونه ووهئ او هغوى ستاسو سرونه ووهي؟

صحابه و وويل: هو موږ دا غواړو.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د الله جل جلاله ذكر په هر وخت او هر حالت كې.

## د حديث له فايدو څخه:

١. په پرله پسې ډول په ظاهر او باطن كې د الله تعالى يادول؛ الله تعالى ته د نږدېوالي يو له سترو او فايدورو كارونو څخه دي.

٢. ټول عملونه د الله جل جلاله د ذِكر د قائمولو لپاره روا شوي دي، الله پاک فرمايلي: ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ يعني (او زما په ياد كې لمونځ وكړه). او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د كعبې طواف او د صفا او مروه تر منځ (سعى كول) او د جمراتو ويشتل يوازې د الله تعالى د يادولو (ذكر) په خاطر روا شوي دي. ابو داود او ترمذي روايت كړى دى.

٣. العز ابن عبدالسلام په خپلو قاعدو كې فرمايلي: دا حديث په دې دلالت كوي چې په ټولو عباداتو كې ثواب د زياتې سترتيا په اندازه نه وي، بلكې داسې هم كيږي چې الله جل جلاله د زياتو اعمالو په پرتله په وړو عملونو زيات اجرونه وركوي، نو ثواب د مرتبو له مخې وركول كيږي چې له نورو سره په شرف كې توپير لري.

٤. المناوي په فيض القدير كې ويلي چې: د دې حديث تفسير دا دى چې ذِكر د هغو كسانو لپاره غوره دى چې مخاطب شوي دي، او كه چېرته په حديث كې مخاطب يو زړور او تورزن كس چې په جګړې سره يې اسلام ته بريا تر لاسه كېده نو هغه ته به ويل شوي وو چې جهاد تر ټولو غوره عمل دى، او كه هغه بډايه انسان پرې مخاطب شوى و چې په خيرات او صدقې وركولو سره يې غريبانو ته فايده رسېدله نو هغه ته به ويل شوي وو چې صدقه تر ټولو غوره عمل دى، او هغه څوك چې د حج كولو توان لري، هغه ته به حج ښودل شوى و، يا هغه څوك چې

مور او پلار لري، نو هغه ته به له دواړو سره نيکي کول غوره عمل شودل شوی و، او (پدې تفسير سره) د روايتونو تر منځ جوړجاړی کيږي.

٥. تر ټولو غوره ذِکر هغه دی چې په ژبه وويل شي او په زړه کې راوستل شي، بيا ورپسې هغه دی چې يوازې په زړه کې راوستل شي لکه فکر کول، بيا هغه دی چې يوازې په ژبې سره ادا شي، او په ټولو کې اجر دی اِن شاء الله تعالی.

٦. حالاتو سره په تړلو اذکارو د مسلمان پابندي کول لکه: د سهار او ماښام اذکار، جومات ته د ننوتلو او بېرته راوتلو، همدا رنګه کور، تشناب او نورو ځايونو ته د ننوتلو او راوتلو پر مهال اذکار .. او داسې نور ډېر په دې سره مسلمان د هغه چا له ډلې څخه ګرځي چې الله تعالی ډېر يادوي.

(3575)

(328) – عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَأَصْبَحْتُ يَوْمًا قَرِيبًا مِنْهُ وَنَحْنُ نَسِيرُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِي عَنِ النَّارِ، قَالَ: «لَقَدْ سَأَلْتَنِي عَنْ عَظِيمٍ، وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ، تَعْبُدُ اللَّهَ وَلاَ تُشْرِكْ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ، وَتَحُجُّ البَيْتَ» ثُمَّ قَالَ: «أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الخَيْرِ: الصَّوْمُ جُنَّةٌ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ، وَصَلاَةُ الرَّجُلِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ» قَالَ: ثُمَّ تَلاَ: «{تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ}، حَتَّى بَلَغَ {يَعْمَلُونَ}» ثُمَّ قَالَ: «أَلاَ أُخْبِرُكَ بِرَأْسِ الأَمْرِ كُلِّهِ وَعَمُودِهِ، وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ؟» قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «رَأْسُ الأَمْرِ الإِسْلاَمُ، وَعَمُودُهُ الصَّلاَةُ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الجِهَادُ» ثُمَّ قَالَ: «أَلاَ أُخْبِرُكَ بِمَلاَكِ ذَلِكَ كُلِّهِ؟» قُلْتُ: بَلَى يَا نَبِيَّ اللهِ، فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ قَالَ: «كُفَّ عَلَيْكَ هَذَا» فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ، وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُونَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ؟ فَقَالَ: «ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ، وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَوْ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ إِلاَّ حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ». **[صحيح بمجموع طرقه] - [رواه الترمذي وابن ماجه وأحمد]**

**له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: زه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره په يو سفر کې وم، نو يوه ورځ د مزل پر مهال ورنږدې شوم، ورته مې وويل چې: اې د الله رسوله!**

داسې يو عمل راوښيه چې جنت ته پرې داخل شم او له اور نه پرې وژغورل شم، هغه وفرمايل: «تا راڅخه د يو لوى عمل په اړه پوښتنه وکړه، او يقينا چې دا کار د هغه چا لپاره اسانه دى چې الله ورته اسان کړى وي، د الله تعالى عبادت کوه او د هغه سره هيڅ شى مه شريکوه، لمونځ کوه، زکات ورکوه، د رمضان مياشت روژه نيسه، او د الله تعالى د کور حج وکړه» بيا يې وفرمايل: «آيا د خير کارونو ته دې لارښوونه ونه کړم: روژه ډال دى، او صدقه ګناهونه داسې وژني لکه څنګه چې اوبه اور مړ کوي، او همدا رنګه يو سړى چې د شپې لمونځ (تهجد) کوي» وايې: بيا يې دا آيت ولوست {تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ} يعني: د دوى ډډې له خپلو خوب ځايونو نه لرې کيږي (د شپې لمانځه لپاره خپل خوب ځايونه پريږدي). تر دې چې {يَعْمَلُونَ}» ته ورسيده، بيا يې وفرمايل: «آيا زه تاسو ته د ټول اسلام د سر، ستنې او تر ټولو د لوړې څوکې په اړه احوال درنکړم؟» ما وويل: ولې نه اې د الله رسوله! ويې فرمايل: «د دين سر اسلام او ستن يې لمونځ دى، او تر ټولو لوړه څوکه يې جهاد دى» بيا يې وفرمايل: «ايا زه تاسو ته د دې ټولو له جوهر څخه خبر درنکړم؟» ماوويل: ولې نه اې د الله نبي، نو خپله ژبه يې ونيوله او ويې فرمايل: «دا دې کنټرول کړه» ما وويل: اې د الله نبى، آيا موږ په خپلو خبرو نيول کيږو؟ ويې فرمايل: «مور دې درباندې بوره شي اې معاذه! آيا د ژبې له بې ځايه خبرو بل څه هم شته چې له امله يې خلک پړمخه په اور کې ورغوځول کيږي؟!». [د ټولو طريقو په يو ځاى کولو سره صحيح دى] - [ترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړى].

## تشريح:

معاذ رضي الله عنه وويل: زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يو سفر کې وم، نو يوه ورځ د تګ پر مهال ورنږدې شوم ما وويل: اې د الله رسوله! داسې يو عمل راته وښايه چې جنت ته مې ننباسي او له اور څخه مې لرې کړي، هغه وفرمايل: تا له ما څخه د يو داسې عمل په اړه پوښتنه وکړه چې نفسونو ته يې تر سره کول لويه خبره ده او دا د هغه چا لپاره اسان دى چې الله ورته اسان کړى وي؛ نو د اسلام فرايض ادا کړه:

لومړى چې: يوازې د الله تعالى عبادت کوه او له هغه سره هيڅ شى مه شريکوه.

دويم: په شپه او ورځ کې په شرطونو، ارکانو، فرائضو او واجباتو برابر پنځه وخته لمونځونه کوه: سهار، ماسپښين، مازديګر، ماښام او ماخوستن.

دريم: له هر هغه مال څخه فرضي زکات وباسه چې يوې شرعي ټاکلې اندازې ته ورسيږي، دا يو مالي عبادت دى او مستحقو کسانو ته ورکول کيږي.

څلورم: د رمضان روژه ونیسه چې هغه له سهار څخه تر لمر لوېدو پورې د عبادت په نیت له خوراک، څښاک او داسې نورو شیانو څخه ډډه کول دي چې روژه ماتوي.

پنځم: د عبادت په نیت د مکې په لور بیت الله ته د حج د مناسکو د ادا کولو لپاره لاړ شه.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا داسې یوه لار در ونه ښیم چې د کامیابۍ تر دروازو دې ورسوي؟ هغه دا ده چې د فرضو پسې نفلي عملونه تر سره کړه.

لومړی: نفلي روژې، چې په ګناهونو له اخته کېدو څخه مخنیوی کوي، ځکه چې شهوت ماتوي او ځواک کمزوری کوي.

دویم: نفلي صدقه او خیرات، ځکه چې صدقه ګناه له منځه وړي او اثر یې ختموي.

دریم: د شپې په وروستۍ دریمه برخه کې تهجد لمونځ کول، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست: {تتجافى جنوبهم} یعنې د تهجد کوونکو ډډې او اړخونه {عن المضاجع} له خوب ځایونو څخه جلا کېږي، {يدعون ربهم} ځکه چې خپل رب په لمانځه، ذکر، د قران کریم تلاوت او دعا سره رابلي،{خوفا وطمعا ومما رزقناهم ينفقون، فلا تعلم نفس ما أخفي لهم من قرة أعين} په وېرې او تمې سره او له هغه (مال) نه، چې مونږ دوی ته ورکړی دی؛ څه لګوي، نو هېڅ یو نفس ته معلوم نه دي هغه څه چې د دوی لپاره پټ کړی شوي دي، د سترګو له یخوالي څخه، یعنې د قیامت په ورځ او په تل پاتې جنتونو کې {جزاء بما كانوا يعملون} د هغو عملونو د بدلې په توګه چې دوی به کول.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا زه تاسو ته د دین د بنسټ او هغې ستنې په اړه خبر درنکړم چې پرې ولاړ دی او تر ټولو لوړه څوکه یې ده؟

معاذ رضي الله عنه وویل: هو ( په اړه یې خبر راکړه ) اې د الله رسوله.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دین سر: اسلام دی چې له دوه وو ګواهیو څخه عبارت دی او په دوی له انسان سره د دین بنسټ جوړیږي. او ستن یې: لمونځ دی، نو له لمانځه پرته اسلام نشته، لکه څرنګه چې کور (کوټه) له ستنو (دیوالونو) پرته نه جوړېږي؛ او تر ټولو لوړه څوکه یې جهاد او د دښمنانو سره په جګړه کې د الله جل جلاله د کلمې د پورته کولو لپاره زیار وېستل دي.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا زه تاسو ته د هغه څه د غښتلتیا او کره والي په اړه - خبر درنه کړم - چې پورته ذکر شول؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله ژبه ونیوله او ویې فرمایل: دا دې په خپل واک کې وساته او کوم څه چې درپورې اړه نه لري په اړه یې خبرې مه کوه. معاذ وویل: آیا زموږ رب به له موږ سره زموږ په خبرو حساب کوي او پرې مو نیسي؟!

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: مور دې درباندې بوره شي! لدې وینا څخه یې موخه خیرا کول نه دي، بلکې دا د عربو له ویناوو څخه یوه ده او هغه مهال یې کاروي چې کله غواړي د یو چا پام راواړوي او یو څه ور وپېژني، بیا یې وفرمایل: آیا د ژبې له ناوړه ویناوو لکه: کفر، تور پورې کول، ښکنځل، غیبت، چغلي او بهتان پرته بل څه هم شته چې له امله یې خلک پړمخه په اور کې اچول کیږي.

## د حدیث له فايدو څخه:

١. پر زده کړه د صحابه کرامو رضی الله عنهم تینګار، له همدې امله یې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه ډېرې پوښتنې کولې.

٢. د صحابه کرامو رضي الله عنهم پوهه، پر دې چې عمل کول جنت ته د داخلېدو لامل دی.

٣. کومه پوښتنه چې معاذ رضي الله عنه کړې وه، لویه پوښتنه وه، ځکه په حقیقت کې همدا د ژوند او وجود راز دی، ځکه په دې نړۍ کې هر موجود که بنی آدم دی او که پیریان؛ مقصد یې یا د جنت لور ته دی او یا د دوزخ، لدې امله دا پوښتنه یوه لویه پوښتنه وه.

٤. جنت ته داخلېدل د اسلام د پنځو ارکانو په پوره کولو ولاړ دي، چې هغه عبارت دي له: دوه ګواهیو (د شهادت له دوو کلمو)، لمونځ، زکات، روژې او حج څخه.

٥. د دین بنسټ، تر ټولو ارزښتناکه چاره او ستر واجب یوازې د یو الله عبادت دی چې شریک نه لري او هغه ذات په یووالي سره منل.

٦. پر خپلو بندګانو د الله تعالی رحمت چې د دوی لپاره یې د نیکی دروازې پرانیستي ترڅو د ثواب او د ګناهونو د بخښنې اسبابو ته لاسرسی ولري.

٧. د فرض لمونځونو له ادا کولو وروسته پر نفلي لمونځونو د تقرب فضیلت.

٨. په اسلام کې لمونځ د هغه ستنې په څېر دی چې خیمه پرې ولاړه وي چې په لوېدو سره یې اسلام لوېږي، لکه څنګه چې د ستنې په لوېدو سره خیمه لوېږي.

٩. د ژبې ساتنه له هغه څه څخه چې اړینه ده چې انسان ته په دین کې ضرر رسوي.

١٠. دژبې ساتل، په خپل اختیار کې ساتل او نیول د ټولو نېکیو اساس دی.

(4303)

(329) – عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ، ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا: {قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ}، وَ{قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ}، وَ{قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ}، ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ، يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. [صحيح] - [رواه البخاري]

**له عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به هره شپه کله خپل خوب ځای ته راغی، نو خپل لاسونه به يې سره يو ځای کړل، او {قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ}، {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ} او {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ} سورتونه به يې ولوستل او په لاسونو کې به چف کړل، بیا به يې لاسونه پر ځان راکش کړل، تر کوم ځایه به يې چې لاسونه رسېدل، له سر څخه به يې پیل وکړ، پر مخ او د بدن په مخکې برخې راکش کړل، دا کار به يې درې ځلې تکرارو.** [صحيح حديث دی] – [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښوونو څخه يوه دا وه چې کله به هغه خپل خوب ځای ته د خوب لپاره ولاړ نو خپل دواړه ورغوي به يې سره يو ځای کړل او لاسونه به يې پورته کړل - لکه څرنګه چې يو دعا کوونکی کوي - او په نرمۍ سره به يې د خولې د لړو لاړو سره په لاسونو کې {قل هو الله أحد}، {قل أعوذ برب الفلق} او {قل أعوذ برب الناس}، سورتونه چف کړل، بیا به يې تر خپلې وسې پورې لاسونه پر ځان راکش کړل، پيل به يې له سر، مخ او د بدن له مخکې برخې څخه وکړ، دا کار به يې درې ځلې تکرارولو.

## د حديث له فايدو څخه:

١. مستحب ده چې له خوب نه مخکې سورت اخلاص او معوذتين ولوستل شي، په لاسونو کې چف شي او تر هغه ځايه چې لاسونه رسيږي په ځان کش کړل شي.

(65060)

(330) – عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَيِّدُ الِاسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ: اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ» قَالَ: «وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ». **[صحيح] - [رواه البخاري]**

**له شداد بن اوس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د استغفار ويیلو سرداره دعا: «اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ» «يا الله! ته زما رب يې، نشته د عبادت وړ په حق سره پرته له تا څخه، تا زه پيدا کړی يم او زه ستا بنده يم، او زه ستا پر لوظ او ژمنه له خپل توان سره سم ولاړ يم، پناه غواړم پر تا له هغه شر نه چې ما تر سره کړی، اقرار کوم تا ته ستا په هغو نعمتونو چې تا ما ته راکړي او پر خپلو ګناهونو هم اقرار کوم، نو ماته بخښنه وکړه، ځکه چې له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلی». رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «او چا چې دا دعا له يقين سره د سهار له خوا وويله، او له شپې ورانديې په همدې ورځ مړ شو، نو هغه جنتي دی، او چا چې دا دعا په يقين سره د شپې له خوا وويله، او له سهار نه مخکې مړ شو، نو هغه جنتي دی».** [صحيح حديث دی] – [بخاري روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د استغفار لپاره کلمې دي او په هغو کې تر ټولو غوره او لويه د بنده لپاره دا ده چې ووايي: "اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت خلقتني وأنا عبدك وأنا على عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ ما اسْتَطَعْتُ أعوذ بك من شر ما صنعتُ أَبُوءُ لك بنعمتك عليَّ وأَبُوءُ لك بذنبي فَاغْفِرْ لي فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت "نو بنده لومړی د الله جل جلاله په يووالي اقرار کوي او دا چې الله جل جلاله يې پيدا کوونکی او معبود دی، شريک نه لري او دا چې دی د الله سره په خپلو ژمنو د توان تر کچې ولاړ دی؛ ځکه بنده که څومره عبادت هم وکړي بيا هم نشي په عبادت کې د الله تعالی ټول اوامر پر ځای کړي او نه شي کولی د الله د هغو نعمتونو پوره شکر ادا کړي چې شکر

ويستل يې پرې واجب دي، نو بايد چې الله تعالی ته رجوع وکړي او هغه ته پناه يوسي، ځکه الله هغه ذات دی د بنده له شر څخه ورته پناه ورل کيږي. او دی هغه ته په خپله خوښه د هغه په نعمتونو اقرار کوي او په خپلې ګناه او سرغړونو اقرار کوي. الله جل جلاله ته لدې ننواتو وروسته له خپل رب څخه دا دعا غواړي چې د ګناهونو په پټولو سره ورته بښنه وکړي او په خپلې بخښنې، فضل او رحمت سره يې د ګناه له بديو وژغوري ځکه چې له هغه لوی څښتن پرته بل څوک ګناهونه نه بخښي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دا دعا د سبا او بيګا له اذکارو څخه يوه ده، نو څوک يې چې په يقين سره ووايي، له ايمان سره يې معنا په زړه کې راولي او د ورځې په پيل کې يې د لمر راختلو او زوال تر منځه ووايي، چې دا د ورځې وخت دی، بيا مړ شي نو دی به جنت ته داخل شي. او چا چې بيګا مهال وويله، يعني د لمر له ډوبېدو څخه تر سهار راختلو پورې او بيا له سبا کېدو مخکې مړ شو، نو جنت ته داخل شو.

## د حديث له فايدو څخه:

١. استغفار وېل بيلابېلې بڼې لري چې ځينې يې له ځينو نورو غوره دي.

٢. بنده بايد په دې دعا سره له الله تعالی څخه دعا وغواړي؛ ځکه چې دا د دعاګانو سرداره دعا ده.

(5503)

(331) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ إِذَا أَصْبَحَ: «اللهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» وَإِذَا أَمْسَى قَالَ: «بِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» قَالَ: وَمَرَّةً أُخْرَى: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ».

**[حسن] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي في الكبرى وابن ماجه]**

**له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به: سهار مهال (دا اذکار) ويېل: «اللهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» وَإِذَا أَمْسَى قَالَ: «بِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» قَالَ: وَمَرَّةً أُخْرَى: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ». (يا الله! ستا په نعمتونو او واکمنۍ کې مو سهار کړ او ستا په نعمتونو او واکمنۍ کې مو بيګا کړ. ستا په نوم ژوندي کېږو او ستا په نوم مړه کېږو او (له مرګ نه وروسته ستا لور ته) بيا پاځېدل دي)، وايي او بل ځل يې وويل: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ» (او ستا په لور وروستی منزل دی).** [حديث حسن دی] - [ابو داود، ترمذي، نسائي په سنن کبری کې او ابن ماجه روايت کړی].

## تشريح:

كله به چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم سهار شو؛ چې هغه د سهار له راختو سره د ورځې پېل دی نو ویل به يې: (اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا) يا الله پر تا مو سبا کړ، یعني ستا په ساتنه او ستا په نعمت کې ډوب يو، ستا په یادولو بوخت يو، ستا پر نوم مرسته غواړو، ستا په نعمتونو کې شامل يو، ستا په مرسته او ځواک حرکت کوونکي يو، (وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ) (او پر تا مو بېګا کړ او پر تا ژوندي کېږو او پر تا مرو) د دې جملې معنی هم لکه د تېرې په څېر ده، سر بېره پر دې چې بېګا مهال به يې ویل: يا الله ستا پر نوم مو بېګا کړ، نو ستا په محیي (ژوند بښونکي) نوم سره ژوندي کېږو، او ستا په (الممیت) یعني مرګ ورکوونکي نوم سره مړه کېږو. (وَإِلَيْكَ النُّشُورُ) او ستا لور ته له مرګ نه وروسته پورته کېدل دي، او له يو ځای کېدو وروسته جلا کېدل دي، زموږ دا حالات به په ټولو وختونو کې په همدې توګه مخته ځي او په هېڅ حال به ترې جلا نه شم او نه به يې پرېږدم.

او کله چې پرې له مازدیګر نه وروسته بېګا مهال راغی ویل به يې: (اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وبك أصبحنا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ الْمَصِيْر) (يا الله! ستا په نوم مو بېګا کړ او ستا په نوم مو سبا کړ، ستا په نوم ژوندي کېږو او ستا په نوم مړه کېږو، او له مرګ نه وروسته ستا لور ته بېرته پورته کېدل دي، په دنيا کې بېرته ستنېدل او په اخرت کې بېرته درګرځېدل دي، نو همدا ته يې چې ژوند راکوې او همدا ته يې چې مرګ راکوې.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې د پیروی له مخې دا دعا ویل سبا او بېګا مستحب دي.

٢. بنده په ټولو حالتونو او وختونو کې الله تعالی ته محتاج دی.

٣. سهار مهال د ورځې په پیل کې د اذکارو لپاره غوره دا ده چې د سهار له راختو څخه تر لمر راختو پورې وویل شي، او له مازدیګر نه وروسته د لمر ډوبېدو نه مخکې وخته پورې، که چېرته يې له دې نه وروسته وويل: یعني سهار مهال يې د څاښت له راختو وروسته وويل -هم صحيح ده، او که د ماسپښین نه وروسته يې وويل هم صحيح ده، او که له ماښام نه وروسته يې وويل هم باک نه لري، ځکه دا ټول وختونه د ذکر لپاره مناسب دي.

٤. دا چې سهار مهال "وإليك النُّشور" ولې ويل کيږي؟ نو دا د دې لپاره چې لوی پاخون وریاد کړي، هغه چې ټول خلک به د قيامت په ورځ له مرګ نه وروسته بېرته راپورته کېږي، نو دا له سره راپورته دي، او نوی ورځ ده چې ارواګانې پکې بېرته جسدونو ته ورګرځي، او خلک به په دغه ورځ خپرېږي، او دا نوی سهار به خپلې ورمې خپرې کړي تر څو د آدم په اولادې ګواهي ورکړي، او وختونه يې زمونږ د عملونو لپاره ذخيرې وګرځي.

٥. بېګا مهال د دې وينا مناسبت چې فرمايي "وإليك المصير" او ستا لور ته درګرځېدل دي، چې کله خلک له خپلو کارونو، فايدو او مصلحتونو څخه راوګرځي نو بېرته خپلو کورونو ته ورګرځي او له خپرېدو وروسته د استراحت په موخه دمه کېږي، نو الله تعالی ته په ورګرځېدو سره يې د ورګرځېدو په الفاظو سره يادونه وکړه.

(5490)

(332) – عَنْ أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ قَالَ: سَمِعْتُ عُثْمَانَ ابْنِ عَفَّانَ رضي الله عنه يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ، فِي الْأَرْضِ، وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ، حَتَّى يُصْبِحَ، وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثُ مَرَّاتٍ، لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ حَتَّى يُمْسِيَ»، قَالَ: فَأَصَابَ أَبَانَ بْنَ عُثْمَانَ الْفَالِجُ، فَجَعَلَ الرَّجُلُ الَّذِي سَمِعَ مِنْهُ الْحَدِيثَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ لَهُ: مَا لَكَ تَنْظُرُ إِلَيَّ؟ فَوَاللَّهِ مَا كَذَبْتُ عَلَى عُثْمَانَ، وَلَا كَذَبَ عُثْمَانُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَكِنَّ الْيَوْمَ الَّذِي أَصَابَنِي فِيهِ مَا أَصَابَنِي غَضِبْتُ فَنَسِيتُ أَنْ أَقُولَهَا. **[صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه والنسائي في الكبرى وأحمد]**

**له ابان بن عثمان څخه روايت دی وايي چې ما له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه اورېدلي چې ويل يې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «چا چې درې ځلې: بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ، فِي الْأَرْضِ، وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، وويل، پر هغه به تر سهاره پورې هېڅ ناڅاپي آفت نه راځي، او چاچې سهار مهال درې ځلې وويل: نو پر هغه به بېګا پورې هېڅ ناڅاپي آفت نه راځي». وايي: نو أبان بن عثمان فالج وواهه، بيا به هغه سړي ورته کتل چې دا حديث يې ترې اورېدلی و، نو هغه ورته وويل: څه دي چې ماته راګورې؟ قسم په الله که ما پر عثمان دروغ ويلي وي، او نه عثمان په پېغمبر صلى الله عليه وسلم دروغ ويلي دي،**

**خو په کومه ورځ چې دا څه راورسېدل چې رارسېدلي دي په هغه ورځ غصه شوی وم او د دې دعا ویل راڅخه هېر شوي و.** [صحیح حدیث دی] - [ابو داود، ترمذي، ابن ماجه، نسائي په سنن کبری کې او احمد روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې هره ورځ د سهار له لمانځه وروسته او د هرې شپې په ماښام کې له لمر لوېدو مخکې درې ځلې (بسم الله) ووايي: یعني د الله په نوم مرسته غواړم او ځان پرې له هر ضرري څیز څخه ساتم، هغه ذات چې له نوم سره یې هېڅ شی ضرر نه شي رسولی که څه هم هر څومره لوی وي؛ نه په ځمکه کې او هغه آفتونه چې ترې راوځي او نه په اسمان کې او هغه آفتونه چې ترې رانازلېږي، او هغه زمونږ ویناوو لره اورېدوکی او په احوالو مو پوه دی.

چا چې دا دعا د شپې له خوا وویله نو تر سهاره به ورته هېڅ آفت نه رسیږي، او چا چې د سهار له خوا وویله نو تر بېګا پورې به ورته هېڅ آفت نه رسیږي.

نو د حدیث راوي چې أبان بن عثمان دی فالج وواهه؛ هغه ناروغي چې د بدن یو اړخ پکې لوېږي، نو هغه سړي چې دا حدیث یې له أبان څخه اورېدلی و أبان ته به یې په تعجب سره کتل! نو هغه سړي وویل: ولې راګورې؟! قسم په الله چې پر عثمان مې دروغ نه دي ویلي، او نه عثمان پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم دروغ ویلي دي، خو په کومه ورځ چې دا څه راورسېدل چې الله راته لیکلي و، داسې ورځ وه چې زه غصه شوی وم، نو راڅخه هېر شول چې دا یاد اذکار ووایم.

## د حدیث له فايدو څخه:

١. سهار او بېګا مهال د دې ذکر ویل مستحب دي؛ تر څو انسان د الله تعالی په اذن د هغه په حفاظت کې وساتل شي، او د دې لپاره چې د ناڅاپي شر، ضرر او داسې نورو څخه یې الله تعالی وساتي.

٢. پر الله تعالی د لومړنیو سلفو د ایمان پیاوړتیا او د هغه څه باورول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې خبر کړي وو.

٣. د سهار او ماښام پورې د ذکر د محدودولو یوه ګټه دا ده چې د مسلمان غفلت له منځه یوسي او په دوامداره توګه هغه ته یادونه وکړي چې هغه د الله بنده ده.

٤. په الله جل جلاله د ذکر کوونکي د ایمان، عاجزی او د زړه د حضور په اندازه، په اخلاص او یقین سره د ذکر اثر خامخا حاصلیږي.

(6093)

(333) – عَن عبدِ اللهِ بن خُبَيب رضي الله عنه أنه قال: خَرَجْنَا فِي لَيْلَةٍ مَطِيرَةٍ وَظُلْمَةٍ شَدِيدَةٍ، نَطْلُبُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؛ يُصَلِّي لَنَا، قَالَ: فَأَدْرَكْتُهُ، فَقَالَ: «قُلْ»، فَلَمْ أَقُلْ شَيْئًا، ثُمَّ قَالَ: «قُلْ»، فَلَمْ أَقُلْ شَيْئًا، قَالَ: «قُلْ»، فَقُلْتُ: مَا أَقُولُ؟ قَالَ: «{قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ} وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ حِينَ تُمْسِي وَتُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ». [صحيح] - [رواه أبو داود والترمذي والنسائي]

د عبد الله بن خبيب رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایلي چې: په تیاره بارانی شپه کې ووتلو، تر څو رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ راکړي، وایي: پیدا مې کړ، نو ویې فرمایل: «ووایه»، نو ما هیڅ ونه ویل، بیا یې وویل: «ووایه». نو ما هیڅ ونه ویل، بیا یې وفرمایل: «ووایه»، نو ما وویل: څه ووایم؟ ویې فرمایل ووایه: «{قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ} وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ حِينَ تُمْسِي وَتُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ». «صبا او بیګاه {قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ}، او معوذتین درې درې ځلې وایه، نو د هر څه نه به درته بسنه کوي (د هر شر او افت نه به په امان کې وې)». [صحیح حدیث دی] - [ابو داود، ترمذي، او نسائي روایت کړی].

## تشریح:

جلیل القدر صحابي عبد الله بن خبیب رضي الله عنه خبر ورکوي چې هغوی په یوې تیاره او سختې باراني شپه کې د رسول الله صلی الله د پلټنې په موخه ووتل تر څو ورته لمونځ وکړي، نو هغه یې ومومند، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: "ووایه" یعني ولوله، نو هغه هیڅ ونه لوستل، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته خپله وینا بیا وکړه، نو عبد الله وویل: څه ولولم ای د الله رسوله؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د اِلاخلاص سورت {قل هو الله أحد} او معوذتین: {قل أعوذ برب الفلق} او {قل أعوذ برب الناس} صبا او بیګا مهال درې درې ځلې وایه، نو له هر شر او هرې بدی نه به دې وساتي.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. صبا او بیګا د الاخلاص سورت او معوذتینو لوستل مستحب دي او د شر څخه پکې خوندیتوب دی.
٢. د الاخلاص سورت او معوذتینو د لوستلو فضیلت.

(6082)

(334) – عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: فَقَدْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِنَ الْفِرَاشِ فَالْتَمَسْتُهُ فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى بَطْنِ قَدَمَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُمَا مَنْصُوبَتَانِ، وَهُوَ يَقُولُ: «اللهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: يوه شپه مې رسول الله صلى الله عليه وسلم په بستر کې ونه موند نو زه يې په لټه کې شوم، تر دې چې زما لاس د هغه د پښو په تلو ولږېده، په داسې حال کې چې هغه په جومات کې و، او پښې يې ودرولې وې (د سجدې په حالت کې و) او داسې يې ويل: «اللهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ». «اې الله! زه ستا له غضب څخه ستا په رضايت او ستا له عذاب څخه ستا په بخښنې پناه غواړم، او له تا نه پر تا پناه نيسم، او زه پر تا ستاينې نه شمېرم (دومره ستاينه دې نه شم کولی) لکه څومره چې تا پر خپل ځان ستاينه کړې ده (لکه څومره چې ته د ستاينې وړ يې)».** [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

عائشه رضي الله عنها وايي چې: زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څنګ ته ويده وم، هغه مې د شپې ونه موند، نو لاسونه مې د کوټې هغه ځای ته ورتېر کړل چې لمونځ به يې پکې کاوه؛ ګورم چې په سجده دی او دواړه قدمونه يې درولي دي او وايي: زه تا وسيله ګرځوم او پر تا پناه غواړم، (برضاك من سخطك)، ستا په رضايت ستا له قهر څخه -پر ما او زما پر امت - پناه غواړم، او زه ستا له عذاب څخه ستا په عفوې او ستا په زياتې بخښنې سره پناه غواړم. او پناه نيسم پر تا او ستا د جمال په صفتونو چې ستا د جلال له صفتونو څخه دي، ځکه چې پناه يوازې هم ستا څخه غوښتل کېږي، نو نه خو د خلاصي ځای شته او نه د الله څخه د تېښتې پناه ګاه شته پرته له هغه څخه. زه د دې وړتيا نه لرم چې پر تا ستاينې وشمېرم، او له دې عاجز يم چې ستا نعمتونه او احسانونه چې ته يې مستحق يې په شمېر کې راولم، که څه هم هر څومره کوښښ وکړم. لکه څومره چې تا د خپل ځان ستاينه کړې ده، نو همدا ته هغه ذات يې چې د ځان ستاينه دې هغه ډول کړې لکه څنګه چې ستا د شان سره ښايي، نو څوک دی چې ستا د ثنا حق به ادا کړي؟!

## د حديث له فايدو څخه:

١. د دې دعاګانو ويل په سجده کې مستحب دي.

٢. ميرک فرمايلي: د نسائي په يو روايت کې راغلي چې: دا دعا به يې هغه مهال ويله چې کله به د لمانځه نه وزګار شو او خوب ځای ته به ولاړ.

٣. د الله تعالى په صفتونو يې ستاينه کول او د هغه په نومونو دعا غوښتل مستحب دي؛ البته هغه نومونه چې په قرآن او سنت سره ثابت دي.

٤. پدې کې په رکوع او سجده کې د خالق عظمت بيان شوی دی.

٥. د الله تعالى په صفتونو پناه غوښتل جايز دي، لکه څنګه يې چې په ذات سره پناه غوښتل جايز دي.

٦. خطابي رحمه الله فرمايلي چې: پدې وينا کې لطيفه معنا پرته ده، هغه دا چې په الله يې پناه وغوښته چې په خپل رضايت يې له خپل عذابه وژغوري، او په بخښنې سره يې له سزا وژغوري، او رضايت او قهر يو د بل ضد کلمې دي، همدا رنګه بخښل او په سزا نيول يو د بل ضد دي، نو کله يې چې د داسې څه يادونه وکړه چې ضد نه لري؛ او هغه د الله تعالى ذات دی نو له هغه يې پرې پناه وغوښته نه پر بل چا، د دې معنا دا ده چې: له نيمګړتيا څخه بخښنه غوښتل چې واجب يې نه دی ادا کړی؛ د هغه د عبادت حق دی، او پر هغه ثنا ويل. او دا وينا يې چې وايي: زه پر تا ستاينې نه شمېرم، يعني نه دا کار کولی نشم او نه مې له وسې پوره دی.

(3566)

**(335) – عن سَمُرَةَ بن جندبٍ رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:** «أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللهِ أَرْبَعٌ: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ». **[صحيح] - [رواه مسلم]**

**له سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:** «أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللهِ أَرْبَعٌ: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ». «الله - جل جلاله - ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، دا مهمه نده چې تاسو په کومه يوه پيل کوئ». [صحيح حديث دی] [مسلم روايت کړی].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله جل جلاله ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي:

سبحان الله: دا له هر نيمګړتيا څخه د الله تعالى پاکوالى دى.

او الحمد لله: دا په بشپړ کمال سره د الله تعالى يادول دي؛ د هغه له محبت او لويې سره.

او لا إله إلا الله: يعني دا چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته.

او الله أكبر: يعني تر ټولو لوى او تر هر شي عزتمن ذات دى.

او دا چې فضيلت او د ثواب ترلاسه کول يې په ترتيب سره تلفظ ته اړتيا نه لري.

## د حديث له فايدو څخه:

١. د شريعت اسانتيا، يعني دا چې هېڅ زيان نه رسوي چې لدې کلمو څخه دې په کومه يوه پيل وکړ.

(5475)

(336) – عن أبي أيوب رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، عَشْرَ مِرَارٍ كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ أَرْبَعَةَ أَنْفُسٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ». [صحيح] - [متفق عليه]

**له ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:**
**«چا چې لس ځلې: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) وويل: نو په اجر کې داسې دى لکه چا چې د ابراهيم عليه السلام له اولادې څخه لس غلامان ازاد کړي وي».** [صحيح حديث دى] – [بخاري او مسلم روايت کړى].

## تشريح:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا چې «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، وله الحمد، وهو على كل شيء قدير» وويل: چې معنا يې ده: (له الله پرته بل معبود نشته، هغه يو دى شريک نه لري، او هغه پاک ذات لره يوازې بشپړه واکمني ده، هغه له نورو پرته د محبت او تعظيم سره د ثنا او ستاينې وړ دى او دا چې هغه قادر دى او هېڅ شى يې نه شي عاجز کولاى). نو چا چې دا

لوی ذکر په یوه ورځ کې لس ځلې تکرار کړ؛ نو دومره اجر یې تر لاسه کړ لکه چا چې د اسماعیل علیه السلام د اولادې له څلورو غلامانو څخه د غلامۍ ولکه لرې کړې وي (یعنې ازاد کړي یې وي)؛ او د ابراهیم علیه السلام له اولادې څخه لدې امله یادونه وشوه چې هغوی له نورو زیات شرف لري.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. د دې ذکر فضیلت چې په الوهیت، حاکمیت، ستاینې او بشپړ قدرت سره د الله جل جلاله یووالي ته شامل دی.

٢. دا ثواب هر هغه څوک تر لاسه کوي چې دا ذکر په پرلپسې او یا په جلا جلا ډول ووایي.

(5517)

(337) – عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ». [صحيح] - [متفق عليه]

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې، په تله کې درنې او رحمان - ذات - ته محبوبې دي: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ»، یعنې پاکي عظیم الله لره ده، پاکي او ستاینه الله لره ده». [صحیح حدیث دی – بخاري او مسلم روایت کړی].

## تشریح:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو کلمو په اړه خبر ورکوي چې یو سړی یې له سختی پرته او په هر حالت کې ویلی شي او دا چې په تله کې یې اجر ډیر لوی دی، او دا چې زمونږ رب؛ رحمان ذات یې خوښوي.

سبحان الله العظیم، سبحان الله وبحمده؛ ځکه چې پدې دواړو کلمو کې الله تعالی په لویی او کمال سره یاد شوی، او له نقص څخه یې پکې پاکي بیان شوې ده.

## د حدیث له فایدو څخه:

١. ترو تولو ستر ذکر هغه دی چې په هغه کې د الله تعالی پاکی او پرې ثنا ویل یو ځای شوي وي.

٢. پر بنده ګانو باندې د الله تعالی د لوی رحمت بیان، هغه ذات په لږ عمل باندې زیات ثواب ورکوي.

(5507)

**(338) – عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:** «مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ، حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ». **[صحيح] - [متفق عليه]**

